# پښتو بدلمېچ

(پښتو شعر څنګه جوړېږي؟)

Ketabton.com

ليکوال: پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې مې ستا پر لور ځلور شوې
ځلور اته شوې اته شپاړس شوې مې نه

پو هاند دوکتور م. ا. زيار

د ژبپوهنې په رڼا کې:

# پښتو بدلمېچ - يا:
# پښتو شعر څنګه جوړېږي؟
## {څپيز - څجيز}

# The Pashto Poetics
# on the basis of its phonetics
## (Tonic-Syllab)

---

)دکتاب پر ببېخ يا کونه( پو هاند زيار: پښتو شعر څنګه جوړېږي؟

# ډالۍ

هغو شاعرانو ته يې ډالۍ کوم
چې د شعر پر ازادۍ باور لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکي پوهه:

لیکوال: پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار
کتاب: پښتو بدلمېچ
خپرندوی: دانش خپرندویه ټولنه
دویم چاپ: ۱۳۸۹ل/ ۲۰۱۰ز
)لومړی چاپ: ۱۳۶۹/ ۱۹۹۰(
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
اوډ: حاجي محمد عمرخېل
انټرنیټ خپروونکی: اجمل اکبري

د چاپ رښتې له لیکوال او خپرنوال سره خوندي دي،
بې اخځ ښوونې ترې د ګټنې اجازه نشته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیو لیک


| سرلیک | مخګڼه |
| --- | --- |
| یادښت | ۸ |
| سریزه: پښتو شعرپوهه او غرپوهه سره نه شلېدونکې دي | ۹ |
| ۱- څپرکی: پښتو شعر هېڅکله عروضي سېستم زغملی | |
| او سهلی نه دی | ۱۷ |
| ۲- څپرکی: په خپله جوله کې د پښتو شعر د سیالۍ هڅه | ۳۹ |
| ۳- څپرکی: )څپیز- څجیز ( وزن د پښتو شعر آر او بنسټیز رغنده | |
| توک | ۴۵ |
| - څپه-څج-تون- غوندړ | ۷۳-۴۷ |
| -مسره)۲-۵۲څپیزه (-ماته مسره | ۷۲-۷۵ |
| - څپیز کمی زیاتی | ۸۰ |
| ۴- څپرکی: پښبله)قافیه ( او پښبلیز آرونه او ویارونه | ۸۲ |
| آره او ناآره، همجولیزي، غبرګي، دېرپښبلیزي، ردیف | ۹۰-۸۵ |
| دویمه برخه: پښبلیز ویارونه ارکان، روي، لړونج | ۱۰۴-۹۳ |
| ۵- څپرکی: د شعر پښځګوني رغنده توکونه | ۱۰۲ |
| ژبه، تول، تول شمېره )دپښتو وزنونو کچه ( ۱۰۲ -۱۱۹ | |
| واند، نبغ و پروت، ولوله، اند، تراو، پروت و نبغ خیال ۱۲۹- | ۱۴۸ |
| ۲-څپرکی:ژب- ښکلاییز اړخ | ۱۵۰ |
| ۱( ژبه د شعر بهرنۍ جوله- پېټ توان | ۱۵۵-۱۵۱ |
| او بډایه وییپانګه | |
| ۲ ( ښکلاییز یا بدیعي توکي: مجاز، همغږیزي ۱۲۱-۱۲۹ | |
| | ۱۲۲ |
| ذهني انځورونه او ببلګي، تېرمهالي)وګړنۍ | |
| او کلاسیکي ( | ۱۷۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسمهالي)پښپلیزي ، ازادي، سپیني ( ۱۷۹
تلمیح، سېمبول، اسطوره، پرادوکسي ۲۱۲-۲۲۹
حسن تعلیل، مدعا مثل، کونترست، تمثیل ۲۳۱-۲۴۲
شعري ترڼگونه، مرکب تشبیهات، جاجونه)مفاهیم ( ۲۵۳-۳۵۸
۷- څپرکی: د وګړني یا ګړني پښتو شعر رغښت ۲۲۲
لومړی یا آره، ښنومه برخه ۲۲۵
لنډۍ، ترنګتوک، کارونځایونه ۲۲۷-۲۷۱
سروکی ۲۷۳
د وګړني شعر نیمڅرګنده او څرګنده برخه ۲۸۱ -۲۸۲
۸- څپرکی: د دېواني یا لیکني پښتو شعر جولیز رغښت ۲۸۵

له کلاسیکه ترنوي غزله ۳۰۷
۹- څپرکی: اوسنی ازاد پښتو شعر دځپل ازاد وګړني او بیا
دېواني-لیکني بشپړتیایي بڼه
نیم ازاد شعرونه، ازاد کالبونه او مونډېي شعرونه ۳۲۳-۳۲۷

هایکو ۳۴۱
بشپړ ازاد شعرونه ۳۳۴
انځوریز او نامانیز شعرونه ۳۲۷- ۳۲۹
۱۰ - څپرکی: په پښتو شعر کې ښویېدني او تېروتني ۳۷۰

زخه ۳۲۱
څپیز-خجیز، ونج، ښېتولي، تتوالی، نابرې پښپلي۳۸۰-۳۷۸
تکرار او کر غېړنتیا ۳۸۷
ژبنۍ تېروتنې، نا اوډي، ناکره وینګ، مانیز اړېیچ ۴۰۰- ۴۱۳
ټکرتوارد ، تضمین، ټکرکه ژباړه؟ اقتفاکه غلا؟ ۴۱۷ – ۴۲۴
غلا ، له ځانه غلا ، له ځانه غلا )د ښځمنو په ګټه ! ( ۴۲۵ - ۴۲۸

۱۱- څپرکی: سپین شعرونه ۴۳۰
۱۲- څپرکی: ناپبیلي شعرونه ۴۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ۱۳- ثپرکی: پر))کره لیکنی پښتو ((د شاعرلاسبری | ۴۵۲ |
| لیکدودي ستونزې | ۴۲۱ |
| | ۴۴۸ |
| لنډیزونه)ترخیمونه( | ۴۶۷ |
| وییپانگه | ۴۷۸ |
| اخځلیک | ۵۱۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یادښت

استاد زیار د یوه ژبپوهاند ، ادبپوهاند او د څه له پاسه نیمې پېړۍ شعر و شاعرۍ او لیکوالۍ له مخینې سره تر اوږدو ازمېینو ، څېړنو او پلټنو وروسته دې پایلې ته رسېدلی چې د هرې ژبې او بیا پښتو شعرپوهه او غږپوهه سره نه شلېدونکی تړاو لري. په دې ډول د یوې تولیزې )موزونې ( وینا په توګه د پښتو شعر رغښت څپیز- خجیز )سپلابو تونیک syllabic & tonic ( دی چې استاد یې د لومړي ځل لپاره د یوه سېستم په توګه له )و (ګړنیو ، لیکنیو او دېوانې ( ډولونو څخه د اړوندو دویونو )قواعدو ( پر رااېستنه، او ورسره ورسره د نویو ازادو شعري څېلونو او ډلبندیو پر وړاندېینه بری موندلی دی.
دانش خپرندویه ټولنه ویاړي چې دغه دویمه غځېدلې اولا کره شوې کتابې بڼه یې د پوهنتوني زده کړیانو ترڅنګ د پښتو ژبې او ادب د نومهالې نړیوالې سیالۍ د ګردو بهیروالو او مینه والو مخې ته ږدي. هیله من یو چې ښاغلي او اغلې لوستونکي، په تېره ځانګیز کره کتونکي به یې په اړه زمونږ له لارې خپلې ابنتنې پوښتنې او لید توګې له لیکوال سره شریکې کړي او په دې ډول به یې د درېیم چاپ لپاره په لا بشپړوالي او کره والي کې رغنده او کارنده ونډه واخلي
استاد زیار ته د لا زیاتو علمي بریاوو په هیله روغ او اوږد ژوند غواړو !
دانش خپرندویه ټولنه- پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سريزه

## پښتو شعرپوهه او غږپوهه سره نه شلېدونکې دي

بندو بست د پښتو شعر ما پيدا کړ
ګنه، شعر د پښتو وو کله سيال !
)خوشال(

عربي وزن يا بحر پښتو تول يا هم تول و تال، اروپايي rhythm د يوه ))مخيّله موزون کلام (( په توګه د شعر د ودانۍ آره او بنسټيزه اړانه رغوي او پر وړاندې يې پښېله )قافيه( او بيالړ )رديف( له برسېرنو توکو څخه شمېرل کېږي. دا چې د پېړيو په بهير کې د شعر پر پاسنۍ تولۍ يا مقوله د ))مقفی (( توک ورسرباري شوی او ))مخيّله موزون او مقفی کلام (( بلل شوی دی، دا دی، له نوي ازاد څېل سره دغه توک يوځل بيا تاريخ ته سپارل کېږي او بيا له ))سپين (( او ))ناپېيلي (( هغه سره يې تولۍ تر))مخيّله کلام (( پورې لنډون مومي.
ليکوال دا ليدتوګه چې د ))مخيّله موزون کلام(( په توګه پښتو شعر، په نورو ټکو، شعرپوهه او غږپوهه(poetics& phonetics) سره يو له بله نه شلېدونکې تړاو لري او په دې ډول د پښتو شعر رغښت څپيز- خجيز )سېلابو تونيک syllabic& tonic( دی، له ښايسته ډېر مهاله راخپله کړې وه. د ژبپوهنې او ادبپوهنې د شاګرد او بيا ښوونکي په توګه له نيمې پېړۍ راهيسې په دې هڅه او تلوسه کې وم چې د نوې پښتو ژبپوهنې د دودونې په لړ کې د پښتو پښويې )ګرامر(، وييپوهنې، کره ليکلارې، پښتو تاريخ...ترڅنګ د پښتو بدلمېچ )پښتو شعر څنګه جوړېږي؟( يو بنسټ هومره هم کښنوولای شم او په پای کې د نورو غونډې د دغې سکالو دوديزه کمبله هم را ونغاړم.

له لويو ځانګيزو زده کړو څخه له راستنېدو سره مې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي په پښتو څانګه کې وار له مخه د نويو ژبپوهنيزو لوستليکنو)لکچرونو ( تيارونې او وړاندېينې ته متې راونغښتې. د هماغه ړومبني سمبستر په بهير کې دا برى را په برخه شو چې د دواړوغورو ځانګيزو پوهنو)ژبپوهنې او ادبپوهنې( تر منځ يو مهالوېشی انډول هومره پر څانګه او چارواکو ومنلای شم، خو د))ادبي فنونو (( په نامه چې د ژبې او ادب دکومې عربي آرې دوديزې ګډولې له رامنځته کېدو راهيسې پر څانګه هغسې واکمنه وه. په ځانګړې ډول مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خليل بن احمد عربي عروضي يا متريک سېستم پر پښتو شعر تپل راته نور هماغسې بې سروبوله زباد شوي ول، لکه عربي صرف و نحوه چې د پښتويې)گرامر ( په نامه له دوه دوه نيم سلو کلونو راهيسې پر ټوليزه پښتو راتپل شوې وه.

هرگوره، يوڅه وخت و زغم يې غوښت، ټول پر دې بسياکړم، هماغسې چې پښويه )گرامر ( له اړوندې ژبې څخه را اېستل کېږي، دغسې يې بدلمېچ هم له شعري پانگې څخه را اېستل کېداى شي. له 1360ل. را وروسته چې د پښويې لسکلنو ازمايښتي لوستونو ته کتابي بڼه هومره ورکړه، داکابو مې وموندله چې د پښتو بدلمېچ څو کلن يادښتونه )دېتا ( سره را و اوډم. زما دغه هڅه هله زياته گړندۍ شوه چې استاد رشاد کورناستی شو او له څانگې سره يې د همکارۍ لړۍ هم نوره و شلېده. له دې سره سره د پښتو ماستري پروگرام هم رامنځته شو او په کار وه چې له نوي مېتودولوجۍ سره سمه پکې ژبپوهنه او ادبپوهنه، او په ترڅ کې شعرپوهنه هم تدريس شي.

د بل هر لوستليکي)تکسبوک ( غوندې کلونه وروسته پر دې بريالی شوم، په دغه تړاو هم وړاندې کړيو لوستونو ته کتابي جوله ورکړم او تر پورتني نامه لاندې يې چاپ ته وسپارم. که څه هم دا کار زما له لومړنيو هاندو هڅو گڼل کېده او د پښتو د يوه پرله غښتي کره بدلمېچ تمه ترې گرانه وه، د نويو کالبونو، جوليزو څپلونو او بيا ژب- ښکلاييزو او ژب- انديزو لارو رودو سپړاوي او څرگنداوي، خو په هره توگه يوه څېرمه برخه رانغښتله، خو بيايې هم د ډېرو نوښت مينو ځوانو شاعرانو پر مخ يې نوي او ارت و بيرت ځنډونه)افقونه ( پرانېستل.

دا خبره چې د پوهنځي له زده کړو راهيسې راته د))پښتو بدلمېچ (( اند توگه پيدا شوې وه، انگيزه يې پر ۱۳۴۰ د پښتو څانگې په مهالنۍ ))وږمه (( کې د شوروي نوميالي پښتو پوهاند نيکولاى دووريانکوف څېره شوې ليکنه))شعرپوهه او غږپوهه poetics& phonetics (( وه. له دغې ليکنې څخه د ليکوال موخه داوه چې پښتو غږپوهه او شعرپوهه سره نه شلېدونکی تړاو لري او په دې ډول يې بدلمېچ دعربي عروضو پرځاى د نورو ډېرو هندواروپايي هغو په څېر د خپلې غږپوهې په رڼاکې پر څپيز- څجيز )سيلابو تونيک ( بنسټ رامنځته کېداى شي.

هرگوره، اروپايي بدلمېچونه هم له لرغوني او سکولاستيک پېره نيولې، د منځنيو او کلاسيک پېر تر پايه د يوناني عروضي )مېتريک ( سېستم تر گونډو لاندې ول. دغه سېستم، کټ مټ لکه عربي ))مفاعيل (( د درزي )سکښت- ( مخبېلگو )patterns ( ته ورته وو، د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرځاى چې د اړوند ښاغلي يا اغلې کالي جامې له قدواندام سره سمې وسکښتې، قدواندام يې ور سکښتي او په دې چم ورسره خپله مخښلگه په وچ زور وربرابروي !

پارسي شعر هم په منځني آرياني پېر)۲۰۰ م ز- ۸۰۰ ز ( پر څپيز-څجيز ډول ټيکاو لاره چې درخت آسوريک، کرکوى اورتون او داسې نورې گڼې پهلوي بېلگې يې راخوندي شوې، خوله نوي پېر )اتمې زېږدي پېړۍ( او بيا يوولسمې پېړۍ راوروسته چې د عربي ترڅنگه يې د دويمې اسلامي ژبې په توگه سر راپورته کړاى شو، له يولړ بېدوييو )استثناوو ( سره د عربي متريک سېستم راخپلولو ته اړ وتله او هغه هم په دې چې غږپوهه يې ورسره څه ناڅه اړخ لگولاى شي. د ساري په ډول يې د منځني پېر سر بېواکوړی )ابتدا پر ساکن( يې له لاسه ورکړي چې پښتو يې پروړاندې د منځ- او پاي بېواکوړيو ترڅنگ تر درو بېواکو )کنسوننټو ( پورې، لکه شخوند، سخوندر، خوله، خوړين... خوندي ساتلي او د دوو هغه يې، لکه پلار، تره، ورور، ترور، درېدل، کښېناستل، ښنبل،خوړل، خپل، پردی، پښه، خپور، سپور، پسور، پسرلی، ږمنځ، خولۍ، خوله)عرق(، خوله يا خولۍ، ملا، ملاست، لمونځ، ستړی، ستومان، شمېر... خو له شمېره وتي دي.

په پښتو شعر کې لنډه، اوږده څپه او بيا بيواکوړی لکه يو واوېلي څپه ارزول کېږي، حال دا چې په عربي او پارسي هغه کې دغه څومره ييز )کمي( آر ته ارزښت ورکول کېږي او لنډه او اوږده څپه سره توپير مومي؛ سر- او منځ بېواکوړي خو پکې گړسره شته نه، او وروستني هغه، لکه په شعر، شمع، سهو ... کې هر بېواک او خپلواک د )زور، زېر، پېښ او تنوين( په گډون جلا جلا ارزول کېږي او تقطيع کېږي. په دې ډول هغه دوديزوال چې د پښتو شعر پر مېتريک )عروضي( رغښت بېځايه او بې گټې ټينگار کوي، د عربي ))مفاعيلو (( د ټکي پرټکي پېښو په لړ کې )اعراب( هم پر پښتو دې راتپي، د ساري په توگه دوه فونيمي ))اور= or( پر څلورو توکو، په بله وينا، درو توريو )حروفو( او يوه حرکت)الف+ پېښ+و+ر( شمېري !

د دغو ډېري پلويانو او مينه والو پر وړاندې چې چېرې يو نيم د زاړه پالو او دود پالو له مورچله سر رانېغ کړی، لامل او لاسوند يې (( زده کړې او بيامذهبي تنگ ويني او تعصب وو. خو له ښه مرغه يې تر ما وړاندې د)) يوې پښتو- کره پښتو (( او بيا ))نوي اوازاد پښتو شعر(( د غورځاوڼو او پلويانو له غبرگونونو سره مخامخ شوي دي. زماپر يادښت ))باختر(( نومې مهالنۍ يې يوازېنۍ مورچه وه چې گرده لمبسه )دوسيه( يې راپسې راسپړلې وه. د ))تکفير(( لپاره يې همدا پلمه بس وه چې ))عربېزم(( او ))اسلامېزم(( د يوې سکې دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخه دي او ما يې ))جلاوالي (( ته متې رانغښتې: د نوې پښتو ژبپوهنې په رڼا کې مې د عربي ))صرف و نحوې (( پرځای پښتو پښويه کښلې، ځلورګونې وییپانګه او نوې نومونپوهنه )ترمینالوجي ( مې د عربي هغې ځایناستې کړې... او دا دی، اوس مې په عربي ادبي فنونو او بیا عروضو پسې راخښتې او د انګلیسي، روسي او نورو کافرانو لاره مې پر مخ اخښتې ده؟

ډېره پوچه او خنداوړه ادعا يې بیا دا چې له ))عربي عروضو (( پرته يې شعر، شعر نه باله او په دې ډول، زموږ زرکلن )څپېز- خجیز ( شعر لاځه چې نړیوال شاهکارونه يې هم له نشته برابرول !

چلوونکی يې چې کلونه وروسته )٢٠٠٥ په پسرلي کې ( تر ځان بترو بنسټپالو له باجوړه ترکابله راځغلولی وو او غوښتل يې د پښتو ژبې او ادب په څانګه کې راته د شاګردۍ ګونډه ووهي، له ډېرې پښېمانۍ راته پرګونډو شو، ما پر شا وټپاوه او همدومره مې پر غوږ وواهه ))همدا چې ته رښتینی ))پښتون مسلمان (( شوې، نوره مو تر منځ بله کومه تربګني نشته ! ((
په ورپسې سفر کې يې يو ځوان لیکوال د دویم چاپ لپاره د لومړي هغه تیار او ډلی پروف د کتنې لپاره راکړ، خو ما په دې لاسوند چې زه له لوښې سره سم د نورو کتابو په څېر دا هم باید تر بشپړونې او کروني تېر کړم او هله يې چاپ ته ورو سپارم. نو له پرله پسې څېړنیزو بوختیاوو له کبله مې ایله بیله له دربیم سفر سره، پوره د دوو کلو په واټن هغه ژمنه ور ترسره کړه او دغه اوسني چاپ و خپراوي کېدون وموند. هیله من یم، د ګرانو مینه والو تنده لانبه ترا ماته کړای شي او د نو مهالي پښتو پوهې او فرهنګ نټیالیو )منکرو ( ته د تربګنۍ پلمه نوره پرلاس ور نه شي !

له دغو ستغو سپورو خپله خبره بیاهم راغبرګوم، هماغسې چې د نورو ژبنیو ټولنو په لړ کې پارسي او عربي شعر د نومهالي جهاني سیالۍ له مخې نوې )ازاد، سپین، ناپېیلي ( کالبونه او ژانرونه پرله پسې راخپلوي، نو پښتو دا هم د دغې سیالۍ پر وړاندې بې توپیره پاتېدای نه شي. له پخوانو دودیزو ژانرونو څخه هم یوازې نوې غزل پښې راټینګې کړې او ))دودیز (( قافیوال شعر تش هماغو ))دودیزو (( شاعرانو، په بله وینا، ))ناظمانو (( ته پاتې دي.

د پښتو شعر په تړاو پر هنري جوله زموږ بې کچه ټینګار هم له دې سرچینه اخلي چې له دغه پلوه له نورو نړیوالو او بیا نژدې تربورانو سره هېڅکله د سیالۍ جوګه شوې نه یو او همدا نن سبا يې په غړولو سترګو ګورو چې په پښتو کې پر ))شعر (( باندې د ))نظم (( پله ډېره درنه ده. ښایي، د دې يو لامل هم دا اوسې چې پښتو نظم له خپل آر ))څپېز- خجیز (( رغښت سره دومره خواري نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي. هن، که څوک قافيه وال، په تېره غزلبول وکړای شي، د قافيې او رديف په زندان کې دننه دننه اوسنی پښتو شعر له کرغېړنتيا او ځوړتيا )ابتذال او انحطاط( څخه را و ژغورلای شي، موږ به هېڅکله ورته د ازاد يا سپين شعر مورچل و نه نيسو.

مگر په کړن کې په غړولو سترگو گورو چې اوسنی غزل يا د اقتفأ او تقليد په گردلو کې رانښکېل دی او ياهم د نوښتگرانه شعر په نامه د رټلي او نتلي )هندي- پارسي ( فورمالېزم او اېکسپرېشنېزم بلهاري دی. له دې لامله موږ بياهم د رښتيني نوښتگرانه )) ژب - ښکلاييز او ژب - انديز (( غزل تر څنگ د ازاد او سپين شعر پر راخپلولو او دودولو ټينگارکوو او پر سيمه وال او نړيوال کچ د پښتو شعر د سيالۍ شونتياته لاره هواروو !

له پښتو ناظمانو او په تېره، ))عروضي(( پېښاوو وانو )مقلدانو( سره د پارسي )ملک الشعراء( بهار دا شعر خورا ښه اړخ لگوي:

شعر دانی چیست؟ مروارید از دریای عقل
شاعر، این افسونگری که این طرفه مروارید سفت
صنعت و سجع و قوافی هست نظم و نیست شعر
ای بسا ناظم که نظمش نیست الا حرف مفت
شعر آن باشد که خیزد از دل و جوشد به لب
باز در دلها نشیند هر کجا گوشی شنفت
ای بسا شاعر که او در عمر خود نظمی نه ساخت
ای بسا ناظم که او در عمر خود شعری نگفت

په ټوله شاعرانه مينه
پوهاند زيار
اکسفورډ، اکتوبر ۲۰۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱- څپرکی
# پښتو شعر هېڅکله عروضي سېستم زغملی او سهلی نه دی

له زاړه پښتو ادبي پېره بیا تر منځنۍ پېره را پاتې شعرونه زیاتره، که په )و ( ګړنیو کالبونو کې ویل شوي، که په پارسي یا عربي هغو کې، خپل تول و تال ))څپیز- خجیز (( رنګ درلودلی دی، خو د دغو ژبو عروضي پښېې له منځنۍ پېر او بیا ټیک له دېواني پښېو سره راپیلېږي او هغه هم د استاد مکنزي )۳۱۹ ( په وینا په دې اندچې اړوند نظمي کالبونو یا څېلونو )بیت، غزل، قصیدې، رباعي، مربع، مثنوي، ترکیب بند ، ترجیع بند ، مستزاد... ( او بیا قافیې او ردیف له راخپلولو سره یې بویه عروض او بحور هم راواخلي. په ټولیز ډول، راخپلونه د ))اداپټېشن(( د انډول په توګه د یوځه د بشپړې او هوبهو راخېستنه نه بلل کېږي. په دې جاج و مانا ، هغه څه چې له پښتو سره یې اړخ لګاوه، ترې راواخېستل شول او عروض و بحور، نه.

د ارزاني او انصاري هڅې

همدا خبره وه چې تر لومړیو دېواني شاعرانو )ارزاني او انصاري( عروضي پښېې تر درېیم شاعر را ونه غځېدې.که نه هسې خو د دغو دواړو پیلامګرو شعر په ټوله مانا پر دغه تله دومره سم نه خېژي، لکه واخلي، دا لاندې بېلګې یې چې پر دربمه خجنه څپه پیلېږي، د ارزاني:

د یوه و حدت له اصله

د کثرت شول ډېر فروع

او د انصاري:

په وحدت له هره جوده بېګانه یم

په کثرت..د میرزا په خوله ویېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دغه روښاني شاعرانو راوروسته د منځني ادبي پېر پښتو شعر په څه ناڅه شپږو پېړیو کې د یاد شویو پارسي- عربي کالبونو یا ژانرونو، قافیو او ردیفونو او بیا یې د هنري او فرهنګي اغېزو له را خپلولو سره سره په تولیز ډول د اړوندو عروضو او بحورو د راخپلولو هڅه نوره نه ده شوې. په دې توګه، ډېرو نومیالو شاعرانو دا کابو موندلې چې زیات زور پر ښکلاییز او انځوریز اړخ واچوي او په دې توګه پښتو شعر تر ښایسته ډېره بریده د دوه ګونو هندي او خوراساني پارسي سبکونو په سیالۍ سره چې له جغرافیایي- سیاسي پلوه یې هم د اړوندو تولواکمنیو ترمنځ ټیکاو درلود، په خپله ))څپیزه - خجیزه(( جامه او جوله کې په زړه پورې بشپړتیایي پړاوونه ووهي او تر نومهالي )معاصره( پېره یې راورسوي.

## خوشا ل او څلور ډوله خجیز شعر

ستر خوشال له دې سره سره چې پر ))عروضي شعر(( د پخلي او ټینګار په توګه میرزا ستایلی )له چانه په پښتو کې ما میزان لیدلی نه دی- میرزا په دا زبان که ویل کړي دي تللي( او پروړاندې یې دروېزه غندلی )مخزن مې د اخون چې تمامي پر نظر کښېووت- په ده کې نه عروض شته، نه یې بحر ما لیدلی(، خو په کړن کې یې پخپله څپیز- خجیز تول و تال راسمبال کړی دی. که د پښتو شعر د ))بندوبست(( او ))سیالوني(( او بیا د څلورګونو وزنونو خبره او غوره کړې، موخه یې بیاهم همدا څپیز- خجیز سبستم او ورسره ورسره د خج و اهنګ له مخې یاد شوي څلور ګوني بنسټیز وزنونه دي. لاسوند یې هم دا چې د زیاترو پخوانیو او اوسنیو شاعرانو پر خلاف پر یوه یا دوو وزنونو بسیاپاتې شوی نه دی. مانا دا چې په اګاهانه توګه یې د بېلابېلو شعري څېلونو )غزلو، دوبیزو، دربیزو، بوللو... ( مسرې هم پر لومړي خج پیل کړې، هم پر دویمه، هم پر دربیمه او هم پر څلورمه. پر وړاندې یې نورو زیات زور پر دربیم اچولی او ډېر لږ یې پر لومړي، دویم او یا څلورم خج؛ نو په پوره باور، په دې لاندې شعر کې یې له ))څو بحره(( موخه همدا څلور ډوله دي:

پښتو ژبه ده مشکله، د دې بحر مونده نه شي

هم ما لره)یو ( څو بحره، په ډېر مښود راغلي

د بوللې له دغه وروستي بیته یې دا خبره لا ښه ترا را ډاګیزه کېږي چې له ))دویم خج(( سره ویلې بوللـه یې))دوه بحره(( بللی ده:

دوه بحره، دوه مطلع لري، که دا قصیده ګوري

زر یو اتیا کلونه، په صفر کې ما ویلي)پ۲۵۴-۲۵۵(

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم هېښنده ده چې په )و ( ګړنيو ځېلونو )لنډيو ، سروکيو ، لوبو ، بګټيو ، چاربيتو... ( کې ان په نويو )—←مونډيو ، نيم ازادو او ازادو ( کې هم زياتره د پخواني او اوسني شعر ))درېيم ځپيز دود (( پېښې کېږي او تر څنګ يې لړوډېر څلور ځپيز هغه هم رادود شوی دی.

## ميا شرف او عروض يې

مياشرف د احمدشاهي پېر )١١٢٠-١١٨٢ لېږدي ( ليکوال او شاعر چې عروض يې کښلي هم دي، خپل ډېری شعر يې پر پښتو کنډه برابر کړی دی، لکه پر دويمه ځپه دا پيل کړې لارغه يې )وقفه يي ( څوارلس ځپيزه بېلګه يې:

بېلتون نصيب زما دی، قدرت د کردګار دی

بندي په بند د هند يم، مولد مي ننګرهار دی

د عروضو يا بدلمېچ رساله يې استاد رښتين د ))مياشرف عروض (( په نامه پر ١٣٣٨ لمريز کال د پښتو ټولنې له لارې چاپ او خپره کړې ده.

ويل کېږي، تر ميا شرف څه ناڅه يوه پېړۍ راوروسته عيسی هوتک خپل درست ديوان چې په شاوخوا ١٢٢٠ س. کلو کې يې بشپړ کړی او دوه زرو بيتو ته رسي، عروضي بڼه لري.)هېوادمل: ٩٨ ،١٣٦٥ مخ (؛ کېدای شي، دغه ويناوال له ))عيسی اخونزاده (( سره ټکر شوی وي چې استاد رشاد يې اړوندې عروضي بېلګې را تدريس کړې وې !

## استاد رشاد د انتيک عروضو سيستم په د فاع کې

استاد رشاد له دې سره سره چې څه ناڅه يې د ))ادبي فنونو (( او بيا ))عروضو او قافيې (( په چوکاټ کې د پښتو شعر د ځپيز )هجايي ( او بيا خجيز )تونيک ( سېستم لړو ډېره منښته کړې، خو بيا يې هم، څه د تدريس او څه د ليکنې او خېړنې له لارې پر خپل زاړه، يا د ده په خپله نومونه پر ))انتيک (( سېستم ټينګ و ترينګ پاتې شوی او د ژوند تر پايه يې د هغه سخته دفاع کړې ده. په اوږد مهالي استادي بهير کې يې له دولت لواني او ميا شرف، خواجه محمد بنګښ، عبدالعلي اخونزاده رانيولې، تر بهايي جان او سمندر پوري هغه خورا پيکه او مصنوعي ډوله عروضي بېلګې بيا بيا رامخته کړې. په دې لړ کې د نيم ولسي شاعر بهايي جان )١٣١٣ق - ١٣٥١ش ( هماغه ))جزئيات (( را اخېستي او ))کليات (( يې چې پښتو تول و تال لري او د ټنګ ټکور ښه ترا جوګه شوي، دومره پامور نه دي بللي. استاد د دغه راز ))عروضي (( شعرونو په سکښت او تقطيع کې بيا هم دېته اړوتی چې يو لړ خپلواکو او بېواک )واوېل او کنسوننټ( ترې، په يوه پلمه او بله پلمه له پامه وغورځوي؛ هرګوره د بېواکوړيزو )ابتدا پر ساکنو ( وييونو له کارونګه خو پخپله اړوندو شاعرانو ډډه کړې، په بله وينا ، د هغو پرځای يې له عربي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پارسي وييونو کار اخېستی؛ ))قافيي کلمې (( او ))رديفونه (( يې خو لا څه کړې، څه کړې. دا چې پر لاس ورغلې بېلگې د پښتو آر و نږه ))څپيز- څجيز (( شعر د سمندر يو څاڅکی هومره هم نه کېدې، نو دېته اړوتلی، چې د همدغه سېستم دننه دننه د نورو ادبي فنونو )بديع، معاني و بيان، وزن و قافيې او عيوبو... ( په رڼاکې پښتو شعرپوهنه پر مخ يوسي، هېښنده لا دا چې استاد پخپله هېڅکله د يوې داسې شعري بېلگې د کښنې کومه هڅه نه ده کړې !

په رسنيز او څېړنيز بهيرکې يې هم پر ورته بېلگو شخوند وهلی، د بې شمېرو رسنيزو ليکنو ترڅنگ يې د خپلواکو څېړنيزو اثارو په لړ کې يوازې د ))قافيي عيوبو (( د لوستونو، په بله وينا، ليکنو څېړنو ټولگه تر دوه نيم زرو مخونو وراوړولې ده. بياهم دا يو غنيمت دی چې نومهالي زده کړه وال او فرهنگيال زامن يې د رامنځته کړې ))رشاد فرهنگي ټولنې (( له لارې دغه او داسې نور دوديز، خو له تاريخي- فرهنگي پلوه خورا ارزښتمن اثار پرله پسې چاپ او خپراوي ته ور سپاري.

[اخځ: وږمه ۲-۳يمه گڼه، ۲۱- ۲۲ مخونه، کال ۱۳۳۸ او مخامخ خبرې اترې او مرکې]

استاد رشاد خو په هره توگه د نورو گڼو تاريخي، فرهنگي او ټولنيزو اثارو او شاعرۍ له پلوه شپېږم ستوری بلل کېږي، خو هملاری يې ))سمندر (( تر ده هم د انتيک سېستم زيات هوډيالی او ورسره ورسره پخپله هم ))انتيک (( پاتې شوی دی. سمندر، نه د ليکنو څېړنو له پلوه له نورو دوديزو ليکونکيو او څېړونکيو سره د پرتلې وړ دی او نه ورسره د شعروشاعرۍ له پلوه. په ټول ژوندکې يې يوازې د زرگونو زر گونو بې رنگ و خونده نظمونو تر څنگه چېرې د نابېرۍ له مخې يکې يوه بېلگه ))د اېلم څوکه ((، هغه هم د څپيز- څجيز د رغښت له برکته ويلې او په دې سره يې د ملک الشعرا بهار په خبره )← سريزه ( کې يوه کوشنوټې استثنأ راوستې ده:

))...ای بسا شاعر که او در عمر خود نظمی نه ساخت

ای بسا ناظم که او در عمر خود شعری نگفت ((

داچې د بېلارې بې گودره سمندر يوه نيمه عروضي ترانه، لکه ))درون پښتون (( پر غوږو بده نه لگي، د يونيم ))پرايوټ سکول (( تنکيو بولونکو ماشومانو دخوږ غږۍ او ورسره ورسره د ټنگ ټکور شاهکاري ده. ښايي، دا نادوده يې چې په ))ترخه- (( يا يې په خپله نومونه ))خوږه شپېلۍ ((، له امير کروړه تر امير حمزه پورې پر درستو آر و او اصيلو او هنري پښتو هستونو کرښه يا چليپا راکښنې ته را دانگلې، هرو مرو يې له ورپېښو گرومونو )عقدو ( څخه سرچينه اخېستې ده. ځکه له دومره بېخرته بوس بادونو سره چا په خروار لېتېۍ کې هم حساب کړی نه وو؛ او استاد رشاد يې بياهم ))عروضي ببولالې (( ورستايلې دي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد په یوه ځانګیزه لیکنه کې بیا خپله ګروهه ښه ترا ډاګیزه کړې او د پښتو شعر د عروضي جوړښت په تړاو یې د ))پښتو او عروضي سیستمونه (( تر سرلیک لاندې له لرغوني ))یوناني (( پېر او بیا زمونږ له تېرمهاله تر وسمهاله پوله تاریخچه را ښستې ده:

))... انتیک سیستم غالباً د عربي عروضو پر لاره دلته رارسېدلی او خپور شوی دی. پښتو که څه هم انتیک سیستم یې پر نظم باندې له یوه مخه غېږه نه ده راګرځولې، مګر ځینې پښتانه شاعران داسې هم پیدا شوي دي چې درې نیم سوه کاله پخوا یې لا له دغه سیستمه سره سم نظمونه پېیلي دي. سمندر صاحب لیکي چې په پښتو کې د هېڅ یوه تېرشوي او ژوندي شاعر د کلام تول د قانون په تله برابر نه دی.)خوږه شپېلۍ (

خو ما چې څومره تحقیق کړی دی، د انتیک سیستم نظمونه په پښتو کې نژدې څلورسوه کاله سابقه لري، مثلاً د عبدالعلي اخونزاده کاکړ)۱۲۹۹- **۱۳۲۵** هجري ( نظمونه له هغوی نه دوه سوه کاله مخکې د شرف شاعر )۱۱۲۰- ۱۱۸۲هجري ( او له هغې نه مخکې د دولت لواڼي )چې ژوند یې تر **۱۰۸۵** هجري یقیني دی (، دولت پخپله وایي:

دا وزن دی صحیح پر وکړه نظر

فاعلاتن مفاعلن فعلن

تراوسه پورې په شپږو عربي بحرونو برابر نظمونه موندل شوي دي:

۱هجز، لکه عبدالعلي کاکړ:

عجب راځي له دې دهره په هر ساعت ستم پر ما...

۲ رمل، لکه شرف:

ای چې بلبل د عطا تل په چمن ستا که چغار...

۳ مضارع، لکه عبدالعلي کاکړ:

یار د رومي او زه نه مرم هرګوره بې وفایم...

۴ خفیف، لکه دولت:

دا جهان دی په مثل بهار...

**۵** رجز، لکه عبدالقادر:

مهر زما و خپل صنم مه شه زما له عمره کم...

۶ مدید ، لکه رحمان بابا:

سرزما سامان زما ، ځارشه تر جانان زما...

سمندر په خوږه شپېلۍ کې په لسو بحروکې نظمونه ویلي دي... ((

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد دويم ))څپيز (( سېستم سېلابيک يا هجايي معيار لومړی له خپل دوديز څېړندود سره سم راپېژني، خو د پښتو لپاره يې وړنده نه بولي:
))...په دې کې د هجاوو په شمېر ټوټې کېښوی شي. د سېلابونو د اوږدوالي لنډوالي مراعات پکې نشته. په دې سېستم کې هغه هجا فشار لري چې تر وروستۍ هجا د مخه واقع وي او د مصرعې شپږمه يا اوومه هجا هم فشار لري )؟(. عبدالروف بېنوا پخپل ادبي فنون کې چې تقريبا شل کاله پخوا چاپ شوی دی، پښتو نظمونه سېلابي بللي دي. ښاغلي عبدالحليم اثر يې په پښتو ادب کې تاييد کړی دی. ړومبی يې زه هم ملګری وم، خو اوس نه يم... ((.

د رد د زباد لپاره يې د خوشال او پيرمحمد کاکړ هغه بيتونه رامخته کړي، چې څپيز کمی زياتی يا ناڼدولي لري، خو خجيز نه، لکه د خوشال دا بيت
چې د ننګ او د ناموس اندوه يې نه وي)١٢(
د هغه سړي به نه وي احترام)١١(
او پر دې ناخبر يا هم ناګار، چې د پښتو څپيز- خجيز قانون له مخې په خجپای پيل شوي شعر کې پښېليزې مسرې تر ناپښېليزو هغو يوه يوه څپه کمې راځي )د پوره پوهاوي لپاره: ← څپيز کمی زياتی، شپږم څپرکی(

تر دويم )هجايي معيار( وروسته د دريم )تونيک يا فشاري سيستم( چې د پښتو زباد شوی سېستم دی او ورسره د نه جوړجاړي )نه موافقت( پلمه يې هم تر ګناه بتره ده:
))تونيک يا فشاري سيستم چې فشارونه په يو راز وي. که سېلابونه فرق ولري خير دی. په پښتو ادب کې د دې مثال په دې کې په کارده چې د سېلابونو شمېر هم يو وي او د فشارونو هم. د فشارونو موقعيتونه هم بايد ټاکلي او سره مقابل وي. دا سيستم د پښتو ژبې له جوړښت سره مطابقت خوري. په دې کې مصطلحات هم هغه د انتيک سيستم استعمالېږي. صرف اوږده هجايي په فشاري هجا اړولې ده او لنډه په بې فشاره )؟(. د پښتو له دې سيستم سره توافق ړومبی عبدالحی حبيبي صاحب ذکر کړی وو. جارج مارګنسټرن او ډاکټر مکنزي هم په دغه رايه دي. يو روسي پښتو پوهاند نيکولای امکنرويچ دوريانکوف هم دغه رايه لري او سراولف کېرو هم د مکنزي په تقليد دا رايه اختيار کړې ده. زه هم دې ته د پښتو نظم طبيعي سيستم وايم، خو د فشاري موقعيتونو په ټاکلو کې له مستشرقينو سره موافق نه يم. (()الفت هماغه ګڼه(

د پښتو شعر پر ميتريک )عروضي( تول وتال باندې د استاد رشاد ګروهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تردي بريده ټينگه او ترينگه پاتې شوې چې ورسره ان د ازاد شعر د اړوندی هڅه يې هم کړې ده.
د يوې سريزې په ترڅ کې يې د ازاد شعر پر وړاندې له نابانديوالي سره سره، هغه هم ښايي د دوستۍ په پار د لېوال ))هوسۍ (( نندارمې له ازاد شعره داسې مسرې را چاڼلې چې د نابرۍ له مخې پکې نه ببواکوړې )کلستړونه ( ، لکه ))سخوندر، شخوند (( راغلي او نه پکې لنډې- اوږدې څپې، لکه )اړ ( او )خورين ( غاړه غړۍ شوې، نو د )فاعلاتن ( پر رکنونو يې سکښتلې )تقطيع کړې ( دي. )غفور لېوال، هوسۍ ۱۳۷۸ل (
دا پوره راډاگيزه کېږي چې استاد غوښتل، په هره بيه وي، د پښتو شعر د ميتريک ))عروضي (( ليدتوگې سخترسانه دفاع وکړي، ))پويټېکس- فونېټېکس (( علمي دايلېکتيکي تړاو کورټ و سکوټ ناليدلی وښيي او د دې لپاره په ټوله ناړامۍ ))استثنأ (( پر ))قاعده (( بدله کاندې !

د پېنځو ستورو په گډون د گردو دوديزو پوهانو په منځ کې استاد رشاد يوځانگړی او استثنايي ))pedantic or hegemonic (( لوښه او عادت درلودل او همښتنۍ هڅه يې دا وه چې له عادي خبرو اترو نيولې، تر علمي بحثونو او بيا ليکنو څېړنو پورې په خورا پسته، خوږه او فصيحه ژبه د غټو غټو عربي او غربي وييونو، نومونو )ټر مونو (، اقتباسونو، نقل قولونو او روايتونو په وړاندېينه شاگردان، مينه وال او بيا کورني او بهرني پښتو پوهان، هغه هم ژبپوهان هم تر خپل جادويي اغېز لاندې راولي او لا ويې نن‌گوي !

دا ليدتوگه يې هم د ))انتيک عروضي سېستم (( هومره زرگونه کلونه زړه ده چې ژبه او ژبپوهنه د ادب يوه برخه گڼي. د ساري په ډول په همدغه ليکنه کې غړونه، څپه، څج، ويی يا کلمه... د خپلې ))انتيکو ادبي فنونو (( د مقولو په توگه راخرگندوي. دا په پرځای پرېږدو چې ))پويټيکس (( يا شعري رغاونه له آروبنسټه د ))فونېټېکس (( يا غږ پوهنې زېږنده او سکالو )موضوع ( ده، نه د دوديزې ادبپوهنې )ادبي فنونو ( او نه د اوسنۍ علمي ادبپوهنې. هرگوره، يوازې ادب، هغه هم د يو ))ژبني هنر (( په ټولمنلې نومونه د ))ادبپوهنې (( سکالو يا موضوع ده !
ادبي فنونو د ))معاني (( په گډون زياته برخه هم لږ تر لږه تر يوې نيمې پېړۍ راهيسې له اړوندو نومونو او مقولو سره په نوې ژبپوهنه اړه موندلې او پاتې هغه يې په نوې ادبپوهنه. د معاني بيا يوه برخه په ماناپوهنه )سېمانتيکس ( او پاتې يې له ))بيان (( سره يوځای په سبکپوهنه )ستايلېستيک ( او ويناپوهنه )رېتاريک ( اړه پيدا کړې ده. هرگوره، د شعر ادب او نورو هنرونو په اوبجه کې د سبک )ستايل ( نومونه )ترم ( ځانته جلا آرونه او پېژند نښې لري له

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې کېله موږ د ژبې د آر و معيار په تړاو ))ليکلار (( نومونه رامنځته کړې، لکه څنګه چې زموږ د پوهنځي د ژبپوهنې تکړه ماستر مولاجان تېنيوال په يوه ژباړه )الفت شپاړسمه ګڼه( او همدارنګه وتلي ليکوال عبدالمالک همت يې په يوه ليکنه )ښکلا ۲۲ ګڼه( کې پوره رڼاوی کړی دی. په دغه تړاو د لانګندوين )۲۱مخ( په خبره کله داسې هم پېښېږي چې يوه غونډله يا ځرګندونه له پښوييز پلوه سمه او ډول شوې وي، خو د لېلي او ليکلارې له پلوه دومره خوندوره نه وي، نو کېدای شي، د يوه بلونج )بديل ( لټه يې وکړو.

اوس بيرته استاد رشاد ليدتوګې ته راستنېږو او هغه دا چې هېڅکله يې د آرې ځانګې ))ادبي فنونو (( او په دې لړ کې د پښتو شعر د عروضيوالي په تړاو چاته په اسانه تن نه دی ورکړی او تر ))طبيعي سيستم (( يې هماغه دوه نيم زرکلن او بيا يونيم زرکلن ))مصنوعي (( هغه په وچ زور پر پښتو خوارکی. تپلی او زغملی دی. اړونده تاريخچه يې هم له لاتيني نومونو سره د دوريانکوف له هماغې پښتو ليکنې څخه بې اخځ ښوونې راخېستې چې پر ۱۳۴۰ )۱۳۴۱ ل ( کال د ادبياتو پوهنځي په پښتو مهالنۍ ))وړمه (( کې خپره شوې اوليکوال په سريزه او د همدې څېرکې په پيل کې د دې کتاب د کښنې تر ټولو غوره انګيزه بللې ده.

دا چې زموږ د ادبي فنونو استاد لومړی پلا ))حروف (( پر ))ږغونه (( اړولي، په پوره دک و دليل زما مخامخ جروبحث او بيا د همدې کتاب د لومړي چاپ )۱۳۲۹ل ( ورته انګېزه شوې؛ د څلور څپيزو رکنو او بيا دننه دننه د خج د څلور ګونو دريځونو او په ځانګړې ډول د دوو خجونو ترمنځ درې څپيزو واټن په رسميت پېژندنه يې هم همداسې درواخله.
پر ))ږغونو (( يې د ))حروفو (( اړونې ببلګه، هرګوره، د پورتنۍ ليکنې په سرکې راغلې ده:
))د خواجه نصير طوسي )۵۹۷ - ۲۷۲ق( د نظم ړومبني اجزأ متحرک او ساکن ږغونه دي. دا نظريه ټول مني... ((. د اروانباد طوسي اروابه هم هېښه پاتې شوې وي چې زما ))حروف (( څنګه پر ))ږغونه (( اوښتي دي !
له دې سره استاد ته په کار وه، ))ساکن و متحرک (( يې هم ورسره **update**
کړی وای او پر ))کنسونټو واوېل (( او ياهم پر ))تړلې او وازه څپه (( يې ور اړولی وای.
دابه پرځای پرېږدو چې غږونه او څپې له آر و بنسټه نامانيز ژبني توکي يا يوونونه )واحدونه( دي. شعر د ژبې له رغېدلو مانيزو )وييونو ، کلمو (، لاځه چې، لکه پخپله پښويه )ګرامر (، له بشپړو ژبنيو توکو )غونډلو ، جملو ( راپيلوي او بيا هله د وييونو ، څپو او بيا غږونو له اوډنې، وېشنې او سکښتنې سره کار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما شل کاله له مخه د خپل بدلمېچ تر لومړي خپراوي کلونه کلونه وړاندې د خپلو هاندوهڅو ، په تېره د لوستتوکیو )درسي موادو ( د تیارونې په بهیر کې دا هم رابرسېره کړې وه چې د پښتو شعر درېګوني )وګړني، ادبي او ازاد ( ډولونه، یو څپيز- څجيز سېستم لري او هغه دا چې د کوشنیترین شعري یوون )مسرې ( له هرو څلورو څپو څخه یوه څجنه راځي. مانا دا چې د مسرې یا ړومبۍ څپه څجنه ´---وي، یا دویمه- ´--، یا درېیمه-- ´--او یا هم څلورمه--- ´-.

په دې ډول دغه څلور څلور څجنې څپې د ناشننوړو غونډونو )رکنونو ( بنې لري، په بله وینا ، هره مسره په آر و پرنسیپ کې له همداسې غونډونو رغېدنه او شننه مومي او که په پای کې یې تر څلورو کمې، یانې یوه، دوه یا درې څپې راشي، د ناځجن نیمګړي غونډ په توګه د اړوندې مسرې ټاکلی څومره ییز ))څپيز (( انډول پرځای کوي او ورسره کېدای شي، د پښېلې )قافیې ( یا لړ )ردیف ( په رغاونه کې برخه واخلي. هر ګوره، په )← ازاد شعر ( کې یوه مسره یا ټوټه تر دوه )فونیمي ( څجنې یا ناڅجنې څپې هم لنډون مومي چې هممهال د یوه ویي او غونډلې کار هم ورکوي، لکه: هو ، نه، )اخ، وه، وې... !( او نور.

## مکنزي د پیلامګر په توګه

لکه په پخواني چاپ او د اوسني دې په سریزه کې چې یادونه شوې، که څه هم ماته وار له مخه د نیکولای دووریانکوف لیکنه پرلاس راغلې او د الهام سرچینه او مخبېلګه شوې وه او د استاد دانیل مکنزي د ۱۹۵۸ زېږدي کال هغه ۴۵ کاله وروسته ، هغه هم انګلیستان ته له را کډوالېدو سره د ۱۹۹۳کال او بیا ۱۹۹۸ کره کړې بڼه را تر لاسه شوه. دغه استاد ، په خپله اتلس مخیزه څېړنه کې، بې له دې چې د دووریانکوف په خبر یې په نومېرلې توګه د پښتو ))غړپوهې (( او ))شعرپوهې (( ترمنځ نه شلېدونکې )دیالکتیکي ( تړاو ته ګوته و نیسي. استاد مکنزي ماته دهغې زړې لیکنې تازه بشپړه کړې، کره کړې او غځولې بڼه د ۱۹۹۸ په مني کې له هغې ژمنې سره سمه اکسفورډ ته را ولېږله چې څو میاشتې له مخه یې په خپل کور )انګلیسي، ویلس ( کې، تر اړوندو اوږدو جر و بحثونو وروسته را سره کړې وه. ما هم ترې پر خپل وار د خپل بدلمېچ د نوې خپروني )ایډېشن ( په کرونه او بشپړونه کې پوره ګټه واخیسته. په دې مانا چې له پخوانۍ هغې سره یې کورټ و سکوټ توپیر لري.

د لندن پوهنتون دغه نومیالي آریانپوهاند او پښتو پوهاند په خپله لیکنه )rev.1998 Pashto Verse( کې د ځینو پښتنو لیکوالو دا هڅې بېځایه او ناسمې )misnomer( بللې چې په عربي- پارسي کالبونو )بیت، رباعي قصیدې، مثنوي... ( کې ویل شوي لیکنې او ))دېواني (( شعرونه، په مېتریک )عروضي ( ډله کې وشمېري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده پخپله، که څه هم وار له مخه پښتو شعر ))څپیز (( بللی، خو په کړن کې یې د ګڼو دېواني او ولسي بېلګو په سکنښت یاتقطیع )scansion( سره بشپړ ))څپیز- خجیز(( سېستم پر کار اچولی دی. د مسرو دننه وییخج یې په واژه خجنښه )□_( او شعري )مسره ییز( خج یې په ترلي هغې )_´( په ګوته کړی دی. دغه راز یې د څپې څومره ییزوالی یا کمیت )اوږدوالی او لنډوالی(( په پښتو شعر کې بې نقشه یا بې ارزه )irrelevant( بللی او موخه یې څپیز شمېر نه دی. ورته خبره ما د عروضي او څپیز- خجیز سېستم د توپیر په تړاو، د خپل کتاب د لومړي چاپ په )۱۲مخ( او د اوسني چاپ په درېیم او پېنځم څپرکي کې د پارسي شعر او همدارنګه د ))څپې(( په تړاو کړې ده.

مکنزي د پښتو ولسي یا )و( ګړنی شعر دا دوه ګونی وېش زموږ تر څېړونکیو )لکه د پښتني سندرو هغه( په پوره کره تخنیکي ډول را پر ګوته کړی دی:
))وګړنی شعر پر دوو ټولیو )کټېګوریو( وېشل کېږي. یو هغه سملاسي )فی البدیهه( لنډې نغمې دي چې د کار پر وخت، پر لاره او یا هم له ملي اتڼ سره بولل کېږي، د وګړني شعر دا برخه زیاته آره او رښتینې بللای شو؛ زیات دودیز رنګ لري او ښېنومه ده.
)دویمه ټولیـ( چې ویونکي یې څرګند او د ځانګیزو سندرغاړو له خوا بولل کېږي. خو اړینه نه ده چې همدوی یې جوړوونکي هم اوسي. په دې ډله کې غزل او چاربیتې راځي چې غزل یې ، هرګوره له ادبي هغه سره خورا ډېر توپیر لري. (()مکنزي ۳۲۰مخ(

دا هم زما له نه هېرېدونکو جلا وطنو یادونو او برياوو څخه وه چې تر لسیزو وروسته د ټولمنلي استاد مورګنستیرن له دغه پیاوړي شاګرد او ځاناستي پښتو پوهاند سره مې شلېدلې اړیکې راټینګ شې او د ژوند په وروستیو ورځو شپو کې ورته یوځل بیا د شاګردۍ ګونډه ووهم. ده هم په دې پښتني- انګرېزي ولوله چې د خلوېښتکلنې شاګردي- استادي دوستانه اړیکو او علمي همکاریو پور یې راپرې کړی وي، له خپلې مېرمنې سره په خپل نوي اخېستي کور ))انګلسي، وېلس(( کې په څلور ورځنۍ مېلمستیا د یوه پوهنځي هومره ګټه را ورسوله او دا کابو یې را په برخه کړه چې د پښتو شعري سېستم په ګډون ور سره له پښتویې را نیولې، تر آرپوهې پورې د پښتو ژبپوهنې ډېرې ناسپړلې غوټې پرانېزم.

د نجیب منلي ونډه

دا هسې یوه نابرې یا ))توارد(( وو چې زموږ فرانسمېشتي ادېبوه لیکوال او څېړنوال نجیب منلي د استاد مکنزي د ۱۹۵۸ لیکنې په رڼاکې له ما سره څه ناڅه هممهال، پر 1987 ز. کال په

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه وېړه فرانسي ليکنه {Najib Manalai; Métrique du Pashto in Cahires de poétique comparée N° 15, Octobre 1987 ; pp. 103-153.} کې د پښتو شعر د ورته (څپيز- خجيز) سېستم پخلې کړی او د هغه استاد پر پلیونې، یاهم په خپل نوښت يې دګڼو ادبي او ولسي بېلګو په ترڅ کې پر کار اچولی دی.
زه يې له دغې ليکنې متې دوه درې کاله وړاندې خبر کړم او سم له سموني يې هماغه آره فرانسي بڼه له پاريسه راولېږله، خو دا چې پر فرانسي زما سر نه خلاصېده، نو دا دی، په پښتو لنډيز يې هم وپاسللم او له کابله يې رابرېښليک کړ چې ګران مينه وال به يې بياهم هماغه غوراوی تر کتنې لاندې ونيسي.

ګران منلي خپله ليکنه له دې تاريخي شاليد سره راپيل کړې ده:
))د شپاړسمي پېړۍ په پای کې د پير روښان (۱۵۲۴ – ۱۵۷۹ز ( د سياسي - مذهبي پاڅون د پښتو ژبې يو پراخ ادبي فعاليت پيلامه ده. پر دغه مهال د پښتنو سيمه د دوو پارسي ژبو امپراتوريو ترمينځ وېشل شوې وه چې لويديځ ته د پارس صفوي امپراتوري وه او ختيځ ته د هند د مغلو قدرت وو. په دغه فرهنګي چاپېريال کې پښتنو شاعرانو او ليکوالو په پراخه پيمانه له پارسي څخه هم د لغاتو په برخه کې، هم د مفاهيمو په برخه کې پراخې اخېستنې وکړې چې کله ناکله يې د پښتو ژبې ګرامري جوړښت هم د پارسي په ډول برابر کړی دی. د دې اخېستنو په ترڅ کې شاعرانو د پښتو شعر اصلي، معمولي بڼې پرېښودي او هڅه يې وکړه چې پرځای يې د عربي- پارسي عروض خپل کاندي، خو عملاً په دې برخه کې ډېر بريالي نه ول...

په هرډول که د ))توارد (( خبره هم شي، تر درویش دراني يې له ماسره ډېر راځي. هغه هم يوازې په دې هم نه، چې د استاد مکنزي ليکنه يې مخبېلګه شوې، بلکې خپلې رسمي ځانګې )ادبپوهنې( او اړوندو څېړنو او ژباړنو هم ورسره پوره مرسته کړې؛ شعر و شاعري خو ورسره د دراني هم شريکه ده. او دا چې ډېرۍ شننې او سپړنې يې زما له هغو سره په بنسټيز ډول توپير نه لري، نو يوازې هماغه اړين ټکي يې له لوستونکيو سره شريکوم.
داخبره ))...پښتانه شاعران او څېړونکي پردغه ستونزه پټه خوله پاتې شوي دي. که څه هم، کېدای شي چې د پښتو د عروضو ځينې لارښودونه جوړ شوي وي، خو ... (( يې خو وار له مخه ځواب شوې او هغه داچې که موږ دا درې پښتانه يو له بله سره خبر نه وو او په بهرنيو کې له استاد مکنزي څخه هم يوازې همدی خبر وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرګوره، د استاد مکنزي له لیکنې د ورپیدا شویو پوښتنو لامل یې هم دا دی چې ده یې هماغه د ۱۹۵۸ کال لیکنه مخبېلګه کړې وه او وروستنۍ بشپړه او کره بڼه یې پر لاس نه وه ورغلې. د هغو پوښتنو لومړۍ بېلګه دا ده:

))د.ن. مک کینزي ... د پښتو شعر آهنګ یا ریتم د هجاوو له کمیت )لنډوالي او اوږدوالس( سره نه، بلکې د خجیزې لړۍ له نظم سره تړلی دی. خو ښاغلی مک کینزي د خپل نظر جزییات نه څېړي او د څو مثالونو په ورکولو یې بسنه کړې ده. ما ته د ښاغلي مک کینزي د ملاحظاتو په سم والي کې کوم شک نه وو راپاتې، نو ومې غوښتل چې لږ ژور تحلیل یې وکړم او د پښتو شعر پر دواړو اړخونو )یانې ولسي شعر او دیواني شعر( یې تطبیق کړم.((

په دې لړ کې یې، لکه څنګه یې چې ما له مخه په اړونده ونډه کې یادونه وکړه، ده د ولسي او ادبي یا دیواني شعر د ښنې په ترڅ کې د مسرو دننه وییخج په واژه خجنښه )□ـ( او شعري خج په تړلې هغې )ـ´ (سره په ګوته کړې دی. همدا راز یې د څپې څومره بیزوالی )اوږدوالی او لنډوالی( یې( کتې مټ لکه ما ) په پښتو شعر کې بې نقشه یا نااړزی )irrelevant( بللی او موخه یې څپیز شمېر نه دی. هن که په زړه لیکنه کې یې د یوه ټاکلي شعري څپل د مسرو ترمنځ څپیزه نانډولي هم موخه اوسي، دا هم څه بېځایه خبره نه ده او هغه دا چې تر درو څپو لاندې باندېوالی، تول و تال یا اهنګ )ریتم( دومره نه ویجاړوي. او په دې کې ښاغلی منلی هم له موږ دواړو سره همانده دی چې ترڅپې، خج زیات ټاکنده نقش لري. ما پخپله تر هغې پخواچې د استاد لیکنه پر لاس راشي، د خپل بدلمیچ په لومړي چاپ او دویم چاپ کې، یوځل د عروضي او څپیز سیستم د توپیر او بیا د څپې د بېلابېلو ډولونو په تړاو ( دغه راز څرګندونې راغبرګې کړې او پوره بېلګې یې په همدې لومړي او بیا دویم، دریم او پینځم څپرکي کې وړاندې شوې دي.

د لیکنې په دویم مخ کې یې د))آهنګ (( په تړاو دا الاندې نوموني )ترمونه( او څرګندونې با دومره ځانګیزې او تخنیکي نه بریښي:

))د پښتو ژبې آهنګ د وینا د لړۍ د تونیکو سېلابونو پر نظم ولاړ دی. د آهنګ لپاره کولای شو چې یو )تیوریک فرضي واحد( !( تعریف کړو. دا فرضي واحد چې د ژبې په وییپوهنه( !( کې کوم خاص ارزښت نه لري، د سېلابو یوه لړۍ ده چې یو سېلاب یې تونیک وي )تونیک خج( !( ولري(.((

څلورڅپیز- خجیز غونډ )رکن( چې ما د پښتو شعر د تولیز یوون )ریتمیک واحد ( په توګه په دواړو چاپونو کې له بېلګو سره ښوولی، ښاغلی منلی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



))تیوریک فرضي واحد (( او ))خجیزه کړی stress group (( نوموي. خو د دې خبرې تر څنګ يې چې یوه څپه پکې خجنه وي، جوت او ټاکلی ))څلور څپیز والی (( له پامه غورځوي او پر))درې سپلابې (( او ))څلور سپلابې (( کړیو یې وېشي !
)په دې تړاو پوره سپړاوی بیا هم د کتاب په لومړي، دویم، درېیم او پینځم څپرکي کې موندلای شي(.

مسره یې هم داسې پېژندلې ده:
))د پښتو شعر بنسټیز واحد مسره ده چې کم له کمه یوه خجیزه کړی لري او تر ټولو اوږده مسره څلور خجیزې کړی لري.)ځینو معاصرو شاعرانو او یو شمېر پخوانیو د خورا خام شعر خاوندو شاعرانو کله کله تردې اوږدې مسرې هم جوړې کړې دي، خو دا ډول شعرونه د ګوتو په شمار دي او خاصه توجه نه غواړي(.((
دغلته بیا هم دا نه وايي چې هره ))خجیزه کړی (( څو څپې را نغاړي؟
د مسرې او بېلابېلو ډولونو په اړه د دې کتاب په درېیم څپرکي کې پوره څرګندونې وړاندې شوې او دلته یې راغبرګول اړین نه بریښي؛ همداسې یې د استاد مکنزي لیکنه)**۳۲۵-۳۲۷**مخ(.
نورې پوښتنې یې هم زمونږ د دواړو له خوا ځواب شوې، لکه د ))نیم مسری (( چې ما د استاد رشاد د نومونې ))وقفه یې مسرې (( پر بنسټ))لارغه یې (( او ))ماته مسره (( نومولې ده)زیار، درېیم څپرکی او استاد مکنزي**۳۳۱ - ۳۳۵** مخ(.

د درویش دراني برسېرونه
ښاغلي درویش دراني بیا د سوچه))توارد (( له مخې د یوه نوښتګر شاعر او انګریزي ښوونکي په توګه څه ناڅه له ما سره هممهال ورته سپسټم تر څېړنې او شننې لاندې نیولی. خو نژدې یوه لسیزه وروسته، هغه هم هله ځني خبر شوم چې په پېښور پوهنتون کې مو سره لیده کاته وشول او کتابونه مو سره ادل بدل کړل. که څه هم سم له لاسه راسره د هغه کتاب نشته، خو بیا یې هم له هماغې لومړنۍ ځغلندې کتنې څخه دومره پر یاد راپاتې دي چې نه یې اړوندې څرګندونې دومره تخنیکي دي، او نه یې د خج )stress ( له مخې د شعري ټوټو یا مسرو او ورسره د ټولیز شعري رغښت بنیادي څلورګوني ډولونه یا وزنونه پر ګوته کړي ؛ ان تردې چې خجني او ناخجني څپې یې هم ))قوي- ضعیفی (( بللې دي !

په پای کې دا یادونه هم اړینه بولم چې دغه بدلمبچ زماله موخې انګېزې او وړاندوېینې سره سم له لومړي خپراوي )1990 ( راهیسې تر اوسه په دې شلکلن پېر کې خپل اغېز ښندلی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنتوني زده کړیالو په ګډون د بشپړ ډېري ځوان ادبي پښت له تاوده هرکلي سره مخامخ شوی، هغه هم له درو غورو لاملونو سره:
۱) په ناځانخبري ډول له کوشیني راهیسې د هر پښتانه او پښتني په ذهن و زړه کې د (او (ګړني شعر و ټنګ ټکور تول وتال، کټ مټ، لکه پښتو ژبه له پښوییزو دویونو) ګرامري قاعدو) سره ، وار له مخه ځای نیولی او زېرمه شوي، که نه څنګه به یې له یوه ټومب) تحریک (سره په هماغه تول و تال یوه ناره، لنډۍ، بدله... نابېره له خولې وتله او یا یې هم یومخیزه ولسي شاعري او سندرغاړي راخپلوله. او کله چې بیا له لیک و لوست او ښکلاییز خوب و ذوق سره په ادبي کچ له تېرمهالي د بواني او وسمهالي قافیوال او ازاد شعر په لاروۍ ورته زېږندویۍ ته مخ کوي، نو هماغه تول وتال، په بله وینا، ))ځپېز- خجیز(( رغښت ورسره راخپلوي او هماغه ځانته مخښلګه ګرځوي. له دې سره یوه نیم، لکه د وسمهالې ادبپوهنې زده کړیال او څېړنوال په دې هڅه کې کېږي چې د هغه ناګاهانه کارولي یا کارول شوي رغښت پر لارو رودو او کچ و مېچ اګاهانه لاسبری پیدا کاندې، دا غوره او ګټوره نګېري چې همداسې یوه ښکارندویه لارښود ته مخه وکړي، نه یوه ناپېژندویه لارښود ته؛
۲) د تېر هغو په پرتله له عربي- پارسي ژبو او بیا یې دودیزو ادبي فنونو او په دې لړکې پېچلو عروضي او قافیي لارو دودو سره یې پرله پسې زیاتېدونکی لرېوالی او نابانډېوالی؛
۳) سراسري ټولنیز خوځون او جلاوطني، نوې خبرتیایي) کمپیوټري (تېکنالوجۍ او ورسره د هېواد، سیمې او نړۍ پر کچ د تړلیو نومهالو فرهنګي او ادبي اغېزو او سیالیو، له نوې او ازادې شاعرۍ سره ډېرېدونکې لېوالتیا او له دې سره ژب - ښکلاییزې جولې او ژب - اندیزې منځپانګې او پیغام ته د هڅې او پاملرنې زیاتېدنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲.څپرکی
# په خپله جوله کې د پښتو شعر
# د سيا لۍ هڅه

شعر د ژبني هنر ادب ( په بېلابېلو ځېلونو کې تر گردو لوړ تخيلي او زړه راکښونکی ځېل او د انسان د ښکلاييز خوب )ذوق ( روزونکی او خړوبو-ونکی او بيا داسې ځېل دی چې په ټوله مانا يې د ناځانخبرۍ)ناخودآگاه ( ناسپړلي او زېرمه شوې هيلې او ارمانونه ځانخبري)شعوري ( نرۍ ته راباسي او را پوخلا کوي يې. له دې چار و دندې سره د ))شعر د شعر لپاره (( ليد توگه رد ېږي چې د ټوليز هنر په تړاو يې د الماني ايډيالېست فېلسوف مانوېل کانت)۱۷۲۴ - ۱۸۰۴ ( څخه يې سرچينه اخېستې ده. هغه هنر د ښکلا د پنځوني لپاره د انسان هاند و هڅه ، په بله وينا ، هنر د هنر لپاره باله. دغه اند توگه له هماغه راهيسې دا دوې- دوې نيمې پېړۍ پرله پسې تر سختو نيوکو لاندې راغلې او په کلکه رد شوې ده، په ځانگړې ډول د زيگموند فرويد )ز ۱۸۵۲- ۱۹۳۹ ( د روانشنيز)سايکاناليستي ( اند توگې له رامنځته کېدو راهيسې چې هنر د انسان په ناځانخبرۍ )تحت ا لشعور ( کې له تمبول شويو او زېرمه شويو هيلو او ارمانونو سرچينه اخلي. له دې سره يوازې د نوريز- ښکلاييزو گرومونو )عقدو ( خړوبونه،نه، بلکې د ټولنوټېزو )سوشل-اېکانوميکو ( هغو هوارونه هم رانغاړي.

همدا خبره ده چې استاد پوهاند رحيم الهام)۱۳مخ( د کانت اند توگه له علمي پلوه ناسمه بولي او ليکي:

))...که هنر د ښکلا د تخليق لپاره هڅه وي، هنر او ښکلا سره يو انډول کېږي او دا نتيجه ورڅخه حاصلېږي چې گوندې د هنر غايه پخپله هنر دی ((.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لندن مېشتي فلسفي ادبپوه اسماعیل خویي له خوا د شعر څه ناڅه ښه ترا اوډلی او منلی پېژند ))شعر په کره، کېښکلي او اهنګینه ژبه، د اند و واند ولولیز ترون دی = شعر گره خوردګی عاطفی اندیشه و خیال است در زبان فشرده و آهنګین (( او ورسره ترلی ))ژب - ښکلاییز (( او ))ژب - اندیز (( دایلکتیک دا راجوتوي چي جوله )شکل ( د ))مخیٌله وینا (( په توګه د شعر آر جاج او جوهر، په بله وینا )) ښکلاییز ارمان (( ته ربنتیاینه )تحقق ( وربښي او ورسره ورسره اندیزه منځپانګه او پیغام، په بله وینا )) ټولنیز ارمان (( هم رانغښتل کېږي. دا به ومنو چي شعر ته تر بل هرادبي ځېل )ژانره ( تر ډېره د یوه نږه هنري ځېل په سترګه کتل کېږي، خو د هنري ارمان تر څنګ یې ټولنیز ارمان و پیغام هم له پامه غورځېدای نه شي. هرګوره، په دې توګه به، هغه شعر یو ربنتیني شاهکار وي، بې له دې چې پکې رانغښتی ټولنیز ارمان او پیغام د چا ښکلاییز خوب )ذوق ( و زمولي، هممهال یې منلوته ورچمتو هم کړای شي.

دا هم هېرول په کار نه دي چي ګني پر))شعریت (( باندې ټینګار دې، ګړسره د ))هنر د هنر لپاره (( ټولی )مقوله ( راخپله کاندې او بیا د همدې لیدتوګې پر بنسټ تر دې ښندې )مبالغې ( پورې چې وایې:

))اصیل شعر متېي تر دویم نړیوال جنګ را وروسته منځته راغلی دی (( ! مانا داچې د زرګونو دانته وو، ګویته وو، ګارسیاوو، هوګوو، پوشکینانو، بایرنانو، فر دو سیانو، خوشالانو... هستوني او پنځوني دې هېڅ پر هېڅ او هېر پر هېر وګڼل شي، او له دې سره پردې زباد شوي واقعیت هم سترګې پټې شي چې د شعر و ادب په ګډون په ګرده بشري پوهنیز- فرهنګي ډګر کې وسمهال د تېرمهال او وسترمهال تر منځ یو پول دی او له رنګېدو سره یې هرڅه له منځه ځي !

له پاسنیو څرګندونو دا پایله اخېستل کېږي چې ))شعریت (( د ))ژب - ښکلاییزې (( جولې زېږنده دی او همدغه دوه اړخیزه جوله ده چې د ))مخیٌله وینا (( په توګه یې جاج او مفهوم وربشپړوي. دویم، یا دربیم جولیز اړخ))رغاونیز تخنیک (( د دغې ))مخیٌله وینا (( کوم اړین رغنده ټوک )متشکله جزء ( نه ګڼل کېږي او ان پخپله عربو چې شعري اډانه یې پرعروضي سبستم ټیکاو لري او ور اوډلي یې دي، د یادې شوې ټولۍ )مقولې ( نوښتګر یې هم بللای شو. په دې ډول ))وزن، قافیه، ردیف (( او ورسره نظمي کالبونه یا ژانرونه... هم د شعر له پېژند )تعریف ( څخه ایستل کېږي. نو کوم تول وتال یا وزن، قافیه، ردیف... چې نه یوازې عربو او مورږ، بلکې د نړۍ ډېریو ژبنیو ټولنو ورسره تړلي او رادود کړي دي، موخه یې ))موسیقیت (( دی، نه ))شعریت (( !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرګوره، نن سبا دغه موخه هم نوره په کړن کې خرخشنه شوې او هغه دا چې نه یوازې پر نړیوال کچ ازاد)موزون او بې قافيه( لاخه چې سپين )بې وزن و قافيه( او ناپېيلي )منثور( شعر موسيقۍ ته لار موندلې ده.په پارسۍ کې، نيما شوويچ د شلمې پېړۍ په درشل کې د نيم ازاد پارسي شعر سېستم رامنځته کړ او پېنځه شپږ لسيزې راوروسته احمد شاملو تر بې وزن و قافيې ))شعرسپيد (( را ورسوله، سيما بهبهاني او څو نورو بيا ان تولمنلی رومانتيک خپل ))غزل(( هم د پښېلو )قافيو ( له باستيله راوکښل.

په پښتو )و (ګړني شعر کې چې له دغو درو ډولو څخه لومړۍ دوه شتون لري، همزمان سندرې هم دي، په بله وينا ، همېشه له ټنګ ټکور سره ملې پاتې شوې دي او له ژب - ښکلاييز پلوه هم په اړوندو پرګنو کې پوره منښت او ګرانښت لري: ازاد وزمې سندرې، لکه لنډۍ، سروکي... او سپين وزمې، لکه د کيسو او نکلونو نارې او داسې نورې؛ په متلونو کې بيا د دغو ګردو شعري فورمونو څرک لګولای شو، ازاد لکه:

- په باران پسې پتۍ ګرځوي- په خيرات پسې شکرۍ،
- بنيادم يو نور- جامه يې دوه نوره،
- پور چې تر سل تېر شي- وچه يې مه خوره...؛

سپين، لکه:

- بې عقله زوم د خواښې په باټو ختاوځي،
- بډای يې له خواره ګټي، خوار يې له بډايه،
- وزه چې پربام وخېژي، لېوه ته هم ښکنځل کوي....

په هره توګه، لکه څنګه چې د ټولنيز ارمان او پيغام په تړاو څرګنده شوه، تول وتال يا موسقيت، په بله وينا ، وزن و قافيه تر هغې پامور ګڼل کېدای شي چې د ))شعريت(( پر تاوان پرې نه وځي. په دې لړ کې يې توليز )سېستم يا تخنيک بيا ، او هغه هم چې پر يوه ژبه له بلې ژبې څخه راتپل کېږي، له دغه پلوه په هېڅ ډول د منلو او زغملو جوګه کېدای نه شي، لکه واخلې، پر پښتو باندې د عربي عروضو او بحورو راتپنه؛ قافيې آرونه او دويونه يې که څه هم لږوډېر له ليکني او دېواني شعر سره اړخ لګوي، خو بيا هم ورته له پښتو غږپو هنې سره سمون ورکول په کاردي. نو د دې لپاره چې دغو ټولو اړخونو ته مو پښتو جوله او جامه ور اغوستې وي، په څلورم څپرکي کې تر څېړنې لاندې نيول کېږي.

په پای پای کې تر ټولو خبرو وروسته، له نړيوالې شعري سيالۍ څخه زموږ موخه بيا هم يوازې او يوازې پر ))هنري ارمان(( ډډه نه لګوي. بلکې ورسره ورسره د ټولنيز او بيا انساني ارمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانغښتنه هم په پام کې لرو. دا به د ننني غمځپلي نړۍ او غمېدليو او غموليو انسانانو پر وړاندې ځومره بې توپيري وي چې د بل هر هنر غوندې له شعره يوازې د ښکلاييز ځوب)ذوق( د راوېښونې، خړوبونې يا روزنې کار واخېستل شي.
دا دهنر د الهې ))ميوزې(( پر وړاندې کومه نابښنوړه گناه نه ده چې د نوبل نړيواله ادبي جايزه، نه يوازې له هنري پلوه، بلکې د ټولنيز ارمان او انساني پيغام له پلوه هم ارزول کېږي او په همدې لاسوند تر اوسه زياتره د همداسې ژمنو او پرمختلليو )مترقي( داستان ليکونکيو او شاعرانو په برخه شوې ده. له دې خبرې هم ځوک نټه نه شي کولای چې ))هنر(( او))پوهنه(( اوږه پر اوږه د انسان په گټه د پنځ)طبيعت( په ابلونه، په بله د ټوليز بشري تمدن په منځته راوړنه او پرمخوړنه کې ونډه لرلې او لري يې. نو شعر هم د يوه هنر په توگه له دغه پلوه بې ونډې نه شي پاتېدای، يا دچا خبره مستثناکېدای نه شي او په کارده د دغه نفيس و نازک هنر له جادويي اغېزه د ننني ښکېللي او زبېښلي انسان د ژغور، ازادۍ او سوکالۍ لپاره هم گټه واخېستل شي، نه داچې يوازې د هماغو ښکېلاککرو او زبېښاککرو د مزو چړچو لپاره ځانگړی کړ شي.
هو هماغسې چې پوهنه پاړکيز توپير و تبعيض نه شي منلای او زغملای، دغسې يې هنر او په دې لړ کې يې شعر هم نه شي منلای او زغملای.

د پس نومهالۍ )پوست مودرنېزم( او ورسره د بېلابېلو تشتورو فورمالېستي ازمونو پلويان او د ريالېزم او هومانېزم سوگند خوړلي نټيالي )منکرين( يې له يوې پېرۍ راهيسې د )) نړه(( هنر و ادب او بيا شعر په نامه انگروزه کوي او نن سبايې د پانگواکۍ د انساني ضد نيو لېبرالېستي او گلوبا لېستي اوتو بوتو په لمسه او ننگه غواړي، گردې هنري- ادبي پنځونې د پېر و پلور بازار ته ځانگړې کاندې او د دې لپاره چې لکه الکترونيکي او سېبرنېتيکي )ويديو گېمونه، ساينس فېکشنونه ...( يې يوازې پر سرگرميزه او سودا گريزه موخه را وڅرخوي، نو ټول زور پر ژب - ښکلاييز اړخ، په بله وينا، جوليزواله )فورمالېزم( اچوي او ژب - انديز اړخ کورټ له پامه غورځوي، د چاخبره يو مخيز، اند له وانده بلهاروي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳ - څپرکی
# )څپېز-څجېز ( وزن د پښتو شعر آر
# او بنسټيز رغنده توک

ټولمنلې خبره ده چې ليدتوګه يا تيوري له کړن يا پراکتيکه رازېږي، په بله وينا ، کومې پوهنې او فنونه چې انسانان يې تر اوسه پر رابرسېرونه او اړوندو دويونو )قواعدو، قوانينو (، فارمولونو، ټوليو )مقولو (، ډلبنديو... پر اوډنه بريالی شوي، د نا اټکلېدونکو مهالپېرونو د کړنو او کړاوونو يې سرچينه اخېستې ده.

لکه واخلې ژبپوهنه چې د انسان له خوا د لکونو کلونو کارېدلې ژبې يا ژبو د څېړنې او شننې منځته راغلې او بيا ادبپوهنه چې د زرګونو زرګونو کلونو په بهير کې د منځته راغلو ادبي هستونو له څېړنې او څيرنې څخه را رغول شوې ده. همدا اسې شعرپوهنه هم، يا په نومېرلې توګه بدلمېچ د دغو غبرګو پوهنو په رڼاکې د راپنځول شويو بدلو او شعرونو له سپړنې او شننې څخه رامنځته کېږي.

په دې لړ کې، په نومېرلې توګه يوناني (metron(( او بيا رومي ))metrum(( او راوروسته عربي ))عروض (( د يادونې وړ دي چې دوه لومړني مېتريک بدلمېچونه تر منځنيو پېړيو پورې پر ټول اروپايي کچ کارول کېدل هرګوره، راوروسته بيلابيلو اروپايي ژبو ځانته جلاجلا تونيک - سيلابيک بدلمېچونه را ايستلي او پر کار اچولي دي. ښايي عربي عروض هم خليل بن احمد د يوناني- رومي هغو له اغېزې او سيالۍ سره منځته ته راوړي اوسي چې د نورو پوهنو او بيا ادبي فنونو ، لکه د اپلاتون پويټيکس)بوطيقه ( د ژباړو په لړکې ورسره پېژندويې پيدا کړې وي، هغه هم د د دغې لوړې اوړونې سامي ژبې چې ګړپوهه يې هم د ))اوزانو (( اړونده کړې، تر بلې هرې زړې او نوې اروپايي ژبې پکې مېتريک سېستم ښه ترا پر کار اچول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې راوروسته د نوي آرياني پېر پارسي شعر عربي عروض لړو ډېر راخپل کړي، دوه لاسونده درلودلي دي:

- يو يې په لومړيو دوه دوه نيمو اسلامي پېړيو کې پر دغه عجمي ژبه باندې د عربي هغې بېخرته اغېزښندنه او ورسره ګډوله کېدنه؛
- بل يې ورسره څه ناڅه غرپوهيز نژدېوالی وو. خو د پښتو شعر په برخه کې بيا، لکه پاس چې وويل شول، د پارسي شعر پر پليونې داړوند )عربي ( مېتروم)عروضو ( د راتپنې هڅې کورتې پاتې راغلي او په دې لړ کې يې د مياشرف له خوايوازېني اوډلي بدلميېچ هم کوم ځای نه دی نيولی. په دې توګه موږ ته دا پلمه پر لاس راغله چې د نړه )سېلابوتونيک ( دا يې په اسانه ځايناستی او د پرله پسې منښت او ګرانښت جوګه کړای شو.
نو کله چې وايو، د پښتو شعرپوهه، يا په نومېرلې نومونه، تول يا وزن ))څپيز- څجيز = سېلابو تونيک ((دی، دوه توکه )عنصره ( مو سترګو ته نېغ درېږي: څپه او څج، چې دا دی، بېلابېل يې ترڅېړنې لاندې نيسو.

١- څپه: عربي هجأ، انګرېزي syllable، لاتين syllaba، يوناني syllabē
په يوه ژبه کې د يوه يا زياتو غږيزو يوونونو )واحدونو ( هغه تولګه يا ټوټه ده چې له يوه خپلواک )a,ā,e,i ,o,u ( يا يوه خپلواک او يوه ياڅو بېواکو )b,g,h,f ,j, k,l,m,n,p... ( رغېدلې وي، يا له يوه خپلواک او يوه نيمواک )w,y(او يا هم له يوه خپلواک )واوېل(، يوه نيمواک )سيمي واوېل(او يوه يا څو بېواکو )کنسوننټو ( څخه منځته راغلي وي او په يوځايي ډول، په خورا لنډ مهالټکي يازماني نقطه کې په يو وار سا اېستنه له خولې راوځي. يو خپلواک هم ځانته جلايوه )يو فونيمي ( څپه رامنځته کولای شي او هم د يوه بېواک يا نيمواک په ملتيا )دوه فونيمي ( او همدا راز د يوه نيمواک او څو بېواکو په ملتيا؛ مانا دا چې خپلواک يو خوا ځانته يوازې يو فونيمي څپه رغولای شي او بلخوا د دغو نورو په ملتيا لنډې او اوږدې څپې، خو يو بېواک يا نيمواک بې د خپلواک له ملتيا، نه ځانته څپه رغولای شي او نه دواړه په ګډه، له همدې کبله خپلواک ته د څپې زړی )هسته( وايي. هرغبرګغږ )دېفتونګ ( هم څپه بلل کېږي، ځکه يو خپلواک او يو نيمواک )واوېل او سيمي واوېل( رانغاړي. استاد رشاد د نصيرالدين طوسي )٥٩٧-٢٧٢ هجري ( د خبرې ))د نظم ړومبني اجزاء متحرک او ساکن ږغونه دي(( پخلی کوي، خو د اوسنيو څېړونکيو دا پېژند هم ورسرباري کوي چې د نظم ړومبني اجزاء ))هجاوې(( دي، مانا دا چې دوديز پوهان هم څپه د پېيلې وينا د کوشنيترين يوون )واحد ( په توګه منې. )الفت ٢٥ګڼه(

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوي ژبپوهنې له مخې د يوې څپې په جوړښت کې د پورتنيو ))← زنځيري (( توکو تر څنګ يو ))←نازنځيري (( توک ))←خج (( هم شتون لري چې له هماغه زړي )واوېل ( سره يې تړاو لري او د ))←څپيز خج (( په نامه يادېږي؛ ترڅنګ يې ))←ويي خج ، غونډ خج او غونډله خج (( ډولونه هم شته؛ ))←اهنګ ((، غاړه)لحن ( او بل يو نيم نازنځيري توک هم دلته او هلته د غونډلې يا شعري او سندريزې ټوټې مسرې دننه راخپلولای شي.

## وازه او تړلې څپه

وازه يا )خپلواکپايه ( څپه هغه ده، چې پر يوه خپلواک )واوېل ( پايته رسېدلې وي، لکه: ورا ، دوه، بيا ، خوله...؛ تړلې يا )بېواکپايه ( څپه هغه ده چې پر بېواک )کنسوننټ ( يا غبرګغږ )ديفتونګ ( پايته رسېدلې وي، لکه: اور، کور، پوست، ګواښ، خوښ، خوند ، ورى، سپى، مى، ځاى....

اړينه نه ده چې هره څپه دې مانا ولري او د يوه مانيز توک )ويي، وييکي ( په توګه په ازاد ډول وکارول شي او يا په يوه لوى ژبني يوون غونډ )عبارت، فقره ( يا غونډله )جمله ( کې دننه کوم مانيز يا پېښوييز )ګرامري ( چار پرځاى کاندې، خو نا مانيزه څپه ازاده نه، بلکې تل د دغو لويو جوړښتونو دننه راتلاى شي.

## د څپې څومره ييز )کمي ( ډولونه

که څه هم د څپې څومره والى )لنډوالى او اوږدوالى ( په پښتو کې، نه له ژبني او نه له شعري پلوه کوم څرنګيز )کيفي ( ارزښت لري، خو د دې لپاره يې تر ويښې لاندې نيسو ،چې وښيو، ولې پښتو شعر له عربي- پارسي عروضي )متريک ( سېستم او کچ ومېچ سره نه، بلکې له څپيز- خجيز )سېلابو تونيک ( هغه سره اړخ لګوي، په داسې اکر کې چې په عربي او پارسي شعر کې د څپې څومره والى د تول و تال له پلوه څرنګيز ارزښت او اغېز لري. په ترڅ کې يوه پښتو شاعر او شعر پوه ته دا هم ور په ګوته کوي چې لنډه او اوږده څپه د شعري غونډ )رکن ( او بيا د پښېلې او لړ )قافيې او رديف ( په رغاونه او شننه کې څنګه کارول کېږي، د ساري په ډول يې ټاکلى ))←څپيزخج (( له له ټاکلي شعري خج سره چې پر هره څلورمه څپه راځي، څنګه اړخ ولګولاى شي او په دې لړ کې د دې ستونزې هوارى هم راښيي چې که و نه يې شي لګولاى، د يوې بلې ورنډې ځايناستې لټه يې وکړو. يوه ورته ستونزه بيا د ډېرڅپيزو ييونو له کاروني سره په ځانګړې توګه رامخته کېږي، د بېلګې په ډول زموږ خپل تاريخي- جغرافيايي يا فرهنګي نومونه، لکه، )آرياناويجه (، )آهورامزدا (، آهورامزدايي (... چې د پښتو خجپوهنې له مخې يې بايد وروستۍ څپه خجنه راشي، حال دا چې شعري خج تر څلورمې څپې اخوا راتلاى نه شي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال په خپل يو شعر کې ))ببلتانه ځپلي (( ترنګ )ترکيب ( کارولی او د دې لپاره چې ټاکلی خج پر درېيمه څپه راغلی اوسي، دېته اړوتی چې وييرغاونيز آر تر پښو لاندې کړي او هغه دا چې د پښتو ترنګ فشار زياتره پاي او څه ناڅه پايمخ )ما قبل اخبر ( ته راځي، که نه پوخ ترنګ نه بلل کېږي او پر غونډ )عبارت ( بدلېږي، نو په هغه شعر کې همدا سرغړاوی شوی او اړوند ترنګ پر غونډ اوښتی دی:

) ببلتانه/ ځپلي هيلي (

مې غمونه ژاړي ستا

زه لېوال ستاد ښکلا ،

زما ښکلي پښتونخوا

)سوزونه او سازونه۱۲ (.

نور اوږده اوږده پښتو ترنګونه هم شته چې يوازې په شعاري نظمونو اړه پيدا کولای شي، له ورته سرغړاويو سره مخامخېږي، د بېلګې په توګه:

افغانستان پېژندنه، توکم پالنه، يا يو هېوادني نوم )) نيکاراګوا (( او داسې نور چې له شعري غونډ )رکن ( ورسره هېڅ اړخ نه شي لګولای.

د پښتو څپې خومره ييز )شپېر ګوني ( ډولونه په دې وروسته توګه ترسپړنې لاندې نيول کېږي:

- يو غږيزه )يو فونيمي ( څپه چې له يوه خپلواک )واوېل ( څخه رغېدلې وي، زور)فتحهa- ( چې د وييي يا څپې په سر کې راځي، لکه په )اته، اتڼ، اکر ( کې، مانا دا چې هر پښتو ويی چې په الف )پيلوو (، د زور )فتحې ( هومره حرکت لري؛ په دې ډول په پښتو کې ))سر الف (( هېڅ نشته او خپل زاړه يا د نورو ژبو الفونه او ممدوده هغه هم پر فتحه اړوي، لکه په اسان، ارام، ازاد... کې. دا چې پر پارسي يا عربي ورته څو کمپېښو الفونو)آس، آر، آريا... ( مد اچول کېږي، موخه يې له زور)فتحې ( سره توپيرول دي؛ آ)هلکه ! ( چې په پښتو کې يوازېنۍ ازاده او مانيزه يو فونيمي څپه، ياني بلنوييکی )حرف ندائيه ( هم دی، د عادي الف هومره اوږدوالی لري.

- دوه غږيزه )دوه فونيمي ( څپه، چې له يوه خپلواکغږ )واوېل ( او يوه بېواکغږ )کنسوننټ ( څخه جوړه وي، مانيزه، لکه اور)or (،اوس)os (، آس، آر، آړ، اړ، زه، ته، هو، څو، اور )or(... يا د يوه وييي دننه )زياتره بې مانا (، لکه: کو- ټه )کوټه (، دې- ره )دېره (، رو-ز-نه )روزنه (، با- با-ګ- ني )باباګني (، ار-وا- پو-هه )اروا پوهه (، اف- غا- ني- وا- له )افغانيواله (، تو-کم- پا-ل- نه )توکمپالنه (.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درې غرېزه څپه چې له یوه خپلواک او دوو بېواکو څخه جوړه وي او د یووستوي وييي په توګه مانا هم درلودای شي، لکه: کور، خور، مور، تره، ور )war(، سر )sar(، لر )lar(، بر )bar(، لور، لار، تېر، هېر، وير، وېر، هېښ، پېښ، اند، لاس، پښه... د بېلښتي او یا تړښتي وييونو دننه )مانانیزه یا نامانیزه(، لکه: بر- مل )برمل(، مرس-تون )مرستون(، روغ- تون، تره- ګر )ترهګر(، بن- سټ-پال )بنسټپال(؛ یا له یوه خپلواک، یو بېواک او یوه نیمواک څخه یې رغښت موندلی وي، لکه: نیا، بیا، یاد، یون، یور، دوه، دوې، یا د یوه بېلښتي یا تړښتي وييي دننه، لکه: پوه- یال )پوهیال(، پو-هن- وال )پوهنوال(، پو- هن- مل )پوهنمل(، اور-له-ګیت )اورلګیت(، اور-لو-به)اورلوبه(، بي-دي-بي-دیا )بيدي بيديا(.

- څلورغرېزه څپه چې له یوه خپلواک او درو بېواکو، یا دوو بېواکو او یوه نیمواکه رامنځته شوې وي. یاد یووستوي وييي په توګه جلا کارول کېږي، لکه: ورځ، ورخ، خرخ، برېاس، وياړ، پلار، ورور، ترور، نږور، نشت، خیشت، لوند، ړوند، څورب، خوله، غوړ،غوړ، خوړ ) xwəğ(، خور، لواړ، ځوړ، خوړ، کلک، پوست، ناست، تاند، واند، ورون، وران، ړنګ، پوست؛ د لویو جوړښتونو دننه، ماناوال یا بې مانا، خو دومره پرله پېیلې نه راځي،لکه په ننګیال کې یوازې لومړۍ څپه )ننګ naŋg( څلور غرېزه راځي او دویمه )-یال( یې درې څپیزه، په خولخوند، خوندور، ګواښګر، ګواښګري، ګواښګرندي، ښناکخونه، ځواکمن، ځوانمل، خوارمل، خوارځواکی، وړنګن، خپلوان، خپلچاری، خپلمنځي، لمانځي، لمرمخي، سپوږمۍ مخي، ګل مخی)gwal-maxay( کې یې هم همداسې درواخله.

- پينځغرېزه څپه چې له څلورو بېواکو یا درو بېواک او یوه نیمواک څخه د یوه زړي )خپلواک( په ملتیا رغېدلې وي، مانا دا چې د پاسنیو درو ډولو غوندې په دې څپه کې هم یو خپلواک اړین دی او یو نیمواک یوازې د یوه غړ په توګه پکې برخه اخېستای شي ، که نه شتوالی یې اړین نه دی. ببلګې یې، په ازاد ډول همېشه د یووستوي یا بېلښتي )اشتقاقي( وييي په توګه راځي، لکه: خوند )xwand(، ژوند، ګوند، دروند، غبرګ، کولپ، کورت، کوړم، ګوټ، غوړچ، غوړپ، شخول، ملاست، ځغاست، ولاند )مرده شو(، ښناند، ړمنځ )له منځني یا غلجايي وينګ سره(، وريځ یاخوړين )له شمالختيز وينګ سره(، ندرور، لمونځ، یا په یوه ببلنګ یا مشتق)لمونځغاړی( کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- شپېږ غږېزه څپه د پښتو ژبې اوږده ترينه څپه ده چې تر اوسه يې متې د يوې بېلګې څرک لګېدلی او هغه شخوند )šxwand( ويی دی. په دې توګه په پښتو کې کوشنيترينه يا لنډ ترينه)يوغږېزه، يوفونيمي ( او لويترينه يا اوږدترينه يې شپږ غږېزه يا شپږ فونيمي څپه ده او تر کوم ځايه چې راته ښکاره ده، د څلورغږېزي او پينځغږېزي په ګډون شپږغږېزه څپه خو په هېڅ يوه آرياني او بيا آريايي ژبه کې نه موندل کېږي او د هندو اروپايي کورنۍ پر کچ يې، ښايي په روسي او بله کومه سلاوي ژبه کې تر شپږ غږيزې هم د اوږدې څپې څرک ولګېدای شي؛ دا چې د شعري تول وتال له پلوه يې د پښتو پرخلاف څومره والی )کميت(، څرنګوالی )کيفيت( اغېزمنولای شي، يانه،پته نشته.

٢- خج، عربي هم خج،پارسي فشار يا تکيه،انګرېزي accent stress، لاتين accentus

خج د يوې ژبنۍ څرګندونې پر يو ټاکلي ځای باندې د غږ سختوالي يا شدت او هسکوالي ته وايي، په بله وينا ، هغه چار )عمليې( ته وايي چې د ژبنيو يوونونو )واحدونو ( يا توکونو په لړ کې يو يوون يا توک د سا )ابستنې( له فشار سره په زيات زور او شدت وويل شي؛ خج د يوه ))←نازنځيري(( يوون ياغږ )فونيم( په توګه د عادي فونيم پر خلاف د کوم مانيز توک )ګړ، ويي، غونډلې( په رغاونه کې سيده ونډه نه اخلي، بلکې د دغو نورو پر وينګ اغېز اچوي او اړوند غږ ياڅپې ته تر نوروګاونډو هغو زياته ټينګتيا )شدت( او لوړتيا وربښي او له دې چار )عمليې( سره هرګوره، مانااو په ترځ کې شعري تول و تال اغېزمنوي. )د زياتې خبرتيا لپاره:پښويه٣٠؛ اولرينبن١٢(

خج د څپې پرخلاف د ژبې په ))← زنځيري(( توکونو، نه، بلکې په ))←نازنځيري(( هغو اړه لري.
د دې لپاره په کار ده، وار له مخه د دغو دوه ډوله ژبنيو توکو پر توپير يوه لنډه رڼا واچوو:
کله چې په يوه ژبه غږېږو يا ګړېږو، په دغه ګړهاري بهير کې مو ژبني توکونه چار ناچار پرله پسې يا يو په بل پسې د وينده غړيو په مټ له خولې راوځي. مانا دا چې د بېلابېلو ژبنيو توکونو ويون يا زېږون له يوه زنځيري، ليکه ييز يا خطي )lineal( نظام سره غوټه دی او په دې توګه يې بهير د مهال پر بستر ډډه لګوي، په بله وينا ، د يوه غږ )فونيم(، ګړ)موفيم(، ويي، ويي غونډ)عبارت( او غونډلې )جملې( ادا ينه له بېلابېلې کچې مهال تېربدنې سره تړاو پيدا کوي. ځکه ژبه يو مخې)يو بعدي( ده او دغه مخ يا بعد يې مهال دی او ترسره کېدنه يې له مهالتېربدنې سره ملګرې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د دې تر څنګ چې په غوره او بنسټيزه توګه ژبه پر دغه خطي- زماني چورليځ )محور( راڅرخي، لړوډبره پريوه بل هغه هم راڅرخي او هغه، نه خطي دی او نه زماني، بلکې د لومړي هغه په ترځ کې هممهال دلته او هلته د ليکې له پاسه د دې آر چورليځ له ببلابېلو توکونو، په نومېرلې ډول غړونو يا فونيمونو څخه يو نيم ته يو سرباري غوندې رنګ ورکوي او لړو ډېر يې د اړوند ګړي، ويي، غونډ يا غونډلې پر مانا يا ګرامري چار اغېز هم اچوي، لکه خج، اهنګ، غاړه )لحن(، زيروبم او داسې نور.

يوازې موزيکال خج )اولريښ ۱۲( له ناخطيوالي سره سره يوڅه مهاليز اړخ يا بعد راخپلوي، ځکه غځېدا او لوړېدا يې مهاله ربنتيا ينه نه شي موندلای.
دا په زړه پورې ده چې دغو ))نازنځيري(( توکو ته زمونږ پارسي ژبپوهان عناصر ))عروضی(( يا ))خصوصيات عروضی(( وايي او ايراني هغه يې ))غيرمقطعات(( او ))زبرزنجيری(( بولي. انګرېزي انډول يې supersegmental دی چې پر ورانډې يې زنځيري بيا segmental بولي. ))عروضي(( نومونه، ښايي پر دې بنسټ وي چې له شعري تول و تال ورته ځانګړتيا لري، يا پرې اغېز ښندي، لکه څنګه چې مونږ هم د پښتو شعر په تړاو له اړوندو توکونو څخه لږ تر لږه ))خج(( د څپې ترڅنګ دويم بنسټيز رغنده توک ګڼلی دی؛ هرګوره، په څېرمه توګه ورسره څه ناڅه ))←اهنګ، لحن، زېروبمې، ببلتون(( هم په پام کې نيسو.

## د خج چاپېريالي ډولونه

لکه پاس چې يادونه وشوه، خجونه د ژبني چاپېريال )جوړښتونو( له مخې څلور ډوله دی:
۱( څپيز خج، لکه د څپې په تړاو چې پاس وويل شول، دغه راز خج د اړوند زړي )واوېل( په مټ ربنتيا ينه مومي، ځکه واوېل د ببواک )کنسوننټ( په توپير يوځپلغړی فونيم دی او جوت ويل کېږي، او د ببواک وينګ اوربدنګ هم پر غاړه اخلي، لکه په سپين کې )-ي-(؛ په يوغړيزه )← يو فونيمي( څپه هم له خپلواک )واوېل( پرته، نه ببواک )کنسوننټ( رغولای شي، نه نيمواک )سيمي واوېل(.

۲( ويي خج چې د يوه ويي دننه يوه څپه د يوه واوېل او سابيز فشار په مرسته تر نورو ملګرو څپو ټينګه ترينګلې او يوڅه لوړه وويل شي، لکه په ورغوي )ور- غ+ زورکې- وی( کې منځنی هغه، يا په کټمل )کټ+ مل( کې دويمه څپه چې مانيزه هم ده. د نورو ژبنيو يوونونو غوندې، که په يوه ويي کې خج پر خپل ټاکلي ځای رانه شي، مانا يې ونجبږي او ښايي له بل ويي سره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکر )ادلون بدلون ( پیښږ شي، لکه غوټه چې له لومړي خج سره )ګنډه، ګره ( او له دویم خج سره )غوپه، غوطه ( مانا راخپلوي.
د نورو ډېرو لیک سېستمونو په څېر په پښتو دودیز لیک یا ابېڅې کې د خج لپاره کومه نښه یا سېمبول نشته او یوازې په غږیز )فونیمیک ( هغه کې د ټاکلې څپې، څه چې پر هماغه ټاکلې زړې )واوېل ( باندې یا لاندې )فتحه وزمه ( ربېه نښه اچول کېږي.

۳ ( غونډه خج چې په یوه غونډه )عبارت ( کې یو توک په زور سره وویل شي، لکه په )سپین کالي ( کې )سپین ( یا په )د نجونو ښوونځی ( کې د )نجونو ( وېی خجن راځی او د )) وېي خج (( په ټراو یې بیا له دواړو څپو )نجو - نو ( څخه لومړۍ دا خجنه ده. دلته له غونډه څخه موخه )نحوي عبارت یا ترکیب ( دی، نه ترنګ )لغوي ترکیب (.

۴ ( غونډله یا غونډله ییز خج چې د یوې غونډلې )جملې ( دننه یو غونډه یاوېی تر نورو په زیات فشار او لوړوالي وویل شي او په دې توګه د غونډلې بېلابېل مانیز ډولونه )بیاني، امري، پوښتني... ( سره ونومېږي او جوت کاندې. پورتني دربګوني خجونه تر خپل سیوري لاندې راولي او کمزوري کېږي، خو ګرسره له منځه نه ځي او د هماغه اړوند توک )وېي، وېیغونډه ( مانیز او پښوییز چار خوندي ساتي. یو نیم یې بیا د غونډلې د دویم یا دریېم درجه خج استازي هم کوي، بې له دې چې مانیز اغېز ور باندې واچوي. په دې توګه غونډله خج په عادي غونډلو یا شعري مسرو کې پردرو څېلونو وېشل کېږي، لکه په لاندې غونډله کې:
زه پوهنتون ته ځم )zə- po- hə' n-tu´n-ta-jə`m ( ، دغلته )´( د ړومبي درجه )درانه، ډېنامیک ( خج نښه ده، )' ( د دویم درجه او )`( د دریېم هغه نښه ده. هرګوره، په ←غبرګه غونډله، ګډغونډله او ګډلې غونډله کې دغه درې سره خجه ښه ترا نومېږدای شي.
ځینې ژبپوهان خج یوازې د ورو توکونو اړوند بولي، خو د دې لپاره چې د غونډلې دننه له دغو توکوڅخه یو خج زیات درنوالی مومي او ورسره یې بېلابېل ډولونه توپیرمومي، نو همدغه غونډله ییز، غونډله پوهیز )نحوي ( یا منطقي خج نومېږي.

په یوه سندریزه ټوټه )مسره ( کې درې واړه، په تېره موزیکال خج له موزیکال اهنګ سره اړخ بدلوي په هره توګه له ځان سره غونډله ییز خج هم ښه ترا برجسته کوي )دلته اهنګ د وزن یا ریتم په مانا نه، بلکې د تون په مانا دی او دا چې اسماعیل خویي )) د شعر له رغندو ټوکو څخه ګڼلی، موخه یې ترې )) وزن، ریتم (( دی او له ورسره تړلي ستاینوم )) آهنګین (( څخه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه ))موزون(( نه تونيک، لکه نجيب منلي چې په تېرکې د خجن د ))تونيک(( په مانا کارولی او خجنه څپه يې د ))تونيک سېلاب(( په مانا (.
په هر ډول، غونډله ييز اهنګ )tone,intonation( چې کښته پورته او يا هوار يون و خوځون ومومي او خبري او ناخبري)انشائيه( يا امري غونډلې سره توپيروي، همهال شعري اهنګ هم دی. ځکه شعر هم له غونډلو او له اړوند خجونو او اهنګونو سره تړاو لري.

خو کله چې شعر د موسيقۍ ډګرته ور ګډېږي، نو بيا يې هغه خجونه او اهنګونه نور له ژبني او شعري چاپېرياله راوځي او ))موزيکال(( کېږي. په دې ترڅ کې دغه دواړه توکو نه اهنګونه بلل کېږي: کمزوري خجونو ته يې ټيټ اهنګونه وايي او اهنګونو ته يې لوړ اهنګونه او هغه بيا ))زېر و بمي((، غاړې )لحنونه( او داسې نورې رنګارنګۍ او ځانګړتياوې راخپلوي. د ))موزيکال اهنګ(( نومونه)اصطلاح( د چا خبره د دغو ګردو توکو يا رنګارنګيو يوه ټولګه ده. يو يوازېنی شعر کېدای شي، بېلابېل اهنګ سازان )componists( ورته بېلابېل اهنګونه ور جوړ کاندې، لکه د استاد حمزه ))راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه...(( شعر ته چې استاد زاخېل د مېرمن کمرګلې لپاره يو راز ، استاد ګلزمان بل راز او استاد رفيق شينواري بيا د ځان لپاره بل راز اهنګ يا کمپوز رغولی دی.
دا دی، په دې تړاو د شهيد سېلاب د غزل لومړۍ مسره د بېلګې په توګه تر څېړنې لاندې نيسو چې استاد نبي ګل يا بل هر چاجوړ کړی، خو استاد اولمير په خپل کوډګر )) الماسي(( غږ کې ورته تلپاتې هستي وربښلې ده:
ستاد سترګو بلا واخلم، بيا دې سترګې ولې سرې دي...
دا مسره له غونډله پوهيز )نحوي( پلوه يوه غبرګغونډله ده، په بله وينا، له دوو سره پېيلو غونډلو رغېدلې چې ړومبۍ يې← مله يا څېرمه بلل کېږي او دويمه يې← آره غونډله. په څېرمه )ستاد سترګو بلا واخلم( کې پر ))واخلم wā´xlƏm(( ړومبۍ، پر))سترګو stƏ'rgo(( دويم او پر ))بلا bālā´(( دربيم هغه راغلی او د پياوړتيا له پلوه ړومبۍ کمزوره، دويم لږ زورور او دربيم ډېر زورور دی. په آره غونډله )بيا دې سترګې ولې سرې دي( کې، څه د نورو نازنځيري توکو )←اهنګ، لحن، زېروبم( او څه د موزيکال هغه په مټ ، نه يوازې زياته پياوړتيا مومي، بلکې ورسره ورسره انګازور کېږي هم، او هغه هم پر پوښتوييکي يا استفهاميه ادات ))ولې(( wa´le باندې؛ هرګوره، په موسيقي نوټېشن کې د دغو نښو پرځای له ځانګړيو ليکو يا سېمبولو څخه کار اخېستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاسنۍ سکالو په تړاو د )و ( ګړني )فولکلوريک ( شعر په استازۍ تر ټولو وتلې او منلې څېل ))لنډۍ ( ( تر شنني لاندې نيسو: لکه څنګه چې په اړوندو ښکالوو )بحثو ( او په ځانګړې ډول په په پېنځم څپرکي کې پرې رڼا اچول شوې ده، لنډۍ په خپله )لومړۍ ( فولکلوري ډله کې تر بل هر څېل )ژانر ( د پښتو بدلمېچ د څپيز- ځجيز سېستم يوه تيپيکه او لارښوده مخبېلګه ده او د همدې لپاره مو د کتاب پر دوتنه مو انځورلې ده. له ژبني پلوه لږ تر لږه دوې يا زياتې غونډلې راخلي، خو هم يې څپې له ټاکلې شمېر )ديارلسو ( تېرې نه کوي او هم يې ځجونه له ټاکلي شمېر )څلورو ( تېرې نه کوي.

هرګوره، په ځجونو کې يې، لکه د پاسني شعر غوندې ځوک لږ زور لري، ځوک يو څه زيات، خو ټولېز پايځج يې تر ټولو پياوړې راځي او همداسې يې د هرې څېرمه )فرعي ( غونډلې اهنګ ټولېز اهنګ هومره زور نه لري. په بله وينا، د مخنيو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستۍ غونډلې تر سيوري لاندې کمزوري پاتې کېږي. دا نو يوازې په ساز اواز کې څېرمه اهنګونه جوتوالی )برجسته والی ( مومي او له ژبني ډګره نور راوځي.

په هر ډول د لنډيو بېلابېل موزيکال اهنګونه او اړوند طرزونه په ولسي پرګنو کې شتون لري. يوازې د خالي اواز له پلوه يې د پښتو ګړدودونو هومره له يوه ټېره بل او له يوې سيمې بلې ته رنګارنګي توپير مومي. کوچيان او پوونده يې يو شان را انګازه کوي او کليوال يې بل راز، او همداسې پسې نور. له آره همدغه ولسي اهنګونه او طرزونه دي چې ساز و اواز، په بله وينا، ټنګ ټکور ته له هاغو رنګارنګيو سره لار موندلې ده.
ناويلې دې پاتې نه شي، دغه رنګارنګۍ يې هله ځو ځو ګرايه پراخوالی مومي چې له بېلابېلو وګړنيو ځېلونو، لکه سروکيو- ببولالو، شين خاليو، کاکړيو...- نارو او نورو سره ملګرې کېږي. مانا دا چې د همدغو بېلابېلو ځېلونو له طرزونو اهنګونو سره بېلابېل موزيکال ډولونه راخپلوي. په داسې ترځ کې چې نور فولکلوري ډولونه دومره بې کچ و مېچه شونتياوې نه لري او نه دومره سراسري منښت و ګرانښت )د زياتې خبرتيا لپاره: اتل، لنډۍ، شمله لومړۍ ګڼه پېنځم مخ؛ همدا راز: دوګړني شعر اړوند څپرکی(.
پايله دا چې، شعري غونډلې د ځج او نورو نازنځيري توکو په کارونه کې تر هغې پورې له نورو ګړنيو غونډلو سره کوم توپير نه لري، ترځو کمپوز او موزيکالې شوې نه وي، په دې لړ کې ساز، اواز، زمزمه او ترنم هريو راتلای شي. موزيکال ځج د )غونډله ييز ( ډېناميک ځج پر خلاف تر ځګېدا زياته غځېدا او پراخېدا راخپلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ازاد او نا ازاد خج

ازاد خج، لکه پښتو او روسي هغه چې د بېلابېلو ژبنيو توکونو په بېلابېلو برخو کې راتلای شي، د ساري په ډول په يوه پښتو ويي، لکه اند ، وېره، خوابښې، شخړه، وينه، مينه، پېغله، ژوی، روی، کلی، توخم، توکم، خاوره، دوبی، اوړی، ژمی..کې، ړومبی دريځ راخپلوي؛ په سپوږمۍ، وراره، تربور، خورلڼه، شودې، اوبه، مرغۍ، پرون، پروسږکال، کټمل، گوربت... کې دويم؛ په درملنه، تېروتنه، الوتنه، الوتکه، پښتورگی، جنگ ځپلی، خوار ځواکی، ډمه ډوله، کونستری، بولانکه..کې دربېيم؛ په لرغونپوهنه، ټولنپوهنه، ټولنيزوالی، اتلولي، توکمپالنه، اهورايي، اهريمني له اونبکو ډکې سترگې، پړی پرخوله رسۍ پرغاړه...کې څلورم؛ د مېوې پاکۍ کارغالی، افغانستان بانک ...کې پېنځم؛ امريکا پېژندنه، آريا ناهوايي شرکت..کې شپږم؛ افغانستان پېژندنه، يا )پايخجي( افغانستان دښمني..کې اووم؛ په روغتون، پخلنځی، پسرلی، پوهنځی، پوهنتون، پېښور، کندهار، افغانستان، ننگرهار، پکتيا ، اړيکی، تړاو... کې پای دريځ چې د پښتو پانگې ډېری برخه رانغاړي پر وړاندې يې ځينې ژبې، لکه انگرېزي، الماني، فرانسي، پولېنډي ناازاد يا ثابت خج لري او هغه دا چې له آره د لومړيو درو ژبو د وييو په سر کې راځي او د وروستۍ هغې پر پايمخ )ماقبل الاخر( خپلواک )واوېل( ياځپه؛ بېدودي )استثنأ( يې زياتره په پور وييونو کې ليدل کېږي، د ساري په توگه انگرېزي، په تېره الماني لاتين پورويېونه او بيا زموږ دا له ړومبي او يا دويم خج سره کاروي، لکه: کابل، هېلمند، کندهار، ننگرهار، نورستان، پاکستان، ايران؛ افغانستان، بلوچستان، اسلام اباد....

## روږدی او نا روږدی خج

)آر( غونډله ييز خج په شعري يا وينا ييز چاپېريال کې په روږدې )عادي( توگه پر يوه ټاکلي توک راځي، لکه په پاسنيو بېلگو کې چې و ښوول شوې، خو کله د ويونکي له ځانگړې موخې سره هغه ټولمنلی دريځ بدلوي، د ساري په ډول يې په ))زه پوهنتون ته ځم(( کې د /تون/پرځای پر/زه/ يا/ځم/ راولي، ځکه په هغه اکر )حالت( کې به ورته يا ))خپل ځان(( آره موخه او پاموړ وي او يا))تگ((. روږدي يا عادي هغه ته نحوي يا منطقي او ناروږدي هغه ته نانحوي يا نامنطقي هم وايي.

په سندريز چاپېريال کې پر يوه داسې توک غونډله ييز فشار هم راتلای شي چې د غونډلې له آره ناازادو او ناخجنو توکو څخه شمېرل کېږي، لکه پر ))باندې(( چې له )پر( سره تړلی سربل دی، په دې کمپوز کې: {راوا چوه لاسونه دې په )پر( ما باندې´ bānde}

(c) ketabton.com: The Digital Library



) پر ۱۹۹۵ کال د یوه اماتور اپریدي سندرغاړي په غږ کې).
که نه، د نازنځیري توکونو یا فونیمونو په لړ کې خج نه یوازې د نا پېیلې، بلکې د پېیلې یا شعري وینا له بنسټيزو توکو څخه ګڼل کېږي او لکه چې پرې پرله پسې ټينګار شوی،د شعر په دوه ګونو بنسټیزو رغنده توکونو )متشکله اجزاوو ( کې راځي،
په بله وینا ، د ))ځپې (( ترڅنګ ټيکاو لري. ان تردې چې ترځپې هم زیات اړین بلل کېږي او هغه دا چې په یوه شعري چاپېریال کې د ځپې دوو کمی زیاتی شعر دومره نه زیانمنوي او بېخونده کوي، لکه د یوه خج کمي زیاتي یا ادلون بدلون یې چې تاواني کوي او پیکه کوي. د استاد رشاد په نومونه ))ضعف التألیف (( یا د غونډلې دننه نااوډون او نوري.
پښوییزې )ګرامري ( سرغړونې یا تېروتنې، کېدای شي، د تول و تال یا په دوده وینا ، د ))شعري اړتیا (( په پلمه دومره نا بښنوړه ګناه و نه شمېرل شي، خو د ))خج (( دا هېڅکله نه بښل کېږي !

## اهنګ، پارسي آهنګ، انګرېزي **tone, intonation**، لاتین **intonare** ، یوناني **tonos**

اهنګ د ژبني جوړښت له پلوه هغه نازنځیري توک )فونیم ( دی چې د ګړهار په بهیر کې د اواز کښته پورته والی یا زیروبم رامنځته کوي، په نومېرلې توګه، کله چې د ګړهار په ترځ کې د زېروبمي پراختیا لمن د غونډلې په کچه وي، اهنګ بلل کېږي، یا داسې وایو، د غونډلې د زېر و بمی یوه غځېدلې بڼه ده. اهنګ د ساهوا او ورسره د غږېږو تارونو له رېږدېدا سره رازېږېدونکې کښته پورته کېدونکی غږ دی او دا چې یو ډول خوږغږي هم رامنځته کوي، نو د غونډلې )جملې ( میلودي هم بلل کېږي. په هره توګه اهنګ په پښتو کې پښوییز ارزښت لري او )د نورو نازنځیري توکو په لړوډېره ملتیا ( د غونډلې د مانیز توپیر، په بله وینا ، د )خبري، ناخبري، امري ( ډولونو لامل کېږي، نو په شعرکې یې د یوې غونډله پوهیزې )نحوي ( اړتیاو مانیز پلوه له پامه غورځول هم هرو مرو پرتاوان پرېوځي،که څه هم د تول وتال یا پېیلتیا له پلوه یې د خج پرخلاف له رغنده توکو څخه نه ګڼل کېږي. له پښوییز پلوه اهنګ په غونډله کې کښته، پورته یا هوار یون کوي او له دې سره یې بېلابېل مانیز ډولونه توپیروي او له موسیقي پلوه پر دغو خوځښتونو سربېره د ستوني یا حنجرې )غږېز ( تارونه له سرږو نه له راوتونکې ساهواسره نور راز راز پرله پېیلې غځېداوې، رېږدېداوې او په پایله کې نګاسې او انګازې هم رامنځته کوي چې د اواز له پلوه مېلودي بلل کېږي او د ساز له پلوه ترنګ )تون(.

خج و اهنګ سره داسې توپیرولای شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خج يون نه لري، بلکې ځاى پرځاى د بېلابېلو توکو په لړ کې پر يوه ټاکلي توک )ځپې، ويي، غونډ، غونډلې ( او بيا يې پر يوه ټاکلې برخه زور اچوي او په دې ډول يې وينگ تر نورو توکو ښه ترا برجسته کوي،خو اهنگ يو خوا ، يوازې له هماغه لويترين او بشپړترين ويناييز توک )غونډلې ( سره کار لري او بلخوا يون و خوځون مومي او کښته پورته يا هوارځي او راځي او په دې توگه يې بېلابېل ډولونه )خبري، ناخبري، امري، هېښني، ارماني... ( سره نوميري )تشخيصوي (.

## غونډ )رکن Foot (

د پښتو د درې ډوله گړنى )ولسي ياوگړني، ليکني )ديواني او نادېواني ( او نوى )ازاد ( شعر بنسټ پر ځپه او خج ولاړ دى. داسې چې له بېلابېلو غونډو )رکنو ( ځخه رغېدنه مومي. يو غونډ بيا درې ناخجنې او يوه خجنه)فشار لرونکې ( ځپه لري.

د دې زباد پر بنسټ چې د پښتو شعر اډانه پر ځپه او خج ولاړه ده او له دې سره يې هر يوون )واحد ( يا ټوټه او مسره د ځلورو ځپو په لړ کې يوه خجنه راځي، نو د دغې اړينتيا او ورسره ورسره، د کار اسانتيا لپاره غواړو ، هره ټوټه او مسره په همداسې ځلورځپيزو خجنو يوونونو وويشو او غونډونه )رکنونه ( يې ونوموو. ناويلې دې پاتې نه شي، کوم خج چې د يوه غونډ له ځلورگونو ځپو ځخه يوه خجنوي، د اړوند ويي د خج په توگه خپل ټاکلى ځاى لري، که هغه د غونډ له لومړى ځپې سره سمون ولري، يا له دويمې، درېيمې او يا ځلورمې ځپې سره؛ په دې ډول يو شاعر نه شي کولاى، هغه دخپل تول و تال د برابروني په موخه له يوې ځپې بلې ته ولېږدوي.

د پښتو درېگوني ډوله گړني )ولسي يا وگړني(، ليکني )دېواني، نادېواني او اوسني ازاد ( شعر بنسټ پرځپه او خج )يا اهنگ ( ولاړ دى؛ داسې چې له بېلابېلو غونډونو )رکنونو ( ځخه رغېدنه مومي. يو غونډ بيا درې ناخجنې او يوه خجنه)فشار لرونکې ( ځپه رااخلي.
لکه څنگه چې تر ))ځپه (( لاندې يې بېلگې وړاندې شوې، نن سبا او هغه هم په ځانگړې ډول په غزل کې رديفونه دومره اوږده شوي دي چې تر لسو ځپو پورې را اخلي. او په کلاسيک غزل کې يوازې خوشال ختک تر نه ځپيز کارولى دى:

له حاله بې خبر شه ! که شته شته که نشته نشته
تلاش و قلندر شه ! که شته شته که نشته نشته
)کليات پ، ۲۹۴ (

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه دغه راز نه څېيز ردیفونه دوه دوه بشپړ غونډونه )رکنونه( جوړوي او يوه څپه يې پای ته سرباري راځي، دا چې د دغو غونډونو پر کومه کومه څپه خج راځي، د اړوندې مسرې په نورو غونډونو قیاسېږي. په درو ګونو )وګړني، لیکني یا دیواني او اوسني آزاد ( شعري ډولونو کې داسې بېلګه تر اوسه لیدل شوې نه ده چې لومړۍ څلور څپې يې ناخجنې وي، یا په بله وینا ، یو غونډ يې نه وي جوړ کړی او پر پېنځمه خجنه څپه يې پيل موندلی وي. مانا دا چې خج هېڅکله له څلورمې څپې تېرې نه کوي او که نه، هغه شعر به هرومرو بې تول و تاله )بې وزنه( وي. د همدغه آر )اصل ( له مخې ځينې اوږده )پور-( وييونه په پښتو شعر کې هډو هېڅ راتلای نه شي، لکه )اهورامزدا ( یا )نیکاراګوا ( چې د پښتو خجپوهنې )اکسنتولوجۍ ( له مخې يې منطقي يا عادي خج پر وروستۍ څپه راځي، حال دا چې دغه څپه پېنځمه ده او تر څلور څپيز غونډ )رکنه( وتلې ده. له )لارغه يې شعر ( پرته، پر بله هره )پېنځمه، شپږمه... ( څپه يې خج راوړل له پښتو وينګ سره اړخ نه لګوي.

**مسره )مصرع( Verse)**

د دود له مخې د )و (ګړني او بیا ادبي يا لیکني )قافیه وال ( شعر کوشنیترین یوون )واحد (مسره )مصرع( بلل شوي، خو په دې جاج نه چې مسره يو خپلواک شعري يوون دی، بلکې له يوې بلې همکچې او همتولې )هموزنې ( مسرې سره يوځای يو خپلواک یوون رغوي چې په عربي نومونه يې بيت )کور ( بولي. بيت کېدای شي، يو بشپړ شعر ))فرد (( وي، خو زیاتره د يوه شعري ځېل )دوبيزې، څلوريزې، چاربيتې،غزل، قصيدې ... ( رغنده توک ګرځي. د ننګرهار ځينې ولسي شاعران بيت ته ))کړۍ (( وايي او مسرې ته نيمه کړۍ، هسې په تولیز ډول د ببلابېلو سیمو ولسي شاعران لړو ډېر خپلې زړې دوديزې او يا له پارسي راخپلې کړې نومونې کاروي.

په اروپايي ژبو کې د مسرې او بيت توپير نشته او کوشنيترين توليز يا موزون )رېتمېک( یوون يې هماغه لیکه ده چې په انګرېزۍ ورته verse line یا په لنډ ډول verse وايي او زموږ يو بيت ته د ))جوړه لیکو (( په جاج )couplet ). verse چې لاتيني سرچينه يې versus ده، په زياترو اروپايي ژبو کې له آره د شعر په مانادی او د لنډيز په توګه يې هماغې يوې لیکې ته هم وايي چې پر وړاندې يې )prose ( نثر ) ټيکاو لري. الماني د شعر لپاره د poesie، Vers تر ځنګ ځېل )Gedicht ( هم کاروي، خو د نورو غونډيز يوه لیکه Vers او يا هم Vers zeile بولي او زموږ مسره نيمه لیکه )Halbvers ( ، خو زموږ د بیت لپاره يو بڼه انډول Verspaar )جوړه مسرې ( هم لري، که څه هم تر ځنګ يې په ژباړه کې له Vers سره په لیندیو کې )له دوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمبیتو څخه جوړه= aus ywei Halbversen ) هم کاروي، دا ځکه چې په ټولیز ډول له پاسنۍ وینا سره سم په لویدیځ کې هماغه یوه لیکه کوشنیترین شعري یوون ګڼل کېږي.

د ))شعر (( ویی له هغو وییونو څخه ګڼل کېږي چې په عربي او آریاني دواړو کې یې د آرې او ریښې څرک لګول شوی او آرپوهان یا ریشه شناسان )اېټېمولوجېستان( هم پردې اند دي چې دا یوه نابري )تصادف( دی، دوې نورې بېلګې یې تر هرڅه له مخه د او ښتا په لاسوند ))مانا (( او ))دین (( دي او ښايي، نورې هم و موندل شي. په هره توګه دا څه نا شونې نه ده چې شعر دې له پښتو له وینګ )شېیر ( سره سم آریاني پاتوړې )میراث( اوسي !

## د مسرې کچه

د کچې له مخې د لیکني او دېواني پښتو شعر لنډترینه مسره اووڅپیزه او اوږده ترینه یې شپاړس څپیزه ده. هرګوره، نن سبا په نوي غزل کې تر دوه څپیزو او په اوسني ازاد شعر کې هره ټوټه د آر )اصل( له مخې تر یوه غونډ )څلورو څپو ( پورې کوشنۍ کېدای شي او په ځانګړیو آکرو )حالتو ( کې تر درې څپیزې، دوه څپیزې او یو څپیزې هم را لنډېدای شي؛ اوږدوالی یې هم تر ۲۸څپیزې ازمایل شوی دی. نور پورته کېدون یې ځکه نشته چې پخپله شاعر او بل هر لوستونکی )یا سندرغاړی( یې نور په یوه سا او بې لارغې )وقفې( د لوستلو او ویلو توان نه لري او د چا خبره سا یې پکې سوځي. په ازاد)ناپښېلیز ( شعر کې یې هرګوره، تر **۵۲**څپیزې هم بېلګه موندلای شو. د کلاسیک پارسي غزل په سیالۍ یو نیم پښتانه ناظم، لکه نصرالله حافظ او شاعر لکه صدیق پسرلي تر دودیز )۱۲څپیز ( بریده ور اړولې او تر شلڅپیزې او یاهم پورته بېلګې ازمایلې دي ، په ازاد کالب کې له لیکوال پرته د اسماعېل یون هم د اودو مسرو هڅه کړې او د اټکل له مخې یې تر شلڅپیزو او یا هم دېرشڅپیزو غځولې دي ، خو سم له لاسه د حافظ او پسرلي غوندې د دغه ځوان او هڅاند شاعر کومه بېلګه هم لاسته رانغله.

په غزل کې پېنځڅپیزې، لکه:
کړم ځان به درځار        که راشې یو وار
راتلوته دې ډېر          یم سترګې پر لار...؛
څلورڅپیزې، لکه:
زما مینه        د زړه وینه
زما ښکلې      ګلورینه...؛
درې څپیزه، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یم ستا تهٔ زما
یم بېتا نیمه خوا...؛
دوه څپیزه، لکه:
زه ځم یارکسم
ویې وینم...)د مرجانونو ځانګې ۴-۷ مخ(.

یادښت: هرګوره، په سندریز ترښت )کمپوز( کې سره څو څو مسرې یوځای کېږي او بولل کېږي، لکه څنګه چې یوه سندرغاړي )ایشان مومند( د ټولګې له چاپ سره دغه ازمېښت د شاعر په مخ کې تر سره کړی دی.
د نوي غزل په لړ کې دالاندې بېلګې وړاندې کېږي:

اتلس څپیز غزل:
که سپېدې په خپل رڼوب د تورې شپې تیاره ګردونه پربوې
ګلمونګرې په رڼو څاڅکو د شبنم ، سپېره مخونه پربوي
څنګه نه کړې د سپېد ارو ژبې ماته د ځنګلونو چوپتیا
چې هېښمه د ښېرازی، ټولې ببد یاوې سمې غرونه پریوي...

نولس څپیز غزل:
پسرلي ول دي ګلغونچې، بیا د ګلځانګو په کوڅوکې نغښتې
بیا یې لمبې د چا له وینو ، ټوکېدلو چمبېلو کې نغښتې
د زمولې ځمکې په رګو کې ، زرغونتیا له سره سا اخلي بیا
بیا تاند لبانې تلوسې ، د چمنو په شینیلو کې نغښتې...

شلڅپیز:
پرېږده، تورتیاره برخلیک مې، وټوکې لکه سپیدار
سپینې سپیدې بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سبا څراغ مې وځښې، وروستى څاڅکى د ننځړو
دتورې شپې بيا

ونغاړي چې تر ګلکڅه، د ژغورتياد
واټنونو تنابونه

نه کړي ښکېل دژوند بېړى مې، د نېپتون نوح
توپاني مستې څپې بيا...

څلېرويشت څپيز غزل:
تاند ښېرازه پسرلي دي، وانوم چې د وړمينو،
خورو څڼو له ګليونه
ګوندي بيامې شي په برخه، د کرلو پرنډو وينو،
د ګلمينو ګلښونه
دګلپاڼې په شان زړه دي، چې زغملاى کله نه شي،
توپانونه د وختونو
پام ونه کړي غځونې، پر وربښمين بستر د ناز دي،
خوبولي تېر يادونه...
)ساندې او سندرې، ۲۵-۴۷مخ(

په ازاد شعر کې بيا چې مسرې هرو مرو برابرې نه وي، نو په يوه يوازېنۍ ېبلګه کې يې د مسرو بېلابېلې کچې موندلاى شو، خو دلته يې پر څو لاسته راغلو بسنه کوو. مينه وال کولاى شي، د اړوندو اخځونو له مخې يې نورې بېلګې هم پيدا کاندي.
۱۹څپيزې، لکه:
او شي د لمر زرينې وړانګې
د بهاندو شنو رودونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


جړاو...؛

۲۰خپیزې، لکه:
له وړمو ستا د پښو خاورو
رازرغون زما د ژوند ټول پسرلي شول...؛

۲۳-۲۴خپیزې، لکه:
چې هر ښاخ او هره څانګه دې ښیا هله ناوکیو د چمن ته، چاندي پسول شي،
پاڼه پاڼه دې د لمر مزدک له پاسه هریوه د زمردو جړاو خول شي؛

۲۶خپیزې، لکه:
ډېر مهال شو
چې د باغ د جلوهلي تږي ذهن په کوڅو کې
مینه وړې ترانې د باران
نه انګازه کېږي...
)پوهه او ګروهه، ۱۵مخ(؛

۲۷خپیزې، لکه:
لکه ونغري له مخې نهنګان د غرڅپو د توپانونو،
له سپرلو ډکه ببرې...
)د سبرونو نخا، ۱۹مخ(؛
۲۸خپیزې، لکه:
څه شپېنې توري شبې مې رامروړي مرې د ژوبلې پرهرژلې لولنګرې پاکې مینې...؛

۲۹خپیزې، لکه:
... او ونغاړې تر پایه امېدونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اور وينو د برخليک هغه ناپايه
خونړې دوتر...

)زما نړۍ، ۷۴مخ( ؛

۳۱خپيزې، لکه:
پر تمېزو مې خوږبويي د خپل تالا والا گلبڼ،
د ناسپړلو گلغوټيو د موسکاوو لگي...
)نوې پېړۍ او نوې زرۍ، ۱۰۰مخ( ؛

۳۲ خپيزې، لکه:
څه ساړه ساړه يادونه د ناپايو واټونو رالگېږي، پر ساړه سمخ بورجل د زخمي زړه مې،
څه زاړه زاړه يادونه مې د سترې ستومان ذهن په کوڅو کې، لربر کېږي، ټپربړي او نگونېږي...
)هماغه۱۳مخ( ؛

۳۲خپيزې، لکه:
نه پوهېږم چې ترخ به ستا د خانگو زمول څانگونه له ډېر نياز و، نهيليه د هسک خدای ته هسې پورته په دعا وي،
گوندې هغه به هم ورځ وي چې باران دې د باورد وورو پرېوي، ستا د دنگې هسکې ونې د خزان سپېره گردونه؛

۳۹خپيزې، لکه:
څه ناشناشان بوږنوړې اند ېښنې مې بيا په غوږ کې د تبجنو جلوهلو تکلو راپوکوي د ځوانيمرگو سرخوړلو سبرونو سرې ويرنې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



)هماغه ۱۳مخ(؛

۴۰ څپیزې، لکه:
د مهال د پسرلي په زېرېګرو شنو شپېو کې توتکۍ د ، پاکې مینې څپروې د هسک پر لوري د الوت د برم ځانګونه...،
یا: زه پوهېږم چې د استا پر لولپه سوې ګوګل او دنګه ونه، څه تېرېږي د اُهرېږ د هسې شان سرو سیلیو په بهیر کې...
)هماغه ۱۱مخ(؛

۴۴ څپیزې، لکه:
شنه خوبونه د سپېرې وچې ببډیا د نهیلیو ناسپړلي، بوږنېدلي له پرتم د تکو تورو شنډو وریځو د پاړېږو پسرلیو ،
نه چې بیا د کوم یو ستوري پر مرګ بولي پرښتې د ځاځ پرغز د ، لمرمزدک په کنګرو کې د کنګلو زمهریرو عذابونو ایتونه...
)هماغه ۱۳مخ(؛

۴۶ څپیزې، لکه:
وسپړل زما د ژوبل زخمي زړه په نارنجباغ کې د زلمیو ،
هوسو د پرهرونو سوو څړیکو ستا د پیغلو تلوسو د سرکو شونډو ګلکڅونه...؛

۴۸ څپیزې، لکه:
په رګو د وچکالۍ د خزانزمولو ګلبڼو کې پیلامه د ، نوي ژوند د ټوکېدلو لکه وینه د باران د ښبرازۍ د پسرلي په چلېدو ده...؛

۵۱ څپیزې، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخ، چې ځومره سپرلنۍ ښکلې رنګينې شان شېبې زما او ستاد ، خزانزمولې ګډې
ميني له وربويه هسې لېږدي بې اغېزې
د نېستۍ د نشت اباد د دښت پر لوري...؛

**۵۲**څپيزې، لکه:
نيمه خوا بلبلان ويني په هېنداره د رڼوب کې د شپېنيو ،
تړمو اوښکو د باور د سباوون د رنګينيو د زلميو تکلونو
مرجاني سره بهيرونه...
نوې پېړۍ او نوې زرۍ، ۱۰۰، **۴۴**، **۱۳**، ۱۱مخ؛ د سبرونو نڅا، **۱۲**-**۳۷**مخ؛ زما نړۍ، **۷۵**، **۷۴**، ۱).

د اوږدو مسرو د لړۍ په پای کې دوې دوه مسره ييزې او درې مسره ييزې ويرنې وړاندې کېږي.
۱( د پاچاخان يو بيته يا دوه مسره ييزه ويرنه چې ړومبۍ **۱۹**څپيزه او دويمه يې **۲۳**څپيزه ده:
هغه لوی زړه نور په پنجره کې
د ګوګل د تاريخ ودرېده
چې يوه بشپړه پېړۍ
په پارد پاک او د سپېڅلي ستر ارمان درزېده !
)اند و واند ،۱مخ(؛

۲( د بي بي سي خبريال، ميرويس جليل درې مسره ييزه ويرنه چې ړومبۍ **۲۳** ، دويمه **۱۲** او دريېمه يې **۲۲**څپيزه راغلې ده:
هغوی په تېوله تورزړي
زما د بڼ د وروستي چونې
مرۍ و مرووړله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په خپل تول وحشت يې،
وروستۍ نغمه د ژوندانه
ورځني وتروړله !
)زما نړۍ، ۷۵مخ(.

ماته یا لارغه یې مسره

ماته یا لارغه يې)وقفه يي( مسره، یا د منلي) ← ۱- ځپرکی( په نومونه))نیم مسرۍ((، هغه ده چې په منځ کې يې يوه لارغه)وقفه( راځي. کوم شعر چې له همداسې مسرو څخه رغېدلی وي، هم مات يا لارغه شعر بلل کېږي. داسې چې لومړۍ ټوټه پر ځلورمه ځپه خجنه راځي او پښځمه يې ناخجنه، بيا لړه سا اخېستل کېږي او دويمه يې هم همداسې پر ځلورمه خجنه راځي او پای ته يې يوه ناخجنه پاتې کېږي. که لارغه په منځ کې رانه شي او ټوله مسره په يوه سا وويل شي، د لومړۍ ټوټې ناخجنه ځپه له ورپسې درو ځپو سره ملتيا کوي او خج پر پښځمه راځي. په دې توګه ځپيز- خجيز سبستم رنګېږي او تول و تال له منځه ځي ، په دې لړ کې د ادبي شعر زياتره لس ځپيزې ځلوريزې راځي چې له ))لاحول و لا قوت الا بالا(( سره يې تول برابرېږي، لکه د خوشال هغه:

وخت د پیریه - راغی خوشاله
لا دې پر زړه دي- دا څو خیاله
خیال د ننګونو - خیال د جنګونو
خیال د دلبرو - له خط و خاله؛

د کاظم شيدا ، لکه:
غلط ښځایه- پر خپل ورانه يې
هوا دې آس دی- ته پر یانه يې
ژر به دې ځای شي- دا توري خاوري
غافله ځاځکی- د بارانه يې...)۹۳۵ مخ(؛

د حمید مومند ، لکه:
کله به راشي- پر هند براته
کله به کښېني - ماته مخ ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ته را درومې - پکې د یوې ږدې
غم به کا خونه - د ))حمید (( میراته(حمید ۴۱۱ (
[دلته)) حمید (( یو ځپیزول هښښنده برښښي، ښایي له آره ))ما (( اوسي !] ... ؛
د قلندر اپریدی درستو څلوریزو هم د حمید په لاروی ورته ښه را خپله کړې ده، لکه:
زه دې د وصل - په تمه ګرځم
هجران دې وسوم - له غمه پرځم... ؛
د کامګار )۱۸۳ (، لکه:
زما دلبره - د تا له درده
سترګې مې سرې دي - ګونه مې زرده... ؛

دا وروسته څلوریزه که څه هم یوولس ځپیزه ده، خو بیاهم لکه د لس ځپیزو په څېر لارغه یې ده
چې د هرې مسرې لومړی توته یې پېنځځپیزه او دویمه یې شپږ ځپیزه راځي:
د خدای لپاره - د دوست په روی دې وه
د وفادارو - ښکلو په خوی دې وه
\\\\\\
د رنځورانو په های هوی دې وه

کاظم شیدا نه یوازې زیاتره څلوریزې )رباعیات( له ورته ماتو مسرو سره پېیلې، بلکې یو لړ
غزلې یې هم په ورته ځپیز - خجیز ویلې دي:
- لویي که مومې، زنهار لویي کړه
چې مکافات شته، جز نیکویي کړه
وانښه په خوله کې، د کهکشان نیسي
حال د اسمان وینې، فتنه جویي کړه... )هماغه ۸۵۵ (؛

د )اوسني ( شعر یو ورته ځبل:
د زړو پر ملک یې، وار چلاوه چې،
هغه واکمن چا، له تخت را کښېښست...
چې یې غمي ول، د هسک برم ستوري،
چا یې له سره، آخول را پرېښست؟)اند و واند ۳۱۵ (.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه دولس څپيزه مسره چې ړومبۍ نيمکۍ يې پېنځڅپيزه او دويمه هغه يې اووه څپيزه راغلې ده:

نه پېنځوس سل او، دوه سوه کاله پرمخ،
نه څوارلس سوه، شپږ زره کاله پرشا...
تباه برباد کړو، هسې افراط و تفريط،
ځئ چې راخپل مو، کړو دا خپل نن و سبا !)رزم و بزم ۱۴۰ (

همدا راز يوه داسې ديارلس څپيزه بېلګه چې د يوه سندرغاړي )احمد مريد ( له مخکې چمتو کړې کمپوز سره سم يې لومړۍ مسرې له آره اووڅپيزې او دويمې يې شپږ څپيزې راغلې، خو د نابرۍ )تصادف( له مخې يې د پای بيت لومړۍ مسره له يوبرابر دوه اووڅپيزو ټوټوڅخه رغېدلې او يوازې وروستۍ هغه يې لس څپيزه ده چې پر دوه پېنځڅپيزو ټوټو وېشل شوې ده:
چې په انګار د شونډو، دې کړم کباب کباب
نو راته مه ستوه، اوس يې شراب شراب
بانه دې غشې غشې، وروځې ليندۍ ليندۍ
سترګې نرګس نرګس، مخ دې ګلاب ګلاب...
بيا به هم لاس وانخلې، ستا له زړې مينې زيار،
که وي ثواب ثواب، که وي عذاب عذاب !
همدارنګه ځينې ولسي شعرونه، په تېره غزل هم درواخله، لکه د پاينده محمد کړه وال دا بېلګه:
//////////// اشنا نه راځي
دا لاندې پېيلي متل د يادشويو څلوريزو غونډې له ورته څپيز- څجيز تول و تال سره ورته ځانګړتيالري:
دا عقل ستاوو، که دې پور کړی دی؟
پرون سر سپين وو، نن دې تور کړی دی !

ښايي، په پارسي او عربي هغه کې د دې راز شعر څرک هم ولګي، څکه په پښتوکې يې نومېرونکی او نوموونکی، تر مکنزې هم له مخه، استاد رشاد دی، او هغه، لکه په لومړيو شننو کې يې چې يادوني راغبرګې شوې، تر ډېره د همدغو ژبو له ګوتپېره پښتو شعري سېستم، او په دې لړ کې بېلابېل رغښتي ځېلونه )ژانرونه ( ورڅېړلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځپېز کمی زياتی

لکه په تېره دولس ځپېزه ماته شعري بېلګه او همداراز )د بدلمېچ د لومړی چاپ **۵۸**- **۵۹**مخ (د غني خان او خوشال په اړوندو بېلګو کې يې يادونه شوې، په پښتو ځپېز- خجيز سېستم کې خج تر ځپې لومړی او زيات بنسټيز ټاکنده نقش لوبوي او په دې توګه په يوه شعري ځېل کې د يوې ځپې کمی زياتی کوم ناسکيندی توليز تاوان نه پېښوي. په دې لړ کې هغه شعري ځېل راځي چې له خجپای سربيت )مطلع( سره راپيل شوی وي، په توليز ډول يې ناپښېليزي يا بېقافيه)غير مُصرّع( مسرې تر ))مُصرّعو (( هغو يوه يوه ځپه زياته راځي، لکه په دې لاندې بېلګو کې:

بيا له کومه راپيدا شو دا بهار
چې پر هر لوري يې ملک کړيو ګلزار...
درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ و اشکار...)خوشال، پ(؛

ګوره هسې کردګار دی رب زما
چې صاحب د کل اختيار دی رب زما
څه مانۍ چې د دنيا او د عقبا دي
د همه واړو معمار دی رب زما...)رحمان(؛

هر زمان پر هر ساعت خيال د مين
په سينه کې مې خرخېږي لکه ستن
له نيستۍ سروې موندلي سرلويې ده
خودي پر بېاسي نښتر له بېخ و بن...)کامګار **۷۴**(؛

- پر دې خاوره مال و سر بايللي ما
-درد و غم د زمانې زغملي ما
پرځای کړی يې ما ننګ و نام ناموس دي
ترې غاوره غليمان شړلي ما...)سوزونه او سازونه **۴۸**-**۴۹**(؛

- لويد يځيانې نن سبا درومي پر شا
لېږدوي د لاس کځوړې چې پر شا

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کور اور و چوچ و پوچ نورې بېزارې
داچې خوښې دي له کوره پر سارا)اند و واند ۲۰۸ (؛

- که یو وخت مې پر دنیا پرې شوه ځیره
او مرگ واېسته زما د ژوند شیره
ویر ژړا به پر ما نه کوئ له دوده
نه خیرات یوه پیسه او کسیره...)د مرجانونو ځانگې ۲۷ (؛
غولوې به مې په نن سبا ترڅو
ماته غوره یوه ))نه ( ( ده له سل ))هو ( (
داچې ستا ژمنې زما ترژوند اوږدې شوې
ورم به خاورو ته اسره ستا د ککو...)گلکخونه ۹۳-۹۴ (.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴- څپرکی
# پښبېله)قافيه( ، پښبېليز آرونه
# او ويارونه

## لومړۍ برخه

### پښبېله يا قافيه)**Rhyme**( او پښبېليز آرونه

لکه په لومړۍ برخه کې چې يادونه وشوه، قافيه له آرې شعري مقولې)مخيّله موزون کلام( سره نه، بلکې له راوروسته غځېدلې هغې))مخيّله موزون او مقفی(( سره په تړاو تر څېړنې لاندې نيول کېږي.))پښبېله(( د استاد رښتين له خورا ښو نيولوجېزمونو څخه ده او دودول يې ښځايه نه دې. پخوانی انگرېزي انډول يې رايم rime وو چې د زړې فرانسې له rime څخه يې سرچينه اخېستې وه، خو راوروسته يې د ريتم rhythm )وزن( تر اغېز لاندې ليکدود rhyme ته راوښتی دی. الماني انډول رايم Reim هم له ))منځنۍ کره الماني(( بڼې rim او بيا له هماغې زړې فرانسې rime آره اخېستې ده .

د عربي نومونې له مخې قافيه جوليزه )لفظي( همغږي او مانيزه ناهمغږي ده، له دې څرگنداوي سره:

که لفظي يووالی د همجوليزو )متشابهو( وييونو )لکه گټه د سنگ او گټه د فايدې په مانا( په بڼه وي، نو د مانيز توپير له مخې سره بياهم همقافيه کېدای شي، که نه، لفظي توپير يې سره اړين دی. په اروپايي شعر کې چې همجوليز وييونه دې سره همپښبېلي )همقافيه( شوي وي، چېرې مخې ته راغلي نه دي. په دې ډول پښبېله داسې راپېژني:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الماني سیند کښونکي ) Wahrig ( په وینا: له بېلا بېلو سرغړونو سره د یوې یا ډېرو څپو هماهنګۍ ته قافیه وایي، په دې آړ چې سرغړونه یې سره یوراز نه وي؛ د انګرېزي )Collins( لیکوال یې: په شعري لیکو )verse lines( ، وییونو یا څپوکې د پای غړونو سمې سمیا قافیه یا قافیې بلل کېږي.

هغه وییونه چې وروستي غړونه یې سره همرنګ وي، د عربي په څېر په لویدیزه نومونپوهنه )ترمینالوجۍ ( کې هم پښپلویي )قافیي کلمه( بلل کېږي، لکه واخلې الماني Reimwort . ترکوم ځایه چې را څرګندېږي، اروپایي پښېلې، په بله وینا ، پښپلغړونه)قافیې توري یا ارکان( د عربي یا پارسي دې غوندې دومره ډېر او پېچلي نه دي، د ساري په ډول تر ))روي(( له مخه واوېل یا حرکت په پام کې نه نیول کېږي، او په دې لړکې انګرېزي command|demand د غورو قافیو له بېلګو څخه ګڼل کېږي.

قافیه اندیشم و دلدار من
گویدم مندیش جز دیدار من
حرف و گفت و صوت را برهم زنم
تا بې این هرسه با تو دم زنم )مولانا (

یا د )بهار ( له پاس راوړل شوې بېلګې دا یوه کړۍ:
صنعت و سجع و قوافی هست نظم و نیست شعر
ای بسا ناظم که نظمش نیست الا حرف مفت
او یا:
د خیال انځور ستاد بېساري ښکلا ،
د قافیې په قاب کې نه ځایېږي...
ستا د موسکا د نوو نوو رنګینو سېمفوني،
نور په شپېلۍ رباب کې نه ځایېږي !
)پوهه او ګروهه ۲۷(؛
او د مولاناتر اغېز لاندې:
. کله چې راپیښه شي
پر کورد شعر،
سترګې دې عروض و
هم بیان شي بیا...

(c) ketabton.com: The Digital Library



شونډې دي له شونډو سره
شي همقافيه هله !
)زما نړۍ ۲۹(.

## آره او نا آره پښبېله

آره قافيه هغې ته وايي چې قافيه يې له يوه يوو ستوي ويي رغېدلې وي، لکه:
څو يې پاتې ستا له مرگ نه کړم نامړه
چــې په څوړه د ولس کې غواړې لوړه
)سوزونه او سازونه ۳۵(؛

که له دوو وييو څخه جوړه وي، نو يې نا آره يا )معمولي (بولي، لکه:
که دي خاوره که هوا ده
تــــا ته راغلمه هېواده )هماغه اثر ۳۲(؛
- - -
که ساقي د پيالې ست وکاندي ماته
هـــغه دم به صد ساله توبه کړم ماته
- - -
ژربه رسوا شي د مضمون دزده
جامه غمازه د جامه دُزده
کله پټېږي له مبصره
متاع په بلخ کې چې د قندز ده )شيدا ، ديوان۸۴۴،۱۹۲۵ (؛

شيدا )هماغه ۳۲۱ - ۳۲۹ ( په پرله پسې درو غزلو کې د اړوند ويي د پای څپې په توگه ))-ته(( او وستربل )ته( سره غاړه غړې کړي اوپه دې چم يې دواړه ډوله پښبېلې سره اخښلې راخښلې دي، لکه: چا ته، سباته، ماته )شکسته(، زياته، حناته، خودآراته، دلرباته، رعنا ته، خاکِ پاته، تحت الثری ته، دارالشفاته؛... زياته، شيداته؛ بيرته، چرته، درته.

## همجوليزې پښبېلې )متشابه قافيې (

دا چې له دوديز- عربي پېژند )تعريف (له مخې قافيه جوليزه )لفظي ( همغږې او مانيزه ناهمغږې ده، نو په دې ډول همجوليز يا متشابه وييونه )homonyms & homographs(، په بله وينا ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وییونه چي غړېزي )لفظي ( او هم لیکنی بڼي یې سره یو رازوي او ماناوي یې نه، نوسره قافیه کېدای شي. د ساري په توګه ګټه )سنګ ( او ګټه)فایده ( سره په یوه شعر کي غاړه کول، نه یوازي پښېلیز ویار )قافیي عیب( نه رامنځته کوي، چي لا شعري رنګیني هم زیاتولای شي. د استاد رشاد په وینا )ولي محمد ! ( مخلص د درست غزل پښېلي تر پایه ))سپیني (( له ګړنیزو رنګا رنګیو سره راوړي دي. داسي پښېلي په لومړي لید سره سړي ته بېخونده بیاځلي )تکراري ( برېښي، خو همدا چي یې پر مانیز توپیر سرخلاص شي، نو بیا ځني خوند اخلي. دا دی،دلته یې اړوندي شعري بېلګې وړاندي کوو:

اور د میني هسي پوخ کړم
چي خامي راکي هېڅ نشته...
نور د ژواک لپاره ځواک شوم،
نور مي ډار نشته له نشته ! )وینه او مینه **۸۵** (؛

- - -

- کله دي واړه پښتانه پښتانه
کاشکي یومخ شي پښتانه پښتانه... )د مرجانونو ځانګې۱۰ (؛

- ترڅو به پرمخ نغاړو هریو )خپله ( خپله لاره
بېللي بېلابېله یو له بله خپله لاره
شو سر د تباهی پر ګړنګونو باندي ځکه
چي نه مو کړه توپیر له پردي )خپله ( خپله لاره
که سوي د بري برم د نیلي، وخت رانبکلي نه کړي
دا و نه کړه هېڅکله مو- را )خپله ( خپله لاره
په ځان پسي مو ړنګ کړه ترشا پلونه په لوی لاس
کړه پري مو هم د تېښتي- په )خپله ( خپله لاره...)ساندي او سندري **۲۷** (؛

- - -

- ))لبمه (( د ډېرګړي په توګه د )سترګي ( او د یوګړي په توګه د )کسی ( په مانا او له داسي نورو ګړودي مانیزو توپیرونو سره په دي لاندي غزل کي داسي جوړه جوړه راغلي، هغه هم لومړی یې پښېله او دویمي یې لړ یا ردیف رامنځته کړی دی:

نه لوټوي چاو بل چي لبمه لبمه
تاخو زما لوټ کړه په لبمه لبمه
ښخ دي چي لبمه راته لبمو کي کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري ټول جهان راته لېمه لېمه...)د مرجانونو ځانګې ۱۸ (؛

- - -

- ))اېستی(( د لیکوال په یوه غزل کې، یوخوا له ښلابېلو ښېلښتې)اشتقاقي، شبه اشتقاقي ( رغاونو او بلخواله یوځو ګړنو )اصطلاحاتو ( سره هم لړوډ برې ورته پښبلې رغولې دي:

د وخت توپان پر مخ اخېستی یمه

د برم له تخت یې راکښې اېستی یمه

زه د مهال یو سپین نالوستی کتاب

که چا به تش هسې پرانېستی یمه

یو سپین ازاد ، بې تول و تاله شعر

نه چا پیېلی، نه امېستی یمه

سترګې پر لار ورته په نن سبا کې

ډېر یې د ژوند له ژندرو اېستی یمه

چې یې یوه هم پرځای کړې نه ده

په هسې ژمنو یې تېر اېستی یمه

شیطاني لمسو په ګناه د مینې

له ارماني فردوس را اېستې یمه

نغاړم پرمخ دا ، خپله لار به بیاهم

څه که یې اوس ترې، راجارا پستی یمه

بیابه هم پاځم، ملابه سمه کړم زه

نول و ناورین که راپرې اېستی یمه

تل ځم پر مخ، که څه هم سم له لاسه

ناخوالو شاتګ ته اړ اېستی یمه

پوره مې نه وه، که نه خو واړې یې

ژوندی پر قبر ننه اېستی یمه

د تلژغوراندې بلهارې پرښتې،

د مرګ تر پولې پورې اېستی یمه !)۱۰-۵-۰۲ (؛

- - -

- ))سراخېستی(( همجولیزه)همزمان ترښتي ( پښبله یې هم په یوه څلوریزه کې:

تا که زما غم دی پر سر اخېستی،

زه هم دا ستا غم یم پر سر اخېستی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ستا په مینه کې ټول نوم و نښان،
په بیه ما د مال و سر اخېستی.)اند و واند ۲۲۸ (.

## غبرګې پښـبلې )قافیتین (

هغه شعر چې غبرګې پښبلې )قافیتین( ولري، غبرګ پښبلیز یا ذوالقافیتین ) double rhyme( بلل کېږي چې په دودیزه شاعرۍ او بیا پښتو دې کې یې ببلګې ډېرې راغلې او لا له جولیزو انځورونو )صنایع لفظي( څخه هم ګڼل شوي دی.هغه دا چې شاعر د یوې پرڅای دوې غبرګې قافیې په یوه غزل، قصیده یا بل شعري ځېل کې سرترپایه، یا په لومړیو څو کړیو کې راوړي. ببلګه یې لکه په لاندې غزل کې چې هممهال یې لومړي دوه بیته سر پر سر ))مصرٌع(( هم راغلي دي:

چې رامات کړ ها ببلوره، تورک شاهین وزر زما
پښتنې مینې ته مات کړ، نازنین نظر زما
یه زړګیه ! ته چې وینې، دا رنګین دوتر زما
دوتر نه دی، دی خونین دوتر زما
ننواتې یم راغلی، پر زړه غوځ له رقیبانو
و پېزه په تورو څنو ، دغه خوږین پرهر زما... تر پایه )ګلکڅونه۷ (؛
استاد رشاد )←لومړی څپرکی ( د غفورلېوال د )) ←هوسۍ (( په ازاد شعرکې هم یوه ورته ببلګه سهي کړې ده:
د هغو دنګو شاځلمیو ژنیو مرګ وم چې شپېلۍ غږوي
چې چېرته ناست وي په کږدۍ کې او سپوږمۍ نڅوي

## غبرګې پښبلې او غبرګ لړونه

هڅاندلیکوال اسماعېل یون چې که پخپله د ازاد شعر همیونی دی ، بیاهم له قافیوال شعر سره دومره لېوالتیا لري چې دببلاببلو ډولونو ، لکه بې ردیفه قافیوالو ، ردیفي قافیه والو ، غبرګ قافیوالو... هغو د ښه ترا ډا ګیز ونې او پېژندنې لپاره یې هندسي نښې نښانې ورټاکلې دي. په دې تړاو یې د اسحاق ننګیال))خیبري تنده (( نومی غزل پرمخه ورغلی چې په پښبلیزو )مصرٌعو ( مسرو کې یې پرله پسې غبرګې غبرګې قافیې او غبرګ غبرګ ردیفونه کارولي، له غبرګو پښبلو یې هم دویمې هغه بیاتر پایه ))چستې (( راغلې دي، لکه:

ټول عمر درنه ده، سپکېدو ته یې چې پرې نږدې
خاوره پښتنه ده، او پردو ته یې چې پرې نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږده خيبري تنده، چي بيا په وينو ماته شي
گرمه معرکه ده، وچېدو ته يې چې پرې نږدې...
)سمسور اوبپانه، ۱۴-۲-۱۰(

## ډبر پښېلي

همداراز د عربي ذوالقافيتين ترخنگ په پښتو کې ډبرپښېلی یا ډبر پښپليزوالي او يا ډبرقافيوالي هم دود درلودلی چې ))زنځيري چاربيتي (( ورسره جوړېدې او نومول کېدې. دغه کار هم، لکه )ذوالقافيتين( نن سبا کوم شعري انځور نه بلل کېږي، بلکې يوازې سندريز خوند و راکښون زياتوي. ځنگه چې اړوندې چاربيتې زياتره د لوستو ))نيم ولسي (( ناظمانو له خوا جوړېدې، نو د پښتو قافيو د تنگسې ) ! (له کبله د بېخرته عربي او پارسي پورويېونو کارونې ته اړوتل. وروستی بېلگه يې د سيد طاهر بينا هغه وه چې پر ۱۳۵۱ل. کال يې په کابل مجله کې خپره کړې وه او ډبر عربېزم يې ليکوال يوې سوچه پښتو ))ځلور کړيزې (( ويلو او خپرولو ته اړېستی وو:

خدا يېږو که له ميني به دې وگرځم
ستا له سترگو وگرځم
په زما د زړه سره !

واخلي پرښته، که څه هم سا له ما
وابه نخلي هېڅکله خو تا له ما
څو نه شي پخپله ته جلا له ما
زه به مې له خپل هوډه و نه گرځم
ستا له سترگو وگرځم
په زما د زړه سره !
... )سويس، ۱۲-۲-۱۹۷۰(

## لړ )رديف(

لړ یا رديف هغه ويی یا وييغونډ، غونډله يا غونډله غونډ دی چې تر قافيې وروسته په هماغه يوه جوله او مانا په اړوند شعري ځېل کې ترپايه راغبرگېږي. لکه چې له مخه يې يادونه وشوه، په قافيوال شعرکې د دغي برخې زياتونه د عربو نه، بلکې د عجمو )پارسيوانو( نوښت بلل شوی او موخه يې د لاښه ترا تول وتال، په بله وينا، موسقيت سمبالتيا انگېرل کېږي. رديف ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قافيې د يوه پايخوږ په سترګه کتل کېږي او په دې توګه که له پښبېلې سره لږ يا رديف و نښلول شي، لړواله پښبله ))مردفه قافيه (( بلل کېږي.

لکه په تېر څېرکي کې چې ورته نغوته وشوه، د رديف ډېر اوږدوالی هسې يو ډول او فېشن دی او تل خوندور نه پرېوځي. په کلاسيک پېر کې يې له ستر خوشال پرته د نورو په هغوکې دومره اوږدې ببلګې نه ليدل کېږي، مګر په ننني غزل کې ببخي دود و مود ، يا ډول و فېشن ګرځېدلی او ځينې لا ترې د کاراسانۍ لپاره کار اخلي.
نه څپيز رديف، لکه خوشال:
له حاله بې خبر شه که شته شته که نشته نشته )ک.۲۹۴ مخ(.
- خادم:
خادم باد سبا يم، که وم وم، که نه وم نه وم )د مرغلرو امېل، ۲۸ مخ(.
- ف. ګران:
لامې د شببو ګلان پرېږده چې خړوبه شي
تـــږې د اوبو ګلان پرېږده چې خړوبه شي )۱۳(
- فردا:
ګوره اننګو ، ته دې اوښکې مې جرګه درځي
تـــمه د خولګو ، ته دې اوښکې مې جرګه درځي )د ګلپانو پرخې، ۴۹ (
دا سوی ستې وطن پرېږدئ چې لړ وخاندي
دغـــه غيرتې وطن پرېږدئ چې لړ وخاندي
يوولس څپيز، لکه:
... مرمه بې له تانه ما مه پرېږده يوازې....
د تاندزلمي شاعر شهاب الدين پکتياوال په يوه سندريز نظم کې دولس څپيز رېکارډ ټينګ کړی دی:
سره ګلونه راته وايي، ارمانونه راته وايي
ګودرونه راته وايي، زما غرونه راته وايي...
)ليکوال،پېښور، ړومبۍ ګڼه جنوري ۲۰۰۲ ز(

په دې توګه دغه راز نه څپيز رديفونه دوه دوه بشپړ غونډونه )رکنونه( جوړوي او يوه څپه يې پای ته سرباري راځي، دا چې د دغو غونډونو پر کومه کومه څپه خج راځي، د اړوندې مسرې په نورو غونډونو قياسېږي. په درو ګونو )وګړني، ليکني يا ديواني او وسني آزاد ( شعري ډولونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې داسې ببلګه تر اوسه لیدل شوې نه ده چې لومړی ځلور څپې یې ناخجنې وي، یا په بله وینا ، یو غونډ یې نه وي جوړ کړی او پر پېنځمه خجنه څپه یې پیل موندلی وي. مانا دا چې خج هېڅکله له ځلورمې څپې تېری نه کوي او که نه، هغه شعر به هرومرو بې تول و تاله )بې وزنه( وي. د همدغه آر )اصل( له مخې ځیني اوږده )پور-( وییونه په پښتو شعر کې هډو هېڅ راتلای نه شي، لکه )اهورامزدا( یا )نیکاراګو( چې د پښتو خجپوهنې )اکسنتولوجی( له مخې یې منطقي یا عادي خج پر وروستۍ څپه راځي، حال دا چې دغه څپه پېنځمه ده او تر ځلور څپیز غونډ )رکنه( وتلې ده. له)لارغه یې یامات شعر ( پرته، پر بله هره )پېنځمه، شپږمه... ( څپه یې خج راوړل له پښتو وینګ سره اړخ نه لګوي.

دویمه برخه

پښبلیز ویارونه )قافیي عیبونه(

تر هغې د مخه چې قافیي ویارونه او اړوند ردیفي ویارونه تر څېړنې لاندې ونیسو پکار ده قافیه او ردیف وپېژنو:

پښبلیز غږونه )قافیي توري( یا نمت ویي رانغاړي او یا یې وروستۍ برخه، لکه: اند- بند- جنګ- دنګ- خوړ- څوړ... داسې چې د نظم له پیله تر پایه پورې یې د ببلابېلو ټاکلیو ټوټو )مسرو( په پای کې هغه تکرار کړي وي. که د یوه بیت هره مسره قافیه او ردیف ولري، بیا وایي چې دغه بیت دوه )دوره( لري او که هماغه وروستۍ مسره یې قافیه او ردیف ولري بیا وایي چې دغه بیت یو )دور( لري، په بله وینا ، غیر مصرع دي ردیف هم په )دور( کې راځي د قافیي او ردیف توپیر په پای کې دی چې قافیه تر پایه له هماهنګو اوازونو )حرفونو( څخه جوړه وي او مانیز یو والی نه لري، مګر ردیف تر قافیې وروسته په هماغه یوه جولیزه )لفظي( او مانیزه بڼه بیا بیا راغبرګ کېږي.

که په یوه شعر کې قافیې هم جولیزې او بېلمانیزې )مختلف المعانی( وي، هم کېدای شي، د ببلابېلو قافیو په توګه وګڼل شي، لکه سره )طلا( او سره )جمع سرخ(، په بله وینا ، د یوه شعر قافیې کېدای شي پر هماهنګو سربېره همجولیزې )متشابه( هم وي په دې آړ چې مانیز یو والی ونه لري او د ردیف آر همدا دی چې له پیله تر پایه هماهنګ، همجولیز او هم مانیز اوسي.

دا دی، دلته د یوشمېر مینه والو په پار د دودیز قافیي سیستم او اړوندو آرونو او ویارونو یو څه لاسوهلی نچوړ وړاندې کوو او په اتم او نهم څېرکي کې یې بیا له نوي ګوتپېره څه ناڅه راغبرګوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قافيې ارکان )ستني( ، اوازونه )توري(
د عربي استادانو د قافيې توري )اوازونه( اوه نه، بلکې نهه بللي دي چې هر يو ځانته نوم لري. په دې ټولو کې د منځ توري ډېر ضروري دي چې بې له هغه قافيه نه جوړېږي او له نورو اتو توريو شخه ځلور د مخه او ځلور ورځنې وروسته راځي، خو د دغو ټولو راوړنه )همېشه يا همزمان( اړينه نه ده. مطلب دا چې کله وي او کله نه وي. د دغو توريو نومونه دا دي: ردف، قيد ، دخيل، تاسيس روی، وصل، مزيد ، خروج، نايره. په دې ټولو کې )روی( اساسي توری او د قافيې د ملا تير دی او نور يې مرستيالان او ملګري دي )سمندر ، د قافيې کتاب، د پېښور چاپ، ۸ مخ، د رښتين اخيستنه، وړمه د ۱۳۴۲ کال ۱-۲ ګڼه، ۸-۹ مخونه(.

روي او ترې وړاندې وروسته اوازنه )فونيمونه(
روي د قافيې زړی )هسته( جوړوي داسې چې نور اړوند ارکان يا اوازونه ترې مخکې او وروسته راځي. دا د قافيې د يو راز اوازونو )حروفو ( په لړ کې همدغه اواز دی چې د مخه تر دې يو همرنګ بېواک )کنسونېنټ( يا ناهمرنګ بېواک له يو راز واوېل يا حرکت)زور، زېر، پېښ( راغلي وي او ورپسې نور ټول اوازونه ـ حروف( همرنګ وي، لکه –ن- په ځان، اسمان، جهان... يا –ب په مکتبونه، منصبونه، غضبونه... يا –ګ- په جنګ، بنګ، تنګ... کې. يا -ر- په شکره، خبره، مرغلره، خوندوره... په اور، چغهار، سهار او يا په وير، تدبير، ودير... او په لور، خپور، ځلور، کور... کې.
"روی" هرومرو بېواک غږ )کنسونېنټ( نه وي، بلکې خپلواک غږ )واول( هم وي، لکه )و( په ککو، دردو، پښتو... په کړاو، پړاو، لګاو... يا په نريو، پسرليو، کيږديو... کې.
تر روی وروسته اوازونه )که وي( وصل، خروج، مزيد ، نادر او تر مخه اوازونه يې قيد ، ردف، )او تر دا منځ حرکت )حذو( ، دخيل )تر دا منځ حرکت )اشباع( ، تاسيس )الف( اورس )فتح( بولي.
که روی حرکت )زور، زېر، پېښ( ولري يا د ژبپوهنې په نومونه يې وازه څپه جوړه کړې وي، "مجرا" بلل کېږي او که ساکنه وي، تر مخه حرکت يې بايد تر پايه يو راز وي "چې دغه رو رازوالي ته "توجيهه" وايي، قافيې ويارونه )عيبونه( په لاندې ډول دي:

۱- اکفاء: که "روی" ګانې سره توپير ولري "اکفاء" بلل کېږي او دا هغه مهال نابشل کېدونکی ويار دی چې ځای يې يو نا هموتوځی )هممخرج( اواز )توري( ته ورکړل شوی وي، نو دومره ويار نه ګڼل کېږي. په دې ډول "م-ن، ر-ړ" يا "ن-ڼ" يا د س او "ص" په يوه "روی" کې راوړل روا دي، لکه: په "کونه، پښتونه، غړونه" کې. )رشاد (.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لر وتوځي، په بله وينا ، ناهموتوځي )روی ( بېلګه، لکه د محمد نور په دې لاندې بيت کې چې
)ب ( او )ت ( سره روی شوي دي.
)مسته نجلۍ ګرځي شـــتاب کې
نېغه ګرځـــي منګی به مات کي (
دلته پر روي سربېره رديف هم بدلون موندلی دی.

۲- ايطاء په يوه شعري ټوټه کې د قافيې غبرګون )تکرار ( ته وايي. په غزل کې تر اووم بيت او په بوللـه کې تر خوارلسم بيت مخکې قافيې تکرار ويار ګڼل کېږي، په دې ډول غزل متې يو ځل د قافيې تکرار اجازه لري او بوللـه خوارلس خوارلس بيته وروسته بيا بيا دغه چانس تر لاسه کولای شي. د دوبيتزې )مثنوي ( په يوه بيت او د بند لرونکي شعر په بند کې قافيې تکرار ښرګنده ايطاء بلل کېږي. البته په څلوريزه کې هم همدا سې ارزول کېږي.

۳- سسته قافيه، په پښتو شعر کې يوه سسته يا سپکه )خفي ( ايطاء بلل کېږي او هغه دا چې د قافيې د ورته تصريفي پايلو په توګه وي، لکه:
مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې شوې
طيلـــــــــسان زمردي واغوسته غرونه
)ښکارندوی: پخ۲۲ (؛

...چې له آله له اولاده سره وسول
خدای دې نه کا څوک دا هسې مظلومان
چې په اور کې يو د بل لپاره سوځي
ما ليدلي نه وو هسې مخلصان
)رحمان ۱۱۱ (
چې کوټلي وي په تېغ ستا د چشمانو
سر حلقه دی د جمله وو شهيدانو
ستا وصال د سر پرېکړو دی دلبره
ژوندي نه مومي جنت بې مرد ګانو
)هماغه ۱۲۴ (.

۴- چسته قافيه، چې تر ګردانۍ پايلې )تصريفي خاتمې ( د مخه اوازونه )توري ( يو راز وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بله وینا ، )روی ( وګرځي، دغه راز قافیه تر سستي هغې ډېره خوندوره راځي، لکه:
لېوني شول پښتانه په منصبونو
خدای دې ما ژغوري له هسې غضبونو
د کنګاش علم دچا دی، د تورزنو
لکه څوک لولي قرآن په پر مکتبونو
)خوشال: ک، ۱۷۶ ( ؛

مه شه خوښ د پادشاهۍ پر تخت ختلو
همېشه يې غم کوه د پرېوتلو...
هغه زړه عبدالقادره چې مرده وي
پر ګوګل دننه دی د ساتلو
)قادر خټک، پخ۲۳ ( ؛

مه وای هسې کلی چې د چرګو کولمې خورینه
شل خېمې په کور کې د نېستۍ له غمه مرینه
بل فکر يې هېر دی خو په غم د زرو پول دی
نر، ښځې يې واړه تنګې تنګې لرینه
)خوشال: ک، ۲۵۳ (.

**۵**- عدول )سرغړاوی ( درې ډوله دی )۱ ( د اوښتي پېر )مغیره حالت ( نه پرځای کول )۲ ( د قافيې سمون لپاره له اړوندې قافيې کلمې څخه يو څه کمول )۳ ( پر کلمه یو څه ور زیاتول )۴ ( یا يې کره لیکنې بېه اړول او یا )**۵** ( د صفت و موصوف او یا خبر و مبتدا نه سمون.
)۱ ( لکه د استاد رشاد په لاندېني شعر کې چې پاس يې د پښېلوییونو )قافيې کلمو ( یادونه وشوه:
زار و زبـــــــونه بیده پښتونه
په سترګو ړونده په غوږو کوڼه
دلته پښتونه باید د بلنپېر )ندایه حالت ( له کبله )پښتانه ( وای او کوڼه )کاڼه (، ړوند )راڼده (.
یا لکه د خوشال بابا د بازنامې په دې بیت کې:
لوی هنر دی د بازانو په ساتل کې
مګر دا هنر پیدا شي په کابل کې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



او يا هم د ښکارندوی د بوللې ځينې بيتونه، لکه:
مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې شوې
طيلسان زمردي وا غوستـه غرونه
سپينې وا ورې ويلېده کاندي بهېږي
لکه اوښې د مين پر گرېوانونه
هر پل رنې ويالې بهاندې خاندي
له خوښيه سر وهي له سينگړونه
)پخ: ۲۲ ( ؛
د رحمان بابا )۴۹ ( په يوه غزل کې هم "اغيار" په اوښتي "اغيارو" بڼه نه دی راوړل شوی:
چې مې يار وليد پر سيمه د اغيار گډ
لـه غيرته مې لېمه شول پر خونبار گډ
او يا يې په يوه بل غزل)۵۱ مخ ( کې:
هومره جور لکه يار له ما سره کا
نــــه دی هومره جور د اغيار
او يا هم په ورپسې مخ کې:
څــو جفا قبوله نه کړې د اغيار
وبه نه وينې په سترگو مخ د يار
البته دلته له گړنی ـ ژبې سره سم "اغيار" يوگړی )مفرد ( کارول شوی دی.

)۲ ( له قافيې ويې څه کمول، لکه:
کــــه مين زه پر گلزار يمه پر ځای يم
که د مخ يې په) ننداز ( يمه پر ځای يم
)خوشال: پ ، ۲۰۲ (.

)۳ ( پر قافيې ويې څه ور زياتول، لکه:
ای حـضرته ولاړم زه د عشق په لور)ه (
ورغلم حوض کوثر باندې فی الفور)ه (
)جلال الدين: قافيه، ۱۸ (

(c) ketabton.com: The Digital Library



)۴ ( د هم قافیه کولو په هڅه پر ګړنۍ بڼه دکره لیکنۍ بڼې اړول، لکه: فسادي )فسادي ( له
)بیاتي ( سره انډولول کې:
بیا یې خوله په دا حیله سره بیاتي کړه
د وصال رشته یې غوڅه فساتي کـــړه
)هماغه ۲۴ ( ؛

د خوست یو ولسي شاعر له خپل ګړدود سره سم )بریدونه( )بریدینه( کړي او له )اخرینه(
)سپینه( سره یې همقافیه کړي دي چې د کره لیکني ګړدود )معیاري پښتو ( پر وړاندې هم
))سناد (( ویار ګڼل کېږي)د ردیف په بدلون سره ( او هم عدول:
توبه مې دې وي خدایه زمانه شوه اخرینه
ټګي برګي شوه ډېره څوک خبره نه کړي سپینه
که زه ختا غږېږم ورونو فکر وکړئ دي ته
پر دربیمه ورځ یوم واخلي بیا پردي وهي بریدینه
)هماغه ۱۹ (.

هر ګوره پښتو کړ شوي )مفغن( پور ویي ډېرو شاعرانو همداسې کارولي دي، لکه د حمید په
دغه وروسته بیت کې چې )لیلی ( یې له )خولې ( سره همقافیه کړې ده:
یا ناره د نیم بسمل مرغه له خولې ده
یـــا مجنون ته معما ښکلې لیلې ده

)۵ ( د مبدا او خبر )ایښی وایښونی ( نه سمون هم په عدول کې راځي، لکه په لاندني شعر کې:
پښتونه ستا د توري وار دی
مړی دې ګور کې انتظار دی

۶-اقوا ، تر "روی " د مخه حرکتونه )حذو ( بدلون ته وایي، لکه:
زه پـــــــــروت بې علاجه د درو مې وکړه غور
لمبې دې پر ما بلې کړې چې تا کړ کمیس تور
دلته )ر ( روی و )و ( ردف بلل کېږي او دواړه )واوه ( یو راز نه دي.
)جلال الدین: ۱۷ (.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کامګار ختک )ديوان: ۷۴ مخ( په يوه غزل کې ساکنه روی )-ن( راغلی او په دې توګه منځنی حرکت)زورکی( يې لږ و ډېر له زور او پېښ سره بدل شوی او اقواء ويار يې رامنځته کړی دی:

هر زمان په هر ساعت خيال د مين
په سينه کې مې ځرخېږي لکه ستن...
له نېستنې سروې موندلې سر لويې ده
خو دی پرېباسي ښتنتر له بېخ و بڼ...
د دنيا له غمه ځکه خلاص کامګار شه
چې د زلفو غېل يې پرېوت پر ګردن

د حمزه شينواري د )راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې( او د غني د )زما محل( په شعر کې پورتنی اقواء عيب ليدل کېږي. همدارنګه د غني په دې شعر کې:

چـــې تېرېږي بېوفا عمر زما
د ژوندون له ښاخه ځي ثمر زما

رحمان بابا خو ځايه ورته کار کړی دی، لکه:

- سل ځله که وخوري ناصحان ځيګر زما...
- تېر شو په دا تمه پر در ستا عمر زما...

۷- سناد يا د ردف بدلون چې تل يو خپلواک )واول( وي، لکه په ګور )قبر( او ګور)ګي( او يا )ګلګون( )سيګون او شبخون( سره د )رنګين( همقافيه کول، لکه د سيد رسول رسا په دغه شعر کې:

سهره ګلګون د برسات
ماښام ميګون د برسات
د شپې شبخون د برسات
موسم )رنګين( د برسات

يا د صنم ګل )د اولمير( په اواز کې دا بيت:

نوی مــــــين يمه زه
نوی غمګين يمه زه

)۲( تعدي )تېری( د نفاذ بدلون ته وايي. نفاذ تر روی وروسته هر حرکت )زور، زېر، پېښ( ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل کېږي، لکه په لاندې بيت کې د )ر ( د حرکت بدلون:
چـــــې راواړوې ته سترګې شرمګينې
زړه مې روغ کاندې دا تورې سرمګينې

)۷ ( غلو ، د روی د حرکت بدلون ته وايي. هغه دا چې يو ځای ساکنه وي او بل ځای متحرکه او يا يې حرکت سره توپير ولري، نو د غلو ويار )عيب ( منځته راورېږي، لکه د پورتني بيت په )شرمګينې ( کې )ر ( زورکی لري او په )سرمګينې ( کې غړوندی )سکون (.

)۸ ( د فشار )خج ( بدلون) زموږ په نومونه: خجونج ( چې د قافيې په هماهنګه برخه کې خج بېځايه شي، لکه د )توره "سياه "، سپوره، کمزوره... ( په لړ کې توره )جنبه، ډله ( راشي. خجيز انډول البته بې له هغې د پښتو شعر له بنسټيز )سيلابوتونيک ( آر څخه ګڼل کېږي او يوازې په قافيې کلمه نه چې د مسرې په هره برخه کې که دغه انډول ويجاړ تيا ومومي، وزن ته وټ رسوي، لکه په لاندېنيو قافيه کلمو کې:
چې مدام په زنګدن يم له اشوبه
لـــه دا هسې زندګيه توبه توبه
)هماغه ۲۳ (؛

)۹ ( لړونج يا د رديف بدلون که جوليز وي يا مانيز يو ستر ويار ګڼل کېږي، ځکه رديف بايد د يوه نظم له سره تر پايه همجوليز او همانيز وي.

د حمزه شينواري په لاندېني غزل کې "ګډ "له آره د "مخلوط "په مانا رديف شوی او بيا وروسته د "رقاص "په مانا هم راغلی دی:
چې مکېز دې کړو دلبر وسره ګډ
نظر څه و ، شو کوثر ورسره ګډ
زه له عقله خبر نه وم چې سرکه وه
ما په کړو د عشق شکر ورسره ګډ
ده بېګاه د چا په مستو سترګو څښلې
واعظ څه و ، شو ممبر ورسره ))ګډ ( (
)غزوني ۴۱ (؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملنگ جان په دې لاندې شعر کې رديف )دی ( يو ځل مفرد او بيا )دي ( جمع راغلی دی:
پښتونه ستا د تورې وار دی
مړې دې گور کې انتظار دي
يا د دولت لواڼي په لاندې شعر کې چې د ښځينه مرستيالکړ )ده ( پرځای يې نرينه)دی ( کارولی دی:
ښه صفت د پاک سبحان دی - چې حضور په هر مکان دی
لمونځ، زکات، کلمه، حج شو - بل روزه د رمضان دی )ده ( )جلال الدين: ۲۱ (.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵ - څپرکی
## د شعر پېنځګوني رغنده توکونه:

ژبه- تول- واند- اند- ولوله
)ژبه- وزن- خيال- فکر- احساس يا عاطفه(

که پر نړيوال کچ لا تراوسه د ادب او بيا په ځانګړې ډول د شعر د هنري ارمان او ټولنيز ارمان، په بله وينا پر )ژب ښکلاييز- ژب انديز( ديالکتيکي تړاو ټينګار کېږي، نو پښتو شعر هم کومه بېدودي)استثناء( کېدای نه شي او د دې ليد توګي پخلی کوي:
شعر په کره کېښکلې او اهنګينه ژبه د اند و واند يا خيال او فکر ولوليز يا عاطفي تړاو ته وايي، په بله وينا: شعر د احساس، واقعيت او تخيل ښکلې او زړه راکښونې غوټه ده چې آهنګ )وزن( لري او لوستونکی او اورېدونکی ترې خوند اخلي. شعر د هنر خورا لوړ څېل )نوع( دی، تر بل هر ډول هنر يې ډګر لرې و ډېر پخپله زبېرندويه برخه کې د هغو توکيو له پلوه چې د څرګندونې وسيله يې ګرځي، لنډ تنګ او محدود دی... شعر په داسې وييونو څرګندنه مومي چې هم غږ دی او هم منظره او هم ځانګړی افاده شوی سوچ )تصور(. همدا خبره ده چې شعر د نورو هنرونو توکي پخپل ځان کې رانغښتي دي... )دوست ۲۷۵ - ۲۷۲ مخونه، د بېلينسکي پر اخځ(.

په دې توګه دغه وروسته پېنځګوني رغنده توکونه )متشکله اجزا( ژبه، آهنګ يا تول )وزن(، واند )خيال(، ولوله يا احساس او اند )انديښه(( د شعر د هستی جاج بشپړوي او د چا خبره د شعر مانۍ پر دغو پېنځو بنسټونو ولاړه ده: ژبه، اهنګ، واند، ولوله او اند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- ژبه، پيدا ايښت، پېژندنه او کارونه
ژبه د انسانانو تر منځ د پوهاوي د ټولنيزې اړتيا له مخې د دوی د ګډ ډله ييز کار او ګډ ژوند په بهير کې راهستېدلې ده، له ځان خبری )خود آګاهی يا شعور( سره هممهالې او همآرې )همنشاء( ده. دا مانا چې انساني ځانخبري د ژبې غوندې د هماغې يو شانې اړتيا زېږنده ده او لا په رښتينې توګه شعور لومړی ځلې ځان د ژبې په جامه کې راڅرګندوي او رښتيا ينه )تحقق( مومي. )کاسپر- وو کل ۱۳۲(.

هماغسې چې انساني ټولنې له خورا ساده ګی ځخه مخ پر پېچلتيا او بشپړتيا يون کړی دی، دغسې ورسره ژبې هم همدغه بهير تر شا پرېښی دی. لومړی بنې يې هسې د لاسو، سر، ګوتو، سترګو، وروځو، پزې، شونډو، غاښو، ژبې، اوږو او نورو غړيو خوځونې او نغوتنې )اشارې( وې، بيا يې جړو پړو غږونو، چغو پغو او شور ماشور ته ترونې غږيز غونډال )نظام، سېستم( ته لوړتيا موندلې او له دې سره د پوهاوي )کمونيکېشن( يوه غوره ترينه او اسانترينه وسيله ګرځېدلې ده.

دا چې د ژبې د پيدا ايښت لومړنې څرکونه او بيا يې د يوه غونډال )سېستم( په توګه راڅرګندېدنه او بشپړېدنه څومره مهال پرشاځې، د پينځو لکو او يو ميليون کلونو تر منځ کلونو اټکلېږي. خو د دغه ګردمهال په اوږدو کې يې د انسان په ټولنيز ژوند کې هاغومره کارنده چار و اغېز نه وو درلودلی، لکه څومره يې چې په تېرو لسو زريو کې.

وګړپوهان پر دې ګروهه دي چې په دغه لس زرکلن مهالپېرکې د انسان ژوونيزه يا بيالوجيکي او بيامغزي او عصبي پرمختيا يا بشپړتيا ډېره پخه او ان د چا خبره له نشته برابره وه. مګر پر ځای يې ټولنوټيزه )اجتماعي- اقتصادي( بشپړتيا پرله پسې ګړندی شوې او نن سبا خو يې کورټ برېښنا وزمه يون پرمخ اخېستی دی. د انساني پژې درغښت هغه ژوونی )حياتي( بدلنونه چې د پايښت په ګټه يې پربوځي، د جنونو او د زېږ لړی د پايښت )بقای نسل( د مېکانېزم له لارې ورپسې راتلونکو پښتونو يا نسلونو ته ورلېږدوي. خو ټولنيزه بشپړتيايي د ټولنې په مټ لېږدا مومي او يوازېنی لېږنده وسيله چې انسان يې په واک کې لري، هغه ))ژبه(( ده. هغه څه چې نن ورځ ترې مونږ د تمدن او فرهنګ په نامه برخمن يو، له پنځ )طبيعت( سره د انسان د زريو زريو د مبارزې پايله او ييبره ده.

ټولنې دغه ګرده پانګه د سيده او ناسيده، يا د چا خبره رسمي او نارسمي زده کړې له لارې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ رارسولي او موږ يې پرخپل وار له زياتونو او کرونو سره راتلونکو ته ورلېږدوو او دا هر څه له ژبې پرته کورټ ناشوني دي. که ژبه له ټولنې وا خېستل شي، د ټولنې څرخ پر ټپه درېږي، انساني ټولنه يون و خوځون له لاسه ورکوي او شيند پر شيند کېږي. بشري تمدن او فرهنګ له منځه ځي او وګړي يې د زرګونو زرګونو کلونو لرغوني ژوند و ژواک ته ورستنېږي.

تر پاسنيو څرګندونو وروسته ژبه داسې پېژندل کېږي:
ژبه د داسې تړوني غږيزو پيلامو)نښو ( يو غونډال)سېستم( دى چې د يوې ټولنې د وګړو ترمنځ د تړاو يا وبله پوهاوي )کمونيکېشن ( لپاره کارول کېږي. پيلامه دا مانا چې له ځانه پرته د يوه بل څيز استازي وکړي، د بېلګې په توګه)سور رنګ د خطر پيلامه ده ( چې له ځانه وراخوا ياني د))خطر (( ښکارندويي کوي. دلته سور رنګ ))ښووونديا دال (( ، خطر))ښوولى يا مدلول (( او د ښووند او ښوولي ترمنځ تړاو ))ښووندويي يا دلالت(( بلل کېږي؛ دغه دلالت له آره همغه ))مانا (( ده چې موږ يې له تړوني پلوه ځنې اخلو.

ژبنۍ پيلامې هغه غږونه دي چې انسان يې د خپلو ويندو غږيو او ساهوا په مټ رازېږوي او د چارچاپېرې بهرنۍ نړۍ څيزونو، پېښو او د چاپېريال او همدا راز زموږ دخپلې دننۍ ))ذهني (( نړۍ د پديدو )ولولو، نګېرنو، انګېرنو، جاجونو، غبرګونونو، اندونو، واندونو، هيلو، ارمانونو... ( د څرګنداوي لپاره پر کار اچوو.

موږ خپله ژبه په وړکينه کې هغه مهال چې د منني يا اخېستني جوګه يو، له خپل ټولنيزچاپېريال )کور، وړکتون... ( څخه زده کوو. په روږدي )عادي ( ډول يو کوشنى چې شپږکلنۍ ته رسي، له ژبني پلوه يو رسېدلى ))بالغ (( انسان بللاى شو. مانا دا چې تر دغه منګه يې د خپلې ژبې پر غږيز سېستم لاسبرى موندلى، د هغې آري او کارندي پښوييزي )ګرامري ( بېلګې يې زده کړې دي او په اسانه يې کاروي. له غتېدو سره يې د پښوييزو او غږيزو د بېلګو کارونګ ننوبېږي او چانول کېږي او پرله پسې نوي نوي چمونه او وييونه يې زده کوي او کاروي.

داچې وايو، ژبه د فرهنګ ارابه يا څرخ دى، مانايې دا ده چې د تېر په څېر زموږ ګردې انديزې او وانديزې )خيالي او فکري ( پنځونې، په بله وينا، علمي او هنري هستونې د همدغه اوزار په مټ رښتيا ينه موندلاى شي او بس. د هنري پنځونو په لړکې ادبي دا بيا تر بل هر راز هنره له ژبې سره، لکه نوک و اووري نه بېلېدونکى تړاو لري او هېڅ دا سوچ نه شي کېداى چې يوه ادبي هستونه دې له ژبې پرته شونتيا وموميې، ان که هغه هستونه د پانتونومۍ يا چوپ فيلم بڼه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولري. نو دا څه هېښنده )حيرانوونکې ( نه ده چې ادب ))ژبنی هنر (( بلل شوی دی. په داسې حال کې چې يې د ناپېيلې )نثري ( برخې له ګڼو څېلونو سره، پېيلې دا له جوليز او مانيز دواړو اړخو له پلوه هېڅ د پرتلې نه ده. په )و (ګړنۍ او بچه کې ښايي، دا تول له سره څه ناڅه برابره وي، خو په ليکنۍ او بيا ))کره (( دي کې له آره د پرتلې خبره ګړ سره ناشونې بريښي. کوم شعري څېلونه هم چې نن سبايې وينو، په لوی سرکې دوه دي: پېنبليز )قافيه وال ( او ناپېنبليز )ازاد (، او بيا پکې په ځانګړې توګه له دوو څېلو سره کار لرو: غزل او نوی ازاد شعر؛ غزل پر کلاسيک او نوي وېشنه مومي او ازاد هم پر توليز )موزون (، ناتوليز )سپين ( او ناپېيلی )منثور ( شعر. [اړوندو څېرکو ته دې مخه وشي]

او بيا که له ژبني ګوتپېره ورته وکتل شي، شعر د ژبې له يوې داسې کره، کېښکلې بڼې سره کار لري چې بل هېڅ ادبي ډول يې نه لري. د يوه کره ))هنري (( شعر په پنځونه او ارزونه کې کره او کېښکلې ژبه له دوه ګونو اړخو، په بله وينا، د دوو تيوريکو توليو )مقولو ( پلوه پامور بلل کېږي:
)١( ژب - ښکلاييز اړخ يا توليی او )٢( ژب - انديز اړخ يا توليی. زموږ کړنيزه د غږېدنګ او ليکنګ ژبه پر خپلوار د هغې ذهني او نه نګېرېدونکې )نامحسوسي ( ژبنۍ بڼې يو عيني او نګېرېدونکی ))انځور (( دی چې له وړکينې مو له اړوندو دويونو )قاعدو ( سره ذهن ته سپارلې او پرله پسې مو بشپړه او کره کړې او له اړتيا سره سم يې پر کار اچوو او بيا چې شعري بڼه ورکوو، د چا خبره يو انځور پر بل انځور اړوو، نو په دې توګه شعر له آره ))د انځور انځور (( دی، خو دا دويم يو امرلی، چاڼلی او نچوړلی انځور دی.

د پارسي شعر ستونځ )قله ( شاعر احمد شاملو )مړ، ۲۵ اګست ۲۰۰۰ ( شعر و ژبه سره همپېري بولي چې هم يې شاړ شډل )بدوي ( وګړي بولي او هم دوديال )متمدن (؛ د دې خبرې دا دليل رامخته کوي:
))... شعر موږ ته د ژوند حس رابښي او د هستۍ له ژورو سره مو اروا ته تړاو ورکوي. موږ تول په خپله دننه کې د بېته اړتيا لرو چې له يوې پرمختللې، ژورې او خبرې )اګاه ( اروا سره ژوند وکړو. د شعر جوهر ازمېښت دی. شاعر د هغو ازمېښتو له زېرمتونه چې وار له مخه يې ليدلي کتلي، نګېرلي او انګېرلي، يو غورچاڼ راخلي، هغه سره اخښلي راخښلي او په ژبه کې نوي ازمېښتونه راپنځوي....

په دې توګه مو شعر دوه کارکړنه )فعاليتونه ( مخې ته پردي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دا چې، کولای شي، د یوه لوښي اوزار دنده پرځای کړي او ازمېښتو ته مو ژورتیا راوښيي او هم پر یوه داسې رڼه ښیښه واوړي چې دغه ازمېښتونه پکې ننوب ) فلتر ( شي.'' )پاشائی: از زخم قلب..ص ۱۹ (

ستر شاملو د یوې ټاکلې او چاڼلې وییپانګې، یا د ده په خپله خبره ))شعري یا شاعرانه ژبه(( په کلکه ردوي او هغه هم د خپل بهای ازمېښت په لاسوندچې ډېر له پامه لویدلي او شاړ شېل وییونه یې په شعرکې رادود کړي او د تخیل په مټ یې، د چا خبره ))شاعرانه(( کړي دي، نو ځکه وایي:
))... هغه کسان چې وایي، شعر د یوې داسې ژبې ازمېښت دی چې )د شعر ژبه ( یا )شاعرانه ژبه ( بلل کېږي، تېروتي دي. دوی انګېري چې ګوندې شاعر د ښکلو او خوږ غږو وییونو پسې لټه کوي )خو زما په خیال ( هغه خیز چې شاعر یې په رښتیا سره په لټه کې دی، مانا لرونکي وییونه دي...، ژبه څو اړخیزوالی او زیاته رنګارنګي لري او شاعر باید په هغو ټولوکې چاڼ وکړي. هغه وییونه کېدای شي، لوی او ستروي یا واړه او کم ارزښته، خیالي یا رښتیني، زاړه یا نوي، علمي ادبي یاد لارې کوڅې او ورځدودي...((.
له چاڼه یې موخه دا نه ده چې هماغه غوره یا ټولمنلي ترې را واخلي، بلکې غوره او ناغوره هر راز چې وي، را وایې خلي او په ترڅ کې ورسره هماغه ناشاعرانه هم شاعرانه کاندي ! )همدا راز: ۴ - څېرکی، ژبه یا د شعر بهرنۍ جوله؛ ۱۱- څېرکی سر تر پایه (.

## ۲- تول )وتا ل (، وزن، بحر، مېټر **Metre** یا ریتم **Rhythm**

ریتم د ورته )مشابهو ( توکونو او ډېر اړخیزو نا ورته ځېلونو )وارینټونو ( یو له بله اړخ بدلون ته وایي. په ټولیز ډول )تول ( یوه داسې هنري قانونمندي ده چې په ټولو هنرونو کې له لږ و ډېر پیاوړیتوب سره له بېلابېلو لارو څخه رښتاینه مومي او راڅرګندېږي. تول د ځای او مهال یوه ټولځیزه )کمپلکسي ( هماهنګي ده، یا په بله وینا، د اوډون په توګه د ټاکلیو مهالي یوونونو )یونټونو ( دننه خو ځون او د مهالي بڼو پرله پسېوالی )توالي ( دی.

پخپله ژوند هماهنګ )موزون - ریتمیک ( سازمان موندلی، د ساري په توګه وایي: د ورځې هماهنګي، د موسم هماهنګي، د کال هماهنګي...، یا وایو: پوهان د ژوند د ریتم په څېړنه بوخت دي. ریتم د نورو هنرونو غوندې په ادب او بیا په ځانګړي ډول شعر کې یو رغنده بنسټیز او اغېزښنده توک دی چې دلته د ژبنۍ بڼې په وسیله رامنځته کېږي. )کاسپر- ووکل ۱۴۳(.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست)۲۷۲ ( د روسي ادبپوهني اصطلاحاتو قاموس په اخځ ليکي:
"ريتم، بحر، وزن دري واړه په يوه مانا دي، په بديعي وينا کې سيستماتيک متوازن او د وينا ټاکليو او سره ورتو واحدونو ځانګړي راغبرګېدني )تکرارېدني ( دي چې په بېلابېلو )تونيکو، سېلابيکو او سېلابوتونيکو ( شعري ډولونو کې سره توپير لري... ".

بنو وال)۱۱ مخ ( د زهرا خانلري په اخځ د شعر وزن داسې راپېژني:
شعر د ويپونو داسې يو غونډ دی چې له يو يا څو ګړنيو غړيزو يوونو )واحدونو ( څخه رامنځته کېږي او دغه هر يوه )واحد ( ته مقطع، هجا، سېلاب، يا څپه ويل کېږي.
نو د شعر وزن د ګړهار په غړونو کې يو اوډون يا پېيون )نظم ( دی او دا چې د ګړهار د غړونو له ځانګړتياوو څخه کومه يوه د دغه پېيون )نظم ( بنسټ ګرځي، د شعر تول )وزن ( بېلابېل ډولونه مومي. که د څپو مهالي اوږدوالی د وزن بنسټ جوړ کړي، دغه وزن کمي )څومره ييز ( بلل کېږي که څپې د غړونو د لوړتيا او سپکتيا، يا په بله وينا، د زبر و بم له مخې سره غاړه غړې شي، بيا کيفي )څرنګيز ( وزن رامنځته کېږي. په بل ډول کې يې تش د څپو شمېر د پېيون )نظم ( د پيدا ايښت آر )اصل ( ګرځي... ".
د نومهالي ژبپوهنې پياوړي ايرانی استاد دوکتور محمد رضا باطني وزن(rhythm ( تر هرڅه له مخه ) دخج، اهنګ، غاړې، ببلتون... تر څنګه ( د ژبې د يوه نازنځيري توکي په توګه راپېژني او د انګرېزي او پارسي هغه د پرتلې په تړاو ليکي:
))... په انګرېزی کې وزن د خج پر بنسټ ټيکاو لري ياني يو(stress-timed ( وزن دی، په داسې ترڅ کې چې پارسي وزن پر څپه باندې ټيکاو لري، ياني يو (syllable-timed ( وزن دی. په بله وينا ،کوم مهال چې په انګرېزی کې د يوې غونډلې د اداينې لپاره پر کار لوېږي، د خجونو په شمېر پورې اړه پيدا کوي، په داسې حال کې چې په پارسی کې دغه زماني کچه دهغې د څپو په شمېر پورې اړه لري، پايله دا چې د پارسي څپو وينګ، که خجنې وي يا ناخجنې، څه ناڅه يو اندازه وخت په کار لري. دغه ځانګړتيا پارسي ژبې ته داسې يو ډوله)يکنواخت ( وزن ورکوي چې د يوه موتور يا ماشين اواز ته ورته برېښي، هغه هم چې له يوه ټاکلي څرخ يا دور سره پرمخ ځي يا حرکت کوي. په سرچپه ډول ، انګرېزي ژبه له زماني پلوه د خجنو او نا خجنو څپو ترمنځ توپير راوړي. که په يوه ← غونډيا رکن(foot ( د وزن د کچ و مېچ د واحد په توګه، د ناخجنو څپو شمېر زيات وي، سره رانجتېږي چې د اداينې مهال يې د هغه ورپسې فوټ هومره وي چې ښايي څپې يې ترې کمې اوسي. د ساري په ډول د دغه وروسته درو انګرېزي غونډونو)عبارتونو ( د اداينې مهالپېر سره يو برابر دی، ځکه له دې سره سره چې لومړی غونډ يوه څپه لري، دويم دوې او درېيم هغه درې څپې، او د پېژند)تعريف ( له مخې هر فوټ يوازې يوه خجنه څپه درلوداى

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي:

mán, a mán , a milkman

دغه اکر بکر انگرېزۍ ته داسې نانډوله وزن ورکوي چې د مخابرې د مورس توريو اواز غوندې پر غوږو لگي او له دې کبله له پارسي وزن سره ستر توپير لري. له دې پلوه د دواړو ژبو په زده کړه کې ستونزې رامخته کېږي: هغه انگرېز چې پارسي زده کوي، ناخجنې څپې هم سره راکېښکارېږي او را لنډوي يې، پارسيوان بيا چې انگرېزي زده کوي، په سرچپه ډول، ناخجنې څپې يې غځوي او له دې سره د وينگ مهال تر اړتيا زيات اوږدوي)باطنی: زبان و تفکر چاپ هفتم، تهران۱۳۸۰ص۱۸۵-۱۸۶(

په دې توگه، همدغه ژبني وزن يا ريتم پارسي شعر هم تراغېز لاندې راوستی او د انگرېزي)اونورو اروپايي ژبو ( او پښتو پر خلاف، رکنونه او بيا درست سکښت او تقطيع يې د خجونو پرځای د څپو له مخې کېږي.

له دې کبله ريتم )تول، وزن(، د دوديز او کلاسيک ))قافيه وال(( شعر له څلور گونو بنسټيزو رغندو توکونو څخه د يوه توک په توگه د شعر شمزۍ او هډوانه )استخوانبندي( جوړوي او بې له دې څخه شعر، "شعر" کېدای نه شي. که يې څه هم نور درې توکه پوره پوره سمبال شوي هم وي.

رايم)قافيه( يې که څه هم کوم اړ )شرط( يا رغنده توک نه بلل کېږي، بلکې شته والی يې کله کله يو لړ رېتميکي تشې او نيمگړتياوې ډکوي، لکه د روسيې خواته يو تورکي ټبر ))ياکوتان(( چې تول زور پر قافيه اچوي او هغه هم د مسرې په منځ کې کاروي او په دې ډول يې مخکې وروسته وييونه په لوستنو او سندرو کې د هماغې قافيې تر سيوري لاندې راځي او د چا خبره نغري يې )د استاد رشاد له مرکې څخه(، که نه په ټوله مانا بشپړ سمبال ريتم )وزن( رايم )قافيې( ته هډو هېڅ اړتيا نه لري، خو دا چې له يوناني انتيک )لرغوني( پېره رانيولې، په ټولو اروپايي ژبو او بيا ختيزو ژبو کې يې تر ننه پورې ورسره اوږه پر اوږه ملتيا کړې او تر اسلام را وروسته يې زموږ اوسنيو )آرياني( ژبو ته لياره موندلې او لا موږ ورسره خپل نوښت )رديف( هم ملگری کړی دی، نو يو واريز غورځول يې بيا په ځانگړې ډول زموږ ځانساتو ختيځ ذهنو ته ناشوني او نامنوني پربوځي، په لويديځ کې قافيه )رديف خو هېڅ دود نه دی درلودلی( له پېړۍ دوو راهيسې،که يو مخيز زنې ورتړل شوې نه دي، خو لکه پخپله کلاسيک شعر،هغه رنگ و رونق ورپاتې نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تولیز ډول د نړۍ په ژبو کې له درو غورو وزني ډولونو سره مخامخېږو، یا په بله وینا درې غوره شعري ډولونه شته: )۱( څپیز ډول چې شعري )مسرې( یې د څپو د شمېر برابرۍ له مخې جوړېږي؛ )۲( تونیک یا خجیز ډول چې یوازې تون یا خج )د آهنګ په استازۍ( شعري تول رامنځته کوي او )۳( سېلابوتونیک یا څپیز- خجیز شعري ډول دی )د زیاتې څرګندتیا لپاره: )دوست ۲۸۵-۲۹۰ مخونه(.

تر دغه منځ توپیر دا دی، هغه ژبې چې ازاد خج لري، په بله وینا ، خج یې د هر ژبني توک په هره برخه کې راتلای شي، سېلابوتونیک شعر ورپورې اړه لري، لکه: پښتو ، روسي، انګلیسي، الماني او ځینې نورې ژبې او سېلابیک یا څپیز شعر په هغو ژبو اړه لري چې خج یې جوت )ثابت( دي، لکه فرانسي چې خج یې تل په پیل کې راځي یا پولنډي چې پایمېخ )ما قبل آخر( ته یې راځي )د پروفیسور الکساندر ګروینبرګ( د څرګندوني له مخې )کابل د ۱۹۸۸ د می شلمه(.

د پښتو له درې ګونو شعري ډولونو )ګړنیو ، لیکنیو او اوسنیو ازادو ( څخه یوازې لومړی هغه د سېلابوتونیک تول په کارونه کې لږو ډېره نانډولي لري. مګر په دغو نورو دواړو ډولونو کې یو راز دویمند )باقاعده( سیستم شته او هغه دا چې له هرو څلورو څپو څخه یوه خجنه راځي او هغه هم په دې ډول چې یا یې لومړۍ څپه خجنه وي، یا یې دویمه یا یې دریېمه او یا هم څلورمه. په دې توګه هر ګړنی )شفاهي(، دیواني )لیکنی( او )اوسنی( ازاد شعر له دغه راز څپیزو غونډونو )رکنونو( څخه رغېدنه مومي او له آره همدغه غونډونه د پښتو تولیز شعر، کوشنۍ ترینې توتې )مسرې( دي، خو د دود له مخې کوشنۍ ترینه دیواني مسره اوه څپیزه )یو غونډ او درې ناخجنې سرباري څپې چې بل رکن نه پوره کوي( ده او ګړنی شعر یو غونډیزه یا څلور څپیزه کوشنۍ ترینه مسره لري او د اوسني ازاد شعر کوشنۍ ترینه هم هغه یو غونډیزه راځي او په ځینو ځانګړیو اکرو )حالتو( کې تر درې څپیزې، دوه څپیزې او ان یو څپیزې پورې وره کېدای شي.

د خج دریځ )موقعیت( له مخې شعر څلور ډوله غونډونه یا کوشني واحدونه لري )دلته خجنه څپه په )´_( او ناخجنه څپه په )_( ښوول کېږي:
)۱( هغه غونډ چې له څلورګونو څپو څخه یې لومړۍ هغه خجنه وي، په دې ډول: ´---
)۲( هغه غونډ چې له څلورګونو څپو څخه یې دویمه خجنه وي، په دې ډول: -´--
)۳( هغه غونډ چې له څلورګونو څپو څخه یې دریېمه هغه خجنه وي، په دې ډول: --´-
)۴( هغه غونډ چې له څلورګونو څپو څخه یې څلورمه هغه خجنه وي، په دې ډول: ---´

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زيات ځر گنداوي لپاره د پاسنيو څلور گونو غونډونو )رکنونو ( پر بنسټ شعري بېلگې وړاندې کوو:

- پر لومړۍ خجنه څپه پيلېدونکی شعر ´- - -:

توره چې تېرېږي خو گوزار لره کنه
زلفې چې ولول شي خو گوزار لره کنه... )خوشال ( ،
شوم مستانه په يو نظر زما گوهر پرېوتو
خېمو کې شورشو چې خيالي علي اکبر پرېوتو )سردار علي ( ؛
غاړه غجۍ راشه چې ارمان دې وباسم نجلۍ
نه دې پېژنم نجلۍ )مولوي سردار ( ،
مستې نجلۍ لاړې شتاب کې
نېغه لاړې منگۍ به مات کې )محمد نور ( ؛

- پردويمه - ´- - -:
له تا نه چې جدا شم په ناکام پر ورځ و شپه
نه خوب نه مې خوراک وي نه ارام پر ورځ و شپه )هماغه ( ؛
غنم وو که اوربشې بوجۍ کړې خلکو تشې
مخلوق شو ناکرار عليزات کړی دا گفتار دی
بنده نن دې اختيار دی

- پر دريمه - - ´- -:
که زه نه وای تا به ځان لره بلل څوک
پر پالنگ به دې دا هسې در ختل څوک... )هماغه ( ؛
الهي د محبت سوز و گداز را
په دا اور کې د سهي سمندر ساز را... )حميد (
او همداسې نور ډېرى شاعران.

- پر څلورمه څپه - - - ´- :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ←لس څپيزې ماتې څلوريزې هره نيمکۍ مسره له سېمې پر څلورم خج پيلېږي، لکه د خوشال، حميد، قلندر او نورو. خوشال يې بيا تر دولس څپيزو ماتو څلوريزو او بيا غزلو او نورو شعري ځېلونو پورې د ورته خج ګڼې بېلګې لري:

وګړي واړه، کارونه خپل کا

مردان هغه دي، چې کار د بل کا...

-بلبل هرچاته، دا خبرونه کا

وخت د بهار شو، غوټۍ ګلونه کا...

-څوک چې ارام ګټي، د نېکو نام ګټي...؛

د حافظ نظام نه څپيزه دوېيزه )مثنوي( هم همداسې درواخله:

-وايي ويونکي د دې کيسې

چې تل يې ښکار وو د ښې هوسې

چې د عربو د ملک يو مرد وو

خجسته نام او په عقل فرد وو...)٥٩مخ(؛

د زينب هوتکي وېرنه هم ترپايه پر څلورمه څپه پيلېږي:

-ړغ سو چې ورور تېر له دنيا سونا

کندهار واړه پر ژړا سونا...؛

د سوات صاحب د يوه مريد له پينځيزو څخه:

-زه غازالدين ستا مدح خوان شوم

خود نو مشهور پر کل جهان شوم

چې له دنيا هر وخت روان شوم

هلته مې غواړه له رب قديره

د سوات صاحبه کامله پيره....

ترکلاسيک يې په اوسني، په تېره ازاد شعر کې بېلګې ډېرې ليدل کېږي او لنډۍ خو يومخ پر څلورم خج پيلېږي چې يوه بېلګه يې د کتاب پر دوتنه انځور شوې ده. ځيني نور )و- ( ګړنې شعرونه او بدلې، په تېره هغه سروکي چې د لنډۍ سرچپه بڼه لري، هم په همدې لړ کې راځي، لکه:

په انتظارکې د جانان ولاړه يمه

بارانه مه راځه مابنام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



[نورې بېلګې په اړوند ځپرکي کې]

د وزنونو شمېره

هماغسې چې د نورو ژبو شعرونه ریتمیکي )تولیزې( شونتیاوې، یا په عربي- پارسي نومونه )ترم، اصطلاح(، وزنونه یا بحرونه یوه ټاکلې شمېره لري، دغسې پښتو دا هم له خپل ځپېز- ځجیز رغښت سره سم یوه ټاکلې پوله بریدډرلوای شي. دا دی، مورږ هم د لومړي ځل لپاره د دې جوتونې هڅه کوو، چې پښتو له خپل یادشوي سېستم سره د څومره وزنونو ججوره لري او شمېره یې څو مره اټکلېدا ی شي، هغه هم په لاندې ډول:

څنګه چې د پښتو شعر مسره په دودیز ډول د څپېز څومره والي )هجایي کمیت( له مخې له پښځه ځپېزې تر شپاړس ځپیزې رسي او له دې سره ۱۲ وزنه لاسته راځي، نو که داشمېره له پورتنیو څلورو ځجیزو ډولونو سره **په** څلورو)۴( کې ضرب کړو، اته څلوېښت وزنه ترې جوړېږي. دغه شمېره بیا له ← مات یا لارغه)وقفه یي( شعر سره دوه برابره شپږنوي)۹۲( او له پایځجي قافیوال شعر سره پرې بله اته څلوېښت )۴۸( شمېره ور زیاتېږي، نو یوسل و څلور څلوېښت وزنو ته رسي او چې د ازاد شعر مسره یېزه رنګارنګي)له یوې ځپیزې تر دوپښځوس ځپیزې( ورسره په پام کې و نیسو، په نورو ټکو، ۵۲ له یو سلو څلورڅلوېښتو ۱۴۴سره جمع کړو، ټول= ۱۹۲ تولله)وزنه( لاسته راځي.

په هره توګه ښايي، د دې غورو او بنسټیزو وزنونو په ترځ ترځ کې یو شمېر څېرمه هغه هم و نومېرلای شو او شمېره یې د ډېرو ژبو تر هغې تېرې وکړي!

استاد مکنزي )۳۲۳( د غونډ یز )رکني( پیاوړي ځج )–□( ترځنګ د نورو درو رکني ځپو )ویې( کمزوری ځج(–□( هم کارېږي، لکه په دې لنډۍ کې:

پرلویو غرو د خدای نظر دی- پر سر یې واورې وروې چاپېر ګلونه

Pər lòyo γró|də xwdā□y nazár| day = Pər sàr ye wā´|wre òrawí|čāpèr gulú|na

په روسي شعر کې بیا دغه سېلابوتونیک سیستم چې په اتلسمه پېړۍ کې د تریدیا کوفسکي په سېلابیک شعر پسې را وروسته دود شوی دی، د پښتو هومره جوت )ثابت( دودونه لري، کله پر دوو ځپیزو غونډونو )ستوپو ( شننه مومي چې پر دویمه یا لومړۍ ځپه یې ځج راځي ـ لومړی ډول یا مب او دویم ډول خرې بولي او کله درې ځپیز غونډونه )ستوپې( را اخلي چې هغه هم کله پر لومړۍ ځپه ځجنېږي، کله پر دویمه او کله پر وروستۍ ځپه چې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې واړه وزنه هم بېلابېل )داکتیل، امپفي برخې او اناپیست( نومونه لري، لکه په دې لاندې بېلګو کې:

//////تردې وروسته دې څلور واړه مخه کلیشه شوي مخونه عکاسي او همدلته دې واچول شي//////

)د پوهنمل عبدالحکیم حلیم په مرسته(.

## فرانسي شعر

د فرانسي شعر د تونیکو سیلابیک سېستم په تړاو د نجیب منلي د لیکنې یو نچوړچې تېرکال یې له کابله رابرېښلیک کړی وو:

))په فرانسي ژبه کې خج د کلمې پر وروستي سېلاب راځي، خو که کلمه په داسې یو سېلاب پای ته ورسېږي چې واوېل یې «ګونګ E» وي، نو بیا خج له ووستي نه مخکې سیلاب باندې راځي.د فرانسي شعربنستیز توک مسره )vers = English Lin( ده چې د سېلابونو شمېر یې وزن ټاکي )شپږ سېلابي وزن، اته سېلابي وزن، لس سېلابي وزن او سېکندري(دویمي ) دولس سېلابي وزن یې تر ټولو مهم وزنونه دي(.د څو مسرو له یو ځای کېدو څخه بند )strophe( جوړېږي چې د بند اډانه د مسرو د وزن او قافیو له ترکیب سره تړلې ده. یو شعر له څو سره ورته، یا مخکې له مخکې تعین شوي ترکیب والا بندونو څخه جوړېږي: د بېلګې په توګه په «سونې SONNET ) کې څلور بنده وي چې لومړي دوه یې څلور څلور او وروستي دوه یې درې درې هموزنه مسرې لري او د قافیو اوډون یې داسې وي:

ABBA ABBA CCD EED یا ABBA ABBA CCD ED

په کلمه کې هر واوېل یو سېلاب جوړوي، خو که د یوې کلمې په پای کې ګونګ E راشي او ور پسې کلمه په کانسوننټ پیل شي دا سېلاب حسابېږي او که په واوېل پیل شي نو لومړی په دویم کې مدغم کېږي. د مسرې په پای کې ګونګ سېلاب هېڅکله نه حسابېږي. د دولس سېلابي سېکندري )دویمي ( وزن مسرې هرو مرو )په شپږم سېلاب پسې (، یا دوه )په څلورم او اتم سېلاب پسې ( وقفې لري. مخکېنې یاد شوي اصل ته په پام، د وقفې سېلاب که ګونګ وي، نو په ورپسې سېلاب کې په واوېل پیلېږي چې وزن خراب نه شي. ((

## د آریاني ژبو څپیز سېستم

په پخوانیو آریایي )ویدي او اوستایي(، زړې پارسي او را وروسته په پهلوي، پارتي او باختري )د ډېرلیکونو په لاسوند ( سېلابوتونیک یا لږ تر لږه یوازې سېلابیک او یا یوازې تونیک سیستم له ورایه برېښي. همداسې یې لږ و ډېر په نوې پارسۍ کې هم درواخله )وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنوال: ۱۱-۱۲او ۲۰-۲۲ مخونه(، دغه راز د رخت اسوريګ؛ دوست۲۹۱-۲۹۳ مخونه؛ د هيلموت هومباخ د سره کوتل او سيمز ويليمز د ناور او رباطک ډبرليکونه او د ماير هوفر د زړې لاسلکښنې متني بېلګې د پاملرنې وړ دي.

پوهاند رشاد هم، لکه په لومړي څپرکي کې يې چې يادونه وشوه، په ادبياتو پوهنځي کې د عروضو او قافيې او عمومي ادبي فنونو تر اوږد مهالي تدريس وروسته نور دې پايلې ته رسېدلی وو چې د خليل بن احمد عربي عروضي )مېتريک ( سيستم ان پر پارسي شعر هم تر اسلام را وروسته په وچ زور تپل شوی او منل شوی دی، که نه په اسلامي پېر کې يې هم ډېرې سېلابوتونيکې بېلګې ليدل شوې او وګړني )فولکلوريکي ( هغه خو يې لا څه کړې؛ اوسنی ازاد )← سپېد ( شعر خو يې ورځ پر ورځ خپل ګړندي ګامونه اخلي.

دا چې د ژبپوهانو )آريانپستانو ( په الواک عربي ابېڅې )الفبا ( سيستم د نوي پارسي پېر پيل جوړوي، دا رانښيي چې د واوبلې نښو )توريو ( نشتوالی پارسي شعر د عربي عروضو منني ته چمتو کړی دی. واولو ته علتيه توري ويل او کنسوننټ يې اصل شمېرل، ښايي له يوناني پېښو څخه يې سرچينه يا الهام اخيستی وي او له يوناني پېره رانيولې، تر اتلسمې او ان نولسمې پېړۍ پورې يې يوناني مېتريک )عروضي ( سيستم پر منځنيو او اوسنيو اروپايي ژبو تپل، ښايي له همدې ذهنيته رنګ اخيستی وي چې تر هغه مهاله اوازونو )فونيمونو ( ته توري ويل کېدل.

## پارسي شعر له څپيز تر عروضي سېستم

پارسي شعر هم د وزن له پلوه، له آره څپيز- خجيز يا لړترلړه څپيز رغښت درلودلی دی. نه يوازې تر اسلامي- عربي پېر له مخه، بلکې راوروسته، له نوي پېر )اتمې پېړۍ(او بيا يوولسمې پېړۍ راوروسته چې د عربي ترځنګه يې د دويمې اسلامي ژبې په توګه سر راپورته کړای شو، له يو لړ ښېدوييو )استثناوو ( سره د عربي متريک سېستم راخپلولو ته اړېستل شوه او ورو ورو يې وګړني شعر ته هم سرايت وکړ، او هغه هم په دې چې غږپوهي يې ورسره څه ناڅه اړخ لګولای شو. خو بيا يې هم ورسره په ټوله کې پوره اړخ نه دی لګولی. د ساري په ډول که واوبلېزم، لکه خوځندي يا حرکات )زور، زېر، پېښ ( چې لنډه )ي( او اوږده )ې( ورسره هم زياتره غاړه کوي، يومخيز په پام کې ونيول شي، په بله وينا ، له درو حرفي سېمبولونو))و-ا-ی( ( سره يوځای په تقطيع کې راوړل شي، هرو مرو يې استثنأ تر قاعدې تېرې کوي او څپيز تول و تال ته بيرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورگرځي. قربانعلي همزی)پامير20-3-1367 ( د خليل بن احمد د عروضو تر پيدا ېښت له مخه د پارسي شعر مخينې ته گوته نيسي او ليکي:

))شعر فارسی- دری نيز همين مراحل را پيموده است يعنی از همانسرود آتشکدۀ کرکوی )فرخنده پاذاروش- خنيده گرچاسپ هوش( و از همان زمزمۀ کودک يعقوب )غلطان غلطان همېرود تا لبِ گور( و بالاخره از همان ترنم آغازين حنظلۀ باغيسی تا سپيده دم پيدايي شناسنامۀ عروضی خليل بن احمد هزاران فراز و نشيب انکشافی را پيموده است ولی باز هم ايستايی نپذيرفت با بيدارشدن انقلاب ))نيمايي ((، بی آنکه زوال پذيرد، باز گام تازه تری به ميدان رشد گذاشت... ((.

دلته غواړو لومړی د يوه پهلوي)هجايي ( شعر بېلگه وړاندې کړو:
پهلوي)منځنۍ پارسي ( شعر نوې پارسي ژباړه
فرخته باد روش        درخشنده باد روشنی
_ _   /_ _//        ـَ
خنيده گرشاسب هوش مشهور باد روح گرشاسپ
_ _   /_ _//        ـَ
همی پرست ارجوش   همواره پر جوش است
_ _   /_ _//        ـَ
می نوش... می نوش   می بنوش می بنوش
_ _   /_ _//        ـَ
دوست بدا گوش        دوست در آغوش باشد
_ _   /_ _//        ـَ
بافرين نهاده گوش        شکو همندانه بشنو
_ _   /_ _//        ـَ
هميشه نيکی کوش        هميشه نيکی کن
_ _   /_ _//        ـَ
دی گذشت و دوش        ديروز و ديشب گذشت
_ _   /_ _//        ـَ
شاهانه خا ايگانه !        ای شاها صاحب يگانه !
_ _   /_ _//        ـَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



باٖفرين شاهی !　　　　شاه پرشکه وهی !

ـ ـ /ـ ـ//

)د پوهاند قويم له يادښتو څخه، د ژبو او ادبياتو پوهنځي، د کرکوي اورتون له سرود څخه **۲۵**-**۳**-**۲۷**ل (.

يوه وګړنی )فولکلوريکه ( بېلګه چې لومړی يې د څپو او فشار )تون ( له مخې تقطيع کوو او بيا يې د عروضو له مخې )د پوهنوال ښيو وال په مرسته، د ژبو او ادبياتو پوهنځی **۲۲**-**۳**-**۲۷** (:

پيراهن زردوز

ـ ـ ـ/ـ　//　　　　پوشيده‌يی امروز

در ميله‌ی نوروز

ـ ـ ـ/ـ　//　　　　بر قامت‌موزون‌و رسايت‌مزه ميته

پيراهن زرد دوز　　　　پوشيده يی امروز

مستفعلن مفعول　　　　مستفعلن مفعول

در ميله‌ی نوروز　　　　بر قامت موزون و رسايت مزه ميته

مستفعلن مفعول　　　　مستفعلن مفعولن مفعولن مفاعلن

په هره توګه کله چې پارسي سندرو ته غوږ ونيسو، د ويينو څجونه پکې پر خپل اکر نه پاتې کېږي، لکه واخلې په دغه پاسنۍ بېلګه کې، ان په کره ادبي شعروغزل، لکه د لاهوتي په هغه کې چې احمد ظاهر يې را اوروي، ورته څرک نګېرل کېږي، د ساري په توګه د))زند ګی(( او ))بندګي(( پاي

څجونه پر پيل څجونو بدلون مومي، او له دي سره ))کلّ شئ يرجعُ الی اصليه(( را پر زړه کوي !

بله بېلګه يوه دوه بيتي ده چې له متني پلوه د زياترو دوه بيتيو غوندې )هزج مسدس مخذوف( وزن لري او له سندريز پلوه ))څپيز- څجيز((، په دي ډول يې لومړی د سپلابوتونيک وزن له مخې تقطيع کوو چې د ځينو پښتو شعرونو غوندې يې هر رکن پر لومړی څجنه څپه پيلېږي:

از بالا باران امد

ـ ـ ـ/ـ ـ//

يارم به دالان امد

ـ ـ ـ/ـ ـ//

يک بوسه طلب کردم

ـ ـ ـ/ـ ـ//

چشمش به ګريان امد

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ _ _/ _ _//

عروضي رکنونه: مفاعلين، مفاعلين، فعولن

که د دو بيتی د وروستی رکن )فعولن ( پر ځای )مفاعل ( راشي، نو هزج مسدس مقصور بحر يې بولي. دلته توپير دا دی چې په سېلابوتونيک سکښت )تقطيع ( کې لنډه څپه د لنډې څپې او اوږدې دواړو په وړاندې راتلای شي، مګر په عروضي تقطيع کې لنډه د لنډې او اوږده د اوږدې څپې پر وړاندې راځي. عروضي )مېتريک ( شعر دا مانا چې مخکې له مخکې پر ټاکليو بحرونو او رکنونو )افاعيلو ( باندې وويل شي او بله دا چې په عروضي هغه کې د وييونو خج )د کلمو فشار ( منطقي وي، په بله وينا ، له ژبني )فونېتيکي ( دريځ سره سم په عادي ډول پر خپل خپل ځای راځي.

مګر د ځينو ژبو په سېلابوتونيک شعري سېستم کې دغسې منطقي او طبيعي نه راځي، بلکې د سندريز کمپوز له مخې په دواړو حالاتو کې خپل آر دريځ له لاسه ورکوي، لکه د پارسی په پورتنيو دوه ګونو بېلګو کې. پښتو شعر بيا ، که څه هم د عربي يا يوناني هغه پر خلاف د نورو ډېرو خپلوانو )هندواروپايي ( ژبو غونډې څپيز- خجيز )سېلابوتونيک ( دی، خو د ګرامري غونډلې په څېر يې په شعري غونډله کې وييخجونه ديوازېني )ټوليز ( زورور خج تر سيوري لاندې کمزوري راځي او اهنګ يې هم ورسره په ورته ډول درې ګوني )لوړ، ټيټ او هوار ( دريځونه راخپلوي او پوازې موزيکال هغه يې هرګوره، د ګرامري غونډلې له هغه سره توپير پيداکوي. )همدارنګه: دوست ۲۸۹ مخ(.

دغه راز هر عروضي پارسي شعر دواړه ډوله تقطيع کېدای شي، د ساري په توګه، د ابو القاسم لاهوتي يو شعر )زندګی آخر سر آيد بندګی در کار نيست( چې عروضي بحر يا وزن يې رمل مثمن مقصور )فاعلاتن فاعلاتن فاعلات ( دی، د احمد ظاهر د سندريز تول و تال له مخې يې په سېلابوتونيک سکښت)تقطيع ( سره کټ مټ، لکه د پښتو شعر غونډې هره څلورمه څپه خجنه راځي.

نه بد لېدونکی پښتو سېستم

لکه څنګه چې په سريزه او دويم څېرکي کې پرې ټينګار وشو، په پښتو کې فونېتيکس او پويتېکس )غږ پوهه او شعر پوهه( سره ډېر نژدې او نه شلېدونکي اړيکي لري، دا مانا چې څپيز- خجيز جوړښت يې د شعر تول )وزن(، يا په لنډه وينا ، د شعر رغوني لپاره ټاکنده بنسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوي. ېږواکغونډونه )کلسترونه( او له دې سره اوږدې اوږدې څپې يو ځوا او فونيميکي )ژبني( ارزښت لرونکي څجونه بلځوا ، او هغه هم ناجوت يا ازاد څجونه ددې تو سن شوي دي چې پښتو شعر دې سېلابوتونيک اوسي. )دوست ۲۸۷ مخ( او د عربي يا پارسي غوندې پرې د نورو او بيا ناخپلوانو ژبو شعري دويونه )قواعد( او په ځانګړې ډول عروض يا مېتروم تپل يو بې سر و بوله کار وبلل شي.

پايلنيوی
لکه څنګه چې پښتو ځانته جلا ژبنی جوړښت لري او ګرامري او نور رغاوني )ساختاري( دويونه )قواعد( يې له همدې خپلې ځانګړې رغاوني څخه رااېستل کېږي، نو دغه راز يې شعري رغښت هم ځانته جلا او خپلواک دی او د بلې ژبې دويونه ورسره سمون خوړلای نه شي. له دې کبله ريتم )تول يا وزن( د پښپليز )قافيه وال( شعر له څلورګونو بنسټيزو رغنده ټوکونو څخه د يوه ټوک په توګه شمزۍ ور جوړوي. که څه هم نور درې ټوکه )اجزاء( يا توکه يې پوره پوره سمبال شوي هم وي. هر ګوره په دې لړ کې رايم )قافيه( کوم آړ )شرط( نه بلل کېږي، بلکې شتون يې کله کله يو لوړ ريتميکي )وزني( تشې او نيمګړتياوې ډکوي، که نه په ټوله مانا بشپړ سمبال ريتم )تول(، رايم )قافيې( ته هډو هېڅ اړتيا نه لري، خو دا چې په ځينو ژبو ، لکه زموږ دوی کې يې تر اسلام را وروسته پېړۍ پېړۍ دود او کاربدنه موندلې او سترګې او غوږونه ورسره ډېر روږدي شوي دي، نو غورځول يې ورته يو نادوده او کورټ ناشونی ښکاري.

پايله دا چې پښتو شعر عروضي )مېتريک( نه دی او ځانته جلا يوه خپلواک سېلابوتونيک رغښت لري، خو لکه څنګه چې په ړومبي څپرکي کې يادونه وشوه، نه د بهرنيو پښتو پوهانو )مورګنستيرن، مکنزي، دووريانکوف... ( ليکنو او نه زموږ د ليکوالو )دراني، منلي... ( او څرګندونو دومره هر اړخيزه او پرله غښتې )سېستماتيکه( بڼه درلودلې، څکه په ټوله مانايي دغه ځانګړې سېلابوتونيک دويونه )قواعد( را اېستلي، او بيا ډلبندي کړي او تطبيق کړي نه دي.

په دې توګه زموږ دغه کتاب او په تېره دا دويمه کره کړې او غځولې بڼه يا اېډېشن تر وسې وسې دا راز ډېرې پوښتنې او غوښتنې ځواب کړې دي چې
په راتلونکيو څپرکيو کې د پښتو ژبې او شعرو ادب مينه والو مخې ته اېښوول کېږي.

۳- واند يا خيا ل )تخيل( (Imagination)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ژبې او اهنگ )وزن( وروسته د شعر د درېيم رغنده توک واند يا خيال راځي. دلته له عربي خيال څخه موخه فعلي يا مصدري بڼه ))تخيُّل(( دی او ترڅنګه يې په لړو ډېر مانيز توپير )تخييل( هم کارول کېږي. د شعر د دغه آر و رښتيني، په بله وينا ، بنسټيز، )ان يوازېني( هنري رغنده توک تر نامه لاندې هغه ټول هنري يا بديعي )ښکلاييز( اړخونه "ايماژونه، په بله وينا ، عيني او ذهني انځورونه، لکه تشبيه، استعاره، حسن تعليل، بداعت، کنايه، ايهام، اسطوره، جناس، طباق، تلازم، تخيل، تمثيل، ښنده )مبالغه(... او همدارنګه اسطورې او سېمبولونه راځلي. نن سبا د ژبنې اړخ پر وړاندې چې د شعر بهرنۍ جوله )شکل( جوړوي، دغه څيزونه د شعر )دننۍ( جوله بشپړوي، نو که دغه دننۍ جوله نه وي، بيا ورته شعر نه، بلکې هسې پېيلې وينا )نظم( وايي.

شعر د هنر د خورا لوړ ډول په توګه واقعيت په هنري انځورونو يا خيالي ايماژونو څرګندوي، تر دې چې تر بل هر ژبنې هنر، يا په بله وينا ادبي ژانر له هنري انځورونو سره ډېر سر و کار لري. که موږ د بديعي )ادبي( اثر وييونه او توکونه له مرغلرو سره ورته وښيو، نو وبه وايو چې نثر د دغو مرغلرو د يوه صندوق مثال لري چې د هرې مرغلرې لپاره يې ځانګړی ځای ټاکل اړين نه دی، خو شعر داسې مرغلين هار ته ورته دی چې ټولې مرغلرې يې په داسې مزي کې پېيل شوې چې د هرې دانې لپاره خپل انډول او تناسب ټاکل شوی دی، په دې توګه د شعر ژبه د نثر د ژبې په انډول ځانګړې ښکلا لري... )دوست ۲۷۵ مخ(.

انځور، تصوير، هغه څيز دی چې يوه انديزه او ولوليزه )فکري او عاطفي( غوټه په يوه زماني شېبه کې راښکاره کوي. انځور په يوه ټاکلې نقطه کې سره د دوو بېلابېلو نړيو د دوو څيزونو کړۍ کول دي. دغه دوه يا ډېر څيزونه سره کېدای شي، عاطفي او يا فکري ظرفيتونه ولري او هم د دود له مخې په داسې بېلابېلو مهالونو او ځايونو اړه ولري چې د انځور په وسيله سره پر يوه ځای راټولېږي. د انځور جوړونې ځواک د تخيل د ځواک غورترينه برخه ده. د تخيل ځواک، په بله وينا ، بشپړ شور و هيجان چې د دې لپاره پر کار اچول کېږي، بېلابېل احساسات، څيزونه او ازمېښتونه چې په بېلابېلو مهالونو او ځايونو پورې اړه ولري، په يوه ځانګړې شېبه کې سره غاړه غړۍ کړي او يا ورته يو له بله سمون ورکړي او په يوه ناپايه زماني شېبه او يوه لنډ تنګ چاپېريال )مکان( کې يوه پراخه ورشو څرګنده کاندې.

د تخيُّل ځواک، تش يو له منځۍ )مرکز( څخه سرکښه تېښته او پاشوونکی ځواک نه دی، بلکې د بېلابېلو اکرونو او له طبيعته د انسان د ادراک راز راز جاج اخيستنو د غاړه غړۍ کولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځواک دی. تخيل له حافظې څخه سېده تومنه او توښه اخلي. کله د حافظې زماني پرله پسېوالی)تداوم( خوندي ساتي او کله د حافظې هر څه سره يو له بله پاشي او هغه هم د دې لپاره چې د حافظې ځيني برخې وساتي او د انځورونو په وسيله يې سره خوا پر خوا کېږدي او يوه فکري او عاطفي کړۍ رامنځته کړي. له دې کبله د انځور جوړونې ځواک تر يوې کچې پورې هماغه د تخيل ځواک دی.. رضا براهني، ۷۵-۷۷ مخونه.

روهي واند )خيال( د شعريت د يوه اړين رغنده توک په توګه داسې رامخته کوي:
د شعر تر ټولو اساسي او مهم توک تخيل دی. ځيني ادبپوهان د "تخيل" پر ځای د "تخييل" کلمه غوره ګڼي، خو څرنګه چې د "تخيل" کلمه عموميت لري، نو دلته له همدغه متداول لفظ څخه کار اخلو )خواجه نصير طوسي ( په )عيار الاشعار ( کې ويلي دي چې د شعر غرض تخيل دی.

اما تخيل څه شی ته ويل کېږي؟ د تخيل اصطلاح ډېره اوږده تاريخچه لري. د لرغوني يونان له زمانې نه تر اوسه پورې په دې باره کې ډېر بحثونه شوي دي او ډېر ځله د هغه مفهوم له Fancy او Fantasy سره ګډ شوي دي. دلته به په لنډه توګه لومړی تخيل شرح او بيا وروسته تعريف کړو. د ارواپوهانو په عقيده شيان او پديدې د حواسو له لارې پر اورګانيزم باندې اغېزه کوي چې په لومړۍ مرحله کې احساس کېږي او بيا د ادراک پړاو ته رسېږي )پېژندل کېږي(. د ادراک له لارې انسان يو شی پېژني. کله چې هماغه شی غايب وي، احساس او ادراک هم محوه کېږي، خو د هغه شي اثر په ذهن کې يو تصوير )ايماژ( پرېږدي. ذهني تصويرونه چې هغه ته تداعي يادونه ويل کېږي او کله په بدله څېره کې تجلي کوي چې په دې صورت کې تخيل بلل کېږي. شاعرانه تخيل د ځينو په نظر شهود او الهام ته ورته دی او د ځينو نورو په عقيده په هغه کې يوه شعوري هڅه هم شامله ده.

د فلسفي قاموس )د مسکو چاپ، نولس سوه اوه شپېتم کال( تخيل داسې تعريفوي: "تخيل هغه استعداد يا قابليت دی چې له واقعيت نه د لاسته راغليو انطباعاتو پر اساس يې په بشري شعور کې هغه نوي حسي يا فکري ايماژونه )انځورونه( تخليق کړي چې په ټاکلې شببه کې واقعي موجوديت نه لري.

تخيل نه يوازې په هنر کې، بلکې په ساينس کې هم اهميت لري، ځکه د تخيل په واسطه فرضيې، ماډل مفهومونه او د تجربو لپاره مفکورې منځته راځي". اما په تخليقي فنونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخیل یو اساسي عنصر دی. تخیل په شعر کې د تشبیهاتو، استعارو، ځېرو او اسطورو په بڼه تبارز کوي، دلته له اسطورې څخه مقصد د راتلونکي وخت ایډیالي تجسیم دی. ځېره )پورتریت( د موجودو شیانو او پدیدو عیني تصویر دی چې د انسان په واک یا قلمرو کې وي، خو اسطوره یو ایډیالي یا ارماني تصویر دی چې په موجوده وخت کې د انسان له واک څخه وتلی وي. تخیل د ترکیب له لارې مختلف او نامتجانس شیان سره پیوندوي یا ګډوي..((.

شاملو )۲۲مخ( خیال د انځور په جاج داسې راپېژني:
"... خیال یا ایماژ )image( د حسي تجربې ذهني جوله یا رواني اغیزه ده چې د هغه حس د ټومب یا لمسون )تحریک( په ناسوبتیاکې راژوندی کېږي. له دې کبله خیال، د زړه او روان په سترګو د یوه څیز کتل دي. په هنري ډګر، په تېره شعر کې یوه داسې جوله خیال بولو چې شاعر په ))مجازي ژبه((، په بله وینا، ))شعري ژبه(( کې ،داسې انګېرنې )خیالات( راپنځوي چې د څیزونو او انګېرنو )تصوراتو( غوندې ژوندي او ساکښن دي. او همدا خبره ده چې له ډېر پخوا راهیسې خیال د جولو )صورتونو( او بڼو )شکلونو( زېرموال )خزانه دار( بلل شوی دی... .((
وړاندې لیکي:
))د خیال جولې )صور، صورتونه( د شاعر لپاره په دې یوه ارزښتمنه سرچینه ده چې کولای شي، د ژوندیو ازمېښتونو )تجربو( د راجوتونې لپاره اغېزمنه پربوځي، او پرکار اچونې سره یې یوه ولوله )عاطفه( او یو اند ولېږدوي او همداراز د دې لامل کېږي چې یو لړ نوي رواني ولولې رامیدان ته شي.((

## ۴- نګېر یا ولوله )احساس یا عاطفه(

روهي د نوموړي فلسفي قاموس پر اخځ احساس یا عاطفه د شعر د یوه بل اړین رغنده توک په توګه تر څېړنې لاندې نیسي:
...په شعر کې احساس یا عاطفه ضروري شرط دی. که شاعر درد، ارزو، اندېښنه، قهر او تاثر ونه لري، نو لوستونکی یا اورېدونکی له داسې شعر څخه خوند نه شي اخیستلای.
)لیف تولستوی( پخپل اثر )هنر څه شی دی؟( کې په دې ټکي ټینګار کوي چې د شعر اصلي وظیفه دا ده چې مقابل لوري ته احساس ور نقل کړي.
)ساوستیانوف( لیکي چې: "په هنر کې قضاوت مفکوره او حقیقت په عاطفي بڼه تبارز وي" او "د هنر وظیفه یوازې معرفتي نه ده، بلکې هغه د انسان پر وړاندې مسالې طرح کوي، ژوند ته خوند وربښي او د نړۍ په ارتباط د ده عاطفي برخورد پیاوړی کوي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



)موري ( وايي: "ستر شاعر د ژوند په باره کې د نتايجو د لاسته راوړلو لپاره هڅه نه کوي، بلکې په هغه کې يو کيفيت تشخيصوي. د ده عواطف چې په يوه بل کې يې تداخل کړی دی، ورو ورو په ده کې يو عادت رامنځته کوي. ځينې شيان او پيسې پر ده باندې له نورو زياته اغېزه کوي... زما په پوهه دا د شاعر د تجربې اسلوب عاطفي بنسټ دی".

د ايران ډېر مشهور شاعر او ادب پېژندونکی )نادر نادرپور ( وايي: "من به آن چيزی شعر می گويم که در من انفعالی عاطفی ايجاد کند، احساس و انديشه مرا بر انگيزد و مرا دستخوش نوعی هيجان سازد".
شعر، که ښکلی وي يا هيجان پاروونکی يا تصوير درلودونکی، په هر صورت له احساساتو او عواطفو سره اړه لري) د انځور او بېلابېلو ژب -ښکلاييزو ډولونو په تړاو په دې پسې )شپږم ( څپرکي اړوندې څرگندونې هم پامورې دي (

**۵** - اند )فکر، مفکوره ( Thought, Idea
د اند)انديشه( تر ويي لاندې ټول هغه څه راځي چې د منځپانگې )مختوا (، مضمون، بلنې يا غوښتنې )اپيل( او پيغام په نومونو يادېږي، ياني، هغه څه چې شاعر ويلو او څرگندولو ته ور هڅوي. له دې کبله دغې )انديزي( برخې ته )فکري محتوا ( هم وايي. منځپانگه د يوه څيز د ټولو ننيو توکونو )داخلي عناصرو (، ځانگړتياوو او بهيرونو )پروسو ( غونډ يا ټول ته وايي. پر وړاندې يې جوله )شکل( ټيکاو لري چې پاس ياد شوي توکونه ژبه، وزن او خيال )بديعي اړخ( را اخلي د منځپانگې او جولې تر منځ يو ديالکتيکي تړاو شتون لري. جوله د يوه څيز جوړښت او يا په يو څه نوي مانا هغه بهرنۍ بڼه رااخلي چې په هغه کې د يوه عيني واقعيت د څيزونو، پديدو او پروسو ليد وړ برسېرنې ځانگړتياوې راځي. د جولې جاج )مفهوم( يوازې د څيزونو بهرنۍ، په بله وينا، هندسي اډانه نه ده، بلکې تر هر څه له مخه هغه سازمان دی چې د هغه د ننني بهير د خپلمنځي اغېز يو ټاکلی ډول له بهرنيو آړونو )شرايطو ( سره يو له بله تضمينوي. جوله د منځپانگې بڼه )مقابله( نه ده او نه شي کولای له هرې غوښتنې )مطلوبې ( منځپانگې سره ترسره کېدنه ومومي، بلکې په رغښتې )ماهيتې( توگه منځپانگه جوله ټاکي )کوشنی سياسي قاموس ۳۷۱(. له )عاطفي( څخه موخه بيا هم همدغه بديعي يا خيالي او انځوريز اړخ دی چې څنگه يو شعر د ولولو او عواطفو د لېږدونې او پارونې جوگه گرځي.

له دې کبله وايو:
شعر د طبيعت په چاپېريال کې د انسان لپاره د ذهني حالت زېږنده ده. په دې مانا چې شاعر له يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې حالت سره مخامخېږي چې د هغه په پای کې د خپل چاپېریال له څیزونو او انسانانو سره یو ډول ذهني تړاو پیدا کوي او دغه اړیکي پخپل وار یو راز رواني تړاو دی چې څیزونه پکې په بشپړ )مطلق( ډول خپله فزیکي او مادي بڼه له لاسه ورکوي او د شاعر د احساس او اند یوه برخه په پور اخلي. شاعر په دغه اکر کې د څیزونو د افسون تر اغېزې لاندې راځي او دغه د هستۍ راز د منطق او ریاضي او علمي حسابونو له لارې چې آرونه یې د شعر له ټولۍ )مقولې( څخه بېخي جلا دي، نه، بلکې د خپل لید ، اند او نګېرنې )احساس( په وسیله رابرسېره کېږي. شاعر د شعر جوړونې په شېبه کې داسې اکر غوره کوي چې د طبیعت ځینې څیزونه په همغه شېبه کې مني، خو ځینې نور یې په سملاسي )موقتي( توګه له خپله ذهنه باسي او )ځان( یو داسې سجده کوونکی ویني چې خپل پیوندونه له ټولو شیانو او انسانانو سره شلوي. خپله څېره پر خاورو منبي او هغه غیبي غږ ته غوږ نیسي چې له خاورو څخه را پورته کېږي او د رواني درد درمل ګرځي )رضا براهني، طلا در مس، ۳-۴ مخونه(.

روهي )کابل مجله، ۸-۹ ګڼه، ۱۳۲۲(، په دې تړاو چې اند)فکر، مفکوره( د شعر له ))پېنځګونو(( رغنده توکونو څخه ګڼل کېږي، یانه، د یوشمېر پوهانو د لید توګو په ترڅ کې رڼا اچوي:
))په هر شعر کې باید یوه مفکوره نغښتې وي، که د )باید( کلمه حذف کړو، نو داسې به وو ایو چې هر شعر له ځانه سره یوه مفکوره لري. )کار لایل( وایي چې شعر موزیکال فکر دی، خو ځینې ادبپوهان مفکوره د شعر اصلي توک نه ګڼي. دا خبره )بېدل( ته منسوبه ده چې وایي:
)شعر خوب معنی ندارد(.

نامتو فرانسي لیکوال او فیلسوف )ژان پل سارتر( هم په دې باره کې ځینې خبرې لري، هغه شعر له ادبیاتو څخه جلا کوي. د ده پر اند ،شعر د موسیقۍ، نقاشۍ او پلاستیک هنر په شان پخپله غایت دی. په داسې حال کې چې ادبیات له ځان سره یو پیغام او رسالت لري هماغسې چې د موسیقۍ اوازونه کومه خاصه مانا نه ښندي، شاعرانه الفاظ هم بې له دې چې پر خپل مدلول )نښانه( دلالت وکړي، د موسیقۍ د نوټ په شان لفظي تصویر جوړوي. دغه تصویر د نقاشي تابلو، یا مجسمې او یا پرتمینې ماڼۍ ته ورته دی چې فقط ښکلا منعکسوي، نه ضرورت او اړتیا... .)د ښکلې په توګه( دا شعر منطقي تحلیل ته ضرورت نه لري، ځکه چې )تحلیل( شعر بېخونده کوي:

د آفتاب په کمند نه خېژم اسمان ته
نه ړدم بار لکه شبنم په دوش د ګلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



)شیدا (

)اسماعیل نوري )علاء ( د (H.Coombes) خبره رانقلوي:
"ظریف ترین و برجسته ترین افکار فیلسوفان، روانشناسان و مردم شناسان و نظایر آنها ، صرفاً با ورود به شعر، شاعرانه نمی شوند. کسی که شاعرانه فکر میکند ، خود شاعر است".
وایي چې نامتو ادیب )اډین ( ته یوه ځوان مراجعه وکړه او ورته ویې ویل: "زه غواړم چې شعر ووایم، لطفاً ماته لاربنوونه وکړه". )اډین ( ورځخه وپوښتل: "آیا د شعر ویلو لپاره کومه مهمه مفکوره له ځانه سره لرې؟". هغه په ځواب کې ورته وویل: "هو ، غواړم یوه مهمه مفکوره پر نظم راوړم". )اډین ( ورته وویل: "ځه بچیه، له تا ښخه شاعر نه جوړېږي".

روهي په داسې ترځ کې چې د سارتر نتیه )انکار ( نه، بلکې یوازې د اډین خبره یوه ښنده گڼي، خو بیا هم زیاتوي:
... دا د هغو ځوانو شاعرانو لپاره درس دی چې فکر کوي، ښه شعر یوازې هغه شعر دی چې مهمه مفکوره پکې نغښتل شوې وي او یا شعار پکې راغلی وي.
کله کله د یوه شعر ښکلا د یوې کلمې په استعمال پورې اړه لري. لکه په لاندې بیت کې د )عکس ( کلمه د دویم ځل لپاره:
ما برفتیم و عکس ما باقی است
گـــردش روزگار بر عکس است

وگورئ د )الفت ( د لاندې شعر په وروستۍ مصرع کې د )گرد ( کلمې شعر خومره خوندور کړی دی:
له کوم لوري را روان یو جهان گرد وو
مخ او څټ باندې یې پروت د لارې گرد وو
ما ویل څه دي ولیدل په دې جهان کې
ویلې دومره شومه یوه چې جهان گرد وو
په دې شعر کې، نه د جهان د گردوالي )د ځمکې کرویت ( مفکوره او نه له دوړو او گردونو ښخه د جهان د ډکوالي مفکوره د لوستونکي ذوق او پاملرنه را پاڅوي، بلکې په هنري توگه د مطلب افاده د خوند التذاذ منبع گرځي.

{روهي په وروستي ))گرد (( ددې خلوریزې))شعریت (( رازبادوي،هغه هم په غبرگ مانیزوالي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له دې چې له دوو پاسنیو قافیو سره یې د وینګ توپیر ته ځیرشي. د همجولیزې قافیې کلمې په توګه باید د ګ په زور )فتحه( وویل شي، که نه،له نورو دواړو سره اړخ نه شي لګولای. دا به ومنو چې استاد الفت به په ))زورکي(( وینګ سره ځانته د تېښتې لار انګېرلې وي چې لږو ډېر له ))زور(( سره نژدېوالی لري او نورو شاعرانو هم د ادواړه واوېلونه )حرکتونه( سره غاړه کړې دي، خو بیا هم غبرګ مانیزوالی دومره هنري توک نه بلل کېږي، نو پایله دا شوه چې د نورو ډېرو شعرونو غوندې د استاد الفت دا څلوریزه هم له یوځه ))تمثیل(( پرته نور یوازې او یوازې فکري - فلسفي رنګ لري، یا د روهي په خپله نومونه ))یوه مفکوره(( رانغاړي او بس. که د روهي د اټکل پرخلاف د شاعر موخه ))ګرد(( نه، بلکې هماغه همجولیز پښېلویی ))ګرد(( اوسي، هم له پښېلیز ویار )قافیي عیب( څخه ژغور مومي او هم د یوې بېلې نوې مانا له راخپلونې سره یوځه هنري خوند راخوندي کولای؛ هغه نوې مانا دا چې ګرد د یوه ستاینوم دنده پر غاړه اخلي، یانې جهان هسې یو ګردیا غبار وو !}

په هره توګه، په پاسنیو پوهانو کې سارتر د کارلایل او نورو پرخلاف اند یا مفکوره دشعر له رغندو توکونو څخه نه شمېري او له دې پلوه یې د موسیقۍ غوندې له نورو هنري او بیا ادبي څېلونو راجلا کوی، په بله وینا ، د یوه نړه هنر په سترګه ورته ګوري.
بیا یې هم پخپله را لېږدوونکی ))روهي(( دا خبره داسې راتعبیروي:
له پورتنیو یادونو څخه باید دا نتیجه وانه خېستل شي چې ګویا په شعر کې مفکوره نشته او یا مفکوره څه ارزښت نه لري. اصلي مطلب دا دی چې مفکوره په شعر کې هغومره ټاکنده نقش نه لري، لکه څومره چې په هنري او بدیعي توګه د یوې مفکورې څرګندونه یې لري.

علمي پرنسیپونه، تاریخي فکتونه او فلسفي نظریې په شعر کې راتلای شي، خو شتون یې د شعریت معیار نه ګڼل کېږي.
علمي، اخلاقي او فلسفي مفکورې باید شاعرانه شي. د شعر تابعیت ومني، په شعر کې جذب او الونیا شي او ببرته خپل ځان په هنري میدیم کې راڅرګند کړي. د ایران نامتو شاعر )ید الله رویایي( لیکي: "مختصر آنست که شعر به کار و روزګار کاری ندارد.
نه نقل میکند و نه می آموزد شعر تنهاست و از هر اجباری رها. بر سرنوشت خودش حکومت میکند ونه بر هیچ سرنوشت دیګری بدیهی ای نه به جامعه دارد ، نه به اخلاق، نه به ایمان و دانش و درعین حال بیم دارد ، از اینکه چیزی پست و حقیر باشد ".

د شاعر مقصد دا دی چې علمي، اخلاقي، مذهبي او سیاسي ارزښتونه هغه څه چې د شعر ذاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښت لاکي هنري او ايستېتيکي خصوصيات دي.

)ګل پاچا الفت( وايي: "تاسې له شعر او شاعر نه علمي حقايق مه غواړئ، د شعر هدف حقيقت نه دى، جمال دى". هغه کسان چې شعر د ژوند هنداره يا د واقعيت انعکاس بولي او په عين وخت کې د نګه )خالص( شعر، فورماليستي شعر او نورو غير رياليستي شعرونو شته والى په رسميت پېژني، د خپل تعريف د توجېه کولو لپاره بايد د تناقض د حل لاره ولټوي. که چېرې غير ريالستي شعر ته هم شعر ويل کېږي )او د دغسې شعرونو شمېر هم لږ نه دى(، نو موږ نه شو کولاى، واقعيت د شعريت معيار وبولو.
لنډه يې دا چې په هر شعر کې يو ډول مفکوره شته، خو تش د مفکورې شته والى د شعريت دليل نه ګڼل کېږي، بلکې مفکوره بايد په شاعرانه صورت تجلي وکړي.

د اند و واند توپير و تړاو
په دې کې څه اړنګ نشته چې اند او واند)فکر و خيال( دواړه له ذهني کارکړنو )فعاليتو( څخه ګڼل کېږي او دواړه د پېژندالواک )تيوري شناخت( له پلوه د انساني ځانخبرۍ )شعور( په لوړو پوړيو کې راځي. ))شعور(( څو بېلابېلې پوړۍ لري، لومړنۍ پيلامه يې نګېرنه )حس( دى، همدا چې انسان له پينځو شپږو حواسو څخه د کوم يوه له لارې له يوه څيز يا پيښې پديدې سره اړاو تړاو پيدا کاندې، په بله وينا ،ويې نګېري )احساس کړي(، دا پوړۍ ))حس(( بلل کېږي. ژوي او بوټي په دغه لومړي پړاو کې له انسان سره ګډون لري.

دويمه پوړۍ يې پوهه ياخبرتيا ))درک(( دى او هغه دا چې کله په اتوماتيک ډول هغه ))حس(( )اړوند وژي( اعصاب( د مغزو يوې ټاکلې برخې ته ور ولېږدوي او پوه شي چې څه خبره ده. دربيمه پوړۍ د انګېرني )واند، خيال( ده او وروسته تر ټولو لوړه هغه د ))اند، فکر((، چې د ))جاج، مفهوم(( پوړۍ هم ورته وايي؛ ژبه بيا پر خپل وار د دغې پوړۍ زېږنده او هممهاله ورته همدغه ژبه ښه ترا رښتيا ينه او څرګنداوى هم وربښي. په دې توګه هغه څه چې واند )خيال( رازېږوي، له رښتيني )واقعيت( سره پوره او يا هم هېڅ اړخ نه لګوي، خو اړوند پيداوار يې هنري او ادبي پنځوني بولو؛ پر وړاندې يې ))اند، فکر(( بياله رښتيني )واقعيت( سره سمون مومي او اړوند پيداوار يې پوهنيز او تخنيکي پنځوني دي. دا چې دواړو ذهني کارندويو په لړوډېر توپير د انسان په ګټه نړۍ ته بدلون ورکړى او ورکوي يې، په بله وينا، اوسنى تمدن يې راشونى کړى دى، نو وايو، ))اند(( خپل ځاى لري او ))واند(( خپل ځاى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر تر منځ يې دا دنده بيز توپير په دې جاج و مانا نه دی چې د چا خبره يو د بل په کارکې لاسوهنه نه کوي يا سره همکاري نه لري. يو پوهاند هم خپل کار له نگېر ))حس (( ځخه را پيلوي، درک او خيال تر شا پرېږدي او هله ))فکر (( ته رسي. د هوگو خبره، ))تاريخ په افسانه کې دی او افسانه په تاريخ کې ((. د نورو انساني ټولنو په څېر زموږ د ( گړني ادب هماغه غوښنه برخه خيالي او اسطوره يې کيسې، نکلونه، کړني او انگېرنې دي او همدغه فولکلور مو د ))ليکني ادب (( سرچينه ده.

له خياله د يوه پوهاند د کاراخېستنې يوه ځرگنده بېلگه له ))ساينس فېکشن (( سره بوختيا ده. همدومره يو هنرمند او بيا شاعر هم د ))اند (( مرستې او کاراچونې ته اړوځي او ټوليزه پوهه او خبرتيا )general knowledge( چې د يو لړ جاجونو )مفاهيمو ( او هنري توکو او انځورونو، په تېره تلميحاتو او اسطورو کې ورته اړتيا پيدا کوي، له اند پرته ترلاسه کولای نه شي. د پيغام يا ټولنيز ارمان د رانغښتيا خبره خو ورسره په هره توگه نه شلېدونکی او سيده تړاو لري. د ساري په ډول، که ))کاظم شيدا (( يوه ټوليزه پوهه خبرتيا نه درلودای، دا دومره پېچلي او همزمان نوښتگرانه انځورگري يې څنگه رامنځته کولای شوه.
د شعرتخنيکي، په تېره ژبنۍ جوله خو له اند سره نېغ پر نېغه تړاو لري. همدا چې يو شاعر يو خيال راخپل کاندې، وار له واره يې د يوې وړنده ژبنۍ جولې او جامې په هڅه کې کېږي او دغه کار اله ماله د اند په مټ
شونتيا او رښتيا ينه موندلای شي. په دې ډول بيا هم خپله خبره راغبرگوو چې ادب او بيا شعر يو ژبنی هنر دی.
د شعر زده کړيز يا ورهنيز)کسبي ( اړخ بيا داند)فکر، مفکورې ( ښکېلتيااو اړتياتر لا ښه ترا راجوتوي او په دې لړ کې د سيمي او نړۍ پر کچ د غورو شاهکارونو پرله غښتې لوستنه ستر نقش پرځای کوي. د دې مانا داده، کوم لوړ شاهکارونه چې تر موږه رارسېدلي، پرخپل وار پرې د ورتېرو هغو سيوری پرېوتی دی. دا يوه هسې کړنه انگېرنه ده چې شعر و شاعري يوازې او يوازې د يوې ځاني او زاتي وړتيا زېږنده، يا اسماني ورکړه او ياهم د کوم پير ملنگ پېرزوينه ده او بس!

که په کلاسيک شعر کې د تصوف له لارې فلسفه راخښل شوې، نن سبا بيا نوي شعر، په تېره ازاد، سپين او ناپيلي هغه ورسره دومره غاړه غړۍ شوې چې يو له بله بېلېدای نه شي؛ مانا داچې د تخيل تر څنگ يې فلسفي اندنه)تفکر ( هم پوره راخپل کړې دی.
دا بېله خبره ده چې ))کله ناکله يو شعار تر زرو شعرونو زيات منبت او گرانبت درلودای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي)). د نورو لړې نژدې ژبو غوندې په پښتو کې د دا راز بېلګو شمير لږ نه دى. په تېر مهال کې، لکه د سترخوشال دا:

- پر جهان د ننګيالي دي دا دوه کاره
يا به وخوري ککرۍ يا به کامران شي
- درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ پر کار پټ و اشکار

... او بيا:

د افغان پر ننګ مې وتړله توره
ننګيالى د زمانې خوشال خټک يم!

او په وسمهال کې يې د نوي غزل له سرلاري صنوبر مومند) کاکاجي ( راپيلوو:

د ملا ژبه قرأت کې تر ترۍ شي
تر ممبره چې شغار ستا د پنو ځي
پر کوم ځاى چې د زمرو نوکې ر؟ېږي
عاشقان هلته پر خوکو د بڼو ځي
خدايه! دا بازار تالا کړې په مغلو
د مفلس حسن په يو موتى چنو ځي...؛

او بيا يې د چيپې اندود له لومړيو ببر سرو څخه سيف الرحمان سليم راننګوو:

د وړو وړو خدايانو دې بنده کړم
لويه خدايه! زه به چا چاته سجده کړم
ملګرتيا که څو رندان راسره وکړي
دا حرم به يوه لويه ميکده کړم؛

يا يې دا لاسته راغلى شاه فرد:

د اقتدار حمام له ټولو نه جامې و ايستې
قاضي ته ګورم که خانجي ته، که ملا ته ګورم...؛

او بيا يې د پښتني فلسفې د پليونو په سر سر کې حمزه راخلو:

- وايي اغيار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته له پښتو سره ځم؛
- ما ټيټ ورته لېمه کړل، زما سر نه ټيټېده
شايد په محبت کې هم افغان پاتې کېدم؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وروځې، بانه، سترګې لېمه پښتانه
ځنګه يوځای شو دا پېنځه پښتانه...؛
چې مې سر چاته ټيټ نه شي ننګيالی زما ژوندون کړه
زړه زما دې مسلمان وي، تفکر مې د پښتون کړه

غني خان:
- چې خازې شنې مې پر قبر وي ولاړې
که غلام مړ وم، راځئ توکړئ پرې لاړې
...يا به دا بې ننګه ملک باغِ عدن کړم
يا به کړم د پښتنو کوڅې ويجاړې؛

د امين الحق د يوه غزل دا سربيت هم لکه متل را دود شوی دی:
اوس ګوزاره د زړه په وينه کوو
چې حالت ښه شو، بيا به مينه کوو...؛
محمد شاه خيال:
- د خيبر دره خو لار د تلو راتلو ده
په کابل او پېښور کې افغان يو دی؛
- خيال چې هر څو فکر وکړ، بل څه ترې نه جوړېږي
اباسين دی منځګړی، افغان يو خوا هندکيان بلخوا ؛

- چې پيدا شوې، تا ژړل خلکو خندا کړه
هسې ومره چې ته خاندې، خلک ژاړي ؛
- پر نهاره دې خبرې په پښتو کړې
اوس پارسي وايې چې خېټه دې مړه شوه؛
اکبر خادم:
نه سل کاله د غلام په غلامۍ کې
يو ساعت د ازادۍ که ځنکدن وي

استاد الفت:
- نه ومه خبره، پرده مې لړه پورته کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي دويلو ، هغه څه چې ما ليدلي دي...؛

اجمل ختک:

- غټان غټان، لويان لويان پيدا دي
دوی خو له ځايه جنتيان پيدا دي...؛

پير گوهر چې د سولې شعر يې))شاعر امن (( ستاينوم ور په برخه کړ:
ځار دي امريکا له روس- روس دې ځار له چينه شي
غوا ړمه چې ټوله دنيا - مينه مينه مينه شي؛

))اکرام اله گران (( راننگوو چې که څه هم د اندود له پلوه د استاد الفت په څېر يو انتقادي ريالېست دی، خو د هنري اړخ د سمبالونې له پلوه هم بيا د لرې پښتونخواد شاعرانو په لومړۍ ليکه کې شمېرل کېږي:

-...د ژوندون په کټورو کې، چاته قند دي چاته زهر
عجيبه غوندې وېش کېږي، د دوران په دروازه کې
دا چمن بلبلو ستاسو ، په والله که د بل چاشي
خو يو څو سرونه مات کړئ، د زندان په دروازه کې...؛

رؤوف زاهد:

- ستا محلونه جوړېدای شي، خو جونگړه پسې نه
هغې ته ښه دي، ولې د يته لا حالات ښه نه دي...،
- سارا کې څوک دي، چې زاهد پسې به کانې ولي
اشنا د کاڼو گوزارونه خو په ښار کې کېږي...؛

محمد اعظم اعظم:

- د وفا ځمکې خړوب نه شوې اعظمه
ډېرې وينې مو ورکړې د زړگو دي...؛

بشير قاصر:

- اشنا که يو ځل راغلې، د مين زړه په پوښتنه
لا مخکې له روژې نه، به اختر کلي ته راشي؛

اکبر سيال:

- تا دې د خپل غر په هر کمر کې گلاب وکرل

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته دې باروت زموږ په غرونو کې ساتلې دي...؛

))لياقت سوز (( دومره نومور شاعر نه وو، خو هغه مهال يو شعار وزمې يوې څلوريزې دومره نومور کړ چې په پېښور کې يې ))ترقي پسندو (( د خپل دوتر سرليکه کړه او راوروسته لکه متل خوله پرخوله شوه، په يوه روانه او ساده ژبه، خو د سلېمان لايق تر ))انقلابي سرود: ... کور ډوډۍ کالي غواړو (( ډېره ښکلې او اغېزمنه:
چې هر تږی پکې وڅښي
او هر وږی پکې موړ شي...
ملا څه کفر به وشي،
که يو داسې نظام جوړ شي !

پروت و نېغ خيا ل
په شعر کې واند )تخيل( او ورسره پنځولي انځورونه دوه ډوله پر کار اچول کېږي:
پروت يا افقي خيال يا تخيل دا مانا چې شاعر د قافيوال شعر) غزل، بوللې، دوبيزې، څلوريزې... ( په هره مسره او بيت کې او د ناقافيوال )ازاد، سپين او منثور ( شعر په هره ټوټه او غونډله کې هڅه کوي چې تخيل پرکار واچوي، په بله وينا، انځوريز او هنري يې کاندې. دغه چم زياتره په کلاسيکو او بيا د منځني ادبي پېر او وسني پېر د هندي سبک پليوني ترې ډېره ګټه اخېستې او اخلي.

په پخوانيو کې حميد او شيدا يادولای شو او په اوسنيو دوی کې پسرلی، کاروان، سالک، پروين، اند، جلان او يو شمېر نور غزلبول چې ببلګې يې په را تلونکي څپرکي کې وړاندې کېږي.

)٢( نېغ يا عمودي واند )تخيل( د ازاد، سپين او ناپېيلي شعر او لړو ډېر د نوي ))مسلسل(( غزل لاررويان پرکار اچوي، په دې ډول:
يوه سوژه يا کيسه په څه ناڅه ساده ژبه راپيلوي او ورو ورو يې انځوروي. همداچې د ))لکۍ نبش(( داستان غونډې يې اچولې غوټه پرانېستل شي او پايله يې راڅرګنده شي، نو هله لوستونکی او اورېدونکی لکه يوه ښکلې انځورګري تابلو دومره ځانته ور وڅکوي چې بيا بيا لوستو يا اورېدو ته يې هڅېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲- څپرکی
# د شعر ژب - ښکلاییز اړخ
# )ژبنۍ او هنري جوله(

دا یوه ټولمنلې خبره ده چې د شعر بهرنۍ جوله او جامه ژبه ده او د ننني جوله او جامه یې انځور. له انځور څنې موخه هغه ټولیزه هنري جوله ده او هغه واړه ښکلاییز یا هنري توکي او چمونه رانغاړي چې شعر له هسې عادي پېیلې او ناپېیلې ویناڅخه راجلا کوي او آر و ربښتینی جوهر او هستي یې راڅرګندوي.

دا هم د شعر، په بله وینا، ))شعریت(( د مینه والو او په تېره تېره د ځوانو شاعرانو ښکچه اړتیا او لېوالتیا وه چې موږ یې د دغې سکالو راغبرګونې او غځونې ته راوهڅولو او یو ځانته جلا څپرکي مو ورته ځانګړی کړ. له دې سره دا شونتیا هم تر لاسه شوه چې د لا ښه ترا پوهاوي لپاره اړوندې شعري بېلګې په ازاد متېوړاندې کړای شو.

۱( ژبه د شعر بهرنۍ جوله

د یوه ))کره شعر(( لومړی بنسټ ))کره ژبه(( ده. کره ژبه، لکه څنګه چې راپېژندل شوې، نه یوازې له رغاونیز پلوه د یوې یوازینۍ لیکنۍ ژبنۍ بڼې ښکارندوییې وکړي او د څلورګونې وییپانګې انډول پکې پوره پوره سمبال شوی اوسي، بلکې تر بل هر کارونیز ډګره یې د کره والي څېرمه آرونه هم رانغښتي وي.

- سپمااو لنډون د کېښکلتیا په جاج بایدتر وسې وسې له پامه و نه غورځول شي. لنډ لنډ غونډونه او لنډې لنډې غونډلې، ان د پېچلتیااو ابهام تر بریده پرکار واچول شي او لا کله ناکله د یو لړ توکو او پښوییزو آرونو پر تاوان هم پربوځي. په دې توګه ګړنې )محاورې(، څرګندنې )اصطلاحات(، بولنې )مقولې(، وراشې )وجیزې(... چې پارسیوان یې په یوه غونډ نوم )سخنان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتاه و قصار (بولي او همداسې متلونه هم درواخله.

))ایجاز (( چې د )) ایهام (( تر څنګ یې په ننني شعر کې پر سمبالتیا ټینګار کېږي، هم د سپما او لنډون جاج رانغاړي. هنري اوزار، لکه انځور )تشبیه، استعاره، حسن تعلیل، کنایه، نغوته )اشاره(، تلمیح، قرینه، ایهام، سیمبول، اسطوره... هرګوره پرخپل وار په دې برخه کې ستر نقش لوبوي چې دا بیا د هر ویناوال په هنري نوښت اړه پیدا کوي. [د ژبني لاسبري او کېښکلتیا زیاتې څرګندونې د کتاب په پای کې]

- خوږغږي او بلاغت، په دې مانا چې یو ژبنی توک په سراسري تولنه کې کرغېړن، سپک او بد لګي نه وي، یا په ملایي نومونه ))رکاکیت او کراهیت (( و نه لري. هرګوره، د شاملو پر پلیونی د ساده پرګنو اړوند شاړ شډل او له پامه لویدلي )پیش پا اُفتاده( ویيونه او نور توکي چې پخوانیو ویناوالو ترې ډډه کوله، نن سبا، د ازاد، سپین او ناپېیلي شعر نوښتګرو تر ډېره شاعرانه کړي او دود کړي او نوې نوې ماناوې او جاجونه یې پکې رانغښتي دي. د ویيونو ښه او بد هم په بشپړ ژبني یوون )واحد(، یانې غونډله )جمله( کې راڅرګندېږي، هغه دا چې لومړی د ژبني پښوییز او مانیز او بیا سبکي )ستایلېستیکي( آرو معیار له پلوه او بیا د شعري- ادبي آرو معیار له پلوه پکې څنګه و اوبدل شي او ))هنري (( جوله او جامه ورواغوندي. )لانګندوین ۲۱ (

- غورچاڼ، بیا هم د شاملو په جاج چې په څو څو ژبنیو توکو )ویيونو، غونډونو، بېلنګونو، ترنګونو او غونډلو ( کې یوچاڼ او انتخاب وشي او هماغه ډولونه یې پرکار واچول شي چې د دغو نورو آرونو د سمبالتیا لپاره لاره هواره کاندي. غورچاڼ هم هله ښه ترا شونتیا موندلای شي چې شاعر پر اړوندو توکو پوره لاسبری ولري او له دغه پلوه یې تولیزه ژبپانګه ښه ارته او بیرته وي.

د نړی د نورو یادو ژبو په څېر زموږ کره ژبه هم پر دوو بنسټونو ټیکاو لري، پر رغاونیز یا پښوییز یو والي )توحید ( او ویيپانګیز پراخوالي. یووالی دا مانا چې له بېشمېرو، په بله وینا، څلورګونو )سوېل لویدیزو- سوېل ختیزو، شمال ختیزو ( پښتو ګړدودي ډلو یو یوازېنی رغاونیز او پښوییز غورچاڼ را واخلو او بېلابېلې ویيپانګې یې یو مخیزې.

په نورو ټکو کې، غږپوهیز )فونولوژیکي(، ګړپوهیز )مورفولوژیکي(، غونډله ییز )نحوي( او ویيرغاونیز ځېلونه )وارینتونه( یې سره یو )توحید ( شوي وي او په ویي پانګیزه برخه کې هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګړدودي )لهجوي(، زړه )ارکاييکه(، نوې رغښتې يا خپل لاسي )نيولوجيستي( او پورويزه )دخيله( پانګه پکې په يوه برابر ګډون لري او په دې توګه يوه يوازېنۍ کره ليکنۍ ژبنۍ بڼه تر هر اړوند ګړدوده ډېره پراخه او رنګا رنګ وي. {د زياتې خبرتيا لپاره: پښتو ليکلاربود، ۱۲-۲۱ مخ}

د ژبې ناپايه پټ توان )پوتنسيا ل(

ژبه، لکه چې په تېر )۵( څېرکي کې پرې خبرې وشوې، له ښېخ و بنسټه دوې بڼې لري، يوه يې د ننني، ذهني، ناتوکيزه، نانګېرېدونکي )غيرمادي، نامحسوسه، انتزاعي( بڼه ده او بله يې بهرنۍ، توکيزه يا جوليزه )عيني، ملموسه، محسوسه يا صوري(. لومړنۍ بڼه ، يا په بله دوده تخنيکي نومونه ))دننني ژبه(( دا مانا لري چې هر يوګړي )فرد( (يې تر ۵- ۲کلنۍ پورې په خپله کورنۍ او ټولنه کې د ))مورنۍ ژبې(( په نامه زده کوي او په ناځانخبري ډول يې په ذهن کې د يو لړ دويو )قاعدو(، وييپانګې او غونډلو )جملو( په توګه ټينګه او ترينګه زېرمه پاتې کېږي ؛ پر وړاندې يې دا بله ))بهرنۍ ژبه(( همدغه توکيزه، مادي، صوري، کړنيزه )عملي( ياکارونيزه )تطبيقي( ګړنۍ او ليکنۍ ژبه ده چې له اړتيا سره سم ترې ويونکی کار اخلي، او د هماغو يو لړ لنډو تنګو )محدودو( وييونو او غونډلو له مخې نورې ډېرې )نامحدودې( غونډلې رغولای او پرکار اچولای شي. پښويه )ګرامر( هرګوره، وار له مخه په دننني او بيا ور پسې کړنيزه او جوليزه )صوري( ژبه اړه لري او دا يوازې ژبپوهان او پښو ييوهان دي چې د د واړو ژبنيو اړخونو اړوند دويې )قواعد( او دويونه )قوانين( رابرسېروي، سپړي او شني ، په دې ډول ژبه د زېرمه )انتزاعي( غونډلو او ورپسې د نورو راپنځېدونکيو جوليزو )صوري( غونډلو درستې ټولګې ته ))ژبه(( وايي، او د اړوندو دويو يادويونو شنني او سپړنې ته پښويه )ګرامر(.

په دې لړکې پښوييوه )ګرامرپوه( د غونډلو ډولونه، رغنده زنځيري توکي )وييونه، ګړونه، غږونه( او نازنځيري هغه )خجونه، اهنګونه، غاړې... (، بيا يې ترمنځ تړاو، اوډون، سمون )مطابقت( ... او په پای کې يې جلا جلا او يوځايي ډلبندۍ او ماناوې ور څېړي.

د غه څرګندونې په لاندې ډول هم راغبرګولای شو:

هره ژبه دوه اړخه لري، ذهني، دننني، يا نانګېرېدونکی )نامحسوس، انتزاعي( اړخ او بهرنی، جوليز )صوري(، توکيز )مادي(، کړنيز )عملي( ياکارونيز )تطبيقي( اړخ، چې په لنډ ډول ))دننني(( ژبه او ))بهرنۍ(( ژبه يې هم بولي.

د ننني ژبه له يو لړ ټاکليو يا محدودو دوييونو )قواعدو( او توکو يا وييونو او غونډلو څخه رغېدلې، خو يو ناپای زېږندويه پټ توان يا بالقوه ظرفيت )پوتنسيال( لري. د ساري په ډول، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوايو، يو څوک پر يوه ژبه لاسبرى لري، ياېي زده ده ، مانا يې دا نه ده چې هغه د دغې ژبې هغه ټولې غونډلې )د ژبنيو واحدونو په توګه( زده کړې يا زده دي چې په هره برخه کې يې له هرې اړتيا سره سمې وکاروي، بلکې موخه دا ده، هغه ټاکلی )محدود ( شمېر دوييونه )قاعدې ( او وييونه او غونډلې يې چې ياد کړي دي، زېږندويه لوښه ځانګړتيا لري، ياني کولای شي، له اړتيا سره سم د اړوندو محدودو قاعدو په مټ د محدودو توکو) وييونو، غونډونو، ترنګونو او غونډلو ( پر بېلګه نور بېشمېره ورته توکي )په اتوماتيک، نيم اګاهانه او اګاهانه ډول، يا لږ کی پاملرنه( ورغوي او وکاروي؛ په دې لړکې اتوماتيکه، ناګاهانه او يا نيم اګاهانه رغاونې هماغه دي چې د دود له مخې ولسي رغاونې بلل کېږي، د اګاهانه هغو لپاره دويمنۍ)ثانوي( رغاونيزې مخبېلګې او مودلونه ګرځي.
که د ژبې دغه ناپايه زېږندويه پټ توان يا بالقوه لوښه ځانګړتيا نه وای، څنګه کېدای شوه، د بېلګې په توګه په انګرېزي ژبه کې دا ميليونونه ميليونونه کارول شوې غونډونه، ترنګونه، بېلنګونه او لنډې اوږدې غونډلې راوزېږي او وکارېږي، هغه هم له بېلابېلو جولو، جاجونو، موخو او ماناوو سره؟
دغه دواړه اړخه يا دوه ډوله ژبې له پټ توان يا بالقوه توان او ځرګند يا بالفعل توان سره ))ژبه(( او څوک چې هغه خبري، سپري او شني، پښويپوه )ګرامرپست( بلل کېږي.
دا چې زموږ په پښتو کې د انګرېزي، فرانسي، الماني او نورو لويديزو او بيا ختيزو، لکه چيني، هندي، عربي... ژبو هومره کارونيزه اړتيا نګېرل شوې نه ده، نو نه يې پټ توان يا زېږندويه ځواک هاغومره پرکار اچول شوی او نه يې پورتني ترښتي توکي، بېلنګونه، ترنګونه، )وييي( غونډونه او غونډلې )اشتقاقونه، ترکيبونه، عبارتونه او جملې ( ميليونونو ته رسېدلي. بنايي د نومهالې خبرتيايي- رسنيزې تېکنالوجۍ سره يې شمېره متې نيم ميليوني بريد ته ورنژدې شوې اوسي. د نورو ژبو په څېر پښتو آره او بنسټيزه وييپا نګه دومره ارته بيرته نه ده او د آرو او بنسټيزو وييونو شمېره يې اتيا- پېنځه اتيا زره اټکل شوې ده. دا چې ديادشويو ژبو د وييونو شمېره ترې سلګونه ځله ډېره برېښي، د هماغو ترښتي توکو يېبره يا زېږنده بلل کېږي.

پښتو پانګې همدا اوس اوس د مايکروسافټ د ۳۵ ژبو په لړ کې له څو لکيزو رغاونو سره پورتني بريديو څه راخپل کړای شو.
پر مورنۍ ژبه زيات لاسبرى، له آره د زده کړې له لارې په ارادي توګه د هغې پر زېږندويه توان د زيات لاسبري موندنې مانا لري. داسې چې په ډېرو پېچلو او ډېر اړخيزو خپلځاني او ټولنيزو ډګرونوکې يې دغه لاسبرى زباد او پرکار واچول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بډایه وییپانګه

شعر یوازې له ترڼګونو) ترکیبونو( سره نه، بلکې له یووستویو وییونو، تېنګو یاپخوغونډونو)عبارتونو ( او بېلنګونو )مشتقاتو ( سره هم کار لري. نو ښه به دا وي، چې وویل شي، پلاني په خپل شعر کې ښکلې وییپانګه کارولې ده.

په اروپایي سیندونو )ډېکشنریو ( کې هغه وییونه چې پر آرې )وضعي، لغوي( سربېره په مجازي، استعاري یا کنایي مانا کارول کېږي، نو ورسره لیکي چې ))figurative meaning (( یا ))انځوریزه مانا (( یې ... ده، الماني یې تر ټنګ خپل سوچه انډول bildlich )تصویري( هم کاږي. که مانا یې اصطلاحي وي، نوبیا ورسره )idiomatic meaning( لیکي. زموږ سیند کښونکي یې پر وړاندې زیاتره ))اصطلاحي یا کنایي (( نومونه کاروي او ډېره لږه ))مجازي (( نومونه. په ژبنیو څېړنو کې د لومړنۍ نومونې پرځای ))ګرنیز (( کارول کېږي او د دویمې هغې پرځای، یا یې تر څنګه ))انځوریز (( ؛ ))اصطلاحي (( یوه ګډوډي رامنځته کوي، ځکه زموږ په دودیزه وییپانګه کې یې بنسټ))اصطلاح (( په دوو)ګرنه idiom او تخنیکي نومونه term(، او لا د ځینو نیملوستو له خوا د ))ګردود (( او ))ګرویزی (( په مانا هم کارول کېږي.

لکه څنګه چې د ))شعري ژبې (( په تړاو څرګندوني و شوې، په ژبه کې ښکلي او خوږغږي یووستوي، بېلښتي )اشتقاقي( او تړښتي، په بله وینا ، تیار پر تیاره ))شاعرانه(( بېلنګونه او ترڼګونه او بیا غونډله پوهیز )نحوي( وییغونډونه )عبارتونه( او ورسره ورسره ګړني، څرګندني، وراشې او نور توکي کم نه دي. ترڅنګه یې په کار ده، شاعر هم په خپل نوښت پکې زیاتون راولي او له اړتیا سره سم د هغو تیارو ))ښکلو شاعرانه(( وییونو تر څنګ هغه ))ناشاعرانه(( هم راواخلي او د واند)تخیل( په نازکو ګوتو ورسره دا هم ))شاعرانه(( کاندي !

په دې لړکې ان د وییرغاونې د چمونو په راخپلونه ورته بېلښتي او تړښتي وییونه هم ورغوي او وکاروي، لکه د برې خوا )ګلځانګه، ګلونه، ګلوله، ګلغوټۍ، ګلمونګره، ګلڅېره، ګلپېغله، ګلمینه، ګلوییونه، نشت اباد ، ناچېرې، غزلبول، غزلبڼ... ( یاد کوزې خوا )ګلورین، ګل پرهر، غزلزار... ( هغه د ))خوارحسن(( ترڼګ هم لومړۍ پلا د کاکاجي په غزل کې لیدل شوی چې راوروسته یې ))غریب حسن(( او بیا سوچه ښه )خوار ښایست( هم ډېر دود شوی دی؛ استاد حمزه بیا د نړه ګرویزونو )ګردودي وییونو ( د دودوني تر څنګ د نویو شاعرانه رغاونو له پلوه ګرسره د مخکښۍ ویاړ ګټلی، لکه، پښتون عشق، پښتنه مینه، لمر مخي، سپوږمۍ مخي... چې تر لیکواله پورې یې نورو هم پلیوني کړې ده. د داسې ښکلې او ارتې بیرتې پښتو پانګې په مټ هر شاعر کولای شي، ځانته د انځور رغاونې لاره ښه ترا هواره او اسانه کاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم له یاده اېستل په کار نه دي چې ټول هغه چاڼلي او ښکلي توکي بیا هم تر هغې یوازې ))ژبنی (( ارزښت لري چې تر څو په شاعرانه اوب)بافت( کې را نغښتل شوي نه او سي. په ژبه کې هم دغه توکي د نورو وییپانګیزو توکو په څېر هله جوت او څرګند چار و دنده او جاج و مانا را خپلولای شي چې په بشپړ ژبني اوب، یانې غونډله )جمله( کې وکارول شي او په مبتدا یاخبر، یا دواړوکې ونډه ولري. د ساري په ډول، که ووایو اسحاق ننګیال )د ذهني انځورونو او سېمبولونو په تړاو ( په پاسنیو شعروکې ))سپین آس، د سپینو وریځو آس، د وریځو ګلان، وربښمیني پربښتې، د جنون جوغه، ښکلی سوداګر... (( ترکیبونه راوړي، مانا یې داچې په شعري غونډلو کې یې کارولي او هنري پسولونه یې ترې رغولې دي. پرته له دې کارونګ تش ژبني ترنګونه بلل کېږي، که یې څه هم په خپل نوښت رارغولي دي. هسې خو په ټولیزه ګڼنې او لیکنۍ پښتو کې د ورته تشبیهي، استعاري، مجازي، کنایي، تلمیحي او ان سېمبولیکو او اسطوره یي ترنګونو څرک هم لګولای شو، لکه:
د بوډۍ ټال، زما زړګی ، زما زمری ورور، شین زمری، شنه توتیان، ګلګڅ، ګلګخونه، د ګلو څانګه، پرهار پاڼه، د سترګوتور، د زړه ټکور، د زړه ټوټه، د پېریانو تنور، د باغ ارم ښاپېری،،د ماښام ستوری، د سبا ستوری، د سبا سترګه، کاروان ستوری، د ستورو یاد اسمان کټ، مینه ناک، مینه وړی، مینه وړې، د رنجو خالونه، د سکرو خالونه...

څرګندني )اکسپرېشنونه( او بیا ګړني )ایډیمونه( خو کټ مټ لکه تیار انځورونه چې که په شعري اوب کې ورته شاعر ځای ور کړي او بل خیالي انځور )ایماژ( هم ورسره ملګري نه کاندې، یو شعریت راخپلولای شي. د ساري په توګه، ))پور پرې کول (( په سیده مانا )د چا پور ور ادا کول( یوه څرګندنه ده او یوه بلیغ یا ادبي ژبنی توک دی، خو په مجازي مانا ، یانې په )مړل، ساورکول( مانا وکارول شي، پر ))ګړنه(( اوړي او شاعرانه کېږي، څکه د شعر ژبه ))مجازي(( ده او د عادي ژبې یوه اړولي او ښکلې بڼه ده؛ لکه څنګه چې استاد غضنفر هم پرې د ))←مرسل مجاز، (( په ترڅ کې ښه ترا رڼا اچولې ده.

نوښتګر شاعر او کره کتونکی غفور لېوال لیکي:
((یو نیم وخت وییونه یا کلمات د رنګونو غونډې له یو بل سره ترکیب کېږي، سره ګډېږي او د تخیل په ځواکمن او هنرمن لاس ورڅخه یوه ښکلې تابلو جوړېږي.

دغه رنګونه چې د خوږې، شاعرانه، اهنګ داري او زړه راکښونې ژبې په وسیله بیان شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلابېل سېمبوليک مفاهيم د اند په مرسته وپېيي، دغه بيان صميمي او عاطفي وي، دېته نو يوه شعري، ښکلې تابلو ويلای شو. (()د ساهو ياد ۲۵۷)

په پښتو شعر کې خپل نرۀ شاعرانه وييونه او بيا رغاونې له نوي نوښتگرانه پېر سره رادود شوي دي. پخوانو )دېواني( شاعرانو چې څه پر ميراث را پرېښي، نژدې سل په سل کې همغه سولېدلي پوروييونه دي چې پېړۍ پېړۍ پرې لومړی پخپله دوديونکو او رغوونکو پارسي شاعرانو شخوند وهلی، بياهندي- پارسي شاعرانو او هله دوی )پښتنو(. په دې کې يوازې ښلنگونه او ترنگونه )مشتقات او ترکيبات(، نه چې لا يووستوي وييونه، هغه هم له اړوندو انځورونو سره راپور شوي دي.

تر ستر حمزه پورې لب، لعل لب، لبان، چشم، چشمان، زلف، زلفان )زلفي(، رخسار، گلرخ، گلرخسار، گل اندام، گلرو، سيمين بر، دلبر، دلربا، دلارام، محبوبا، عشق، عاشق، معشوق )معشوقه(، شيدا، جان، جانان، جانانه، يار، آشنا، نگار، می، ميگون، ميفروش، مينوش، مدهوش، ميخانه، خم، ساقي، پيمانه، خمر، خمار، مخمور، زيبا، زيباروی، زيبارويان، ديدن، ديدار، فراق، هجران، وصل، وصلت، وصال... کارول کېدل تر دې چې )و (گړني شعرته يې هم لار کړې ده او دوديز ناظمان خو پرې لا تر اوسه شخوند وهي. حميد له دې سره سره چې تر ستر خوشال راوروسته يې يو څه نرۀ پښتو پانگه کارولې، خو ان د خپل پښتو شعر په ستاينه کې هم پارسي ترنگ کاروي:
له حيرته پارسيوان گوته پر غاښ کا
چې حميد ))سخن سازي (( کړي په پښتو کې

د ښاغلي منلي )ځلورم څپرکی( په خبره دغه راز ببخرتو پارسي پورونو پښتو پښويه هم اغېزمنه کړې ده، د ساري په توگه د يار، دلدار، دلارام، جانان، نگار، دلبر، دلربا... د نوړې )جنس( توپير نه کېږي د پارسي شعر پر وړاندې د پښتو شعر يوه رومانتيکي ببلتيا )امتياز، مميزه( د نرينه لپاره د ښځينه نوړې کارونه ده او د ښځينه لپاره د نرينه هغه: له شهی، شهو، نازولې، مينې، مينه وړې، سپوږمۍ مخې، هوسۍ سترگې، کبلۍ سترگې، لمرمخې، گل مخې، گلمينې، گلځانگې، گلونې، گلورينې، گلپېغلې... سره )) راغله، لاړه (( ويل کېدای شي، خو له دلبر او دلارام، يار، جانان... سره نه، نو که يو مين ))يار مې راغله(( ووايي: د يوه گرامري سرغړاوي په توگه ترې څه خوند نه شي اخېستای، ځکه يار، لکه نگار، جانان، دلبر، ماه جبين، مهرخ... له ببواک يا کنسوننټ پايلې سره په پښتو کې نرينه گڼل کېږي او ښځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارول يې همغه مين ته هم خوند نه ورکوي او که)) يار يا جانان مې راغی (( وو ايي، بيا به هم ځنې دومره خوند ونه شي اخېستای ! همدا راز يوه مينه)عاشقه ( له ))کمر باريک (( نه په دې نه شي څه خوند اخېستلای چې يو ښځينه ستاينوم ګڼل کېږي؛ نه نرينه. شاهد ، صنم او کوم بل يونيم خو په دې لړکې له پخوا راهيسې د ))نرينه معشوق (( لپاره ځانګړی شوی دی

زموږ د نوي ازاد شعر تکړه پليونی انجينر ستانه مير زهير پر دې ګروهه دی، چې که دا ډول له دود ومووده وتلي، ډېر سولېدلي او کرغېړن )مبتذل( پوروييونه د ))سېمبولونو (( په توګه وکارول شي، دومره تاوان نه لري. په دې کې هم څه اړنګ بړنګ نشته چې اوسنيو نوښتګرو شاعرانو داسې ډېر پخواني سولېدلي وييونه پر سېمبولونو اړولي، لکه ګل و بلبل، يار، اشنا ، عشق، مينه، فراق، هجران، وصال، بېلتون، پيوستون... خو بياهم د نرې او سوچه انډولونو منښت او ګرانښت تر پورو )پارسي او عربي ( انډولونو زيات برېښي.

د ولسي شاعرۍ په ←دويم ډول کې د دوديزي پوروييپانګې پدل لومړی ملنګ جان مات کړ او بيا ورته نيملوستي خاطر اپريدي د خپل حمزه استاد تر سيورې لاندې د غزل رومانتيکې ژبه لاپسې پښتنه کړه ، تردې چې نورو يې هم پليوني وکړه او ورسره ورسره د ډېرو او اوجرو ټنګ ټکور هم تر ډېره پښتني جوله راخپله کړه.

۲ ( بديعي يا ښکلاييز توکي...

ښکلاييز توکي مو په تېر )پېنځم ( څپرکي کې د واند )خيال، تخيل ( تر سرليک لاندې و څېړل، دلته يې بيا هم د ژب - ښکلا ييزې ټولۍ د دويم ټوک يا برخې په توګه د بېلګو په وړاندېينه نور هم پسې غځوو. خو په سر سر کې دا خبره بيا راغبرګوو چې ))خيال (( د شعر هنري يا بديعي )ښکلاييز ( اړخونو يا توکيو د پنځوني وسيله او سرچينه ده، په بله وينا ، د ژبې،تول او اند ترخنګ ))واند (( د شعر له رغنده ټوکو )اجزاوو ( څخه ګڼل کېږي او له دې پرته شعر د يوه ځانګړي هنري ځېل په توګه نه، بلکې د يوې هسې پېيلې وينا )نظم ( په بڼه راڅرګندېږي. موږ که څه هم، د دود له مخې هغو ګردو ښکلاييزواړخونو ته خيالي انځورونه، صور خيال يا "ايماژونه" وايو ، تشبيه، استعاره، هنري صفت، مجاز، حسن تعليل، بداعت، جناس، طباق، تضاد )contradiction( ، تقابل )contrast( ، تلازم، تخيل، تمثيل، مدعاو مثل، ښنده يا مبالغه )exaggeration ( اغراق )apotheosis( ... او ان اسطوره )myth( ، علامه يا سېمبول

(c) ketabton.com: The Digital Library



)symbol( ، کنايه ، تلميح )الوژن( ، تشخيص )پرسونيفيکشن( او انطاق )انيمېشن( او داسې نور چې ډېر لږ څرک يې د پښتو په ګډون په دوديز عربي- پارسي ادب کې ليدل شوی، خو زموږ په نوي شعر کې يې تر لويديز اغېز لاندې يو څه زيات دود موندلی. په دې لړ کې ښايي د ))نګېرګډون(( يا ))حس آميزي(( انځور چې لاتيني انډول يې پرادوکس )paradox( دی، زموږ په دوديز ادب کې لږه يا ګړ سره مخينه و نه لري.

دا څه هېښنده نه ده چې د انځوريزوالي )ايمېجېزم( په نامه ادبي او بيا شعري ښوونځی هم دا راڅرګندوي چې يوازې له انځورونو سره کار لري، خو داسې نه ده او سېمبونه هم کاروي، لکه څنګه چې پيلاميز واله )سېمبولېزم( هم په سرچپه توګه د سېمبولونو ترڅنګ انځورونه هم رانغاړي. همدا راز که نن سبا پر سېمبول کارونګ ټينګار کېږي، مانا يې د اړوند ښوونځي ))سېمبولېزم(( راخپلول نه دي؛ هسې خو وسمهالی پرمختللی ))انسان ژمنی(( شعر د جوليزې رنګارنګۍ او راښکون په موخه د ايمېجېزم او سېمبويېزم په ګډون له نورو تېرو هېرو اېزمونو )ناتوريالېزم، سوريالېزم، ايمپرېشنېزم، اېکسپرېشنېزم، اېکزېستنشيالېزم... او اوسنيو )پوست مودرنېزم، مېجېک ريالېزم... ( ګردو څخه لږ و ډېره ګټه اخلي، که څه هم له بېخ و بنسټه د انتقادي ريالېزم ، ټولنوال ريالېزم او بيا هومانېستي ريالېزم پر وړاندې رامنځته شوي دي.

د بديعي صنايعو تر نامه لاندې زموږ دوديز هنري توکي يو مخيز )) هنري (( نه ګڼل کېږي. په دې کې بيا جوليز )لفظي ( هغه نن سبا ګړ سره په هنري توکو کې نه شمېرل کېږي، لکه: تجنيس خطي)حنان-جنان(، شبه اشتقاق، مشجر، ذوالقافيتين )double rhym(، ارسال المثل، ارسال المثلين، تضمين، توشيح)acronyl(... همدارنګه په ))صنايع معنوي(( کې هم ځينې توکي، لکه تضاد ، تقابل، لف و نشر، اړ )معما ( يا موخې )چيستان(،د تاريخ ماده... په هنري انځورونو کې راتلای نه شي، بلکې دا په ))بيان(( اړه لري او په ټوليزو ژبنيو او ادبي ښېګڼو ، لکه بلاغت )rhetoric(، ايجاز )conciseness, brevity(، ايهام )amphibology(، ذومعنين يا غبرګ مانيز )synonym(، کثيرالمعاني يا ډېر مانيز polysemous...کې شمېرل کېږي. هرګوره، هغه وييونه چې استعاري يا مجازي ماناوې ولري، په شعري اوب )بافت( کې دننه ښه ترا پر انځورونو بدلېدلای شي.

## مجاز او ډولونه يې

نه يوازې په لويديزه ادبي ترمينالوجۍ کې د شعر ژبه انځوريزه )figurative( بولي، بلکې زموږ د دوديزې- عربي ادبپوهنې يا فنونو دننه دننه په ))علم البلاغت(( کې هم شعر د ژبې اړولې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غيرمستقيمه يا ))مجازي (( بڼه بلل شوې ده. د ))مجاز (( غونډنوم يا مقوله بيا ټوليز انځورونه رانغاړي چې تشبيه او په تېره استعاره يې له غورو هغو څخه شمېرل کېږي. کومه نښه چې د يوه ويي د آرې او انځوريزې يا فيگوراتيفي مانا تر منځ توپير را پر گوته کوي، هم ورته ترم دود لري، لاتين يې ))context (( دی او عربي انډول يې هم ))قرينه ((. دا دی، دلته د همدغه سکالو په تړاو د استاد اسد غضنفر د يوې وړې ليکنې )مرسل مجاز او د هغه ادبي اهميت، رڼا ۳ گڼه ۱۳۸۵ ل ( لنډيز وړاندې کېږي:

:

))د بيان په علم کې هغې نخښې ته چې موږ پوهوي چې کلمه په مجازي معنی راوړل شوې ده، قرينه وايي. البته د کلمې د حقيقي او مجازي معنی ترمنځ بايديوه رابطه وي. داسې نه شي کېدای چې له يوې کلمې هره مجازي معنی واخلو. په ...)ځناور د جنگ له محاذه راغی ( جمله کې بې رحمه بنيادم ځکه ځناور بلل شوی چې د دواړو په خويونو کې شباهتونه شته.. که د ځناور پرځای غرڅه راوړو، بيا به څنگه وي؟ بيا به هم فکر کوو چې د غرڅه مجازي معنا منظور ده ځکه د جگړې له محاذونو د راتگ قرينه مو پام د غرڅه مجازي معنا ته اړوي، خو ځرنگه چې د حقيقي او مجازي معنا تر منځ يې رابطه نه شو موندلای، نو وايو چې په نوموړې جمله کې د غرڅه کلمه معنی نه ښندي، بې ځايه راغلې ده. کله چې کلمه په مجازي معنا استعمالوو، نه يوازې قرينه، بلکې د حقيقي او مجازي معنی ترمنځ رابطه هم ضروري ده دې ډول رابطې ته د بيان د علم په اصطلاح )علاقه ( وايي.

د مجاز علاقې ډېر ډولونه لري د بلاغت عالمانو يې تر شلو ډېر ډولونه شمېرلي دي... ((.

د دغو تړاوونو )علاقو (، په بله وينا ، د مجاز ډولونه داسې را لنډولای شو:

)۱( ټول و ټوک )کل و جزء ( چې يا له ټول څخه ټوک راواخلو ، لکه په دې غونډله کې: افغان )افغانان ( ځوک ورکولای نه شي؛ يا سرچپه يې لکه: ځان )ملا ( مې خوږېږي؛

)۲( ټوليز او ځانگړی )عام و خاص ( چې يا له خاصه مراد عام وي، لکه: د غره سړی )سړي ( ، نه سړی )سړي ( کېږي؛ يا سرچپه، لکه: جهان )کور ، هېواد... ( راباندې اور شو ؛

)۳( لوښی او منځپانگه )ظرف و مظروف ( چې يا له لوښي )ظرف ( څخه منځپانگه )مظروف ( موخه وي، لکه: وياله بهېږي، يا سرچپه، لکه: اوبه )وياله، نل... ( بند کړه؛

)۴( علت او معلول چې يا له علته د معلول مانا واخلو ، لکه: د يتيم له آهه )ازاره ( ځان ژغوره؛ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرچپه ډول لپاره دا انګېرنه په زړه پورې بېلګه ده، په سخته سيلۍ کې چې څوک شهيد کړشي، وايي: ))څوک شهيد شوی دی((، موخه دا چې د شهيد شهادت له کبله ))سيلۍ(( رالوتې ده ، خو له آره سيلۍ د دغې پېښې لامل شوی، ځکه دښمن له داسې کابو نه ګټه اخلي، ياني دلته له معلوله د علت مانا اخېستل شوې، يا علت و معلول سره ادل بدل شوي دي؛

)**5**( اړه او اړوند)لازم و ملزوم( چې لازم و ملزوم سره رد و بدل کړشي،لکه په دې غونډونو)عبارتونو(کې:
ګل او خوږبويي، ورځ و رڼا ، شپه او تياره، لمرو پلوشې، اورو تودوخه... ؛ په دې لاندې سروکي کې دواړه اړخه سره غاړه غړۍ شوي دي:
سپينې باريکې لېچې تشې ګرځومه
بنګړيوالې تروړې زموږ کوڅې ته راشه

نور مجازي ډولونه يا تړاوونه، لکه: تول و تولنوم)مضاف و مضاف اليه(، ستاينوم او نوم)صفت و موصوف(، )مشبه و مشبه به(، لږی او ډېری)اقليت و اکثريت(، اړ و پېچ)تضاد(،ځای او ځای نيوی)مکان و مکين( او داسې نور چې د پاسنيو په ګډون ډېر يې له آره د ژبې په اوبجه)قلمرو( اړه لري، هغه هم، يا د عادي ويونکيو د پېړيو پېړيو هستونه ده. ځکه لکه چې څو ځله راغبرګه شوه، د بلې هرې ژبې په څېر زموږ دا هم سربېره پردې چې له بېخ و بنسټه د ذهني او انتزاعي ژبنۍ بڼې يوه اړولې، نګېرېدونکې، عيني، په بله وينا ، مجازي بڼه ده، يوه غوښنه برخه يې د مانا له پلوه له دويم ځلي اړولو توکو جوړه ده. بې شمېره وييونو، وييغونډونو او غونډلو د آرو )وضعي( ماناوو ترڅنګه، دويمې )مجازي( ماناوې، هغه هم ډېرې له مجردو ماناوو سره راخپلې کړې او په ورځني کاروني بهيرکې، هرګوره د هغو نورو ډېرې توکو هومره نه، بلکې له اړتياسره سم رامخته کېږي. دوه او څومانيز وييونه، ګړني)محاورې(، څرګندني )اصطلاګاني( او بيا له وګړني ادب سره ګډ توکي، لکه متلونه، اړونه )چيستانونه(، موخۍ )معماوې(... او ور پسې ځانتني فولکلوريکې پنځوني )لنډۍ، بدلې، غاړې، نارې، سروکي... ( يې خو په لا کره اړونو کې راځي. له ليکني- ادبي بهيره بيا د پرمختلليو فرهنګي ولسونو هومره لا دومره نه دي ورګډ شوي.

په لويديځ کې د )**figure**( او )**metaphor**( ترغونډنومونو لاندې له کنايې، تشبيه، استعارې او يو څو نورو انځورونو پرته، نور مجازي )فيګوراتيف( ډولونه د ادبپوهنې، نه بلکې د ژبپوهنې له ټوليو )مقولو ( څخه بلل کېږي او د ژبې د کره او غوره سبک و ستايل په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړتياووکې راځي. د ساري په توګه د داسې ورته ځانګړتياوو پر بنسټ انګرېزان دوه ډوله انګرېزي، کره او ناکره انګرېزي)formal and informal English( سره توپيروي.

د دې خبرې د زيات رڼاوي په موخه چې د ژبې او ادب ترمنځ په ټوليز ډول د مجازي ډولونو همغه ټولمنلي انځورونه په ادب اړه مومي او نور يې په ژبه. د بېلګې په توګه يې )) paradox او ))contradiction (( په نومونو دوه ډوله له انګرېزی را اخلو. دغه دواړه وييونه سره هممانيز يا لږ تر لږه ورته مانيز دي او مورډ يې اړ و پېچ )تناقض، تضاد ( مانا کولای شو، خو ړومبنی يې د شعرو ادب نومونپوهني ته لاړ مونډلې او په ځانګړي ډول د شعر يو ذهني انځور ))نګېرګېون(( يا ))حس آميزي(( ورسره نومول شوی دی، خو له دويم وييي څخه د يوې ژبپوهنيزې نومونې کاراخېستل کېږي، د ساري په ډول امريکايي ژبپوهاند ))لانګندويون ٨ مخ(( په )هاري يو ټوټه کاغذ و ځښه )غونډله کې(( کاغذ ځښل (( )يو پښوييز او مانيز اړوپېچ)تناقض( بولي، خو په شعرو ادب کې دغه هم له يوه ښکلي اوب-چاپېريال او قرينې سره ورته ذهني انځور ))حس آميزي(( جوړولای شي او په دې توګه ))کونترادېکشن(( هم د ))پرادوکس(( ترمينالوجيک جاج و دريځ راخپلوي.

هسې خو په ټوليز ډول، هر راز توکي د خيال په مټ د شعر ژب- جوليز او اوريز رنګ و خوند رامنځته کولای او له ژنبۍ او ښچې نه شعري هغې ته لوړتيا مونډلای شي. دا هم د يادونې ده چې کله ناکله د يوه غبرګمانيز ويی، غونډ)فقره، عبارت( او بيا غونډله )جمله( شعر ډېر خوندروي، لکه د استاد پژواک په دې بيت کې د ))پژواک(( په دوه مانيزولو سره:

زه پژواک يمه په غرونو کې لوی شوی
دا چې چپ يم، دلته غروکمر نشته

دغلته يې په آره لغوي مانا )انګازه( د خپل لنډنوم په کارونه درست بيت دوه مانيز کړی دی: عادي ژبنۍ مانا ترې دا اخېستل کېږي چې له خپل غرني ټاټوبي څخه لرې او سېدو ته اړوتلی او اوس يې هغه ساهو ژوند او ازادۍ غورځې پرځې ارماني؛ خو ده د ))پژواک(( په دويمه)لغوي( مانا له رامنځته کړې ))حسن تعليل(( او ))تلازم(( سره له يوې پرېې او پېغوره شاعرانه تېښته کړې او هغه دا چې د کابل په خبر په يوه سياسي منځۍ کې ترې ، واکمنو بندېزونو او يا هم يوې ))تنخاګۍ(( ازادۍ او ورسره ورسره د مبارزې توان بلوسلی دی!

---

ليکوال د خپل آر نامه په کارونګ او غبرګ مانيزونګ د استاد پژواک هومره نه، خو لږ تر لږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شعري رنګیني ))تلازم (( رامنځته کړی دی، لکه د یوه غزل په پای کې:
... وینو نه زرغون مې پس له مړینې نه
ګل به وي پر قبر نښانه زما
شي به مې بلبل بیا ))مجاور (( زیاره،
وایي به د مینې ترانه زما !)ګلوییونه ۳۴(؛

- - -

د یوه څلوریزوالې ویرنې په وروستۍ ټوټه کې:
- له درانه خوب سر راهسک کړه ګرانې مورې،
چې له سویسه دې راغلی مسافر زوی !
پر مهال د ځنکدن دې یادوه چې،
اوس دې قبر ته ولاړ آ ))مجاور (( زوی !
)سوزونه او سازونه ۴۱/مزینه، ۱-۱-۵۱(؛

په یوه بل پای بیت )مقطع( کې لنډنوم د اړوند متل ))چې په ناز لوی شي- په زیار زړېږي (( په وړاندې وروسته کولو سره له آرې مانا سره غاړه غړۍ کړې دی:
- چې په ناز لوی شي، په)) زیار (( زړېږي،
زه په زیار زوړ شوم، په ناز زړېږم.
)ګلګخونه ۲(

همدا سې په دغه بله بېلګه کې یو ځانګړی نوم ))دوست (( په غبرګو ماناوو راغلی دی:
چې یې دوست ترې، پر زړه داغ لکه لاله ولاړ،
زیار په کومو سترګو ولاړ شي هامحفل ته !

**همغږیزي**

لویدیز وېناوال هم لږو ډېر ورته چمونه پر کار اچوي، لکه په مسره یا هره شعري ټوټه کې له ورته او هموتوځو )هممخرجو( غږونو، په تېره واوېلونو کار اخلي چې دودیز ))تجنیس (( او ))شبه اشتقاق (( هم دغلته څه ناڅه ونډه اخېساى شي؛ په لویدیزو شاعرانو کې له دغه پلوه ستر الماني شاعر ګویتې )۱۷۴۹-۱۸۳۲( پوره نوم ابستلی دی.

د ستر خوشال په شعر کې په ناځانخبري ډول داسې څرکونه ډېر تر سترګو کېږي، لکه په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې بيتو کې )ک، گ، ر، ن،د، ت، ټ(:
- پر جهان د ننگيالي دي دا دوه کاره
يا به وخوري ککرۍ يا به کامران شي
- درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره يو د ننگ پر کار پټ و اشکار

د حميد په شعر کې هم داسې ډېرې ښېلگې موندلای شو. د)س، ص، ز، ژ، ل( پرله پسې والی، لکه په دې سربيت )مطلع( کې:
خط پر مخ د صنم راغی، که سپوږمۍ شوه په هاله کې
دا يې غاښ په خوله کې زېب کا ، که ژاله شوه په لاله کې...
په ورپسې بيت کې له )ک-گ( پرله پسې والي سره د يوه )ش( په درېځله راغبرگونه انځوريزه ښه نوره هم پسې ورښکلې کړې ده:
دا زما له غمه شين زړه، پکې خيال د يار د شونډو
هسې رنگ زېب و زينت کا ، لکه مۍ په شنه پياله کې

او يا يې هم په يوه پای بيت )مقطع( کې اووريزو)ل، ر(، ستونيزو )ه،ح( او غاښيزو )د، ت( غږونو له اړوند انځور سره جوليز راکښون څومره زيات کړی دی:
لا هله حميد کسکر په محبت وو
پرښتو چې جوړاوه په ترتيب ورو ورو

ليکوال بيا په ځانخبرې توگه له دې چمه ښايسته ډېر کار اخېستی دی، لکه ))خ-س-ش-ز-ر(( په يوه غزل کې:
دا کوڅۍ ستا پر سپين مخ خورې ورې شوې
که زما پر سباوون تياري خورې شوې
ستا د سترگو د خيال سيوری چې پرې ولوېد
پر ورشو مې د ارمان تورې تيارې شوې
ستا د برندو کتو ټکه نه وه، څه وه
ورسره مې چې اسرې خاورې ايرې شوې...)گلوېيونه ۲۳(؛
د يوه غزل په وروستيو دوو کړيو کې د نورو همرنگو خپلواکو او ښوا کو)واوېلو او کنسوننټو( ترڅنگ)گ(او)ج( بيا تر گردو يو په زړه پورې کونترست رامنځته کړی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ګناهګار بيا هم جوګه د جنت شوی نه يم
که سره او تور غبرګ دوزخونه مې تر شا پرې اېښي
د جنګ و جهل و جنايت جهنمي لمبو کې،
تور سکاره شوي بر خليکونه مې تر شا پرې اېښي !
)ساندې او سندرې، ۸۹مخ(؛

په يوه نيم ازاد شعر کې يې د غبرګ مانيز ))ډاګ(( او ورسره د رغاونيزو او ګړنيزو )اصطلاحي( ماناوو په ورزياتونه سر تر پايه دا دوه تمغړونه او نور څېرمه يا نژدې هغه )د-ت-ن-س-خ-ر-ز( شعرته يوه خوږغږې او رنګيني وربښې:
سترګې سترګې له ډېر څاره
چې کوږ ډاګی ډاګې راشي
نه وې ډاګ د يار له لورې
زړه مې ولګې له ډاګه
پاتې بيا پر وچ ډاګ باندې.

ها ببوارې تلوسې مې
اند ښنني وپاروي بيا
بهير جوړ پر مخ د اوښکو
اسوېلي سلګی سلګی شي
ولولې شي سوې ساندې.

د زړه وازدو په سوځون
تورې شپې پر ځان رڼې کړم
ورته خوشې په اسره کې
ورځې هم شي هسې تېرې
بيرته لاس تر زنې لاندې.

د مينې ځوانۍ ژونده،
نن سبا کې څنګه تېر شوې؟
بېلتانه و ځبولې،
پردېسيو تاند لباند کړې،
نهيليو لاندې باندې !
)ګلګڅونه ۷۷-۷۸ / سويس ۱۰-۴-۷۱ ز(

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ))پلوشین نارنجیستان (( سرلیک لاندې یې په یوه ازاده ببلګه کې په پوره ارادې توګه ډېر زور پر )ش-ښ-س-څ-ځ ( او بیا پر)ج–چ–ر–ز-ژ-ړ(اچولی دی:

د اسمانڅکو دنګو غرونو سپین واورین ستونځونه،
د غاړو مورګو او ورشوو تاند ښېراز شینیلي،
د ګلګڅونو غځېدلي لړی...
د سرو رېدیو ، سرو بامیو ناپای بریدې دښتي
- دا دزرتشت د اورتونونو ځلي-
او د شینکو شینکو رودونو جادوګرې نغمې...
واړه ښکېللي د تیارو طلسم.

*

نور د سپېدو هېنداري تشي برېښي
د سباوون د پلوشین نارنجیستان له انځور
او د اسمان شنې لاژوردي موسکاوې
نورې لښېږي د تیارو د تور ښامار کومي ته.

*

برېښنا د شنډو ګورو وریځو ګوګل نه څیروي
چې د باران هېر کړی نوم یې وکښي بیا
د زړه پر دړه...
او د باور د ښېرازیو پیغام
وبورېنوي د ګلباغچو د نهیلۍ خوبونه.

*

اوس به
د زغم تالا والا سترې ستوماني جوپې،
-د لمر تر ښار-
د مرګاني چوپې چوپتیا تور واټنونه
څنګه و نغاړي نور
او د دې ځمکې د نتلو دوزخیانو د ناپایو اورو وینو
په سرو کښلې کیسې...
څوک د رحمت پرښتې چېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بې نيازه ټولو اکمن تر غوږه ورسوي !
)نوي پېړۍ او نوې زرۍ ۲۳-۲۴ ( ؛
او خاطر په يوه سربيت کې نرم تالو ييز غږونه ))ک، گ، ږ (( سره
ځومره په خوند پېيلي دي:
هسې راته گورې، لکه نه چې راته گورې
نېغ مې له زړگي وځي کاږه چې راته گورې؛

په پای کې د زبير حسرت ديوه غزل سربيتونه راخلو چې د )ځ، ز، خ او زورکي ( په راغبرگولو سره يې نور هم ښکلی کړی، خو که د ده د شمال ختيز والو پرځای يې د نورو درو گونو گړدودي ډلو کوم استازی، لکه کاکړ، غلجی يا خټک يې واوروي، يا ترنمي او يا هم سندريز کاندې، له ښکلا سره به يې راکښون هم غاړه غړی شي:
زه نه جاروځم، چې جاروځم نو خپل مخ ته وځم
اواره گرد يم، ځم وځم، چې هر اړخ ته وځم
زه هره ورځ وايم چې نن به لږد وخته وځم
وخت سره څه وکړمه، هره ورځ ناوخته وځم...
)ليکوال، ۱۴ گنه ۲۰۰۶ ز (.

ښايي، د نورو تېرمهالو او وسمهالو په شعرو کې چې له پښتو پانگې يې زيات کار اخېستی وي، هم دلته او هلته خال خال ورته همغږۍ وموندل شي، خو د يوې هسې برابرۍ ببېره به وي !

## ذهني انځورونه او ښېلگې يې
## تېرمهالي)وگړنۍ او کلاسيکي (

زموږ په کلاسيک او دوديز شعر کې ډېر زور پر عيني )محسوسو ( انځورونو اچول شوی، پر وړاندې يې ذهني )مانيز، مجرد ( هغه او بيا سېمبولونه او اسطورې له نشته برابر دي. په منځنۍ ادبي پېرکې ښايي، شيدا )۱۱۳۵-۱۱۹۴س ( يوازېنی شاعر وي چې يو څه زياته گټه يې ترې اخېستې ده. حميد )۱۰۸۳-۱۱۴۸ س ( سره له دې چې په پښتو کې د هندي سبک بنسټوال او بيا ))موشگاف (( گڼل شوی ، له دومره ښندې کار نه دی اخېستی، که نه، د پارسي شاعر هلالي د شاه و گدا کيسې په ژباړنه کې يې له دغه پلوه خپله وړتيا پوره ازمايلې، تر دې چې يو راز ))نوې پنځون ((، يا په پارسي نومونه ))بازسرايي (( بلل کېدای شي، په تېره د ))دريای خون (( پر ))دوينو اباسين (( اړونه )سېمبولايزونه (؛ دلته يې هم د هماغو لومړيو درو بيتو پر وړاندې ببينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسنه کوو چې استاد رښتين د همده په نامه د دېوان په سرکې راپېژندلي او دېرو همداسې انګېرلي دي:

شعر نه دی دا خوناب د زخمي زړه دي
يا وتلی دستي دم له خولې د مړه دی
يا له ښاره د حيرت وتلی فوج دی
يا د وينو اباسين وهلی موج دی
يا نعره د نيم بسمل مرغه د خولې ده
يا مجنون ته معما ښکلې ليلې ده

د دې لامل او لاسوند چې حميد ولې په خپله آره پنځونه کې دومره ژور نه دی تللی، ښايي دا وي چې نه يې غوښتل، د شيدا په څېر، پښتو د هندي سبک د بېخرته پرسنايزېښن بلهاري کاندې او له ورته نيوکې))... په وحشي الفاظو ده کړ ويران شعر (( سره مخامخ شي !

د عيني او ذهني انځور سره داسې توپيربړي چې اړوند توکي يې نګېربد ونکي)محسوس، ملموس ( وي، د ساري په ډول که سترګې له بادام سره تشبيه کېږي، نو دواړه توکه يا اړخه)مشبه او مشبه به ( يې، نګېروړ )محسوس ( دي. همداسې استعاره هم در واخله چې مستعار له او مستعار منه دواړه اړخه يې نګېربدونکي دي، لکه د شيدا په دې شعر کې:

د غنچې د رباط ور په واکېدو دی
قافله د رنګ و بوی د رومي سبا شو

دلته )غونچه ( د مشبه په توګه هم يو عيني څيز دی او )رباط ( د مشبه به په توګه هم. پر وړاندې يې په دې بل تشبيهي اضافي ترنګ )قافله د رنګ و بوی ( کې بيا ، که دواړه اړخه عيني يا محسوس هم دي، خو مشبه )رنګ و بوی ( له پرسونيفېکېشن )تشخيص ( سره مجرده بڼه راخپله کړې، نو ټول انځور ورسره له عينيته، ذهنيت ته ور اوښتی دی، په بله وينا ، يو ذهني انځور څنې جوړ شوی دی.

دغه شاعر په دغه بل بيت کې لا پسې ژور تللی دی:

د آفتاب په کمند نه خېژم اسمان ته – نه ړدم بار لکه شبنم پر دوش د ګلو

دغلته په لومړۍ مسره کې )) يو سېمبول دی، څکه خپل مستعار له )وړانګې ( يې له لاس ورکړی او )شبنم ( او )ګلو ( ته يې هم له )شخيصت ( ورکولو سره تشبيهي، په بله وينا ، استعاري انځور ذهني کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په په دې لاندې لنډۍ کې ))بېلتون (( دیوه مستعارله په توګه نانګېرېدونکی یا مجرد دی، خو مستعار منه )شخص ( ورسره نګېرېدونکی یا عیني راغلی او هغه هم یو وار په لومړۍ او بیا په دویمه مسره کې، خو سره له دې د دود له مخې دواړه استعاري انځورونه ذهني او هممهال )تشخیص personification ( بلل کېدای شي:

بېلتون پر تنګه کوڅه راغی

ما وېل سلام دی، ده وېل کوردې ورانومه

دا بله بېلګه تر هغې هم تېرى کوي:

داسې دې مخ په سالو پټ کړ

لکه چې شپه پر ورځ خواره کړې تور جالونه

څنګه چې داغلې سلمی شاهین )د پښتو ټپې۲۱ ( له خوا د دې راوړې لنډۍ په دویمه مسره ))لکه چه شپه ورځ باندې خور کړې تور جالونه(( کې د فارغ بخاري پښوییز )ګرامري( سمون )خورپرخواره بدلون ( سکته رامنځته کوله، نو ما یې پورتنۍ بڼه آره وانګېرله !

او له دغې بلې ورته ټپې څخه بیا ))←ټپیزه (( رغول شوې ده:

پرما دېره د غم جوپه ده،

څه د ویرونو شړشپه ده،

پرخوله مې دا سوې ټپه ده...

نن مې پر چولې بیابان شپه ده،

د جاج کلا ، د غم بنګلې به جوړومه !

)اند و واند ۳۱۴ (

په هره توګه نن سباکره کتونکې د یوه شعر په ))هنري (( ارزونه کې تر عیني انځورونو، ذهني انځورونه او بیا سېمبولونه، هغه هم نوې نوې ډېر ټاکنده بولي. په نوې غزل او په تېره تېره نوې )ازاد ( او سپین شعر کې د دوو ذهني انځورونو ))تشخیص یا تجسیم شخصیت personification (( او ))انطاق animation (( کارونګ همزمان د ډېرو وییونو سېمبولیزوني)- zation symbo li ( ته لیاره هوارو ي.

د دې لپاره چې په نننې شعر کې نوی دود شوی سېمبولېزم، او ان مېجیک ریالېزم مو ښه ترا پېژندلی اوسي، د استاد غضنفر له یادې شوې ارزونې)د جلان جادوګر هنر ( څخه د ایما جبزم په تړاو دا په زړه پورې خبرې راخلو:

))په شلمه پېړۍ کې د شاعر یوه مشهوره نظریه ایماژېزم نومېږي. د دې مکتب پیروان وایي چې د شعر مقصد تصویر دی. خو نور اکثره ادبپوهان وایي چې که تصویر ماناوې ونښندې، خو یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیم ځل بیا داسې نه وي، تصویر یوازې د تصویر لپاره وي. دوا ړه مثالونه:
د خپل ارمان غوندې یم، وړاندې ځمه شاته راشم
د جګ غره کاڼي شوم چې وخوځم، ښېدیاته راشم
دلته د ژوند یوه ژوره تجربه او مانا وینو. موږ خوشاله یو چې مخ پر وړاندې روان یو ، مګر مرګ ته د نژدې کېدو او د ژوند د ختمېدو په بیه. او دابیت بیا یرف اصویر دی:
د شپې په توربخملو اننګو کې راته خاندي
د ګورو غرو په منځ کې د ځنګل غوندې جانان
دغه بیت مو سترګو ته یوه منظره دروي، خو دامنظره د ګونګ بنیادم غوندې پټه خوله ده. په همدې بیت کې یوه بله ستونزه چې د تصویرګر جلان په ځینو نورو بیتونو کې یې هم وینو ، لیدلای شو. دلته د تصویرونو بیروبار او د بیروبار په وجه د تصویرونو تتېدا وینو. د شپې تور بخمل اننګي یو انځور دی، د ګورو غرونو منځ بله منظره ده او د ځنګل غوندې جانان بل انځور دی. شپه چې اننګي لري، نو داخو پرسنفکېشن)یو ډول استعاره ( دی یعني شپه بنیادم ته ورته شوې ده. نو د یوه بنیادم په اننګو کې د بل بنیادم)جانان ( وجود څنګه سترګو ته ودروو؟ بیا په توره شپه کې خندا څنګه ووینو؟ او جانان چې د ځنګل غوندې شي، نو څنګه یې باید تصور کړو؟
له نوښت سره ډېرې مینې، که د ده شعرته کمالونه وربخښلي، یو نیم ځای یې ستونزې هم ورپیدا کړې دي. دی چې پر ابتکار ورک مین دی، ممکن هغه کلمې توجه ډېره جلب کړې چې تر اوسه پورې نورو شاعرانو نه دي کارولې. دا نوې کلمې هم کله کله د ده په شعر کې مشکل پیدا کوي. ده ویلي دي چې:
نن به دې جلانه غرنۍ خوې رومانتیک کړه
په دې مسره کې د رومانتیک کلمه له دې کبله نه چې نوې ده، بلکې په دې خاطر چې مانا نه ښندي، ښه نه لګېږي

د ښېلګې په توګه کله چې د ستر خوشال په )که زه نه وای، تا به ځان لره بلل څوک... ( بیت کې بل شاعر ))تا به ځان لره (( پر))عشق به تا لره (( و اړاوه، اړوند انځور یې یو څه ور ))ذهني (( کړ او ورسره ورسره یې))اخلاقي (( هم !

دا دی، دلته له همدغه پلوه لومړی له دېواني )کلاسیک ( پېره، هغه هم یوازې د حمید د دې یوه بیت په وړاند بېنه بسنه کوو:
ځکه ما د عشق په توره ځان شهید کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مې نه رسي د صبر پر کفن لاس

وسمهالې)پښبلېزې،ازادي، سپېنې ( شعري بېلګې

په نوي پېرکې د داسې)) ذهني(( انځورونو او سېمبولونو کارونګ د شلمې زېږدې پېړۍ له دربېمې لسېزې سره د ))خدايي خدمتګار(( سياسي- فرهنګي غورځنګ او ورپسې د صنوبرحسين مومند کاکاجي)۱۸۹۷-۱۹۲۰( له ))ولسي ادبي جرګې(( سره راپيلېږي. هماغسې چې مولوي احمد د نومهالي هنري نثر يا ))ناپېيلي شعر(( بنسټ اېښی، کاکاجي هم پر خپل وار د يوه رښتيني، هنري او ورسره ورسره ژمن شعر پيلامه رانښلولې او په خورا ښکلو مخېبلګو سره يې په پوره ازادي توګه دا رانښوولې چې غبرګ ارمانونه سره څنګه غاړه غړۍ کړي او ونغاړي را ونغاړي، لکه د کاکاجي د يوه غزليز شاهکار چې پر لاس راغلی څو بيته يې له مخه وړاندې شول او ياېې له ))فرهنګ زبان و ادبيات پښتو ۲۷۹(( دا بله بېلګه:

راشه اخر وخت دی، دم کرم وکړه
دوه سلګۍ مې تا وته ايسارې دي
تا خو صنوبره هېڅ غزل نه وې
دا خو د کامل او حمزه چارې دي

او بيايې د ورپسې پښت له کينو او ښيو پليونو او په سرسرکې استاد حمزه وايي:

ستا په تبسم يې حوصله وکړه
اوښکو بوربنېدلو مې شبېه وکړه....

او بيا غني خان، طوفان،اجمل خټک، سيف الرحمان سليم،امين الحق امين، ايوب صابر، سلطان صابر، قلندر مومند، رسا، کامل، مفتون، مجذوب، اسير، لياقت سوز، رؤوف زاهد، اعظم، اياز داودزی، وهمي، قمر راهي، قمر انديش، قمر نړيوال، قمر طايزی، پير ګوهر، ډاکتر اسرار، سايل، اکبر سيال...

او دا چې په وسمهال پېرکې يې پرله پسې پرمختيا او پراختيا موندلې، نو ګنې بېلګې يې وړاندې کوو، هغه هم په دې موخه چې کره کتونکې يې له هنري يا ژب- ښکلاييز پلوه د اوسني پښتو شعر او شاعرانو د ارزونې، پرتلنې او بيا ډلبندۍ لپاره ښه ترا پر کار واچولای شي:

- ښاغلی ښاغلی لکه ستوري د سپوږمۍ له جامه څاڅم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرخه پرخه پر ګلونو د اسمان له بامه څاڅم
د څو تنو پرهرژلو وینه نه یم چې تویېږم
د زخمي زخمي ماحول له اندام اندامه څاڅم...)ګلوییونه ۹۰ (،

---

- ږدمه سره ګلان د لمر په څنو کې
نه ټومبم ځوزان د لمر په څنو کې
ستا ښایست کې ورک شوم، لکه ورک چې شي
ستوري د اسمان د لمر په څنو کې...)هماغه ۹۲ (،

---

- په نمنځ سربه د مزدک سپېڅلي لمر ږدم
چې تابوت د شپې پر ولو د سحر ږدم
چې د برم د نیلي سوي مې، سوبې ښکل کړي
له ښاخ څکه به د میني تاج پر سر ږدم...) د مرجانونو څانګې۲۵ (،

---

- دریغه، که د لمر د الماسونو څانګې ماتې شي
سم به ورسره د سهارونو څانګې ماتې شي
خدای مکړه، د شپې د بوږنوړو تورتمو په لاس
نورې د سپېدو د سپېدارونو څانګې ماتې شي... )هماغه ۲۳(،

---

- له وربښمینو کرشمو دې، د وفا خیالونه اوبم
له مالګینو مکېزونو، همدا ستا خیالونه اوبم
چې ورمې دې زیریګرې شي د ګلبدن د عطرو
له ښکالو دې د راتللو، د ښکلا خیالونه اوبم... )هماغه ۲۷(،

---

- واورین فصل یې په رګو کې پرنده کړې د ژوند وینه
لا مې پاتې ده کیسه، د اور و وینو په کابل کې...
د تعمید غسل مې میني ته، د زړه په وینه ورکړ
دا چې کړې مې دوه ارمانه، غځوني په غزل کې)هماغه ۸۱(،

---

- که مې توی د ورځې وینې، شوې په کومې د ماښام کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه مې څاڅي لکه شمه، د سپېدو سهار په جام کې
څه خوږې خوږې شپېې مې، شوې د مینې شهیدانې
دا د چا قاتل په لاس مې، ورک اغاز شو په انجام کې...)هماغه ۴۵-۴۲ (،

- - -

- - -

- چې مې بلهارو وینو نه کړ نن سبا مخسوری
دا یې له سرو د مرجانونو بهیرونه ترهې
د ښکلا ښار مې د اور وینو په کفن کې نغښتی
نن مې د مینې له غزل که گلوییونه ترهې...)ساندې او سندرې ۲۲ (،

- - -

- پرېږده چې هېلمند مې تر هامون د سیستان ورسي
زیم ته مې ریښې د جلوهلې بیابان ورسي
زېږی د زرغا د خوبولو وچو غوږگو مې
بیا هم تر پیلغوږې شین څادرې اسمان ورسي
دښتې دښتې کړیکې او دا غرونه غرونه کوکې به
هرگوره، دربار ته د زرتشت سپین تومان ورسي... )ناچاپ (،

- - -

درته د سرو سترگو توخمونه کرم
د ناز په پښو کې دې گلونه کرم
په رنوبیو کې د ماتو اینو
د چوپتیا زړه کې توپانونه کرم... )ناچاپ (؛

.نو که تر هرڅه له مخه یو ازې د ))هنري ارمان (( له گوتپېره وکتل شي، بیا نو رحمت شاه سایل په دې لاندې شاهکار سره تر ټولو تبرمهالو او وسمهالو میدان وړی دی.که په سرچپه ډول، د ))ټولنیزارمان (( له اړخه وڅېرل شي، دا باور راپخوي چې له آره یې د یوه ژمن شاعر په توگه غوښتي دي، یو پیغام تر دې بریده ښکلی او سینگار کاندې او په همداسې شاعرانه کوډو یې په وروستۍ کړۍکې راونغاړې:
چې په خندا ورته د خوږ زړه پرهارونه نه شي
چېرې دې هم ستا د ښایست غوټۍ گلونه نه شي
وړې مې د روح جنازه چېرې د خندا پر اوږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وينو سره دې چې شينكي شينكي خالونه نه شي
د نظر غشي مې پر زړه باندې په پام وروه
چېرې زخمي پكې دا ستا نازک يادونه نه شي
ويده دنيا يه د سايل قلمه مه لړزوه،
د فريادي اوښكو مات ستوري تندرونه نه شي !
)د ن. تكل په مرسته ( ؛

- - -

- څه ښكلی سوداګر دی، څومره ښكلي باران پلوري
يو آس د سپينو وريځو ،دی د وريځو ګلان پلوري
د ستورو په تېښو يې، جوړې كړې ورته څنې
نن دلته په دې چم كې، يو كافر دی بوتان پلوري...
)ننګيال، سمسور اوبپانه ( ،

- - -

- يو باد را لګېدلی، ما له ځانه سره وړي
د زړه آس مې له باره د ارمانه سره وړي
د شپو پر اوښ يرغل دی، زمونږ كلي ته راغلی
ګلونه او باغونه، له باغوانه سره وړي...
)ننګيال، لېمه اوومه ګڼه ( ؛

- - -

- د غوږو كچكول مې واچوه پر غاړه،
درسته ورځ مې كړله تېره پر ولاړه...
ماوېل خير به پكې ترنګ د رباب راوړم،
چا ويل كېږه د رباب خو پرون ولاړه !)محمد آصف صميم ( ؛

- - -

- جوړ د سهارونو مو پرهر نه دی
لمر د وينو ژی دی، لا خو لمر نه دی
اوښكې مو ولې ولې رواني دي
پېغلو منګي مه راوړئ ګودر نه دی...)كاروان، چنار خبرې كوي ۷۵ ( ،

- - -

- نظر يې لوند په اوښكو لاس يوسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه له غره نه مې الماس یوسي
عشق راته رام کړ د شعرونو سیمرغ
له اسمانونو نه مې پاس یوسي... )کاروان، هماغه ۲۴۳ (؛

- - -

- ترهغې به راته ګورې ، په شرنګا کې به دې ساتم
دا یو خبر پر یاد لره، زنځیره چې رالوېږې
لړوار وکړه د خپل بابا ، شلخې درنه راکوز کړم
بیا خیر زموږ د ړنګې، کوټې تیره چې رالوېږې
د اوښکو پر لار راشه، چې ګوګل کې دې خپل ځای کړم
له سترګو د خوارې جانان، تصویره چې رالوېږې
موږ خپله رڼا ورځې، دې کوځو کې په تیندک ځو
نو خیر دی پکې وخت، ناوخت فقیره چې رالوېږې
پردې پردې سرونه، دې شینکې لمن کې ګرځې،
همدغه ورځې شپې دې، یه پامیره چې رالوېږې !
)اجمل اند ، ځیوکې انځورونه (؛

- - -

اند ښنښه د یوې ونې پر سر نشته
اند ښنښه د یوه باغ د رژېدو ده
که یوه چینه ړنده شي باک یې نشته
د تمام کلي ویاله پر وچېدو ده.
)کاوون توفاني، د باد په کنډوالو کې ۸۲ (؛

- - -

- کله نا کله چې سپرلی زموږ پر چم راشي
ځری د سپینو هېږو شاته پسې سم راشي
د تور رانځې په سندرو به مې سامینځله
اوس سهارونه تته ژبه پر تورتم راشي...
)پیوند ، لېمه ۱۰ ګڼه (؛

- - -

- یو غمی د سیند په تل کې رانه ورک شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهېږم په څه چل کې رانه ورک شو
اننګو کې دې زما د کتو فصل
ټوکېدلې وو ، په ګل کې رانه ورک شو...)علم ګل سحر ، پاس سپوږمۍ (؛

- - -

- ډېوه ګۍ مو د فکرونو دې څلاندې
نوی نسل يو ، لړو ارادې تاندې
موږ برجونه د وحشت د کلا مات کړل
موږ پوره کړې د شيطان د مرګې ساندې...)اکبر ، د ګوتو خاپې ۳۷ (؛

- - -

- د غوټۍ وينې پرتې دي پر ګلونو
اوښکې توی کړې پرې د پېغلو وربلونو
ډېرې مينې ارمانونه خاورې کړي
دي بدرنګو او ترخو ترخو کلونو...)زېړه سواند (،

- - -

موږ خو لارې ورته څارو ، پېغلې بيا ورته رانغلې
مات بنګړي او مات منګي ترې، پر ګودر دي پاتې شوي
خدايزده کومې ښاپېرۍ به، په پلو کې وي وروړې
د کابل د اوښکو څاڅکي، پر خيبر دي پاتې شوي
)زېړه سواند ، وينې پر ګلاب وينې؟ ۸۹ (؛

- - -

- راځې کارغان سُر د غزل مې په چغار وژني
په شاعر زړه کې مې نغمه نغمه بهار وژني
پر موږ يې نه لورېږي شونډې د ښکلا چې ګل شي
رقيب تورمخی د ښايست د خندا وار وژني...)سيد اسد اله اسد (؛

- - -

- هېنداره د يادګار مې ماتېده چې ته راتلې
له شنه اسمان ږلۍ راورېده چې ته راتلې
د ستورو په کاروان کې چې ناڅاپه منځته راغلې
- که څوک نه وايي، که وايي
حقيقت به بر ملا يي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه چا مسلمان کړی
چې اوس مورِ ته اسلام ښايي
دا چې اوسي په وجود کې
دا زمورِ په متو پايي...)مجيد قرار، لېمه۱۲گڼه(؛
- د گل درو موسم ته وايه چې په تور تمبو کې
د پښتونخوا د غرونو زرکې، انتظار کوي
څوک شته چې دا پيغام ،د امن تر سفيره يوسي
په وينو سرې خولې ماشومان، درته ازار کوي)اکبر سيال(؛

- - -

- له مورِ بېوسو نه د عمر منزلونه تښتي
څه ټوکه شوې چې له هر يوه نه پلونه تښتي
د نازنين خوب انځورونه د کابل له شپو نه
لکه د پېغلې له کمځو نه سره گلونه تښتي)لال پاچا ازمون(،

- - -

- دا سرينده ترې ښکارېږي، خپله ټنډه ژاړي
بې بندوباره سيند ته گوري، خپله ونډه ژاړي
ستونی يې لوند په نغمو نه کړ، يکه زار هم چېرې
د دېوال سيورې ته له نورونه، پرڅنډه ژاړي...
) هماغه، څنگه دې هېره کړمه ۲(؛

- - -

- له اسوېلو سره مې لوبې کوم
د زړه زخمونو سره مې لوبې کوم
په ماتو ماتو سپينو اوښکو اشنا
وړو سلگو سره مې لوبې کوم...)نظيف تکل، شبنم پر پاڼه ۳ (؛

- - -

- روح کې مې ناڅې يو غزل چايې ښکالو وړې ده
گوندې اشنا مې رخه بيا په ترانو وړې ده
که مې رښتيا شول د کوثر د فوارو خوبونه
د کوم سراب هيلې مې تنده په اسرو وړې ده...
)سعدالله ميوند، د ساهو ياد ۹۳ (؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بيا د اجل غشی له کمان نه وتی
لکه))ننګيال (( زړه له))امان(( نه وتی
بدی ته هومره چمتو شوی مرګی
څومره چې ژوند نن له احسان نه وتی...)برکت اله کمين،هماغه۸۲(؛

- - -

- د ښايست د پسرلي له شنه بهيره
د نرګسو د ګلابو جنازې ځي
ميکدې، هنر کدې يې ړنګې ښنګې
د شاعر او د شرابو جنازې ځي...)عبدالله پيکار، هماغه ۳۷(؛

- - -

- څو منزل مو د سيلۍ په وزرو تلل وي
تيندکونو سره مل به سربښندل وي
دا وربښمينه غېږه د يار اغيار نشتر کړي
راته څوبه د ګلځانګو ماتېدل وي...)ظفر اهتمام، هماغه ۱۱۸(؛

- - -

- د ګلاب ښار ته مې پر سردې د لمبو پګړۍ
وخت يې له سر نه کوزې کړې د ورېمو پګړۍ
غېږه وکړې د لمبو غېږې ته هرې کوڅې
د هر کنډر پر دېوال تاو دې د لوګو پګړۍ...)عارف خزان،لېمه ۷ګڼه(؛

- - -

-...چاړه پر لاس چې له غوسې نه توروشين ګرځمه
زه د رقيب پر شونډو ژبې ته ښېرې لټوم
تورمانه ستا د پښتنو پر بڼ يې اور پورې کړ
څو ستا غزل يم چې مړ نه يم لا ايرې لټوم)اجمل تورمان، شمشاد ۱/۵ګڼه(؛

- - -

دربغه چې دا ستا د اننګو خوله هم زه وای
پرخې ته چې ګورم، د ګلونو پر سرونو
مات پر ما نظر کړه چې سپېر سترګې هک اريان شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دود مې کړه د خپلو محلونو پر سرونو...)خاطر اپريدی(

-یو خاموش پیغام مې مات کړل
د اوږدو خیالو لاړونه
تر غوږونو یې را تېر کړل
څو اشنا غوندې ږغونه
خوبولې سترګې موږم
یو نغمه مې تر غوږ کېږي
په رګو کې وینې ناځي
د زړه مراندې مې شرنګېږي...باري، جهاني، لېمه ۷ ګڼه(؛
- - -
-لاس مې نه رسي د هیلو ګرېوانه ته
د جګ شاخ مېوه مې تور مردار کارغان خوري
)نجیبه سارا بیاباني جونګړه۲۲(،
- - -
تا چې زما پر لاره د قدم لمنه ونیوه
مام په پاکه مینه ستا صنم لمنه ونیوه
اوس دې چې دا مړې هیلې ژوندی په تلوسو کړلې
تېرو خاطرو ته مې د زغم لمنه ونیوه...)هماغه۱۲۱(؛
- - -
- چې په ګوګل کې مې رازونه ژاړي
د نم پرځای سترګې رودونه ژاړي
دغه ناسور ګوزار د تورې نه دی
زما پر زړه د خولې زخمونه ژاړي...)صفیه صدیقي، نالوستی کتاب ۵۲(؛
- - -
-...شپې د ارام نرم لاس
پر هر یو سر راکښلی
د ورځې شور و غوغا
پر چوپتیا ځان سپارلی...
***

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د اسمان ماشومان
دغه ځیر سترګي ستوري
شرم و حیا نه لري
موږ ته بیا هم راګوري)اکبر بری، مساپر،۱۲۱-۱۲۵(؛

- - -

- ماښامه پوري شپه ده، تر سهاره پوري شپه ده
دا نن زموږ له کلي نه، تر ښاره پوري شپه ده
د مینې د سندرو، یوه بله نغمه مړه شوه
د ویر د غمرازۍ مو تر ستاره پوري شپه ده...)داود وفا، لېمه دربېمه ګڼه(؛

- - -

- ولاړم تېپه شومه د طور له سره
زه د موسی له زړه نه ووتمه
رسا مې ستا په زړه کې ځای ونیوه
چې د دنیا له زړه نه ووتمه)حبیب نثار، ځانګې ځانګې ارغوان(؛

- - -

- راځه والوځو جوړه د اسمانونو غېږ ته
د ستورو پړک ته د سپوږمۍ د ماښامونو غېږ ته
د مینې بڼ ته به کړو ستوري په لمن کې راټول
ورنه به جوړ کاندو امېل د ګرېوانونو غېږ ته...
)رحیمه پښتونجار، سمسور اوبیانه(؛

- - -

- چې یې خیال وو پاس له هسکه د لمر سیوری شو
چې پالل یې سپین ستوري اخر ستوری شو
چې په مینه مهذب وو، چې د ګلو پر مذهب وو
هر ګل پرخه پرخه خپور د ګل همزولی شو)وهاب بریال، هماغه۲۸۲(؛

- - -

- ستا د راتلو په انتظار یمه لا
د خیال خوبونه مې شړلي نه دي
ما د بنهو د انتظار ګردونه
په ترمو اوښکو لا مینځلي نه دي)ذبیح اله حسن، بهیر، دوتنه(؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



- - -

- ترنگ به شم د ))سور (( او د ))تارو (( مراندې به ونيسم
زه هغه غزل يم چې د زړو مراندې به ونيسم
ځو که مې اشنا ستا د بڼو رقيبان پرې نه ږدي
باد به شمه باد ، ستا د کوڅو مراندې به ونيسم...
)ببرک مياخېل، هيله ۹ گڼه(؛

- - -

- ستا د ستم کيسې کومه ځمه
خاورې پر سرباندې شيندمه ځمه
د زړه په شاړو کروند کې اشنا
د عشق داني هسې کرمه ځمه...)قسيم ابرون، هماغه(؛

- - -

- لکه يو ستوری له اسمان پرېوتم
جانانه غېږ کې دې ارزان پرېوتم
لکه شبنم د سرو گلونو پر سر
اوښکه پر سر د هر گرېوان پرېوتم...)نغمه، هماغه(؛

- - -

- د مينې لاروی يمه، صنم ته مې وربولي
دا داسې بتکده ده، چې حرم ته مې وربولي
دا زړه راسره رخه، لرې ځکه خو يارانو
چې چېرته مينه نه وي، هغه چم ته مې وربولي...)بازمحمد عابد ، هماغه(؛

- - -

- گردجن به څنگه شي رخسار د نظر
موږه په اوښکو مينځو لار د نظر
د عشق د خدای عذاب کې راغلي اخر
شېخه چې ودې ويشته ښار د نظر...)صديق بدر ، هماغه(؛

- - -

- راشه چې اشنا غزل دې کړم، تپه دې کړم
راشه د وختونو د سپرلي خوږه وږمه دې کړم
راشه، د سپوږمۍ له پلوشو درته امېل جوړ کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه چې د حسن د ښکلا بله ډیوه دې کړم...
)امان الله نصرت، هیله ۱۱گڼه(؛

- - -

- د شب پرستو )شپې پالو ( سپکاوی په سهارونو کوو
موږ د منصور مریان مینه په دارونو کوو
بیا به خرخ شوی یوسف بیرته خپل کنعان ته راشي
بیا ترې تعبیر به د وحشي وحشي خوبونو کوو...)خانزمان کاکړ، هماغه(؛

- - -

- د ژوند په رنګینو کې، د ښکلا په اینه کې
بند کړی په جادو یمه، یوچا په اینه کې
د مینې روایته، دې نه نور به لا څه سپک شي
مین درته هم ګوري، د دنیا په اینه کې...)عبدالهادي حیران، ښکلا۲۱ګڼه(؛

- - -

- ستا دمخ ډیوه چا پو کړه چې ماښام شو
ستورو وژړل دا لمر ولې بدنام شو
د سرو وینو پر لار راغلم ستا درشل ته
چې پر پلونو مې راشین دا لاله فام شو...)کریمه رسولي، هیله، ۸ ګڼه(؛

- - -

- دلته د ګلو ښایست هم، په بدرنګیو اخلي
دلته همېش پسرلي هم ، په بیرته تللو ستایي
دلته په زړو کې تش کینه ده، مینه نه ښکاریږي
دلته له ورایه یو او بل په بدو کړلو ستایي... )مینه صابر وردګ(؛

-- -

- د ښکلا هسک نه شه رابر جانانه
پر ما را وغوړېږه لمر جانانه
زما د ذهن او د خیال پر پانه
د انځورګر زړګي منظر جانانه... )منقاد رودوال، هیله، ۴ ګڼه(

- - -

- د ژوند مړاوې سندره مې رباب کې راولم
د وینو شپو کیسه د عشق کتاب کې راولم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سر به ! مات شوی، خو ټیټ شوی چا ته نه دی
خو تا ته يې پېنځه وخته محراب کې راولم...)اسمعیل یون، هیله ۱ګڼه (؛

---

- پیاله د وصل و مونده لېوني
څیرې د راز کړله پرده لېوني
عشقه تنها پر تا يې راوړ ايمان
بل چا ته نه شول پر سجده لېوني...)محمد حسن حقیار هماغه (؛

---

- چې له نازه به کړې وې د تنکو ګلونو څانګې
په نڅا ورته راتللې به د لمر زرينې وړانګې
د سهر نسيم په مينه په ورو ورو به تخنولې
بلبلانو په سندرو ترانو راپاڅولې...)ګل مکۍ بازید خېل، لېمه ۳ ګڼه (؛

---

ته مې وروستۍ هیله شه، مینه مې شه
پر زړه رانڼوځه، وینه مې شه
یا مې د ستورو ټال کې و زنګوه
یا ژوند ته شپه جوړه کړه، مړینه مې شه)محب سپین غر، هماغه (؛

---

- نن خو یوه پېښه عجیبه وکړه
پاتې شه په سترګو کې مې شپه وکړه
راشه او ټول عمر پکې واړوه
خیال نه مې)دې ! ( د بیرته تلو توبه وکړه...)اجمل اتک، سمسورپاڼه (؛

---

- نن مې ښایسته جانان د سرو ګلو پېرلو ته ځي
د زړه قاتله د زړګوټو قتلولو ته ځي
خومره زما غوندې بېوسه به ورګوري او تر
د سیند څپه ده د ببوزلو قتلولو ته ځي...)عبدالهادي هادي، هماغه (؛

---

ـ زه چې تخليق شومه، پر سیند د شباب پربوتمه
په یوه څپه لکه مانۍ د حباب پربوتمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند تیارو کې یې نژدې ملګری زه ګڼلم
خو پر سهر له سترګو زه لکه خواب پرېوتمه...)مصطفی سالک، هماغه(،
- څوک بتکده ودانوي، چا جوماتونه جوړ کړه
دلته خو نشته داسې خلک، چې یې زړونه جوړ کړه
راشه چې ستورو ته مې ستا، د راتلو غږ کړی دی
ګوره هېنداري د سپوږمۍ، ته یې ځانونه جوړ کړه...)سالک، لېمه،۴ګڼه(؛

---

- ځم په ښکار پسې د زړه په باز مرغۍ رانیسم
رېلۍ وهلې، وزرماتې توتکۍ رانیسم
لکه چې تېر عمر مې بیا په واپسۍ کې راغی
) نه چې د ژوند تېر پسرلی مې بیرته بیا راغلی (
چې په اوبو کې تصویرونه)انځورونه( د سپوږمۍ رانیسم...
)نورشاه نوراني، هیله، ۱۹ ګڼه(،

---

- مه وهه ظالمه دغه ښکلي پرمخ مه وهه
دا د ګلو ځانګه نازولې پرمخ مه وهه
نه شي ټینګېدلای د دوی آه ته دا جګ غرونه هم
دا د ګل غوټۍ، دا خندېدلې پرمخ مه وهه...)قیوم مینه وال، هماغه(؛

---

- چې قاتل ته ښيي لار زموږ د کلي
ورپسې به وي ازار زموږ د کلي
د خپل کور پته پخپله ورته وايي
دا ساده ساده هوښیار زموږ د کلي...)هیواد شېرزاد، روزګان،۲۲/۲۱ګڼه(؛

---

- چې سره غرمه شي، له ګرېوان سره سندرې وایم
لکه ساده ماشوم، له ځان سره سندرې وایم
ستورې لاسونه پړکوي، سپوږمۍ ګډېږي ورته
زه چې شپېلۍ کې، له جانان سره سندرې وایم...
)صالح محمد صالح، هماغه(؛

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د خیال وزرې مې کمکي اند ته پرواز ورکوي
هم مې معصوم زړګی د چا زړه ته اواز ورکوي
درخو په لاسو کې څونډې ورته د مینې راوړ
څکه ادم چې نن رباب ته نوی ساز ورکوي...)ذبیح احساس، هماغه( ؛

- - -

- یو زړه دی غمجن شوی، په ګوګل کې ایسار شوی
د تېښتې لار یې نشته، په مورچل کې ایسار شوی
د سرو شونډو خوناب نه یې، پیاله کړه خپله ډکه
رندانو سره مست شو ،په محفل کې ایسار شوی...
)نفیسه مالیار کوچۍ،سمسور( ؛

- - -

- ښادي سخته، غم اسانه کور ته راشي
بې بلنې، بې پرسانه کورته راشي
په ورتلو راتلو یې ستړی کړم، خو ولې
ریبار تش لاس، پښېمانه کورته راشي...)افضل ټکور، لېمه۴ ګڼه( ؛

- - -

- نه سر د ټیټېدو لرم، نه ژبه د زاریو
جنون ټکورو مه، په اورونو د خولګیو...
نښتې دي، بې ارزې دي،دیدنۍ دي، نامېندې دي
پر سر را سره دورمې، لکه چتر د ږلیو...)معصوم هوتک، لېمه ۸ ګڼه( ؛

- - -

- خدایزده چې کوم تشویش اخېستې به وه
راغله موسکۍ شوه لاس یې وغځاوه
زما د ذهن پر رڼه هېنداره
تار د تېره الماس یې وغځاوه...)شرر ساپی، ښکلا ۲۹ ګڼه( ؛

- - -

د شب پرستو )ماښامپالو ( سپکاوی په سهارونو کوو
موږ د منصور مریدان)پلیوني ( مینه د دارونو کوو
بیابه خرڅ شوی یوسف بیرته خپل کنعان ته راشي
بیا ترې تعبیر به د وحشي وحشي خوبونو کوو...)هماغه اخځ( ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

- ساقي د)ا (ستا د مرحمت لپاره
ځارو قسمت د خپلو زړو لاره کې
په خپل همت به يې زرغون کړي ګانده
کاروان روان د غرو ميرو لاره کې...)ابراهيم همکار، رڼا۴ګڼه(؛

دا هم زموږ د هندي- پارسي غزل د اوسني مخکښ پاتوړي استاد صديق پسرلي يو دوې بېلګې:
- د مجهول پړاو پر لورمو، هر نفس اخلي ګامونه
د سېلاب پر اوږو باندې، خار و خس اخلي ګامونه
نه پر ويښه څه ارام شته، نه په خوب کې څه هوسا شو
په هوس اخلو ګامونه، که هوس اخلي ګامونه...)د نی کوڅه(؛

---

- زما په ماته خوله کې چې ماني و هڅېدې
د حسن په لېموکې بهانې و هڅېدې
پرچا به لمر ختلی وي، پرچا به شي ماښام
که بيا راستنېدونکې زمانې و هڅېدې...)هماغه(.

په ازادو بېلګو کې
ورک شه
ورک شه
يه خزانه،
دا تک زېړ زبېښلی مخ دې...
ما په تبر کې
پر تا بايلل
سره او سپين و شنه زرغون پسرلي واړه!
)اند و ژوند ۳۳-۳۴(؛

- ستا پر سرو شونډو مې
پرتم د سورکو وينو ناځي
او دا زما ژيړو زبېښلو ولولو لره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سترېڼ مېنې
د نوو نوو تکلونو ترانې اوروي !

- - -

- ستا مرمرين لاسونه
دوې اسماني پرښتې
زما د اندوژوند د ذهن پر اوږو تل ناستې
او را ليکي زما د مينې برخليک !

- - -

- ستا ښايسته ښکلي پلونه
د ناز خرام انځورگر،
زما د يون بدرگه
او د لمر ښار لره زما د رسېدلو شعر !

- - -

- ما ستا د لمرمخ د ليدو په اسره
د گومان تورې وريځې وخيرلې
په الماسي تېزو شتيو د باور د بريښنا !
)رزم و بزم ۸۹-۱۳۲( ؛

- - -

- کاشکې خوب شوای
چې مې ځای لکه رانجه شوای
ستاد سترگو په ککو کې !
)اند و واند ( ؛
- ته تيره تيره
سراسر غلې غليا ،
زه تږی تږی
ستا د تيږې تيږې غږ
د اوچتيا هغسې !
)هماغه۲۰۰ ( ؛

- - -

- که د انځرو ونه گل ونيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به مې سترګې باغ کې وکرمه
او تر سبا پورې به
د ورېمې لار وڅارم،
او دا ټوټې،
ټوټې،
ټوټې،
زړه به مې
د شنې ورېمې پر لاره،
پانې،
پانې،
وشیندمه...
)کاوون، د باد په کنډوالو کې۱۴۰(؛

- - -

- بارانه وورېږه،
وورېږه
چې سارايي ګلونه
د وچکالۍ څپېړو و رېږول
او د غوټېو شونډې
د سرو تڼاکو په څولیو کې ټالونه وهي
)ننګیال، هغه شپې، هغه کلونه(،

- - -

- نیمه شپه ده، نیمه شپه ده
د سپوږمۍ څانګوته ناست یم
یو څو سیوري راته ناڅي
لکه ډمې عربانې.
د جنت پیالې یې راوړې
څه وربښمینې پرښتې دي؟
رانه اخلي تاج د عقل
د جنون جوغه یې راکړه...
اوس د زړه پر پاڼو لیکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د دوه سترګو غزلې
لکه خداى چې مينه ليک کړه
دا د حورو په لاسونو. ) ننګيال، جنوري۱۹۹۱ ( ؛

- - -

- زمورږ په خړو کروندو کې
د اورونو سرې ولې بهېږي.
مورږ هم په ليو ليو ،
دا سرې سکروټې جام پر سر اړوو.
د خپلو وچو شپېو ،
د کلو تندې ته پر اور باندې اوبه ورکوو ،

-...-

د جنتونو شنو فصلونو ،
زمورږ د کلي له باغونو سره،
لا له پخوانه مخه ښه کړې ده !
)فاروق فردا ، لېمه ٦ ګڼه ( ،

- - -

- هلته د غره شمله کې مينه شنه شوه
او يوه څانګه يې قامت شوه د ))چا ( (
)او يوه څانګه يې شوه ونه د چا (
))چا ( ( ورته ګام پورته کړ
خداى خبر څوک وو ، مګر
ماته يې سيورى د شاعر ښکاره شو.
)غفور لېوال، لېمه، اوومه ګڼه ( ؛

- - -

- دا خپل بد راته د چا له ښو نه ښه دي
که مري مرمه
بريښنوي مې د زړه مراندې
په دردونو يې درد ېرم )پيوند ، د سپنما يارا ن ۹۹ ( ،

- - -

- د نامردو د خبرو ځواب کړاى شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو:
د ځواب توري شرمېږي په ځواب )هماغه۱۱۲ (؛
- - -
-زه لا پرخپلو اوږو بار وم
هېڅ امام مې نه وو
چې جنازه مې وکړي،
خو د نړۍ د تقدیرونو پاچا
زما په برخه کې بیا ژوند ولیکه
هوګې، خرپۍ د کوم ملنګ د پاکو پلونو راغی
او د غنمو دوه درې وږي یې
د نور په ګوتو،
زما سپېرو شونډو کې ورو وتومبل
ماته یې ژوند وباښه
او زه بیا ببرته))زه ( ( شوم)حکمت مالیار، هیله، ۱۹ ګنه (؛
- - -
-د تقدس لمر ته
تود شومه، لږ وغوړېدم
نو ما
ایمان ترې وغوښت
وې یې
زما غوندې یو لمر شه او )خپل ( ځان وسوځه
چې د ابهام په دښت کې
توره شپه رڼا غواړي
ما وې زه ستړی یم،
ببو سه یم، وبرېږمه
د سولې په چم،
ماته یو کور راکړه ببکوره یمه !
وې ویې، د مینې ښارته کډه وکړه !
ما وې هغه چېرته دی لار راښیه !
وې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرېوان خيرې او ځان بربنډ کړه،
بيا په خپل پوست کې پټ شه
د مور)د ( رحم ماشومه !
يوه ښايسته رويا ده.)امان الله ساهو ، د ساهو ياد ۱۷۰-۱۷۱ (؛

- - -

- ستا د يونليک
آ نا تمامه کيسه
لکه بسمل مره نيمژواندې پاتې؛
ستا د ارمان ارمان ژوندون
د امېدونو غوټۍ
لکه د تت اسمان سپېدوکي
لا لهاندې پاتې...)لطف الله مشعل، هماغه ۱۰۵ (؛

- - -

- يو تصور وو ،
يو خيال وو ، د خوب ليده وه
چې تېر شول پر وختونو مهالونو...
را به نه شي بيا هغسې ښه وختونه،
ستر خيالونه...)قادر انډيوال، هماغه ۹۱ (؛

- - -

- ته هلته يې،
که زه لاس وخوځوم، که يې ونه خوځوم.
لکه وږمه هسې پر پلې لاره
لکه سپېدار باندې چا نوم ليکلی
لکه په خوب کې څوک پر ستوري مين...بېکسيار ، هماغه ۳۷ (؛

- - -

- ما مې دا خپله هيله
ستاد کمخو پر څوکو
هسې ليدلې اشنا
چې توري شپې ته پر سر
د لمر له کوره ځني

(c) ketabton.com: The Digital Library



شغلي د نور لټوي...)ن.تکل، هماغه ۵۲ (؛

- - -

-زه یې په زور له میکدې وا یستم
او ته پخپله خوښه
له هغه ښکلي کعبې بېرته راغلې
)له هغه ښکلي کوره بیرته راغلې... (
نو
زاهده وو ایه اوس
)نو، ته اوس وو ایه زاهده راته، (
زما او ستا مینه کې څومره فرق دی؟)ع. سحر، پاس سپوږمۍ ۱۳ (؛

- - -

-چا کابل لوټ کړ یاره
چا جلال)ا (باد تالاکړ
زما د زړه بازار لا تاته
غوربدلی پروت دی)رحمت شاه سایل،ژوندون، جون ۹۷ (؛

- - -

ماته ستر کابل په ژوبله ژوبله ژبه
وویل:
زه د خپل ولس، خپلو بچو له لاسه خواریم.)صابر هماغه (؛

- - -

-ستا د موسکا د ښاپېرۍ
وربښمین لاسونه مې
پر زړه پرېوتل،
داسې پرې ولګېدل
لکه ملهم چې د کابل د یتیم،
پر زخم وو هې
او ورغېږې !)طاهر کانې، سمسورپانه (؛

- - -

-که راته وبخښې ټول ستوري
د لمرو په شانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او او به راکړې د سپوږمۍ د چینو
جامې مې جوړې کړې د حرید) ! ( او شبنم...
زه به دې ټولو باندې څه وکړمه
زه به دې ټولو ته تفسیر څنګه شم
د دغو ټولو د بلوغ حسن به څوک وستایي
زما دهستۍ زما د ښایست بها)بیه ( به څوک وټاکي؟
زما خاوند ، زما مېړه، زما )بې ( تفسیره حسن
بېګا د بل چا پر پالنګ ختلی
و ماته نه راګوري
ځکه هغه دویم واده کړی دی !)پروین ملال، ښکلا ، شلمه ګڼه ( ؛

- - -

-وطن مې لکه د وینو غوټۍ
لکه د اوښکو څپه
لکه له شونډو پرشاشوې موسکا
لکه له زړه نه راوتلې سلګۍ
د ویر پر پاڼه باندې ونړېده.)حنیف بکتاش ( ؛

- - -

- - چې منګولې مې جانانه !
ستا پر سرو منګولو کېښووې
سره ګلاب مې
په لاسونو کې
راشنه شول )نور محمد لاهو ، هیله، ۱۱ګڼه ( ؛

- - -

-...یه د سپوږمۍ د یخو یخو پلوشو څښتنه
زما روان راوینښ کړه !
هغه رومان چې وېروونکې فلسفې و مینځې،
دغه رومان مې د وطن د ښار یو شپول کړه،
چې د اسختچاري دښمنان مې د ښارونو ګلالې وګړې
له خپلو ځانګو نه نور نه شوکوي؛
- غواړې چې ماهېره کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به دې هېره شمه ! !؟
نو ته به خپل زړه ته
څه ووایې
دروغ..؟
نه باور نه کوم
ته دروغجن نه یې !)فریده هوډ ، هیله، ۱گڼه( ؛

- - -

- د سبا نسیم یې غوږ ته زېری راوړ
چې به بیا غوټۍ گل کېږي
انتظار نو ختم شوی
پر چمن به خوشبویي شي
شنې غوټۍ به سره گلان شي
چې په هیلو د سباوي
ها چې ژوند ته هوسېږي)خالد بارگامی، لېمه، ۱۰ گڼه( ؛

- - -

- ... سر تر پښو یو اسوېلی یم
اوښکې اوښکې یم دردونه
خوشالۍ له ما نه تښتي !
ټول گوگل مې هدیره شو
درست غمونه پکې ښخ دي
زما دا هیلې پسې ژاړي
زه به دومره ورته وایم:
چپ شئ !
چپ شئ ژړا بس کړئ !
مات تقدیر سره به څه کړو ؟)عزیزه صدیقي، هماغه( ؛

- - -

- ستا د واده سندره
زما په زړه کې نیمه خوا پاتې شوه
د خنداگانو اداگانو او خوښیو ډالۍ
زما له سترگونه د اوښکو په نوم وڅڅېدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې ما به شمېرل ستا د ښادۍ ګلونه...)صفیه، هماغه ۴۸ (؛

- - -

- - -

- دا خپل دروغجن باور په کاڼو ولم،
لکه حاجي چې
په مکه کې د شیطان ښېره
په کاڼو ولي !)عارف خزان، لېمه، ۸ګڼه (؛

- - -

- شین سهر وو غوړېدلی
د لمر سترګه په اسمان کې
د جانان د مخ په شاني ځلېدله... نجیب اله وصال)هماغه (؛

- - -

- لکه د خوړ پر تیږو
او یا د کاڼو پر کور
چې نابېره سېلابونه راشي
ستا د یادونو توپاني ښپو پر ما هم
زلزله راوسته،
او ستا د مینې په سوداکې اشنا،
لکه یاغي غرڅنی
د بوټو منځ کې مې بې سده غوندې لار وهله
او د طبیعت پر یوه پاکه غونډۍ
د شنه اسمان له لاندې،
د ملنګانو په څېر
مخ پر قبله پرېوتم.)درمحمد خپلواک، لېمه ۱۲ګڼه (؛

- - -

- زما ځواني، خواږه خواږه مې د ځوانۍ خوبونه
هېڅ تعبیر نه کړه،
خو د جنګ په سوځنده لمبو کې وسول
زما ویده خیالونه
بس را ونه تخنېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې روحه پاتې شول،
ويده پاتې شول ! !؟)صفيه، د ټولګې پر دوتنه (؛

- - -

او په پای يوه داسې ازاده بېلګه چې د وسمهالي پرمختللي شعر سېمبولونه رانغاړي:
- بيا د وړانګو پر آس سپور
او د نور نېزه په لاس کې
د لمر اتل رادانګي و ميدان د معرکې ته
ښخوي د نېزې څوکه
بيا د شپې په تور ټټر کې
ورڅوي ډبرين زړه د ترږميو
رڼګوي د کوهوس د تورو لوبو
توري خونې
جوړوي د مينې غرونه
له زرينو پلوشونه
دروي د يار پر کلي
روڼ بيرغ د رڼو هيلو.)خليل مخلص، هيله ۱۹ ګڼه (؛

- - -

- زه مين وم، زه عشق وم
زه مين يم، زه عاشق يم
له کوم وخته چې زه پوه شوم
پر دا خپلو جوړه لاسو
د هر يوه په توپيرونو
له هغې شېبې تر اوسه
ما دي ډېرې مينې کړې...)عزت الله پېژاند ، هماغه (؛

- - -

- ما د رنځور لالي پرهر ته نذرانه کړئ خلکو ،
لوګی لوګی مې کړئ،
د سپېلنو په شانې !
بيا نو لاسونه جګ کړئ،
خدای ته زاري وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پرهرونو ته يې
بيرته شفاور کړي !
په ژړا سرو سترګو ته يې
بيرته خندا ورکړي...
ما نذرانه کړئ ورته،
ما نذرانه کړئ ورته !)هارون ګران، شمشاد ۲-۱/۲ ګڼه( ؛

- - -

ژوند د ))ژوند ((لپاره ژوند دی
ژوند د ))خوند ((لپاره مرګ
بويه ژوند د عنقا سيوری
د هوس له سيوري لرې...)تاج محمد ياری، شمشاد۴/۱-ګڼه۲(.

## د سپين شعر بېلګې:

- د بېلتانه زړو دېوالونو
زما او ستا ګډ اواز
کلابند کړی دی،
نو راشه
چې په ګډه سره
دا زاړه دېوالونه
له بېخه را ونړوو
او کلابندي ماته کړو !)اند و واند ۹۲( ؛

- - -

- زه د خپل ځان مړی
په خپلو سپېرو لاسونو )باندي (نه ښخوم
په سپېرو خاورو کې
د ژوند په دې تياره قبر کې
زه د خپل د رڼاګانو
د لمرونو قتل نه کومه
يه خدايه ماته زنده ګي را ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ښکلې جانانه زنده ګي،
مستي مستي، نغمه نغمه، ټپه ټپه زنده ګي.
يه خدايه مينه راكه،
ما ته محبت راكه،
دغه احساس را
داسي قوت راكه چې
زه د لمرونو د رڼا تخمونه وشيندمه
)حبيب تاثير، لمبه، دويمه ګڼه ۲۰۰۴(؛
- - -
زما پر دې وچو او شوديارو شونډو
كلونه كېږي
د خوښۍ د زېري
باران راغلی نه دی.
د امېدو ستړې جرس مې
د زړګي دلويو غرونو منځ كې
د لويې لارې پر سر
د پسرلي تازه تازه ورېمو كاروان ته
انتظار باسي...
خو ستا د وترو وترو شونډو
پسرلی خنګه د سرو
او)د ( تازه ګلونو
د بڼ په غېږه كې تل
موسكۍ موسكۍ ښكاري ! !؟
)طاهر كانی، سمسور پاڼه(؛
- - -
- هرڅه كېدای شي، خو
دا هېڅكله نه شي كېدای چې
زه به ستايم او ته به د بل !
دا خيال دی دا محال دی،
دا حقيقت نه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا محبت نه لري...
ځکه چې مینه یو عبادت دی
او عبادت درواغ نه شي کېدای !)د پنجرې مرغۍ ۱۱۰ (؛
په پای کې هم د فرهاد پېلوځي د نیم مونډې او نیم سپین شعر یوه بېلګه:
ستا د ښکلا خبرې لیکم
درته یې د زړه په وینو
خدایږو چې ښکلې لیکم
جانانه ستا لپاره
زما د زړه زخمونه...)رڼا۴ ګڼه(.

## تلمیح)Insinuation(

تلمیح)Insinuation( چې شاعر په خپل شعر کې یوې پېښې یا کیسې ته نغوته کوي او پکې یې رانغاړي، مانا دا چې کنایه او تضمین او ان اسطوره هممهال پر کار اچوي. د تېر مهال ادبي پېر په استازۍ د ستر خوشال پر
دوو بېلګو بسنه کوو:
زمانه پر خلقو هسې ازماینت کا
چې یوسف د قبطیانو زرخرید شه)شو ()پ۳۱۰ (؛
- ده په لاس د بختِ نصر ظلم واخېست
زه د ده له لاسه بندلکه دانیال )پ۵۸۴ (؛

- - -

- د جمشېد پر زرین جام یې صبر نه کړ
څه ارمان یې د ګدای لرګین کچکول شه)واصل، وییزېرمه۱۸۲ (؛
په اوسنیو شاعرانو کې د سیف الرحمان سلیم یو شعر د یوه ښکلي تلمیح په برکت د یوه متل په
څېر ګرځېدلی ژبې لارکړې ده:
- زما زړه هم پاچا خان دی زده که ستا قیوم خاني ده؛
او د لیکوال یوه ورته سیاسي بېلګې:
- هسې یې زړه راباندې ډک دی، ته وا
فلسطیني حماس موساد ته سپاري
- لا خورا ازموې شیرینه مینه
کرور بېستون چې ما فرهاد ته سپاري ساندې او سندرې۲۳-۲۴ (؛

- - -

(c) ketabton.com: The Digital Library



لادې مجبوره شي غلام دې نه شي
پښتون، مغول دې شي، بهرام دې نه شي
کعبه د زړونو کې زموږه خدایه
په عشق چې پوه نه وي، امام دې نه شي...
)صدیق بدر، هیله، ۱۹ گڼه( ؛

- - -

تر لیکوال راوروسته علي گل پیوند له دغه هنري ځانگړتیانه تر بل هر همزولي شاعر، ډېر کار اخیستی دی. په یوه خلوریز وال او یوه ازاد شعر کې یې د انبیأسورت ۲۳ آیت ته دوه رازه نغوتې کړې، په بله وینا ، اخیسته یې ځنې کړې ده:
- چې څه کړمه زما خوښه
چې څه وایم، هغه کېږي
نه له ماکړي څوک پوښتنه
نه مې لاس پکې رپېږي... )د سپنما یاران ۵۴ ( ؛
وی خدای یو دی
دغه لمر او سپوږمۍ دواړه
چې څه ښه دي، څه نابنه دي
ټول د ده په)وشه ! ( شته دي... )هماغه۲۰ ( ؛

او داهم د لیکوال د یو لړ تلمیحاتو یوه بېلگه، چې په یوه ازاد شعرکې یې دوو غبرگو سورتونو ))زلزال(( او ))الشمس(( ته نغوتې کړې دي:
ولیدل ما په غړولو سترگو،
په دغو خپلو گناهگارو سترگو
چې هغه دنگ و پولادي برجونه،
ها نا لاسبري اسمانڅکي مانۍ...
څنگه رارژي،
اوړه اوړه او رانجه کېږي پسې،
ستوري سپوږمۍ،
د ورتو ورتو رڼو اوښکو په څېر-
د هسک له سترگو راتوییږي پسې.
د لمر هینداره ده یو مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورو لوخړو ، شنو ډېوزو ، ګردلو نغاړلي،
د ورځې نوم نور له کليزې د مهال لښلی... ترپايه )ناچاپ( ؛

- - -

- که چېرې وپوښتم چا:
پېژند ګلوي مې څه ده ،
په کوم هېواد او سيمې اړه لرم؟
دومره به ووايم چې:
هابيل مې نوم
او د ادم بچی وم،
جنتي خاوره يې دوزخ کړه پرما
او
اوس مې سوې ستې پاتې درنګه
لېږدوي چېرې پر اوږو
خپل قاتل ورور
-قابيل -
د کوم بېنوم و بې نښانه نشت اباد
د مړيستون پر لوري.)زما نړۍ ۱۰۴(.

## سېمبول )Symbol(

سېمبل يا سېمبول چې عربي اړول يې )علامت( ، پارسي)نماد ( او پښتو دا يې )پيلام ( دي، په ټوليز ډول هغه څيز يا پديده ده چې له ځان پرته د يوه بل څيز يا پديدې څرګندوی اوسي. په ژبه او ادب او بيا شعر کې هغه ويی دی چې د آرې او ټاکلې مانا پرځای يې يوه بله مانا راخپله کړې وي،لکه په اوسني شعر کې چې له ))لمر(( څخه )ازادي( مانا اخېستل کېږي، په بله وينا ، لمر راسېمبولوي. په دوديز شعر کې له ))لمر(( څخه زياتره د عيني انځورونو )تشبيه، استعارې...( په رغاونه کې کار اخېستل کېده،لکه:
مخ دې لکه لمر، د لمر غوندې يا په اړوندو ترنګونو )لمر مخې ( او ځانته د سېمبول په توګه يې د کارونګ چېرې بېلګه نيمه پيدا شي، لکه د رحمان بابا په دې شعر کې:
چې اسمان يې مخ پټ کړی په سحاب وو
خدای و ماوته ښکاره کړ هغه ))لمر(( بيا
سلېمان لايق ترې په ))انقلابي سرود(( کې بيا هم تشبيهي تولوال ترنګ )اضافي ترکيب(

(c) ketabton.com: The Digital Library



رغولی دی:
گرم شه لا گرم شه يه)د ازادۍ لمره !(.

تشبيه او استعاره دواړه انځوره که عيني وي يا ذهني، هله پر سېمبول )Symbol( اوړي چې له تشبيه نه)مشبه( لرې کړشي او )مشبه به( پاتې شي او له استعارې نه چې مستعارله هيسته شي او )مستعارمنه( پاتې شي)له استاد غضنفره په مننه(. هرگوره، دا ورانپوهاوی و نه شي چې په اوسني کره شعر کې کارېدلي او کارېدونکي سېمبولونه، يوازې له شتو انځورونو )تشبيهاتو او استعاراتو( څخه د ياد شوي))حذف(( زېږنده دي، بلکې د اړوندو شاعرانو د خپل نوښت او څه ناڅه د الهام اولاروۍ پېبره هم گڼل کېږي.

د پښتو کلاسيک پېر شعري سېمبولونو ، هم لکه د نوموړو انځورونو غوندې زياتره له پارسي هغه الهام اخېستی، لکه واخلې ))لعل(( د شونډو ، ))بادام(( يا)نرگس( د سترگو ، ))دام(( يا سنبل د زلفو د سېمبول په توگه. خو دا چې په پښتو کې يې هماغه آر انځورونه ډېرکارول شوي دي، نو هغه لومړنی راکښون نه لري. هرگوره، که کوم پښتو شاعر ورته خپله پښوييزه جوله او جامه وراغوستې وي، يو څه خوند و اغېز راخپلولای شي، د ساري په ډول يې د )لب( پرځای )شونډې(، د )چشم( پرځای )سترگې( او د )زلف( پرځای )زلفې( په پام کې نيولې وي او اړوند سېمبولونه يې ډېرگړي )لالونه، بادامونه، دامونه( کارولي وي؛ سنبل خو بې له هغې په پښتو کې يو نوړېنوم )اسم جنس( دی او ډېرگړی هم کارېدای شي.

څنگه چې له ښه مرغه په زياترو وړاندې کړو نوښتگرانه اوسنيو بېلگو کې سېمبولونه ښايسته ډېر راغلي دي، نو دغلته يې له نورو بېلگو نه تېرېږو. )د سېمبول د لازياتې پېژندگلوۍ او بېلگو لپاره: د شاه سعود ليکنه، لېمه ۹-۱۰ گڼه(

اسطوره )**Myth**(
عربي اسطوره، انگرېزي مېتخ myth چې له يوناني mathos څخه آره اخلي او مانا يې )ويې، خبره( ده. ديني پوهنغونډ )Religion Encyclopedia(
ليکي چې يوناني لوگوس logos هم په همدې مانا دی، په دې توپير چې لوگوس په استدلالي ښکالوه )بحث( کې کارول کېږي او مېتوس هغه ويی
دی چې په کيسه او روايت کې راځي. په دې توگه په کيسه او افسانه کې هر کارېدلی يا کارېدونکی ويی اسطوره بللای شو او په ښکالوه )بحث( کې ټول کارېدونکي وييونه لوگوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومولای شو. لوګوس راوروسته د )پوهنې(
په جاج په يوناني کې د –لوګي او په لاتين کې د –لوجي په بڼه کارول شوی او عربي د ))لغت((
په بڼه د )ژبې( او )کلمې( په جاج و مانا راپور کړی دی.
)د اسطورې د بڼه ترا پېژندنې لپاره: شاه سعود ، د پوهاند زيار په شعرکې مېت يا اسطوره، لېمه
۱۰ ګڼه(.
دلته د دې ټکي هېرول هم په کار نه دي چې اسطوره په يوه مهال کې سېمبول هم دی، مانا دا چې
دغلته بياهم له سېمبول، په بله وينا ، له اسطوره يي سېمبول)mythological symbol( سره مخ
کېږو؛ په همدومره توپير چې پر سېمبول باندې پوهېدل اسانه دي او دا کار د کتنې )مشاهدې(
او لوستنې اوربدنې له لارې کېدون موندلای شي، خو اسطوره يي سېمبول د پوهېدنې لپاره څه
غور و ژورتيا اړينه برېښي. د ساري په توګه بې له دې څوک پر ))اهريمن(( نه پوهېږي چې څه
راسېمبولوي او موخه مانا يې څه ده !
که له بل ګوټپېره وکتل شي، هره اسطوره او بيا اسطوره يې شعر و کيسه دننه دننه له سېمبولونو
سره کار لري، په بله وينا ، د اسطورې ژبه له آره سېمبوليکه ده. نو کله چې د اسطوره يي سېمبول
نومونه کاروو ، موخه مو په ټوله کې د هماغې ټاکلې اسطورې يو بيا ځلي سېمبولايزېشن دی.

په هره توګه، اسطوره که يو خوا د شعر په ژبنۍ سپما او کېښکلتيا کې تر سېمبول هم ډېره ونډه
اخلي، بلخوا يې د ننني هنري جولې په رنګينۍ کې لا په زړه پورې ونډه پرځای کولای شي. ځکه
زياتره يوه درسته کيسه او شأنِ نزول رانغاړي. هرګوره، ))مېتولوجي(( نومونه)اصطلاح( مو
هم چې تر نورو هنرونو يې په شعرکې د کار اخېستنې زيات ټينګار کېږي، وار له مخه سترګوته
)Myth( نېغ دروي. که نه د دې توک په ګډون ګرده هنري رغنده توکونه يا اوزار، لکه څنګه چې
پرله پسې مو راغبرګ کړل، يو مخيز د ))خيال(( زېږنده بلل کېږي او يو هم بهرنۍ رښتينې
)واقعي( هستي نه لري او په دې ډول تر ))مېتولوجۍ(( غونډېنوم لاندې راځي.

له هنر او بيا شعر سره د مېتولوجۍ نه شلېدونکې يا ))ديالکتيکي تړاو(( دا رازبادوي چې
انسان د رښتينې يا واقعي نړۍ تر څنګه له ))خيالي(( هغې سره هم اړ او تړاو لري. هغه نار
ژېدلي ارمانونه او نا خړوبېدلي هيلي او غوښتنې يې چې له وړکينې راهيسې ناځانخبرې )تحت
الشعوري( نړۍ ته چار ناچار ورتمبول شوې او زېرمه شوې، بې له دې چې پوه شي، د بڼه يې
اړباسي، د همداسې يوه خوالګر په لټه کې شي يا د چا خبره يوې ))خيالي(( نړۍ ته پنا يوسي.
نو که يو مخيز يې ورخړوب نه شي کړای، د يوه مُسکن ))دردارامي(( درمل هومره خو يې ور
سپکولای او ارامولای شي؛ استېتيکي )ذوق خړوبېدنه، يا په ساده ژبه، خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخېستنه که غریزه یې هم وي، له هماغې ناڅانخبرۍ ))زېرمې (( سره ټینګ و ترینګ تړاو لري. نېکمرغه به لا هاغه وي چې د مینه وال پرڅای یې پخپله د پنځونې ویاړ ولرلای شي. هغه چې دا یوه لار هم پسې نه اخلي، یا به یې رواني ناروغۍ ځوروي، یا به بېلارې کېږي او نور به ځوروي.

راڅو دېته چې یو شاعر هر څومره ډېره او هراړخیزه ))مېتولوجي (( راخپله کړای شي، هغومره نوښتګر پرېوځي. په دې لړکې پر بېلابېلو ذهني انځورونو او سېمبولونو سربېره ))اسطوره (( هم پوره په پام کې ونیسي. داسې هم نه چې پر دودیزو پښتني)دېو ، ښاپېری... ( او سامي )هابل و قابل، لیلا او مجنون... ( اسطورو بسیا پاتې شي، بلکې لا زیات زور پر آریایي )اګنیو، اسورا ، دېوتا... (، آریاني )اهورا ، اهریمن، میترا... ( او بیا پر نړیوالو ، لکه یوناني )زیوس، پرومېتوس، لوګوس... (، رومي )افرودیتا ، فلورا... (... هغو واچوي. ځکه دواړه لومړنۍ دا ډېرې سولېدلې او د چا خبره ګړسره د کرغېړنتیا )ابتذال ( تر بریده رسېدلې، هغه هم له ډېر لږ جولیز او مانیز ادلون بدلون سره !

لیکوال ښايي، د نوي شعر ړومبنی استازی وي چې هم یې په زړو دودیزو اسطوروکې د ادلون بدلون هڅه کړې او هم یې د دغو نورو په کارونه او دودونه کې تر ټولو زیاته ونډه پرځای کړې ده. په دغه تړاو د شاه سعود له خوا په یاده شوې لیکنه کې له اړوندو بېلګو او هم له نویو کارول شویو هغو څخه پر یو څو بسنه کوو:
لومړی له د پخوانیو نورستانیانو د خدایګوټو )ارباب الانواعو ( له څو نومونو راپیلوو چې په ))الینا (( نومي ازاد شعر راغلي دي:
یوش )د شر خدایګوټی (؛ ترسکن )د انګورو او نورو شرابو - لکه سته، خدایګوټی (؛ یمرا )پنځګر (، مرا )تر ګردو لوی پنځګرچې تراوسه پرې لوړي (؛ ګېش )د ښېګڼې خدایګوټی (؛ اندر andr )د کرکیلې او ښېرازۍ خدایګوټی ( ... )سوزونه او سازونه ۱۳۰ = ۱۳۵ (؛ او بیا ځینې )آریایي، آریاني، سامي، یوناني او رومي ( اسطورې د اړوندو بېلګو په غور چاڼ کې وړاندې کېږي:

- نوري د ایوا د اهورا د مزدک ځلي زما
د اواز سیوري اهریمن په غشو ولي زما
ما د بهمن په پاک قلم واړه له سره وکښل
چې د ازل قلم په برخه ول لیکلي زما ،
- - -

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د لمر ځرک له نارنجباغه، پر وړانګنو وزرونو
هسک د عرش مزدک پر لوي، براق وزمه والوتلې
ته که ولاړې تر معراجه د ناپای ښايست تر ستونځه
ماسره کيسې د مينې، دې لا هسې خوبولې،

- - -

- څه د مهال زليخايي ناخوالو
ښکلی يوسف کړ په تزوير زولانه
پرې ! شي پرځای د بېګناه ))حسنک ( (
کوم ګناهګار امير وزير زولانه...
)ناچاپ (،

- - -

- د منصوری مينې زباد نه دی، څه دی،
دا چې د دار پر لورې لار لنډوو
چې بې اجله مرګ ته ماتې ورکړو
موږ د ))لزار ( ( پر لورې لار لنډوو
د اورتونو د خوګلنونو په ياد
د ))نووهار ( ( پر لورې لار لنډوو...؛

- - -

- غږ مې نه رسي تر عرشه، د اسمان لارې اوږدې شوې
دبوتايان راته راښېرمه، د يزدان لارې اوږدې شوې...؛

- - -

- روان تخت د سليمان به څه ارمانم
لکه لمر کړم د ))سبا ( ( پر لورې لاره
- ما امرلې يې د مينې په تړون کې
له دايوانه، د مزدا پر لورې لاره...
)زيار، ناچاپ (؛

- - -

- شمر نظر مې زړه ترې سترګو کې
اشنا حسين خاطر شړې سترګو کې
خيالي رستم مې پر تندي پرې ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه جادو گر کانې راوړې سترگو کې...
)اختيار سباوون، لېمه ۵ گڼه(؛
په ازادو بېلگو کې:
- مه شه
چې رود د کهکشان کړې غلی
د اهورا د هسک د لمر
پاک و سپېڅلی تلبلاندی اورتون
او دا د ځمکې ټول پاکزړي مومنان اورپښتي و سولوي
له نهيليه خپل تندې د زره تشت د مړو نغرو
پر خوگلنونو باندې
پرېږده لمبې د بېزواله اگنيو
- لکه سرکښی قهرژلی اورشيند -
چې تک تور کانې له يومخې پر ويلوب بدلوي،
تورتپې خيرې د دايوا د گناهونو واړه وسوځوي...
)د سبرونو نڅا ۷-۸(،

- - -

- ستا د ښکلا، ناز و ادا په زمزمې چينه کې
لامبې زما د پاکې مينې د شعر ښکلې حورې
چې د کعبې د سپېڅلتيا د لمر د خدای د نمنځ طواف په نيت
احرام وتړې
پرېږده،
- د خدای په کور کې -
زما د شعر دغه سپېڅلې حورې،
د سر په سترگو له نژدې وگورې
چې د بېلارو ))امتيانو ((د تورتپو گناهو له اغېز
د ))اسود تيږه ((هسې نوره هم توربږې پسې.
پرېږده زما د جنتي مينې د شعر پرتمينې حورې
هلته وروړاندې د ))مينا ((په پښو کې
ننداره وکړې د جمرو د کاڼو،
- ها د سجيل د سرو سکروټو کاڼو -

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هرې لورې چې راووري هسې
پر تورو دربلو شيطاني اروا وو.
پربړه،
زما د ))خليلي ((مينې د شعر نازولې حورې
کړې د لوی خدای په پاک سپېڅلي جنتي حرم کې،
په انگازو کې د ))تکبير ((او د ))لبيک ((د نارو...
دا خپل ځانونه دروړ،
دا خپل سرونه بلهار !!!
)د سبرونو نخا ۱۵(؛

---

-ته يې سپېڅلې،
ته اروا د مريم !
...لا د قابيل، هابيل کيسه ده
د هرچا پر ژبه
او د بلقيس او سليمان مينه
له ټولو هېره،
ځمکه فساد نيولې،
اسمان کې وربځې دي د کرکې خورې.
لا د يزيد توره ربېي لاسونه... تر پايه
)سحر، هماغه ۱۹-۲۰(؛

---

--د مېتراد مړينې ښاديانه کې،
د بلهارو دا ېوو پر درنگو باندې
د تورو اروا وو او بسيو گډامې ته
اهريمن د تورې شپې د برې ساز غږوي.
)مفتاح ساپی، نيمگړې انځورونه ۷۸(؛

---

ډاکتر بسم الله امير چې په ايران کې يې په فلالوجي او بيا اوبستا لوستې، په خپلو ساده نظمونو کې يوه نيمه آرياني اسطوره کاروي، لکه د ))کره چغ ((د ټولگه گۍ په لسم مخ کې:
زردشت،اهورا مزدا، اهريمن، خنثئيتي)يوه دېوه يا ښاپېرۍ(، وېکر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



كابل!(vaēkərəta).)

پوهنمل نظري د )نړۍ د ادبیاتو افسانه یي الوتونکي( تر سرلیک لاندې په لرغونو ختیزو او لویدیزو ادبیاتو )او فولکلورونو( کې ببلابېل افسانه یي، په بله وینا، اسطوره یي مرغان راپېژندلي دي،لکه:
الکونوست)روسي(، با)مصري(، پېنګ هونګ)چیني(، ګارودا اوجتایو
)هندي(، تندر)سوپلي افریقا(، ققنوس)مصر(، عنقا )عربي(، پیسا )امریکایي بومي(، رخ )مراکش(، دیماج )پرسیا(، اویمګیګ )بین ا لنهرین(، سیمرغ، ملاچرګک او بوتیمار )افغانستان، ایران او نور(.

نظري په دې تړاو لیکي چې د دې الوتونکو ډېر ډولونه په )خیالي انځورونو او ځانګړتیاوو کې( یو له بل سره لږوډېر ورتوالی لري، خو توپیر یې د اړوندو ولسونو له بېلابېلو دودونو جالونو او ګروهو زېږنده بولي...)د پوره پوهاوي لپاره: ښکلا ۲۹ ګڼه ۲۸-۳۱مخ(.

ګران نظري په دغه ډله کې یوناني ))کسپیراتوس(( یا ))د توپان مرغه(( نه دی راوړی چې نن سبا پر نړیوال کچ د پرمختللي - چپي شعر یو په زړه پوري اسطوره یي سېمبول ګرځېدلی او نژدې ده، په پښتو او پارسي شعر کې هم د دودیزو ) ققنس، عنقا، هما... ( ځایناستی شي!

## نګېر ګډون یا حس آمیزي)Paradoxy)

دا په دې مانا چې شاعر له یو حسه د بل حس کار واخلي، د ساري په توګه د )ستا غږ اورم( پرځای )ستا غږ وینم( ووایي. په دې ډول چې کوم انځور رغوي، عیني، نه بلکې ذهني بلل کېږي. هر ګوره، دا ورانځور د عربي، پارسي، پښتو... شعر نن سبا له لویدیځه راخپل کړی او په تېرمهال کې یې هېڅ څرک نه دی لګېدلی او په وسمهال کې یې هم د پارسي هومره پښتو ته لاره نه ده موندلې. له دې لامله یې سم له لاسه متې یوه بېلګه د نوي او ازاد شعر مینه والو مخې ته ږدو:

...لالهاند بادونه بیاهم
لا هغسې
سا نیولې لارې څارې
د راتلو ستا
چې دې بوی کاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جړوالی د وېښتانو...

)نوې پېږۍ او نوې زرۍ ۳۳ (؛

- - -

- زه دې پسرلیه له ګلانو نه
- پوه شه )د انسان د وینو بوی اورم (
)(؛

- - -

- د کنې دنیا په ذهن کې
- د شنو چغو کرښې کاږم
چې:
د سره تاریخ په پاڼو کې تلپاتې ترانې شي،
زمانو ته افسانې شي.
)کمال مستان: هېواد ورځپاڼه، ۲۳-۷-۲۲ (،

- - -

-- د ځنګله د لګېدلي اور له منځه
او د جګو جګو ونو
د مات شوي رنګ د چغو
یوې ځرېکې راته وخندل له ورایه
ما وېل اور دی سوزوي مې
چې کتل مې
د غزلو یو شین غرېوو
د ننګیال پر شونډو کېناست.)کمال مستان، لېمه ۲ ګڼه(؛

- - -

د دغې لنډۍ د لومړۍ مسرې ))سپوږمیه سر وهه راخېژه... (( په بل ګړدودي ځبل ))سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه... (( کې هم یو راز ))نګېرګډون(( لیدل کېږي، ځکه ))سروهل(( د ))سر راهسکولو یا ښکارېدلو (( ګړنه ده او لید وړ کړن دی، خو ))کړنګ وهل(( د لیدو پرځای د اورېدو له حس سره تړاو لري.

## حسن تعلیل )Poetical aetiology(

حسن تعلیل چې زیاتره د ))عیني(( انځور په توګه کارول شوی، د اړوندو توکو له ټولیز یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخیز ادلون بدلون سره ))ذهني (( بڼه را خپلولای شي. د زاړه پښتو ادبي پېر د ښکارندوی له بوللي)پټه خزانه **۵۲** ( څخه یې دا بېلګه را خلو:

پر هر کال اتڼ د ده ښه راغلی کاندي
غوړوي پر څنډو خپل پاسته سالونه

او بیا یې دبشپړې ذهني انځور په توګه له منځني پېره لومړی د حمید دوې حسنِ مقطعې را اخلو:

لا به کله حمید مینه لېونی کا
په کاته شو ورته کسي د زنځیر کج،

د حمید سوزنده شعر وسوم وسوم
دا اواز کاندي رباب له زېروبمه،

- - -

او یایې دا سربیت:

غره مه شه که پر پښو دي ناخوال پربوت
د سېلاب له پابوسیه دېوال پربوت

- په چشمه به د آفتاب سرسبزه نه شي
د شبنم دانه یې ویلي کړه مجذوبه)شیدا ، دېوان۳۲۰ (؛

او وریسي هم یوه وسمهالي بېلګه:

- سمندرمو شو د اوښکو ، د هېندارو توپاني بیا
ځکه شوه د مرغلرو ، پردې سیمه ارزاني بیا... )هماغه۱۳-۱۴ (؛

- - -

- سترګې چې د سترګو پرلار ، زړونه وړي
څوک د تورې شپې به ، چرته غله ګوري)حمزه (؛

- خاطره ، یار دې په خیبر کې اوسي
ټوله دره له سپېلنو ډکه ده

## مدعا )و ( مثل

دا یو داسې انځور دی چې شاعر په یوه مسره کې یو اند یا واند څرګند کړي او په بله کې یې مثل د زباد لپاره وړاندې کاندي. کله هم داسې کېږي چې یو انځور په بل انځور ښه ترا جوت او لا زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکښونکی کړي. استاد اسد غضنفر په دې اړه داسې څرګندونې کوي:
))مدعا مثل د هندي شاعرۍ خورا مهم خصوصيت دی. دلته د مرکبې تشبيه غونډې (( څو مشبه او مشبه به موندلای شو خو له مرکبې تشبيه يې فرق دادی چې په مدعا مثل کې شاعر هم يو ذهني مفهوم عيني کوي او هم د مشابه مثال په راوړلو سره د يوې ادعا ثابتول او توجيه کول غواړي. دغه تخنيک په کلاسيکو استادانو کې تر هرچا ډېر د شيدا په شاعرۍ کې وينو. په اوسنو کې ښاغلی جلان يو داسې څوک دی چې له مدعا مثل سره يې جوړه ده. مثال:
وخت څومره ساده دی چې تېپي مو په رسۍ تړي
چا پر)په( شګو رېګو د درياب مخه نيولې ده
په اوله مسره کې شاعر يوه ادعا وکړه. په دويمه مسره کې يې د هغې د اثبات لپاره تصويري مثال راوړ. دلته هم د مرکبې تشبيه غونډې د مشبه او مشبه به ارتباط وينو.)چا ( د وخت،)تېپي ( د درياب او)رسۍ ( د شګو رېګو معادل دی. يو بل مثال:
وژني مې ګام په)پر ( ګام خو بيا هم مينه ناک دی جانان
د سندرغاړي سل عيبونه يو هنر پټوي
چې دلته سل عيبونه د ګام پر ګام وژلو ، هنر د جانان د مينې او جانان د سندرغاړي معادل دی. د مدعا مثل ببخښنا د تشبيه وي خو د تشبيه ادات پکې نه وي او وجه شبه هم اکثر وخت پکې نه بيانېږي. (()د جلان جادوګر هنر ، بهير۱۷-۷-۲۰۱۰ (
دغه انځوريز چم په هندي سبک کې زيات پر کار اچول کېږي. له دغه پلوه په پښتنو پليونيو کې حميد په هر ډول، خوشيدا ببخپوره له ميرزا بېدل سره سيالي کړې، خو لومړی يې له ستر خوشاله راپيلوو:

د عالم ډېرې خبرې، د جهان واړه لښکرې
زړه مې نه ښوري له ځايه، غر خو هسې وي کنه
)خوشال،پ (
حميد يې يوه داسې ښکلې ببلګه لري چې د بيت په دويمه مسره کې يې مدعا راوړې او په ړومبۍ کې يې ورته مثل:
لکه سر د پسه پر اور غاښونه سپين کا
هسې ماته له ډېر غمه خندا راغله؛
-- -
او د شيدا يو څو غوره شاهکارۍ:
- کړي اثر د درد ناله پر سختو زړونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل د دف په وهل چغي جلاجل کا )دیوان۱۳۷(،
- د گریانو سترگو آب سوزان آتش وي
گوره ابر ! اور د برق پر خرمن بل کا )هماغه۱۴۰(،
- د صورت په قوت څه شي بې اسبابه
په شبنم کې کوم نهنگ شناوري کا )هماغه۱۲۸(،
- حقارت د افتاده کړه گردن گشه
راغی غرلمن پرغاښ و خاکِ پاته)هماغه۳۲۲(،
- بلندي مې د کهسار په پستیِ بایله
راغلم زه لکه سېلاب و دې صحراته)هماغه۳۲۵(،
- گلرخان یوسې عصمت د زاهدانو
اور د شمعې په صحبت کې دامن تروي،
- فلک بار دی د اکراه پر هرچا ایښی
گوره حال د انحنا په هر هلال کې)هماغه۷۷۰(،
- د مردانو پر تېغ کله زنگ اثر کا
نه کړه شام د هلال توره مکدره )هماغه ۳۸۰(،
- وانبه په خوله کې، د کهکشان نیسي
حال د اسمان ویني، فتنه جویي کړه )هماغه۸۵۵(؛

- - -

- له اسمانه د چا زور برابر نه دی
زمان ځي پر خپله مخه، شپې تېرېږي
قافلې له لارې نه سي اړولای
کاروان ځي پر خپله لاره، سپي غپېږي...
)باري جهاني لېمه۱
په سپین شعر کې:
که څوک د لوړتیا ججوره و نه لري،
په هسې وزرو لوړېدای نه شي...
که نه،
ولې به یې:
له موږکه ښکالکی جوړولای
او مېږی به یې مرگ ته سپارلای !

(c) ketabton.com: The Digital Library



)رزم و بزم ۹ (؛

## مخامختیا یا تقابل)Contrast (

په دودیز ))بیان و بدیع ((کې تقابل، تضاد ، طباق، لف و نشر، هم له شعري ))صنعتونو (( څخه شمېرل کېږي، خو په لاتیني نومونپوهنه کې د دغو درو سرو پر وړاندې یوازې contrast ډېر کارول کېږي که څه هم له لېکزیکي )لغوي پلوه ( دغه ترم یوازې د تقابل انډول دی، د تضاد هغه contradiction او داسې نور، خو په شعر، او نورو هنرونو کې زیاتره له همدې لومړي نومونې کاراخلي. contrast په شعرکې هماغومره اړین برېښي، لکه په انځورګرۍکې د رنګونو په تړاو ؛ په همدومره توپیر چې په یوه شعرکې د رنګونو پرځای له ژبنیو توکو سره، له جولیز او مانیز دواړو پلوه، کار لري او هغه دا چې دوه توکي )وییي، وییغونډونه، غونډلې له بېلابېلو جولو او ماناوو سره یو د بل پروړاندې کارول کېږي. سره له دې چې کونترسټ لکه تمثیل، تجنیس، تلازم او داسې نور پر نړیوال کچ انځورونه نه بلل کېږي او له ټولیزې لیکنۍ یا ادبي ژبې او بیا ))نظم (( سره د ))شعر (( برید لیکه رغولای نه شي، خو په ښکلاییز رنګ و خوند کې یو ټولیز چار و نقش پر غاړه اخلي. په دې توګه یې هماغه بېلګې راچاڼوو چې یا انځور رامنځته کوي او یا د نورو هنري توکو په ښه تراڅلېدا او ښکلاکې مرسته کوي، لکه په دې ورورسته بېلګو کې:

- که تېربدونی، که پربوتونی
  که څوک ښه یونی، که څوک بد یونی

)خوشال، وییزېرمه۱۴۷ (

- په هرڅه کې ننداره د هغه مخ کړم
  چې له ډېرې ))پیدا ییه- ناپدید (( شو

) خوشال، پ-۳۱۰ (؛

ستر خوشال په دغه بله بېلګه کې د ننبه کړو وییغونډونو له کونترسټ سره د بیت دواړې مسرې سره هم مخامخ کړې دي:

نوره ))واړه پښتونخوا (( پرځای مېشته ده
))یودازه (( دې زماني پکې منصور کړم)پ ۵۹۱ (،

او یاهم:

توره چې تېرېږي، خو ګوزار لره کنه
زلفې چې ولول شي، خو خپل یار لره کنه
شېخ دې نمونځ روژه کا ، زه به ډکې پیالې اخلم
هر سړی پیدا دی، خپل خپل کار لره کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



)پ ۲۷۵ (؛

- - -

-ضرورت کا لکه ))غر (( په لمن دفعه
د ))چولې (( فکرونه ولې پرېشان کړې؟
)شیدا ، پ۷۴۷ (،
- په کور او کلي پورې آتش کړه
ترک خراسان)و (، روم و حبش کړه)هماغه۸۵۴ (؛

- - -

چې مې چاته سر ټیټ نه شي، ننګیالی زما ژوندون کړه
زړه زما دې مسلمان وي، تفکرمې د پښتون کړه )حمزه (؛
- د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم
لو یه خدایه زه به چا چا ته سجده کړم
ملګرتیا که څو رندان را سره وکړي
دا حرم به یوه لو یه میکده کړم (؛

- - -

-اوس ګوزاره د زړه په وینه کوو
چې حالات ښه شو ، بیا به مینه کوو...

- - -

- ستا د ښایست بهارستان نه خاندي
زما زموللی ګلستان نه خاندي
لکه غاټول پسرلي پرېښووم پر ډاګ
که ګل پرهر مې پر خزان نه خاندي
دي بې سهاره تروږمۍ شپې واکمنې
لمر، سپوږمۍ، ستوري پر اسمان نه خاندي...
)ساندې او سندرې۵۷ (؛

- - -

-بنده ګان لوټو د ورځې، خو د شپې یادوو خدای
په لمنځو ، روژو ، حجونو او عمرو یادوو خدای
ملا وایي هرڅه کړې کړه، خو خدای مه باسه له یاده
موږ ګناه مینځو په اوښکو ، په توبو یادوو خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بمبلي اوړدې ږيرې مو پرې اېښې هسې نه دي
ننواتې په زارو، وا ښه پرخولو يادوو خداى
)يو نظم د کاروان پرغزل ۸-۱۰-۲۰۰۳ (

- - -

- دا مندړ که کليساده، که جومات
يا اورتون دى، که د مينې خرابات
ېل ېل ور دى، ستا د کور پر لورې مات
لويه خدايه، هرې خواته دى ستا ذات!
)هادي، لېمه ۱۲ گڼه (؛
- له ورځې تښتم چې له شوره ډکه ستا غوندې ده
شپې ته پناه وړمه، شپه چو په ده زما غوندې ده
په دغه دښته کې شايد د مينې قتل شوى
په دغه دښته کې اوس هم د زړه درزا غوندې ده
...)جيلاني جلان، تاند اوبپانه (

- - -

چې قاتل ته ښيي لار زموږ د کلي
ورپسې به وي ازار زموږ د کلي
د خپل کور پته پخپله ورته ښيي
دا ساده ساده هوښيار زموږ د کلي
)هيواد شېرزاد، روزگان ۲۱-۲۲ گڼه (؛

- - -

پر کلي کله کله باد و باران يوځاى راشي
لکه مين ته چې غماز و جانان يوځاى راشي
څه ښه تصوير جوړ کړي چې لاس کله دروغځوم
ستا ښکلو سترگو ته موسکا او خپگان يوځاى راشي...
)عزت الله شمسزى، تل افغان اوبپانه(.

په ازادو بيلگو کې:
- چې بالښت يې د تاووس له بڼو جوړ وي
او بړستن يې د سمورو له پوټکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څه توګه به د کبر لور اګاه شي
چې خواران او ببوزلان زموږ د کلي
ـد طالب او مجاهد په واکمنۍ کې ـ
د ځوځانو ، مارکونډو له پاسه خوب کا !
)عنایت پویان، منصوري چغې ( ؛

- - -

- واوره باران نه دی
چې په یو رپ کې ودرېږي،
واوره چې ورېږي،
واوره چې ورېږي
نو ورېږي
او ورېږي.
)استاد شپون، تاند اوبپانه ( ؛

- - -

- که ستا د ناز پر شونډو ،
د لمر پیغام نخېدای،
ما به مات کړی وو د شپې د اوږدېدو طلسم
هله نخل به مې د خلېر له سپوږمۍ ،
ستورو سره
او ستا د مینې په دروږ کې به مې
زرځله ځان بلهاري کړی وو خپل..
خو ، زه خواشینی یم چې:
ته یې لاهسې په درشل کې
د مزدک د ناز غرور ولاړه،
او زما خوله د بېژبۍ له تورو خاورو ډکه !
)نوې پېرۍ او نوې زرۍ ۴۲ ( ؛

- - -

- شپه ګبڼې ونیوه،
چو په چوپتیا پر رېږدېدا وکړ پیل،
د کاروان ستوري اسمان لار و نیوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر راوټوکېده.
که د هر شعر پيل و پای دی،
لوی ښښتن په خپل قلم ليکلی
خو ته يې زما د هر يو شعر د تول و تال ګلپېغله !
)ناچاپ(.

---

داهم د))زړه او خوله(( ترسرليک لاندې په يوه سپين شعرکې مانيز او جوليز غبرګ کونترست يا تقابل:
تا له ماسره د خولې خبره وکړه
او ما له تا سره د زړه.
زه دې په خوله وغولېدم
او زړه مې درکړ،
خو ته پر خپله خوله و نه دربدې
او رادې نه کړه...
هو،
داچې ته نه غواړې،
له ماسره د زړه او خوله لار يوه کړې
او يو خوله زړه راسره
پر يوه لار پل کېږدې،
نو بس:
نوره دې رانه خوله ونيسه،
خوله مې مه لټوه
او زړه مې مه سپړه،
او ښنګه مې چې درکړی،
هغسې يې روغ رمټ بيرته راکړه...
نوره نو،
زياتې ته پوه شه او خوله دې
او
زه پوه شه او زړه مې ! !؟
)اندوژوند۹۴-۹۲(.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انځورنگ یا تمثیل )play(

انځورنگ )تمثیل(، لکه څومره چې په داستان کې ارزښت لري، په شعر کې یې هم لري او هنري ښکلا او راکښون ور زیاتوي. په ← انځوریز یا مصور )illustrated( او په تېره کیسه یي )allegorical and parabolical( شعر کې خو له رغنده توکونو گڼل کېږي. په لویدیځ کې شعر، که په هر ابزم اړه ولري، کیسه یې ښه راخپله کړې، پلاټ، تېم، پیل و پای او کرکټرونه لري.

انځورنگ یا تمثیل په سهي مانا باید د یوې پېښې یا صحنې داسې انځور گري وي چې لوستونکی یا اورېدونکی یې خپل ځان ووینې، په نورو توکو، داسې ونگېرې چې هغه هرڅه یې په مخ کې تېرېږي.

د پښتو ازاد شعر په وړو بېلگو کې هم له هماغه لومړیو څخه رادود شوی، خو په ځلوریزوال یا په پارسي نومونه)چارپاره یی( قافیوال شعر کې ړومبی ځل اجمل)جنت،د پېغلې دوییزي ترخنگ(، لایق او فاراني او په نیم ازادو اوږدو هغو کې پژواک)کلیمه داره روپۍ( او بیا پوهاند مجروح)ځانځاني ښامار...( رادود کړی او په څه ناڅه لنډ او بشپړ ازاد شعر کې یې د را دودونې ویاړ د ازاد بهیر د یو شمېر غورځاونو په برخه شوی دی.

د کیسه یي شعر پیلامه له آره له اسطورو سره رادود شوې، په بله وینا، د دغه شعري ځېل ژبه تر هرڅه له مخه مېتولوژیکه رادود شوې او بیا هله یې تمثیلي او سېمبولیک رنگ و خوند راخپل کړی دی. په پښتو کې د دې ژانر پیلامه استاد پوهاند مجروح رانښلولې چې په نیم ازاد شعري کالب کې یې د اروپایي لرغوني پېر د اسطوره یي یا مېتولوژیکي شعرونو په پلیونۍ، هغه هم زیات له رواني او فلسفي پرداز سره، څه د نا اشنا سندرو او څه د )ځانځاني ښامار( تر نامه لاندې ښایسته ډېر کیسه یي شعرونه کښلي دي.

ادبپوه لیکوال اسداله غضنفر د استاد مجروح د ونډې په تړاو دغه راز شعرته د سېمبولیک روایت نومونه کاروي او روایت هم داسې راپېژني:

))روایت په ادبي اصطلاحاتو کې ((د هغو خیالي یا واقعي پېښو بیان ته وایي چې ارتباط سره لري. له سېمبولیک روایته منظور دا دی چې په دې اثر کې تر ډېره حده، له پېښو، ځایونو، کرکټرونو او مفاهیمو هم لومړی او مستقیمه معنا اخلو، هم د پردې شا ته نورې معناوې پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موندلای شو. د ځانځاني ښامار ليکوال.. له سېمبوله همدا معنا اخلي... (( د لا زيات پوهاوي لپاره: )ځولۍ، لومړۍ او دويمه ګڼه(.

زموږ تاند لباند ادبي- فلسفي ليکوال اسد اسمايي د لېوال پر هوسۍ نندارمه د سريزې په ترڅ کې ( د سېمبول تر څنګ تمثيل د شعر د ولوليز )عاطفي ( راکښون لپاره اړين بولي او دوسمهالو نوميالیو شاعرانو له نوښتونو يې ګڼي:
))سېمبول او تمثيل په اروپايي شعر کې د عاطفي هيجان په بڼه د )رمبو ( ، )ولرن ( او )بودلر ( په اشعارو کې ځان ښرګند کړ... ((

غفور لېوا ل بيا په بشپړ ازاد کالب کې لنډ او اوږده تمثيلي او کيسه يي شعرونه نور هم پسې پښتني کړي او يو شمېر سېمبوليکي او رومانتيکي او بيا نيم تاريخي- ملي اسطوره يي )mythical ( کيسې او نندارمې يې رادود کړې چې د نورو لويو او وړو ترڅنګ يې د ))هوسۍ (( او ))ارشاک او اوشاش (( په نامه په خپلواکه بڼه خپرې کړې هغه، خورا په زړه پورې بېلګې دي.

په دغه لړ کې )) هوسۍ (( نندارمه )ډرامه ( اروانباد پوهندوی اسمايي له خپلې ادبي- فلسفي شننې سره داسې راپېژني:
))... د لېوال د هوسۍ منظومه يوه داسې شوې هڅه ده چې د خپل زړه خبرې د افسانوي سمبولونو په مرسته وکړي.د ښکلا سمبول )د توروسترګو مېرمن ( د شپېلۍ په اسرار آمېزه غږ زړه بايلي. )مغروره پېغله ( چې د تورو سترګو له مېرمنې سره ورتوالی لري، د شاعرانه تخيل په ځواک او شپېلۍ په کوډو درې ځله بيا بيا ځان راڅرګندوي، لکه )هېلن ( چې څو پېړۍ وروسته د ګويتې د شاعرانه تخيل په ځواک بيا ښرګندېږي... ((

څنګه چې د درو واړو ياد شويو ويناوالو اوږده کيسه يي او تمثيلي اثار په خپلواکو بڼو چاپ شوي دي او وړاندېينه يې د دې کتاب له ججوري بهره ده، نو دلته يې همغه وړې، هغه هم زياتره يوازې تمثلي بېلګې په لاندې ډول د مينه والو مخې ته ږدو:
... هلته د وچ ډاګ پر لمنه باندې
د مني باد ته يوه کېږدۍ رپېږي
په دې کېږدۍ کې يوه رنځوره ښځه
اوربلوي او له دردو ژړېږي...
)سمسور او بيانه، له نصير سهامه په مننه (؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



- - -

- د ساهو قبر ته ولاړم، شپږ بجې وې، سپین سهار وو
ژوند مې ولیده ویده وو. مرگ مې ولیده، بېدار وو
بیا مې لمر طرف ته پام شو ،یوه بله ورځ یې راوړه
خو پر مخ یې ژېړ زعفران وو ، چې خپه وو ، که بېمار وو...
)شاه سعود ، د ساهو یاد ۱۰۹(؛

- - -

- لا سونه او پښې ځانته، رانژدې کړو چې ماښام شي
له وېرې څخه بندې، دروازې کړو چې ماښام شي
پر ورځ د زاهدانو ، غوندې گرځو په کرار
بدلې د بلا غوندې، ښېرې کړو چې ماښام شي...
)حبیب تاثیر، برېښلیک(.

په ازادو بېلگو کې:
- څه ښایسته
رنگینه شپه
د خوارلسمې،
څه عطرینه
سپرلنۍ وږمه چلېږي !
د))خیالي (( پر غرڅپو باندې روانه،
وړې راوړي
د گلکڅونو
پیغامونه...
او زه بوخت
پر ننداره
د هسک د پېغلې
چې بېباکه
بې پروا
ـ لوڅه بربنډه ـ
په رڼوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځپاند سیند کې،
کړي لمبا په مینه مینه !
)زما نړۍ ۴۹مخ ۲۵-۵-۹۴ز (؛
- - -

- پر ګلکځو د سپینو وریځو پسرلیو زما
سرې سیلۍ د پانړېژ رالوتې،
په تورو نمرو کې ځان نغښتی اسمان،
په ویر ویرژلي ناوکۍ مې د زموللي چمن،
د راپرېوتو سپېدارو په ناورین،
د لښېدلو بلبلانو په یاد.
// // //
باغ په زموللو اند ښښنو کې ډوب دی:
د چمبېليو، رمبېليو وړمې
د باد له کومې، لوټېدلې لارې
د کوم ناچېرې نشت اباد پر لورې ولېږدېدې...
)هماغه۹۲ -۹۳ (؛
- - -
- باران ورېږي،
توپان چغې وهي.
د دې سارړه ژمي لاسونه د توتیانو بچي
له شنو خوبونو پاځوي
په یخ نیولو ګوتو
د شنو ښکو حرم ځېرې ورنه زړونه باسي... تر پایه
)ننګیال،... (؛
- - -
- شپه توږۍ پر لاس لکړه
پر همدې لاره شوه تېره
موږه دواړه ورپسې ځو
ستا خندا یو ښکلی تاج دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاس پر زلفو سهرا ښېني
مادې ملا نه لاس چاپېر کړ
ستا پر ولې مې سرا ښېني
دواړه ځو د ځنګل لورته...
)غ لېوال، خله چې ته خپه شې۱(؛

- - -

- اوبه يې تېرې کړې پر ډېره
لاس يې پر ږمينځلو
ژبه پاکه پاکه...
خو:
د سبا د وينو څاڅکي پر لمن پاتې شو !
)پيوند ، د سپنما ياران۱۰۱(،
- نرۍ لار زموږ له کوره
د شنو شوو په ځنګل کې
د پستو ونو له پاسه
ان، تر سينده رسېدله...

-...-

تروږمۍ وه
يو څو سيورې راپسې شو
زموږ له کوره تر ګودره
جام د پرخې يې رامات کړ
نور يې پرېښوو م چې ځمه !
)هماغه(؛

- - -

دا څلور خړ دېواله
دا په لرګو پوښلې خونه
څومره مې بده راتله
اوس ترې وتلای نه شم
دلته مې مور ويده ده
...)درياخان، تاند اوبپانه(؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

- مامې چې غبرګې سترګې
پاس د اسمان تتېر کې و ګنډلې
او بیا ښه ځیر شوم ورته...
ماوې چې ګوندې له ماښامه مخکې
د پراخ اسمان تتر کې وګورم
روښانه ستورې ! !؟
)خسرو سنګروال (؛

---

- درسته شپه
اړخ پر اړخ
د بانه کټ کې اوړم،
ستاتر پلو لاندې
په نرمه غېږ کې،
یوه شېبه )زه د ( ارام په تمه
مورې ماشوم شومه بیا
غوږ پر اواز
ستا اللو ته پروت یم ! )ازمون، ښکه دې هېره کړمه۲۴(.

---

- دا زما ګوتې ته ګوره
هاچینه در معلومېږي
ها د دوو غونډیو منځ کې
شین نرې پیوند یې وینې
سپین ګړونګ درمعلومېږي
کتوري یې د سپوږمۍ چې
پاس پر سرباندې نیولې
تا ته وایم ځیر شه ګوره
دغه لاندې مېنې وینې
چې تر کوچو دې لا سپینې
دغو مېنو ته وربار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



توري کړي د لونګو
زه هم کله کله پيايم
د نظر يو رمه هلته !
)ومان نيازى، لېمه ۱۱ګڼه(.

- - -

- هسې د کابل پرانګيو
يوه اوښکه ده
زه لکه ماشوم
تربنه کيسې غواړم.
سره شي هيله هيله شي
د لمر سيوري ته پټه شي
غلې شي ګونګى شي
راستنه شي
راته نه وايي
بس ځني راوګرځم...
)سيد منتظرشاه، هيله ۸ ګڼه(؛

- - -

- اخر مې وليدل د استاد ماشومتوب د تابلوګانو
څو کوشني کورونه
مثلثي)څو دريګوټيز( بامونه
او د څو رنګه ديوالونو منځ کې
په پردو پټې رنګارنګې کړکۍ
څو هلته
ته وا څوک نه اوسېږي...
)احمد تکل، لېمه ۵ ګڼه(؛

- - -

اغلې سلمى شاهين)د پښتوټپې ۵۰ ( په يوه ټپه کې))تمثيلي مخاطبه(( په نښه کړې ده:
ياري د زور خبره نه ده
اشنا ته وايه چې خوله سمه خوځوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کیسه یي )پرابولیک (شعرکي د انځورنګ )تمثیل ( بېلګې:
- ستا د ګل بدن له عطرو
پر پاسته وربښمین پالنګ ستا د سینې وم
مست بېسده خوبولی
له ماښامه تر سهاره
ترڅو...
ستا د لمر ښایست زرینو وړانګو
ستا د ګل مخ سباوون په رڼو پرخو
له درانه خوبه راویښ کړم
او شوې هله مې روڼې
خوبوړې سترګې
په تلپاتې تورتم روڼو
رڼاګانو !
)د سبرونو نڅا ۲۲ (،
---
- سپینو کوترو د بامونو پر سر
په خپلو سرو منښوکو ولیکل چې:
ځوک به تر ))غرو (( زمورړ د مینې پیغام ورسوي؟
کلونه وشول،
له آخوا د اور لمبې بلېږي
او راسوځي مو د الوت وزرونه !
)هماغه ۲۲ (؛
---
- ما وېل،
چې ولېږدوم
دا خپله توره کېږدۍ،
- لکه د ستورو بېړۍ-
د پلوشو په مراندو
هسکه د لمر تر وربوی...
خو د تورتم د واټنو لاسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مراندې کړې پرې
زما د تورې کېږدۍ
او کړه يې بېرته رانسکوره
د نېستۍ پر تورو خاورو باندې...
اوس،
هسې ناست یم
لاس تر زنې لاندې
چې دغه توره سپڅېدلې،
ړنګه بنګه راپرېوتې کېږدۍ
څنګه راټوله کړم له تورو خاورو،
څنګه يې وپېرمه بيا له سره
او پر هماغه وچ خاورين ځمکني غولي يې بيا
ودرومه بېرته نېغه
د پخوا په شاني !)هماغه ۱۰۷-۱۰۸(؛

## شعري ترنګونه )ترکیبونه(

په شعري کره کتنو کې دا زياته دود ده چې وايي: پلاني شاعر خورا ښه او ښکلي ))ترکیبونه(( هم کارولي دي. په دغه تړاو استاد اسد غضنفر داسې ليکي:
)) په ترکيب کې چې له دوو ياتر دوو ډېرو کلمو رغېږي، يوه نوې مانا مومو. ترکيبونه پر ځلورو ډولونو وېشلای شو: اضافي، وصفي، تشبيهي او استعاري ترکيبونه. د پښتو پخوانو شاعرانو به ترکيبونو ته ډېره توجه نه کوله. په شلمه پېړۍ کې د هنر دې اړخ ته توجه وشوه... د جلان جادوګر هنر، بهير۱۷-۷-۲۰۱۰ ((.
دلته ))ترکيب(( د وييپوهنې او بيا وييرغاونې)Word formation ( په جاج نه، بلکې د غونډله پوهنې)نحوي( په جاج کارول کېږي او له همدې اړخه د ژبپوهنې په نومونه کې نحوي ترنګونه)ترکيبونه(، په بله وينا ، غونډونه)عبارتونه، فقرې( بلل کېږي. په دې توګه لومړي ډول ته))نحوي ترکيب(( ويل کېږي او دويم ډول ته)لغوي ترکيب(.
لومړی ډول د دوو يا زياتوويېونو او وييکو)اداتو ( يوه ټولګه ده چې په يوه غونډله)جمله( کې د يوه شننوړ او ونجوړ)قابل تعويض( يوون)يونټ، واحد ( په توګه يو ټاکلی پښنوييز او مانيز چار پرځای کوي، په نورو ټکو، يوه غونډله لومړی پر غونډونو وېشل کېږي ، لکه
واخلې)سپوږمۍ او زمرى- د مازيګر پر درد بجو- په ملي بس کې- يوه ستراد بې بنډارته- ځي(

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډله. لغوی ترکیب بیا له دوو یا زیاتو وییونو او وییکو څخه داسې رغښت مومي چې نه یوازې شننوړ او ونجوړ نه وي، بلکې پر دې سربېره يې بېلابېل رغنده توکي له نحوي پلوه د یوه یوازېني فشار او )حالت: اصلي، مغیره ( اړوند)تابع وي، لکه: پیمخی، سترګوړی، تمځای)تمځی ( ، ژبپوهنه، کتنپلاوی، له اوښکو ډکې سترګې، ژب-ساپوهنه...
په دې لړکې شعري غونډونه یا))ترکیبونه (( هم د نورو غونډونو غوندې تر هرڅه له مخه د اړوندو غونډلو)جملو ( د یوونونو)واحدونو ( په توګه، د جولیز، نحوي جوړښت، چار و مانا له مخې په پام کې نیول کېدای شي او هله بیاله شعري- هنري پلوه؛ او داچې له آره نحوي غونډونه دي، نو اړینه نه ده چې تل دې رغنده توکي یوازې خپلواک وییونه وي، بلکې، لکه له مخه چې ورته نغوته وشوه، ناخپلواک هغه) وییکي: د ، له، په، پر، تر، سره، لاندې، باندې، کې، پورې، پسې، او... ( هم رانغښتای شي او په دې لړکې د همدغو څلورګونو ترنګونو))توالی اضافات ( ( چې په دودیزو ادبي فنونو کې ویار)عیب ( بلل کېده، اوس يې په ښېګڼو کې شمېرل کېږي. دادی، دلته يې څو بېلګې وړاندې کېږي:
برندې سترګې، لکه: د اسمان ستورې، په سترګو سترګو کې، پر بلۍ ولاړه نجلۍ، سر پر زنګون، د وختو د اسوېلو تر سیورې لاندې، پر وربښمین بستر د ناز، د لمر په څنو کې، د ښېراز باور ګوګل، د ګل او بلبل په ژبه، بادونو لولنګرو ، د کرلو پرنډو وینو د ګلمینو ګلبڼونه، د سپېدو د خزانزمولو سپېداورونو شنه خوبونه...)ساندې او سندرې ۲۲، ۸۲... (.
هرګوره، استاد غضنفر شعري ترنګونه په څلورو نومېرلو)مشخصو ( ډولو اضافي، وصفي، تشبیهي او استعاري هغو کې رالنډ کړي چې هغه هم د نوموالو غونډونو یوه برخه رانغاړي. که نه، یوازې په نوموالو کې اضافي داپېنځه ډوله دي، همداسې توصیفي، بدلي، عددي، متممي، قیدي... او ورپسې فعلي ډولونه هم همداسې درواخله.
په هره توګه، د ترنګونو هماغه ساده ډولونه هم چې د دوو خپلواکو)ساده یا مشتقو ( وییونو تر څنګ له اضافي)د ( پرته پکې نور وییکي دومره برخه نه اخلي، تر یوو ستویو وییونو څخه د شعري انځورونو )ایماژونو ( ، په تولیز جاج، د))شعریت (( لپاره ښه ترا لیاره هوارولای شي، او د ژبني پوتنسیال د آر له مخې يې زېږون ناپایه )نامحدوده ( دی، په بله وینا ، شاعر يې له اړتیا سره سم هرڅومره ډېر رامنځته کولای شي او هېڅکله له تنګسې سره نه مخا مخېږي.

استاد غضنفر هڅه کړې، د جیلاني جلان د شعر دارزونې په ترڅ کې هماغه څلور ډوله رابرسېره کړي:
))د مازیګر په)پر ( زیږ جبین به ګل ګل وکړل شي
دا ځوان ګودر به اوس د نجونو په مذهب غرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته زيږ جبين وصفي ترکيب دی. د مازيگر زيږ جبين، استعاري ترکيب دی. ځوان گودر هم استعاري ترکيب دی. مانا دا چې گودر له انسان سره تشبيه شوی دی. بیا د تشبيه يو اړخ يعنې مشبه به)چې دلته انسان دی ( حذف شوی او يوازې يوه ځانگړنه يعني ځواني يې ياده شوې ده او د نجونو مذهب اضافي ترکيب بولو ، ځکه مذهب مضاف او نجونې مضاف اله دی.

متل دی وايي، د شال او شړی نه سره کېږي، خو په پکتيا کې شړۍ ښکلې او رنگين لباس دی.

جلان وايي:

دې ته سور غرور هم گونډه ماتی شي، سجدې کوي
دا د پسرلي شړۍ د لمر په)پر ( اوږو ښخه ده

دلته سور غرور وصفي ترکيب)غرور موصوف او سور صفت دی ( او د لمر اوږې استعاري ترکيب دی. د ښاغلي جلان شاعري له اسعاري ترکيبونو مالامال ده. د ده ترکيبونه کابو ټول د ده خپل دي.

ژبپوهان وايي چې په ځينو ژبو کې ترکيب جوړول اسانه دي، خو په ځينو نورو کې اسانه نه دي... . جلان د نوي انځور د جوړولو لپاره، د مانا د رسولو لپاره او بل د تناسب په خاطر ترکيبونو ته مخه کوي. دی وايي:

زموږ د کلي له اسمانه هر چا کړې ولجه
چا ترېنه لپو کې سپوږمۍ وړې چا لمر وړی دی

دلته د کلي د اسمان ترکيب په وريسې مسره کې له لمر و سپوږمۍ سره هم د انځور په بشپړولو کې برخه اخلي، هم تناسب زېږوي. ( ( )د جلان جادوگر هنر، بهير ۱۷-۷-۲۰۱۰ (

دا خبره چې ترکيب جوړول په پښتو کې د نورو ژبو اوبيا پارسي هومره اسان نه دي، سمه نه ده، ځکه، لکه چې په همدې څېرکې کې رڼا واچول شوه، هره ژبه ))يو ناپايه رغاونيز پوتنسيال لري((، دا بېله سکالو ده چې په پښتو او بيا شعر و ادب کې له دغه پټ توانه د نورو او بيا پارسي ژبې هومره کار يا گټه نه ده اخېستل شوې !

## مرکب تشبيهات

استاد غضنفر په اړونده ليکنه کې د دغې شعري ټولۍ)مقولې ( په تړاو ليکي: ))له ترکيبونو چې راتېر شو، د جلان د شاعرۍ بله مهمه ځانگړنه مرکب تشبيهات دي. په دې جمله کې چې وايو، هغه د سپوږمۍ غوندې ده، يوه مشبه او يوه مشبه به لرو. که مشبه او په تېره مشبه به تر يو زيات شي، دابيا مرکبه تشبيه بلل شوې ده. جلان له دې درکه هم په پښتو کې ډېر ساری نه لري. جلان وايي:

چې پسې وژاړم ښه وژاړم دمه مې وشي
لکه ناروغ نه چې په يخو اوبو تبه ووځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته ژړا او يخي اوبه او د تبې وتل او دمه کول سره تشبيهي ارتباط لري. مرکب تشبيهات بشپړې منظرې راکوي او د تصوير جوړولو عالي ډول دی... ( (.

## هنري صفت

استاد غضنفر دا بديعي صنعت داسې راپېژني:... کله چې صفت ياد کړو او موصوف پرېږدو ، د صفت دې ډول خيال پاروونکي استعمال ته هنري صفت وايو... . د خوشال خټک په دېوان کې د هنري صفت مثالونه نسبتاً ډېر دي. په اوسنو کې جلان يو هغه شاعر دی چې د هنري صفت کامياب مثالونه لري:

پرون يې تاپسې دنيا چېرې کړه خبر يې کنه)که نه (

سپينچکه، لمر درنه يو څو جلوې په پور اخلي

چې دلته د سپينچکه صفت د موصوف له ذکره پرته راغلی دی.. ( ()د جلان جادوگر هنر، ادبي بهير۱۷-۷-۲۰۱۰ (.

## سبکي گډوډي)اضطراب (

زموږ د دودېزو ادبي فنونو او نوې ادبپوهنې استاد ، غضنفر دغه تولی،)مقوله ( له يوې بېلگې سره داسې راپېژني:

))... د سبک له اضطرابه منظور دادی چې کومې کلمې ياد ليکلو کوم طرزونه چې يو له بل سره نه کوشېرکېږي، سره يوځای کړو. د ښاغلي جلان په دا لاندې بيت کې د ساينس او مقالې د ژبې کلمات د ادب او غزل د ژبې له کلماتو سره يوځای شوي خ کوشېر شوي نه دي او د سبک اضطراب يې پيدا کړی دی:

هلته ساينسدان د لوړ تخنيک په تار ډېره تړي

دلته گلژبې سمندر په يوه خبره تړي

## نوي شعري جاجونه )مفاهيم (

پر نړيوال، سيمه ييز او هېوادني يا ملي کچ د سېمبولونو او اسطورو تر څنگ يو لړ سياسي، فرهنگي... جاجونه )مفا هيم(، د وييونو، ترنگونو يا غونډونو )عبارتونو ( او بيا نومونو )ترمونو ( ټوليو )مقولو (، گړنو او متلو په بڼه، چې د رسنيو له لارې يې وسمهالي شعر ته لار موندلې او زياتره پر ن،يوالوسېمبولونو اوښتي دي، په وسمهالي پښتو شعر کې هم نن سبا په آره يا اړولې بڼه لړو ډېر را دود شوي دي، لکه:

تورو سپين، توږداغ، د خطر زنگ، سور څراغ، زرغون څراغ)وربښوول يا رڼاکول(، ښی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښیلاسی، کیڼ)لاسی (، پرمختللی)مترقي (، ځانساتی)کنسرواتیف (، سمونوال، تور )بنسټپال (، توره )دیني بنسټپالي یا ارتجاع (، سور )کمونېست (، سره )کمونېستي ارتجاع (، سپین)پانگوال، پانگواک (، سپینه)پانگوالي ارتجاع (، نړیواک)جهان سالار (، نړیواکي )جهان سالاري، جهانباني (، نړیخور )جهانخوار (، زبرځواک، شپږم ستون)رسنۍ (، پېنځم برج )سوسیالېزم (، صلیبي جنگ یا جگړه، د تعمیدلمبا )غسل تعمید (، سمندري غله، بېل یې کړه، اېل یې کړه )تفرقه انداز و حکومت کن (،خوره او مه مره )بخور و نمیر (، کور ډوډۍ کالي یا کورکالي ډوډۍ، توري اوبه، ترتورو اوبو آخوا )oversea-s (، شمال و جنوب)شمالي نیمه کُره او سوېلي نیمه کُره (سپین چک، د غروي اوښکې )اشک تمساح (، د مرگ و ژوند خبره )سوال مرگ و زنده گی (، د تونل پای )نه ښکاربدل.. (، توره طلا )تېل (، یانکي )امریکایي (، چوپ ډېری )اکثریت خاموش (، مختوپاني چوپتیا یا ترتوپانه مخکې خاموشي، فاضلهٔ مدینه، دعاج ماڼۍ یا برج، تاج محل، د خوراړو )جذامیانو (ټاپو، له زانگونه ترگوره...؛ د ظلم و تېري سېمبولونه، لکه یزید، شمر، حجاج، چنگېز، هلاکو، تېمور، مغول او ورسره ترلي مغلو اله، هیتلر، موسولوني، فرانکو، پلپوټ، پېنوچېټ او بیا ورسره زموږ خپل همممهالي سیال...؛

پرنړیوال کچ یو لړ تاریخي نومیالي او اتلان، لکه سپارتک )دروميي مریبیا نو سر غندوی اتل (، سزار، هراکلس )یوناني پهلوان (، سکندر، کېلو پاترا )د مصر ټولواکمنه (...؛ او بیا زموږ خپل دا، لکه یما، جمشېد )او ورسره ترلی: جام جم (، ویشتاسپ، گشتاسپ )لرغوني شاهي اسپه کورنۍ ترټولو له مخه د پښتنو له ساکي نیکونو سره تړاو درلودلی (، ساک یا سهاک، سړبن، غلجي، غرغښت، بېټنی،کرلاڼي، ویما، کنیشکا،اوشاش، زرینه )ساکي ټولواکمنه (، روکسانه یا رخشانه )د سکندر ساکه-پښتنه مېرمن (، زرتشت )زردشت (، سپین تومان )د زرتشت ستاینوم (، یا نیم تاریخي اتلان، لکه سیستاني کک، رستم، زال، اسفندیار، کابلۍ روبابه او سودابه...؛

او زموږ بشپړ تاریخي او ملي اتلان، لکه:
ابراهیم لودي، شېرشاه سوري، بایزید روښان، خوشال خان، میرویس نیکه، نازوانا، احمد شاه بابا،اکبرخان، عبدالله خان اڅکزی، محمد جانخان، غازي ادي، امین اله خان لوگری، میربچه خان، مسجدي خان، محمد شاه بابکرخېل، ایوب خان، ملالۍ، ملامشک عالم، محمد عثمان تگاوی،د هډې صاحب، چکنور ملاصاحب، د ترنگړو حاجي صاحب، امان الله خان، غفارخان، صمد خان، میرزا علیخان...؛

د نړیوالو تاریخي- جغرافیایي ځاینومونو، لکه بابل، نینوا... ترڅنگ زموږ پخواني او یوناني، لکه: باکتریا، باختر، بخدیانا، پاروپامیزاد، اکسوس)امو (، اندوس)اباسین (، اراکوزیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



)ارغستان، گندهارا )کندهار !( ، هریوا )هرات( ، مرغنا )مرغاب( ، نیاسایا )میمنه( ، زرنگیا
)سیستان( ،کبورا)کابل( ، لو کرنا )لوگر( ، الینا )نورستان( ، لام یا لمپاکا )لغمان( ، پروانتا
)پروان( ، کاپیسا ، پنتهېر )پنجشېر( ، گنزه)غزنی( ، ویهارادک )وردگ( ، ناگرویهارا
)ننگرهار( ، اجنپور )رحمت ځواکمن( یا د استاد حبیبي د څېړني له مخې دنپور )جلال اباد ( ،
باگرام )پېښور( ، اودیانا )سوات( سواتسو )د سوات سیند ( ، روه، روهیستان، روهلیکنډ....
استاد پژواک د لومړي شاعر په توگه خپل ملي دا ړومبی ځل په پښتو شعرکې تر ډېره کارولي
دي او لیکوال په یوڅه زیاته کچه، چې هرگوره استاد کهزاد په خپل زاړه تاریخ کې له څه ناڅه
))فلالوجیکي (( تېروتنو سره له اوښتا او شاهنامې څخه راچاڼلي چې پر وړاندې یې د دوست
شینواري )افغانستان په اوښتا کې ( یو څو بېلگې له تاریخي ژېپوهنې سره یو څه زیاتې باوري
برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷ - څپرکی
# د وګړني يا ګړني پښتو شعر
# جولېز رغښت

د هرې دوديالې )مهذبې، متمدنې( ټولنې ادب تر هر څه مخکې پر ګړني او ليکني ادب وېشنه مومي:

)و (ګړنی )شفاهي(، يا ولسي )فولکلوري **popular**( ادب د هرې ټولنې په هماغو لومړنيو بشپړتيايي پړاوونو اړه لري چې ليک يې لا نه درلود، خو دا ورېتيا پکې وه چې د نورو هنرونو په څېر دغه ژبنی هنر هم وزېږوي او د نثر يا نظم په بڼه يې يو بل ته خوله پر خوله او سينه پر سينه ولېږدوي او له دې سره يې زېږندوی يا ويونکی د زمانې له ياده ووځي، بيا نو د اړوندې ټولنې يا ولس ګډ مال شي او کوم ټاکلی يو ګړی )فرد( يې پخپل نامه نومولای نه شي.

کله چې ټولنه د ليک و لوست پړاو ته ورګډېږي او ورو ورو پکې ليکنی ادب وده ومومي، نو) و (ګړنی ادب هم هماغومره ورو ورو له دوده لوېږي، هم د پنځونې له پلوه او هم د کارونې له پلوه. دا ځکه چې ادبي او رواني تنده يې نوره زياتره په دا دويم ادب خړوبتيا مومي او )و (ګړنی هغه يې ورسره هسې په څېرمه ډول خپل نيمژوانده شتون پر مخ بيايي او پخوانی برم ورته نه پاتې کېږي، او په پای کې هم د خپلې ټولنې يو تاريخي- فرهنګي ټوک )جزء( او پاتوړې )ميراث( ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په دېرو وروسته پاتي ټولنټيزو اړيکو )اجتماعي- اقتصادي مناسباتو ( کې د ښکېل انسان ډېر ساده )ابتدايي ( انگېرنې، اندونه او ولولې د هغه د ژوندانه د توکيز )مادي ( او مانيز چاپېريال انگازه ده. اړتيا هغه دې ته رابولي چې وانگېري، سوچ او اټکل وکړي او خپلو رواني تمايلاتو ته هنري بڼه ورکړي ". )کرگر: ځو ادبي يادونې، **۴۵** مخ(.

زموږ په پښتني ټولنه کې چې ډېرى يې په ليک لوست نه پوهېږي، د )و ( گړنى ادب زېږون لا لړ و ډېره شته دى. دغلته تر پرمختلليو سيمو زياتره )← ښپنومه او نيمخرگند ( ولسي ادبي ژانرونه زيات دود لري او ان تر دې چې هره خبره يې له لنډۍ يا متل سره وي او يا د کوم ولسي شاعر له يو نيم بيت سره.

په ځينو سيمو کې خو تر اوسه، يا تر پرونه يوازېنى )و ( گړنۍ بڼه پاتې شوې ده. د ساري په توگه د برش ځلوېښت کاله له مخه د پکتيا او پکتيکا په سيمو کې د ليکني ادب څرک هېڅ نه لگېده او يوازې ) و ( گړنى شعر و ادب او ورسره ترلى ټنگ ټکور واکمن وو. لکه واخلې، د ← دويم يا نيمخرگند غوندې اړوند "شيبيران " چې په سملاسي )في البديهه( ډول يې له ټنگ ټکور سره شعرونه او بدلې ويلې او دا چې ناليک لوستى ول، همداسې گړني به پاتې کېدل او يا به د هر چا بېرته هېرېدل. په خوست او ځاځيو کې دغه راز شيبيران د يو لړ نويو را پيدا شويو ليک و لوست والا شاعرانو تر څنگ لا هغه پخوانى گرانښت او منښت لرو ډېر ساتلى دى.

انگرېز پښتو پوهاند د پښتو )و ( گړني ادب دوه گونى وېش لپاره زموږ تر کورنيو )دوديزو ( پوهانو، څه ناڅه يوه غوره تخنيکي برید ليکه راکښلې، لومړۍ ))ښپنومه (( برخه يې، رښتيني و گړنۍ برخه بللې او ورسره ورسره يې د دارمستېتر غوندې( **popular songs** ( نغمې، سندرې نومونه کارولې او له دويمې سره و گړنۍ شعر ) **popular verse-s** (. مانا دا چې له آره سندرې او نغمې رانغاړي او دويمه برخه يې پر وړاندې، هر گوره ))شعرونه ((، په بله وينا، د لومړۍ هغه رښتيني برخه وار له مخه يوه ))سندريزه (( پنځونه ده او دويمه وار له مخه يوه ))شعري (( پنځونه.

بلخوا ليدل کېږي، دغه دويمه برخه هم يو رنگ نه ده او د ويونکيو اکر وکر)حالت و هويت ( يې سره توپير لري او هغه دا چې په دوى کې ځوک نيمخرگند دي او ځوک پوره څرگند، نو، دېته اړ وځو، په ټوليز ډول )و ( گړنۍ سندرې) **popular songs** ( او و گړني شعرونه popular verses شعر پر دوو نه، بلکې پر درو غورو ډلو يا ټوليو )کتېگوريو ( ووېشو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ ډله هغه سملاسي )فی البدیهه( لنډې نغمې راځي چې د کار پر وخت، پر لاره او یاهم له ملي اتڼ سره بولل کېږي، د وګړني شعر دا برخه زیاته آره او رښتینې بللای شو؛ زیات دودیز رنګ لري او بېنومه ده.
دویمه ډله چې ویونکي یې نیمځرګند یا نومورکي دي او د ځانګیزو سندرغاړو له خوا بولل کېږي. په دې ډله کې، د لومړۍ هغې تر پلیونۍ او اغېزلاندې ویل شوې لوبې، بدلې، بګتۍ، لنډۍ لنډۍ رزمي، بزمي... شعرونه راځي.

دریېمه ډله هغه ده چې ویونکي یې پوره ځرګندو نومور دي او د ځانګیزو سندرغاړو له خوا بولل کېږي. په دې کې مقام، رباعي، غزل، چاربیته او )ببیلې( داستان راځي چې غزل یې ، هرګوره له ادبي هغه سره خورا ډېر توپیر لري. ( ( )مکنزي ۳۲۰ مخ(

ځرنګه چې زموږ خبرې تر هر څه له مخه د پښتو شعر پر ځپیز- خجیز سېستم راځرخي، نو پر همدې لومړۍ یا بېنومې برخې یو څه ډېر تمېږو او له دویمې نیمځرګندې او دریېمې ځرګندې برخې سره ځکه ډېر نه پېچېږو چې دا دواړې برخې د پښتو شعري سېستم لپاره آر بنسټ نه، بلکې د لومړۍ آرې او نړه وګړنۍ برخې سره په ګډه پر خپل خپل وار د ادبي )لیکنۍ، دېواني( برخې ترمنځ تش د یوه پله هومره چار پرځای کوي. دا دی، درې سره برخې پر خپل خپل وار پرله پسې د مینه والو مخې ته ږدو:

لومړۍ: آره، رښتینې او بېنومه برخه
دا برخه تر دویمې )نیمځرګندې( هغې ډېر ځېلونه )ژانرونه( لري. ځینې یې له آره یوازې سندریزه لوښه او کارونګ لري، یانې د ټنګ ټکور لپاره راپنځول شوې او پنځول کېږي، لکه غاړې، سروکې، ببولالې، شین خالۍ، نیمکۍ یا د اتڼ نارې؛ ځینې یې، یوازې او یوازې ترنمي لوښه او کارونګ لري، لکه، کاکړۍ، غړانګې، د ویرساندې، د ناویو ساندې یا چغیانې، د اتڼ نارې، د نکلو نارې، د ماشومانو سندرې ، د میندو سندرې، للو سندرې یا للووې او د بېنومه ولسې ډلې داسې نور لوی واړه ځېلونه؛ او ځینې یې لکه لنډۍ او لنډه کې شعرې، ترنمي او سندریز درېواړه کارونګ ډولونه لري.

د رغښتي تخنیک له پلوه دا درست ځېلونه د ټولیز پښتو شعر سره د پرتلې وړ دي؛ هرګوره، د نکلونو یو شمېر نارې چې هایکو وزمه ازاده بڼه لري او یا هم د سپین شعر بڼه، له ناځیزه تول و تال سره، بې له هغې له ځپیز- خجیز سېستم سره اړخ نه لګوي. پر وړاندې یې پېبیلې هغه تر ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه سېستم رانغاړي او يوه نيمه نانډولي يې، لکه څنګه چې وتلي شاعر او ليکوال ))عبد الباري جهاني، لروبر او بېانه(( يې د ببلګې په توګه د فتح خان برېڅ د نکل په تړاو يادونه کړې، د نکلچيانو له خوا د بيا بيا راغبرګونې يا خوله پرخوله کېدنې زېږنده برېښي.

په هره توګه، په ټوليزډول د پښتو سوچه وګړني همدا لومړی پېيلی ادب يا سندرې popular songs جوړښت له پلوه آرې او پخوانۍ برېښي او څپېز- خجيز )سېلابو تونيک ( جوړښت لري، تر دې چې د ) پېيلي ( دويم او درېيم ډول او بيا ليکني، ديواني او ازاد شعر لپاره مخبېلګه ګڼل کېږي.

موږ د څپېز- خجيز شعري پښتو سېستم له پلوه د دغې لومړۍ وګړنۍ برخې له بېلابېلو څېلونو څخه دوه غوره څېلونه )لنډۍ او سروکي ( تر سپړنې او شننې لاندې نيسو.

## ۱- لنډۍ

لنډۍ د پښتني وګړني ادب يو داسې شعري او سندريز څېل )ژانر( دی چې د څومره والي، ټوليزوالي، ګرانښت و منښت له پلوه ورسره بل هېڅ څېل سيالي نه شي کولای. بېلابېل نومونه او ستاينومونه ، لکه لنډۍ، ټيکۍ، مسرۍ، ټپه،اواز، بدله، سندره )لايق(، ټپۍ، ټپکۍ )يادويګا (، غريبۍ، غرنګۍ )رفيع(، يې هم زموږ د خبرې پخلی کوي. بل ارزښت يې په دې کې نغښتی چې د پښتو آر او رښتيني شعري ))څپېز- خجيز(( سېستم يوه تېپيکه مخبېلګه ګڼل کېږي. که د د غه توليز )وزني( رغښت له پلوه د )ګړني او ليکني( قافيه وال او ازاد شعر رانغاړي، د مسره ييزې نابرابرۍ او ناقافيه والۍ له پلوه بيا په ځانګړي ډول د ازاد شعر لپاره يو داسې پوخ بنسټ جوړوي چې پرديو پېښو او پليونۍ ته د چا پلمه نه پاتې کېږي او نه څوک پر اوسني پرله پسې رادود بدونکو ازادو شاهکارونو دا ټاپه لګولای شي.

لنډۍ يو داسې خپلواک دوه مسره ييز، په بله وينا ، يو بيته شعر دی. لومړۍ مسره يې نه څپيزه او دويمه يې ديارلس څپيزه ده چې وروستۍ ناخجنه څپه يې يو موزيکال اهنګ رامنځته کوي. له خجيز پلوه يې له سره تر پايه پر هره څلورمه څپه يو غوره يا پياوړی خج ټيکاو لري او تر څنګه يې نورې څپې په اړوندو وييونو کې خپل خپل خجونه هم ساتي، خو د هماغو غورو يا پياوړو شعري خجونو تر اغېز لاندې کمزورتيا مومي ، خو بيا يې هم که ويونکی يا بولونکی ښخي وغورځوي، په بله وينا ، له تول و تاله يې بلهار کړي، نو د بل هر شعر په څېر دغه ټولمنلی وګړنی شعرهم له ژبنۍ او مانيزې نيمګړتيا سره مخامخېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اهم د لنډۍ د بې کچه گرانښت او منښت ښکارندويي کوي چې د ښونمه)و (گړنيو شعرونو او بدلو تر بل هر ځېله يې پنځون او زېږون زيات دی او هېښنده يې لا دا چې پر نالوستو پرگنو سربېره پکې لوستي او بيا شاعران هم پته او ښکاره برخه اخلي؛ او رښتيا هم له ډېرو بېلگو ځخه يې دا ځرک پوره لگېدای شي چې پنځگر يې بايد هرو مرو ليکلوستوال او پاخه وينا وال اوسي، نه يوازې له هنري، بلکې ژبني پلوه هم لکه چې وايي:

دیدن مې کورته پسې يووړ
پر قدردان اشنامې ځان بېقدره کنه

دا بله بېلگه خو لاځه کړي، څه کړي چې د حميد مومند د ديوان د کومې لاسکښنې )قلمي نسخې( پر دوتنه را پاتې ده او له سبکه يې هم دا پوره جوتېدای شي چې د همدغه نوميالي شاعر رغاونه اوسي:

سينه مې د بگ،زړگی مې غوښې
اوښکې اوبه دي، ببلتون اور پسې کوينه

د امير شېرعليخان)شاهي پېر۱۸۲۳-۱۸۷۸( په نامه هم د ځينو بېلگو يادونه کېږي، او ديوې داسې بېلگې ځرک يې لگول شوی چې د واکمنۍ او ژوند په وروستيو شېبو کې يې له ډېرې نهيلۍ نه پر خوله راغلې وه:

د غم لښکرې راپسې دي
د پادشاهۍ تاج مې پر سر له ملکه ځمه

د دې لپاره چې( د دغه ولسي مرغلرو د ))غلا(( مخنيوی شوی وي او ورسره ورسره ))←هايکو( نه وي ننگولې، ليکوال يې تر څنگه له پښځيزوني )تخميس( سره ))← ټپيزه(( نومې شعري لړۍ را ښلولې او نن سبا يې ښايسته ډېر دود موندلی دی.

ترنگتوک )euphony(

لکه پاس چې ورته نغوته وشوه ، لنډۍ له ټاکلي ځپيز- خجيز انډول سره سره پر يوه ناځجنه موزيکاله، په بله وينا ، پر يوې خوږ غږې يا ترنمي ځپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ )دوويشتمې( ځپې خوږغږي د ځپيز- خجيز انډول ترڅنگه د لنډۍ يو بل رغنده ټوک گڼل کېږي او نشتون يې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د شعر په توگه يې يوه ځپه کمېږي او له موسقي پلوه )موزيکال( اهنگ له لاسه ورکوي. دغه ټوک يا توک ))ترنمي ځپه(( يې يا زور )a-( وي، يا )-مه( او يا هم ) -نه(. په يو مهال کې له دغو دريوارو ځپو ځخه هره يوه د ور مخکې)يوويشتمې( خجنې ځپې له يوځه اغېز سره لنډۍ ته يوه خوږغږي يا خوش آهنگي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وربښي او پر همدې لاسوند له درو څخه هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو اندېول یې ترنگتوک یا ترنمي توک کېدای شي. دغه درېگوني څپې سره د خوږ غږي له پلوه پردرو پوړیو وېشنه مومي، )-نه( په لومړۍ پوړۍ )درجه( کې راځي، )-مه( په دویمه اوزور)-a (کې ځینې کورني او بهرني داسې انگېرې چې یوازې همدغه درېیمه د لنډۍ پایڅپه رغوي، په داسې ترڅ کې چې دا دومره ترنم نه لري او یوازې هله یې موزیکاله لوښه زیاتېږي، چې ترې له مخه )-م( یا )-ن( راغلی وي، لکه په دې بېلگه کې:
اخر به خاورې شې بدنه _ که دې هرڅو پر وطنو وگرځومه )یا: -ساتمه،
-لیکمه، ځمه، یمه، شمه، خېژومه...(
که نه په یوازېني ځان دومره راکښون نه لري، او لیکوال یې هم تراوسه متې دایوه بېلگه ، هغه هم د یوه دبوگلی )پښه یې ( ملا پر حواله را یادښت کړې ده:
په پېښورکې مې زړه تنگ شو _ کله به درشمه پراخه دبوگله !
په هره توگه، )_مه( او )-نه( هم کېدای شي، د همدغه درېیم ډول په څېر عادي ژبني توکي اوسي او یا هم هسې د موزیکالو )ترنمي( توکو په توگه په پای کې سرباري شوي وي، د ړومبي ډول بېلگې، لکه:

- د خوشالی یاران مې ډېر وه
چې ښادي ولاړه، ټولو پورته کړل لاسونه
د لېونی ارمان پوره شو
پر لاره ځي په کاڼو ولي زیارتونه
برېستن دې واغوسته ویده شوي
پر زړه دې نشته د یارۍ سوي داغونه
- بس که چې مور دې کنځل وکړه
نامړې تاته مناسب نه وه مینه
بلبل د زړه په غم اخته شو
غوټۍ د زړه سودا کوي د زړه دننه
ظالمه دا ظلم دې بس دی
چې یو دې خوار کړم، بل دې ورک کړم له وطنه

د دویم ډول بېلگې چې ترنمي توکي یې پر ژبنیو هغو ور سرباري شوي اوسي، ببخي ډېرې دي او دلته یې پر یوڅو بسنه کوو:

- د ببلتانه په کور کې راغلم
برخې قسمت شوې، زما غم په برخه شونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک مې له حاله خبر نه شو
بېلتون مې بيا پر لمن اور ولګاونه
څوک مې له حاله خبر نه دي
د ننه زړه مې هجران د ړې وړې کړنه
- څه شو که ناسته مې دلې ده
اروا مې ستا پر کټ منګولې لګوينه
څله ودرېږې يار مې نه يې
يار مې هغه دی چې غونچې ځنې ساتينه
باده پر باد مې سلام وايه
پر هغه باد چې د اشنا پر لوري ځينه...

د لنډۍ بېلابېل کارونځايونه

لنډۍ تر هرڅه له مخه يو شعري لوښه، وينګ او کاربدنګ لري او له آره د بې ليک لوستو پرګنو له پنځونو څخه ګڼل کېږي او په ورځني ژوند کې يې زيات کاربدنګ په همدوی اړه پيدا کوي. يو خواترې په ورځني ګړني بهيرکې لکه وراشې)وجيزې( يا متل کار اخلي او بلخوا پرې د يوه هنري پيداوار په توګه خپل ښکلاييز څوب )ذوق( او ټولنيز ارمان څرګندوي او هغه دا چې په اواز کې يې انګازه کوي او بيا يې له سندريز پلوه له نورو سره هم شريکوي. سکالووې يې پر رزم وبزم او يا د يادويګا )۲۳۴مخ( په خبره پر مينه او جنګ جګړه راڅرخې، د مينې او رومانس بېلګه يې د خالو خان)د محمود غزنوي سرلښکر( د مينې )محبوبې( لنډۍ راوړې او د رزم يې د ميوند د ملالۍ هغه.

. د دې لپاره چې د ټولمنلې شعري او سندريز ځېل)ژانر( په توګه مو د لنډۍ کارونځايونه ښه ترا پېژندلي اوسي، دا سې يې ور ډلبندي کوو:

الف - د وراشو او متلونو غوندې ترې په ورځنې ګړني بهيرکې کار اخېستل کېږي.
ب- په څېرمه توګه سندريز ډګرته ور ګډېږي، هغه هم، په خپلواک ډول:
)۱( په اواز کې انګازه کېږي، )۲( له سازاواز دواړو سره غاړه غړۍ کېږي او )۳( په ناخپلواک ډول له سروکيو سره د سندريز کمپوز په بشپړتيا او سمبالتيا کې کارنده ونډه اخلي. په دغو درو سرو سندريزو ډګرو کې ډېرې رنګارنګۍ راخپلوي. د اواز له پلوه بېلابېل سيمه ييز او ټبرني او بيا بېلابېل وګړني رنګونه رانغاړي، د ساري په ډول، کندهاريان يې يو راز انګازه کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننګرهاريان يې بل راز، او په هغوکې بېلابېل ټبرونه، کوچيان، پوونده، سارايان بل راز او کليوال او ښاريان يې پسې بل راز؛ همداسې يې له ساز اواز او بيا يې په ناخپلواکه توګه له بېلابېلو غاړو سروکيو سره بېلابېل رنګونه او ځېلونه دراخله.

لنډه کې چې په منګلو او ځاځيو کې دود لري او د لنډيو تر څنګ په څه ناڅه ورته سندريزه توګه ځني کار اخېستل کېږي. څوارلس څپې رانغاړي، پر لومړي خج پيل مومي او زياتره يې په سمه نيمايي کې سا کښنل کېږي او تر پايه يې هره څلورمه څپه خجنه راځي، لکه:

جونه په)پر ( باغ ګډې شوې، تالا يې کړه ګلونه؛

ته په دا ډاول جوړه يې، که زه در مين شومه؛

په دغه درېيمه بېلګه کې يې شپږ څپې وروسته سا اېستل کېږي او ورپسې اته څپې راځي:

وه بادشاګردي ده، ټول ياغي شول وطنونه)علي محمد منګل، فولکلوري ورمې(.

۲( سروکي

سروکي نيمګړې سندريزې ټوټې دي چې په خپلواک ډول نه بولل کېږي، بلکې، لکه پاس چې يادونه وشوه، د لينډيو په مټ و ملتيا ترې خپلواکې سندرې رامنځته کېږي، ځيني پښتو فولکلورپېستان يې د پخوانيو خپلواکو شعرونو يا سندرو پاتشوني انګېري. ګڼ شمېر جوليز ډولونه او بېلابېل اهنګونه يا طرزونه.

د ژبني او شعري يا څپيز- خجيز پلوه زياتره له دوو غونډلو، په بله وينا، دوو مسرو څخه رغښت مومي او لړوډېر د يوې لنډکې غونډلي يا مسري په بڼه وي. دا چې په يو لړ ځېلونو، په تېره مستزاد ډوله سرو کيوکې دويمه مسره له لومړۍ سره څپيز- خجيز انډول نه لري، لاسوند يې دا دی چې دغه دويمه يې له سندريز تول و تال سره ځانته جلا )وزن يا ريتم( لري او يا هم د لارغه يې مسري غوندې پر پېنځمه څپه خجنېږي. بلې خوا ته څنګه چې له ټيکيو )لنډيو ( سره ويل کېږي، نو هغه هم د خپل تول و تال اړوندوي. يوه مستزاد ډوله بڼه يې داده:

پاس په باړه کې اوبه ګډې وډې ځينه

شينواري لونګينه

لومړۍ مسره په څلورمه )- ړه( او دويمه په دويمه خجنه څپه )-وا-( پيل کېږي. د سروکي جوړښت زياتره په )مستزاد ( ډول وي، لومړۍ مسره يې اوږده او دويمه يې لنډه راځي، خو څپيز او خجيز انډول يې تل برابر نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر يو لړ سروکي د )سر ( چپه مستزاد جوړښت لري، داسې چې لومړۍ مسره يې لنډه او دويمه يې اوږده وي. خو ښپيز او خجيز انډول يې سره په هر ډول همېشه يو راز نه وي. اوږدې مسرې په دواړو ډولو کې زياتره د لنډۍ )دويمې ( مسرې هومره اوږدوالی لري او خجونه يې هم ورسره همداسې سمون خوري، خو وړه مسره يې په )مستزاد او چپه مستزاد ( دواړو ډولو کې پر لومړۍ يا دويمه ښپه خج راځي چې چپه بېلگه يې هم دا ده:

۱– لونگ کرمه

که لو مې گډ کړ ياره تا به راولمه

لومړۍ مسره پينځه ښپيزه ده او پر دويمه ښپه باندې يې خج راغلی دی. دويمه کټ مټ د لنډۍ د دويمې مسرې غوندې دیارلس ښپيزه ده او پر څلورمه، اتمه او دولسمه ښپه خجونه راغلي دي:

۲– لو دی د غنمو ياره

گېډۍ راواچوه بنگړي راغلي دينه

)ياره لو (

لومړۍ مسره اته ښپيزه ده او خجونه يې پر لومړۍ او پينځمه ښپه راغلي دي، دويمه بيا هم د لنډۍ له دويمې مسرې سره ښپيز او خجيز سمون لري، مگر په تون )آهنگ **intonation** ( کې ورسره يو راز نه ده، دا مانا چې دلته د لنډۍ غوندې اهنگ ځوړ نه، بلکې لوړ ځي، ځکه سندرغاړی ورپسې پټليز د لومړۍ مسرې يوه برخه )ياره لو ( راغبرگوي او اړ دی چې اهنگ هماغسې لوړ وساتي، دغه د اهنگ لوړوالی ساتل د سروکيو يوه ټوليزه سندريزه بېلتيا ده.

۳ – لېونۍ )و ( لاړه شه گل راوړه

که دلته نه وي له کنډوه پسې واوړه

دغه سروکی هم له سرچپه والي سره سره د ښپيز او خجيز جوړښت له پلوه له لنډۍ سره هېڅ کوم توپير نه لري، مگر يو خوا د دواړ مسرو قافيه والی او بل خوا، لکه چې په لومړيو کې وويل شول، اهنگ هم خپل نقش لوبوي چې له لنډۍ سره په وزن )ريتم ( کې توپير راوړي.

۴ – په انتظار کې د جانان ولاړه يمه

بارانه مه راځه مابنام دی

دا سروکی که مخکې وروسته شي، کټ مټ تري لنډۍ جوړېږي په دې شرط چې آهنگ ته يې هم بدلون ورکړل شي. که څه هم آهنگ په ټوليز ډول د پښتو شعر په سندريز اوډ )کمپوز ( پورې اړه لري که نه په عادي لوستنه، شننه او سکښتنه )تقطيع ( کې آهنگ په پام کې نه نيول کېږي.

۵ – نن مه راځه جومه )جمعه ( ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ته راشه چي اخره چارشنبه ده

دا سروکی هم، لکه دربیم هغه له قافیه والو سروکیو څخه ګڼل کېږي. لومړی مسره یې اوه څپیزه ده چي پر دویمه او شپږمه څپه یې خجونه راغلي دي او دویمه مسره یې د څپیز او خجیز انډول له مخې د لنډۍ دویمي مسري ته ورته ده، مګر دا چي، نه د لنډۍ غونډي ترنمي توک )-ه، نه( لري او نه یې اهنګ پربوتی پای ته رسي، نو ښېخي ورسره یو راز نه شي ګڼل کېدای.

۲- سپیني باریکي لېچي تشي ګرځومه
بنګړیوالي ترورې، زموږ کوڅي ته راشه

د دې سروکي دواړې مسرې د څپیز شمېر له مخې د لنډۍ له دویمي مسرې برابري دي، خو د خجیز او بیا موزیکالي څپې له پلوه ورسره یوازې لومړۍ دا اړخ لګوي. دویمه ټوټه یا مسره یې له موسیقي پلوه ګړ سره جلا اهنګ لري: د ))بنګړیوالي (( دربیمه څپه)-وا-( ډېر لوړ او انګازور موزیکال اهنګ لري او د ))ترورې(( ړومبنۍ څپه )ترو-( یو ناروږدي پیاوړی خج اخلي، بیا لارغه )وقفه( رامنځته کېږي او ورپسي لنډه کې غونډله عادي خبري )نحوي( لویدونکی اهنګ راخپلوي، مانا دا چي ګرد موسقیت لومړۍ مسره ))سپیني باریکي لېچي تشي ګرځومه(( او بیا پر ))بنګړیوالي(( او ))ترورې(( ورټولېږي او ښکاره ده، ورسره را ماتېدونکي لنډۍ هماغسي غځوني کوي.

بابولالې، شین خالی، د هوتکو نارې، د کاکړو غاړې یا کاکړۍ، او داسي نورې ورته سندرې د شعري جولي له پلوه د سروکیو په لړ کي راځي او د هماغه دود او دوی )قانون( پر بنسټ یې رغېدنه او شننه تر سره کېږي، په بله وینا هره څلورمه څپه یې خجنه راځي )د پورتني اثر اړوندې څرګندوني دې وکتل شي(.

اتل )شمله- لندن، لومړی ګڼه ۵ - ۹ مخ( له بېلابېلو یاد شویو سندرو سره د ))لنډۍ(( بېلابېل سندریز اهنګونه یا طرزونه راپېژندلي، یا په سرچپه وینا، د لنډیو په تړاو یې یو لړ سروکي له بېلابېلو اهنګونو سره راښوولي دي. مانا دا چي نوموړي لیکوال د سروکیو اهنګونه د لنډیو له اهنګونو سره ګډ یا التباس کړي دي، نو که خبره یې دلنډیو د اهنګونو په تړاو وای، نو بیا ورته اړینه وه چي په نومبرلي ډول همدا لنډۍ په خپلواکه او ګوښي توګه د سیمو او ګړدودو له پلوه تر شنني لاندي ونیسي او هله یې د ویلو راز راز ))ترنمي (( طرزونه راډلبندي کاندي. ځکه له سروکیو سره د لنډیو په خپلواکو اهنګونو کي نه راځي، بلکي د سروکیو له خوا پرې پلي کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اهنگونو کومه شمېره هم چې ښاغلي اتل له سروکيو سره د لنډيو په نامه تاکلې، له آره د اړوندو سروکيو د اهنگونو شمېره ده، نه د لنډيو. هن که سروکی د لنډۍ په منځ کې رانونځي، يا يې ياترې مخکې وروسته راغبرگېږي او ياورسره پخپله لنډۍ يو مخيزه يا برخيزه )قسمًا ( تکرارېږي، دا بېله خبره ده.

په هر ډول، لنډۍ له آره يو شعري څېل ياډول دی، او نور ))ښنومه(( وگړني ډولونه يې پر وړاندې سندريز ډولونه دي. په دې توگه د دې پرځای چې د لنډۍ اهنگونه و نوموو، وشمېرو او ډلبندي کړو، په کارده، وار له مخه د دغو نورو، سندريز ډولونه يا اهنگونه پر گوته کړو، ويې نوموو، ويې شمېرو او سره ويې وېشو. هرگوره، له دغو اړينو تخنيکي يادونو سره سره د ښاغلي اتل له بېلابېلو سروکيو سره د لنډۍ دڅو سندريزو ډولونو يا اهنگونو يادونه گټوره ارزوو او د گران مينه والو د ښه ترا پوهاوي لپاره يې بې گټې نه بولو.

هرگوره، دلته يې له دوڅلو ښتو څخه تش يو څو بېلگې له لنډ لنډ جاج سره را اخلو:

## لومړی تيرايي اهنگ

د لنډۍ دا سندريز اهنگ )طرز ( ددواړو مسرو د وروستيو څپو يا وييو له غځولو يا کشالولو سره رامنځته کېږي او په پای پای کې يې ))مرم شيرينه ياره (( ورسره راماتېږي، په دې بېلگه:

ما د کوچي له عمره ځار کړي~~~

چې د سهار اور يې بلېږي ترېنه ځينه ~~~

مرم شيرينه ياره !

## دويم تيرايي اهنگ

په منځ منځ کې د بېلابېلو سروکيو په راگډولو سره رامنځته کېږي:

ځان يې زړو جامو کې جوړ کړ~~~

))شابه پر لوړه تيرا جنگ دی~~~ ((

لکه په وران کلي کې باغ د گلو وينه~~~

))شابه پر لوړه تيرا جنگ دی. ((

## دريم تيرايي اهنگ

د لنډۍ پای ته يو سروکی راماتېږي)اتل يو نومېرلی يا مشخص سروکی را پر گوته کوي (، لکه:

خدای دې د رود د غاړې گل که~~~

چې د اوبو په پلمه درشم بوی دې کړمه~~~

(c) ketabton.com: The Digital Library



))لونګين تور ياري يې ګرانه((

سندريز- خجيز انډول
ځيني سروکي د سندريز طرز يا اهنګ )کمپوز( د يوه ترنمي )ايو فونيک( غږ له زياتوني سره خجيزه نانډولي هم له منځه وړي او يا يې لږ تر لږه راکموي. دا وروسته بېلګې يې خورا ښې بېلګې جوړوي:
)وه( وه نانا وړوکې
ماله د زلفانو ځوکې

د دې په زړه پورې سروکي ږومبی غونډ )رکن( له څلورو انګيويېونو )طبيعي صوتونو( رغېدلی چې ږومبنی هغه يې سرباري کړ شوی اېسي او له دې سرباری سره يې د لنډۍ په څېر څلورم هغه خجن شوی، په بله وينا، خجيز انډول يې برابر شوی دی. خو دا چې د نورو ډېری سروکيو په څېر يې د دويمې مسرې خج پر څلورمه نه، بلکې پر پينځمه څپه راغلی، د ماتې مسرې دريغ يې راځپل کړی دی. پر دغه پاسني سروکي باندې اوس اوس سندر غاړو نورې مسرې ور زياتې کړې او لوبه يې ترې جوړه کړې چې ځينې ځانګوال يې د ولسي پانګې يو راز غلا او يا هم يوه ناروا لاسوهنه ګڼي.
د دې بل سروکي ترنمي توکی د دويمې مسرې په سرکې سرباري شوی دی:
- بند کړه تاويزونه ليلا
"وا " سپينه روپۍ دې پر وربل وهي ټالونه
"ليلا "
لومړۍ مسره اته څپيزه ده چې په لومړۍ او پينځمه څپه کې خجنتيا لري، که څه هم د پای څپه)-لا( يې هم خج اخلي، خو څنګه چې د پښتو شعر د ټوليز دود پر خلاف د څلورمې څپې په توګه خجنه نه ده، په بله وينا تر درو څپو وروسته نه، بلکې تر دوو څپو وروسته خجنه شوې ده، نو ښايي دا غونډ ويی)ليلا( د سندريز کمپوز له پلوه وروسته ور زيات شوی وي. دا راز زياتونه د دويمې مسرې پای ته هم په ډاګه څرګند ېږي، کټ مټ لکه )وا( د دويمې مسرې په سر کې، البته سم له لاسه )ليلا( دلته د رديف بڼه غوره کړې ده که نه دويمه مسره د لنډۍ له دويمې هغې سره بشپړ څپيز او خجيز سمون لري.

ښايي دا پاس سروکی له هغو کمپيښنو سروکيو څخه وګڼل شي چې د ټوليز)عام( خجيز دود پر وړاندې نادودي )بې قاعدګي( لري او هغه دا چې لومړۍ مسره يې تر دويمې خجنې څپې)وا(

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي ځپې وروسته خجنه ځپه )څه ( لري او ورپسې بيا هم دوي ځپې وروسته بله ځپه )و ( خجنه راځي. دويمه مسره يې بيا په څلورمه خجنه ځپه )-يا- ( پيل مومي او په دې توګه د لنډۍ د دويمې مسرې غونډې ديارلس ځپيزه راغلې او خجونه يې هم هماغسې پر څلورمه، اتمه او دولسمه ځپه راغلي دي.

دا چې د دغه سروکي دواړې مسرې سره هم د دغه خجيز انډول له پلوه سمون نه لري او يوازې ځپيز انډول يې سره سم دی، دليل يې کمپوزي توپير دی، ځکه په ډېرو سروکيو کې د مسرو دغه موسيقي ځانګړتيا يو راز نه ده ځرګنده ده چې خجيز او ځپيز برابری يې سره هم سمبالېدای شي که نه، لکه هماغه تېر سروکی:

پاس په باړه کې اوبه ګډې وډې ځينه
شينواري لونګينه

- د دغه بل سروکي د دويمې مسرې په منځ و ميانه کې د دوه ځپيزې )سترګې ( لومړۍ ځپه راغبرګېږي او په دې چم د سندريز تول و تال سره شعري دا هم سمبالتيا مومي، په نورو ټکو د ماتې مسرې په توګه په رابېلې شوې خجنې ځپې )ستر- ( پسې پېنځمې خجنې ځپې )_سو- ( ته لاره هوارېږي، هرګوره دغلته د دواړو مسرو پای ځپې )-نه( د خجنتياله کبله نه، بلکې د موزيکال اهنګ له لامله داوږده )ممدوده ( الف هومره لوړېږي او ))-نآ (( ويل کېږي او داچې لومړۍ دابيا راغبرګېږي، بيرته خپل آر ژبني اکر ))-نه (( ته راستنېږي:

پاخېږه مجنونه)نآ (
ليلا ولاړه توري)ستر (- سترګې سره لاسونه)نآ (
پاخېږه مجنونه.....

د سروکيو د نورو جوليزو او مانيزو ځانګړتياوو او پېيلتياوو په برخه کې دې د دوست شينواري "د پښتو ولسي ادب لارې، ۷۵-۸۵ مخونه ( هم وکتل شي.

دويم- د وګړني شعر دويمه يا نيمځر ګنده برخه

په دې برخه کې لوبې، بدلې، بګتۍ، مقامونه، چاربيتې، داستانونه، غزل او داسې نور راځي. دا برخه د لومړۍ هغې په توپير له بېخ و بنسټه شعرونه دي، نه سندرې. مانا يې داچې لومړۍ د شعر په توګه پېيل شوي او بيايې هله ټنګ ټکورته لار موندلې ده. له دې کبله د ارمستېټر، مکنزي او نورو لويديزو پښتو پوهانو غونډې يې ))نغمې **songs** (( نومول په کار نه دي. تر دې چې تر ډېره د ديواني )ليکنيو ( شعرونو غونډې د سېلابوتونيک له ځانګړتياوو سره اړخ لګوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او داسې بربښي چې دغه ډول دې د دیواني شعرونو په پښتو ګړني شعر ته لار پیدا کړې وي. نه د نورو ))سوچه (( یا لومړي ډول ولسي هغومره لرغونوالی لري او نه یې ویونکي هغومره یومخیز ناخرګندوي. داستاد مکنزي )۳۲۰مخ( په خبره، کېدای شي، د دغه دویم راز ))سندرو (( ویونکي ښايي پخپله هماغه بولونکي یا سندرغاړي اوسي.

په دغه برخه یو لړ رزمي بدلې هم راځي چې تر بزمي هغو هم په ولسونو کې ډېر ګرانښت لري او د تاریخي لنډیو په څېر د تېرو ملي او سیاسي پېښو انځورګري کوي، هغه هم د نیوکو، ستاینو، غندنو، او یا طنز په جوله او جامه کې:

نیوکه:
کابل ونیوه وزیرو

نن پرې ناست دی نادر خان

اخ، غازي امونول خان!

ستاینه:
همداسې یې ستاینې او غندنې هم درواخله:

جواري ستا د لنګر

خواږه لکه شکر

خوند یې زیات دی له حلوانه

د هډې کامله ځوانه!

غندنه:

جواری ستا د لنګر

کلک پلک لکه بکر

نه ماتېږي بې سندانه

)) مانوکی (( غټه شیطانه!

)رشید وزیری، کابل۲۳-۱۰-۰۹(.

## دربیمه خرګنده او نوموره ډله

دا برخه د دویم )نیمخرګندي ( هغې پر خلاف آر ولسي ځېلونه )لوبې، بدلې، بګتۍ... ( دومره نه را نغاړي او زیات زور پر مقام، رباعي، چاربیته، داستان او غزل اچوي.
په پښتو کې بیا ګړنی، ولسي او یا وګړنی )فولکلوري ( شعر یو بشپړتیايي پړاو هم لري چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې لیکلوستو ترڅنګ دلته او هلته په خال خال نیم لیکلوستو شاعرانو هم تړاو پیداکوي، خو دواړه ډوله ویناوال پوره څرګند او نوموړوي، لکه واخلې:

زرجان، سید کمال، توکل، میرا )ښېوه وال(، میرا اپریدی، ډېراني، غریبي، باقي بانډه وال، محمد نور، محمد دین، عبدالخالق، عبدالصمد، عیسی کندهاری، حاجي نور احمد فراهي، حکیم نور، بسم الله ځائی، درمحمد ځائی، محمد حسین شېرشاهیوال، سالم بړووال، صنم ګل، وزیر ګل داسې نور.

هرګوره، په نیم لیکلوستو ولسي شاعرانو کې خانمیر هلالي، ملنګ جان، خسرو، خاطر... بیا له ځلاندو او تلپاتې ځېرو ځخه بلل کېږي. خو سم له لاسه یې د نورو په استازۍ د ملنګ جان د هغې ټولمنلې ترانې پر رومبنې بند بس راوړو چې تراوسني ملي سروده یې لېوال او مینه وال ډېر دي او په لویدیځمېشتو افغانانو کې د هر سندریز بنډار سرخنې )چاشني( ګرځېدلې ده:

دا زمونږ زېبا وطن
دا زمونږ لیلا وطن
دا وطن مو ځان دی
دا افغانستان دی...
)آر: دا پښتونستان دی (

نیم ولسي یا دودیز شاعران )لومړي چاپ ۱۵۲- ۲۵مخ( هغه لیکوال او زده کړه وال ناظمان دي چې د شعري یا هنري پلوه له ډېرو ولسي هغو سره د سیالۍ جوګه نه دي، خو بیاهم د شعروشاعرۍ داوې کوي او نور شاعران او لیکوال یې هم د ))منځپانګې(( تر اغېز لاندې له ولسي هغو لوړ بولي!
پر وړاندې یې بیا، نه یوازې د یادشوو نیملیکلوالو، بلکې د کندهاري عبدالخالق صادق )۱۳۲۰-۱۳۸۰ل( په څېر پوره لیکلوستوال او زده کړه وال، له خوراناميو شعرونو سره هم په ))ولسي(( شاعرانو کې شمېري!)صالح محمد صالح، الفت ۲۵مه ګڼه(

موږ د داسې څه ناڅه پخو شاعرانو لپاره چې له ولسي او نیم ولسي شاعرانو او ناظمانو سره یې توپیر شوی وي، د ))دودیزوال(( نومونه غوره کړې ده. په دې ډله کې ډېر نور مړه او ژوندي، ان لکه شېراحمد شیدا چې د حبیب اله خان په دربار کې د ملک الشعراء په نامه نومول شوی وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم راځي. هرګوره، له جوليز او نظمي څېلونو او کالبونو )غزل، بوللې، دوبيزې، څلوريزې، ترکيب بند ، ترجيع بند... ( له پلوه يې کلاسيک يا کلاسيک وال هم په دې بللای نه شو چې بيا يې د کلاسيک پېر له سترو ستهو ، لکه خوشال، حميد ، شيدا او نورو نوميالیو سره ټکر راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸- څپرکی
# د دېواني يا ليکني پښتو شعر جوليز رغښت

په اروپايي نومونپوهنه کې د )و (ګړني( شعر PopularVerse پر وړاندې دېواني يا ليکني شعر ته "ادبي شعر LiteraryVerse " وايي.

د پښتو شعر دغه ډول که څه هم زياتره د پارسي هغه په پېښو د پښتو ادب کلاسيک پېر جوړوي، مګر رغښتي تخنيک يې په بنسټيز ډول تر ټوليز پښتو )سېلابوتونيک ( دود او دوی لاندې راځي، نو له دې پلوه تر ګړني )شفاهي ( يا وګړني )ولسي ( هغه زيات پرله پېيلی )منظم ( دی. له ګړني او وګړني شعره يې رواځنی توپير په همدې کې دی چې هېڅکله )قافيه ( او تر يوې زياتې کچې )رديف ( له لاسه نه ورکوي او د همدغو دوو توکونو له مخې يې د پارسي يا عربي په لاروي بېلابېل ډولونه- غزل بوللــه )قصيده (، دويزه، څلوريزه، پينځيزه... پاړکی يا قطعه، مستزاد، ترجيع بند... – منځته راوړي دي. په دغو ډولونو کې يوازې )مستزاد ( ډول له پښتو سروکيو او نورو ځېلونو سره اړخ لګوي چې ديوان والا يا پوره ليک و لوست والا شاعرانو ورسره دومره لېوالتيا نه ده ښوولې.

له دغو ټولو قافيه والو ليکنيو يا په بله وينا دېواني )تقليدي ( شعري ډولونو سره زما نور څه کار نشته او يوازې يوازې يې د پښتو شعر ټوليز سېلابوتونيک )خجيز- څپيز ( آرونه تر څېړنې لاندې نيسم.

۲- هغه ډول شعر )که له دغو پورتنيو ډولونو څخه هر يووي ( چې هره مسره يې په لومړۍ خجنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څپه پیل مومي، په لاندې بېلګو کې وړاندې کېږي:

تـــــــوره چې تېرېږي خو ګوزار لره کنه
زلفې چې ول ول شي خو خپل یار لره کنه
)خوشال(

دا غزل په دیارلس څپیزه مسره پیل شوې او دا چې وروستۍ څپه یې خجنه ده، نو د پښتو شعر د یوې بلې سپلابوتونیکې ځانګړتیا له مخې یې )غیر مصرع( یا بې قافیې مسرې یوه یوه څپه زیاته راځي.

خجونه، پر لومړۍ، پينځمه، نهمه او دیارلسمه څپه راغلي او په دې توګه غیر مصرع مسرې یې د مصرعو هغو غوندې پر خجنو څپو پای ته نه رسېږي، بلکې وروسته ور زیاته شوې )څوارلسمه( څپه یې ناخجنه پاتې کېږي او څنګه چې تر خج وروسته څپیز انډول په دویمه پوړۍ کې راځي، نو د شعر په تولیز تول و تال یا وزن او ریتم کې کومه وتېنه راځي، لکه:
ولې راته وایې چې پر ښکلو نظر مکوه
سترګې چې پیدا دي خو دیدار لره کنه...

یا:

سترګې دي که وروځې که یې زلفې که وربل دی
څـــــو توري بلا دي چې مې زړه پکې قبل دی
چېرته به خلاصېږي دا بلا تر زړه چاپېره
ښه که یـې ته ګورې لا په سرو لمبو اوربل دی

دغه غزل یو مخیز څوارلس څپیز دی او پر لومړۍ، پينځمه، نهمه او دیارلسمه څپه خجنتیا لري.
همدا راز د خوشال ۱۳۰، ۳۹۴، ۴۰۴، ۴۱۷ او ۴۲۲... ګڼې غزلې هم درواخله.

۳- هر هغه شعر چې هره مسره یې پر دویمه خجنه څپه پیلېږي، لکه:

پـــــه زړه تر یار ځارېږم د پتنګ غوندې پېرې کړم
یو راز دی په دا کار کې که په خوله ورته ښېرې کړم

دا غزل هم د پاسني هغه غوندې له یوې مخې پينځلس څپیزه دی او دا چې د سر کړۍ او نورې قافیه مسرې یې په ناخجنه څپه پای مومي، نو په بې قافیه مسرو کې یې د بلې کومې سرباري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناخجني څپې اړتیا نه ده لیدل شوې. د پوره ځرګندتیا او جوتتیا لپاره د خوشال له کلیاتو څخه )۴۷۱ غزل، ۲۹ مخ( را اخلو چې د لومړي بیت دواړه مسرې او نورې قافیه والې مسرې یې څوارلس څپیزې دي، خو دا نورې یې پینځلس څپیزې راغلې، ځکه لکه پاس )۲-۴ ( مو چې وویل، لومړی، په بله وینا ، قافیه والې مسرې یې په خجنه څپه پای ته رسېدلې دي:

له تا نه چې جدا شم، په ناکام پر ورځ و شپه
نه وب نه مې خوراک دی، نه ارام پر ورځ و شپه
بل خیال فکر یې نه وي بې د یار له رویه مویه
د زړه پر حال خبر یم زه مدام پر ورځ و شپه

له مخینی ببلګې سره د دغې ببلګې ورتوالی همدا دی چې دلته هم پر دویمه، پینځمه، نهمه او دیارلسمه څپه خج راغلی او نا ورته والی یې په دې کې دی چې د ړومبني شعر ټولې مسرې پینځلس دي او د دغه شعر مسرې څوارلس څپیزې او نورې پینځلس څپیزې دي. همدارنګه ۱۳۱، ۳۹۴، ۳۲۷، ۴۲۵، ۴۲۹... ګڼې غزلې هم دړ واخله.

ما تر اوسه د رحمان بابا په دیوان کې تر اتو غزلو پورې په لومړۍ خجنه څپه پیلېدونکې شعرونه موندلې دي، لکه:

- سل ځله که وخوري ناصحان ځیګر زما...
- تېر شو په دا تمه پر درستا عمر زما...
- سر زما ، سامان زما ، ځار شه تر جانان زما...
- چېرته د یار شوندې چېرته غم د دل و جان...

- هر چې خپلې مینې خوار کړ خوار یې مه ګڼه... )۲۸۴(.
- مست د هغه مخ یم چې مستانې لري سترګې...)۲۸۷(.
- څه شو که خاموش یم ستا د عشق له آه سرده... )۱۳۹(.
- وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره...)۱۴۳(.

۴- هر هغه شعر، چې مسرې یې په درېیمه خجنه څپه مومې او وریسې نورې څپې له ټولیز دود سره سم درې درې تر منځ ناخجنې او څلورمې څلورمې خجنې راځي.

دغه راز شعرونه په ټول کلاسیک او ان نني قافیه وال او ازاد شعر کې ببخي ډېربنت لري. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمان بابا، حميد مومند، قلندر اپريدي... تژدي ټول هغه په درېيمه خجنه څپه پيل مومي او چېږي يو نيم يې په لومړي هغه پيلېږي- د دويمې هغې ببلګه يې ما تر اوسه نه ده موندلې. د خوشال خټک زياتره شعرونه هم په درېيمه خجنه څپه پيل شوي دي، خو په خوا کې يې د لومړۍ او دويمې هغې ببلګې هم ښايسته ډېرې موندل کېږي.

دا دی اوس په درېيمه خجنه څپه پيلېدونکي شعري ببلګې په وروسته توګه وړاندي کېږي، داچې داراز خج د پښتو ليکني او دېواني شعر ډېرۍ برخه رانغاړي، پر يو څو لړو هغو يې بسنه کوو:

الهي د محبت سوز و ګداز را
په دااورکې د سهي سمندر ساز را)حميد ۱(؛
ای مدام د نس په زېرمه مبتلا
ځانته ولې وينبوې ويده بلا
دانايان له دښمنانو سلا نه کا
ته په څه کوې د نفس شيطان سلا)حميد ۴۰۰(؛

نن به شپه زما د يار پر کوم مکان وي
جلوه ګر به پر کوم هټ پر کوم دوکان وي)حميد ۴۰۰(؛
چې په مهر يې نن مخ زما پر لور کړ
هم هغه مې په کور پورې د غم اور کړ)قلندر ۲۸(؛
نشته ما څخه نور توان ستا د جفا
ستا رضا که اوس جفا کړې که وفا
خراب شوی ستا په غم کې هسې رنګ يم
چې مې نه شي کړای عرب عجم دوا)قلندر ۲(؛

هېڅ مې نه زده نه پوهېږم دا څه پېر شه
چې دلدار مې د اغيار په شکل و څېر شه)رحمان ۱۵۸(؛
چې پخته شي اشنايي
تر ميان وځي جدايي
و طالب و ته وفا شي
د مطلوب بېوفايي)رحمان ۲۲۷(؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه یار چې ښایسته دی تر افتابه
مخ به کله را ښکاره کا له نقابه
ښلتانه به زړه زهیر کړم بې حسابه
یو سبب وکړې یا مسبب الاسبابه
چې زما ملاقات وشي له احبابه)رحمان ۲۷۲ (؛

صورتګر چې ښه صورت پر دیوال ساز کا
کل عالم یې په صفت زبان دراز کا )خوشال ۱ (؛
حقیقت را ته ښکاره شو د هر چا
باور نشته پر اشنا ، پر نا اشنا ،
چې پر سر دې سوګند خوري ورځنۍ ډار کا
یوه ورځ به ستا د سر وکا سودا )خوشال ۱۲ (.

۵ - په دیواني شعرو کې د ولسي )ګړنیو ( او اوسنیو قافیه والو او ازادو شعرونو پر وړاندې پر څلورمه څپه پیلېدونکي شعرونه ډېر لږ دي. که څه هم دا د تولیز پښتو سېلابوتونیک شعر وروستی برید دی. مانا دا چې دا هېڅ ډول پښتو شعر پیل تر څلورمې خجنې څپې وړاندې نه دی لیدل شوی او که ولیدل شي، تور و تال )وزن( بیا هډو نه شي درلودای. په کلاسیک پېر کې یوازې مات یا لارغه یې )وقفه یې( شعرونه او هغه هم زیاتره لس څپیزې، څلوریزې پر څلورمه خجنه پای مومي چې د مات شعر له دوو سره سم یې ورپسې خج پر نهمه څپه راځي. دا ځکه چې تر لارغې وروسته له دویمې نیمې مسرې سره بدلېږي او د لومړۍ نیمې غوندې پر څلورمه خجنه څپه پیل مومي؛ زیاتره سروکي)←۷-څپرکي ( د ورته لارغو له لامله دغه خجونج راښیي.
)۱( لس څپیزې ماتې څلوریزې چې پر څلورمه او نهمه څپه خجنه کېږي په دې وروسته ډول دي:

)۱(
کله به راشي پر هند پراته
کله به کښېني ماته مخ راته
څو ته را درومې پکې ډېوې ږدې
غم به کا خونه د "حمید " میراته)حمید: ۴۱۱ (
دلته "حمید " یو څپیز لوستل پکار دي، کېږي چې له آره به یې پر ځای "ما " راغلی وو او چا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکې دا ونجون راوستی وي !

)۲(
د خدای لپاره د دوست په روی دې وه
د وفادارو ښکلو په خوی دې وه
د رنځورانو په های و هوی دې وه
...

د لومړۍ ځلوریزې ځلور واړه مسرې لس څپیزې دي او د دویمې له آره یوولس څپیزې دي، مګر دربیمه )غیر مصرع یا بې قافیې( مسره یوولس څپیزه ده. ځکه لکه څنګه چې وویل شول، په خچپای شعر کې بې قافیې مسرې یوه څپه زیاتوي. دغسې په چپه ډول په دوو ناخجنو یا )درو ناخجنو ( پای څپو کې یوه )یا دوه( څپې غورځېدای هم شي بې له دې چې تول و تال ته کوم لید ور زیان ورسېږي. د ساري په توګه د غني خان قامي ترانه )ای زما وطنه( په دربیم بند کې تر خجنې څپې وروستی غونډی دوې څپې کمې دي، مګر د موسیقۍ په پردو کې نه ننګېږل کېږي، تش سندرغاړی خپل آهنګ یو څه اوږدوي. د قلندر اپریدي هغه ټولې ځلوریزې چې په اوسني دیوان )د کابل د ۱۳۵۲ کال چاپ( کې راغلې دي، د حمید مومند د پاسنیو دوو ځلوریزو غونډې ماتې یا لارغه یې دي، په بله وینا په ځلورمه خجنه څپه پیل شوې او د لومړې او دویم خج واټن یې هم ځلور څپې دی، مګر د څپو د شمېر له پلوه یوازې د حمید له لومړۍ ځلوریزې سره سمون لري او دا هم باوري بریښي چې د همدغه استاد پر لاره تللی دی که څه هم نورو ډېرو شاعرانو هم دغه ډول ځلوریزې ویلې دي د قلندر ځلوریزې په لاندې ډول دي:
)۳(
زه دې د وصل په تمه ګرځم
هجران دې وسوم له غمه پرځم
که مې وصال وي له خپل مینه
قلندر پر بل لور ګرځم

)۴(
زه دې له هجره تل امان غواړم
بې له تا زه مهر د بل نه غواړم
که دې نظر وي میرا و ماته
زه قلندر دې په درکې ژاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



)۵(
زه په هجران کې دې مبتلا کړم
غریب همېش دې په واوېلا کړم
د رب لپاره جفا نور پرېږده
زه قلندر دې میرا جلیا کړم
)قلندر: ۱۵۵(؛

د کامګار خټک په ټول دیوان کې هم غزلې یو مخیزه په دربیمه خجنه څپه پیل شوې دي او یوازې څلوریزې یې د حمید او قلندر هغو غوندې په څلورمه خجنه څپه پیل مومي چې هماغسې لس څپیزې مسرې لري او دویم خج یې څلور څلور څپې وروسته راغلی دی.

)۶(
زما دلبره دتا له درده
سترګې مې سرې دي ګونه مې زرده
دا هومره جور پر ما تل مه کړه
وېره مې وکړه له آه سرده

)۷(
مه کړه په څه کړې هجره خونخواره
چې دې جودا کړ کامګار له یاره
یو ځل مې بیا کړه له یاره وصل
که نه وي مرمه د رب لپاره
)کامګار: ۱۸۳(.

)۲( د ماتو )لارغه یې ( لس څپیزو، دوییزو )مثنویو ( بېلګې پر څلورمه خجنه څپه پیل مومي او هغه هم د پورتنیو څلوریزو غوندې په ورته څپیز او خجیز انډول لکه:
)۱(
که یون دی یون دی، مخکې بېلتون دی
له کسې غره څخه، ځي خربېون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که وروره وروره ،خرښبون وروره
ته چې ببلتون کړې، زما ویرته گوره
چې ځې مرغې له تورې کرغې له
همزولې پاته، ځي څه برغې له...)پخ ۹-۱۰(

د حافظ نظام د "لیلی او مجنون" کیسه هم په همداسې لارغه یې )وقفه یې( یا مات ډول په دوییزه بڼه ویل شوې ده، لومړی خج یې ډېر ځلورمه او دویم یې پر نهمه راغلی او د پښتو دوییزې له ټولیز دود سره سم یې ځینې بیتونه نه څپیز هم راځي، تر دې چې لومړی پیل یې هم په نه څپیز بیت شوی دی:

)۲(
وایې ویونکی د دې قصې
چې تل یې ښکار و د ښې هوسې
چې د عربو د ملک یو مرد وو
خجسته نام و په عقل فرد وو
متاع یې ډېره له هره بابه
څوک په حساب و څوک بې حسابه
)هماغه اثر ۵۹(؛

د خوشال دا دوې لس څپیزې ببلگې هم دراخله:
- بلبل هر چا ته، دا خبرونه کا
وخت د بهار شو، غوټۍ گلونه کا...،
- وگړې واړه، کارونه خپل کا
مردان هغه دي، چې کار د بل کا؛

تر څنگ یې بیا، دولس څپیزه ماته ځلوریزه هم لرې:
څوک چې ارام گټي، د نېکو نام گټي....

)۳( د زینب هوتکې شپږیزه )ترجیح بند( ویرنه )مرثیه( په ماته بڼه نه، بلکې د عادي شعر په بڼه پر ځلورمه خجنه څپه کښنل شوې ده )پخ ۱۰۳(. همدا راز د بابا هوتک سندره هم دراخله )پخ ۵(.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوېبدنې او تېروتنې:
ديواني يا ليکني شعرونه لومړی د پښتو شعر د تولېزې "سپلابوتونيکې" ځانګړتيا پر بنسټ تر کره کتنې لاندې نيسو او بيا يې د قافيه والو شعرونو په توګه د قافيې او رديف د ځانګړتياوو له مخې چې په پارسي او عربي کې يې ټاکنه او پېژندنه شوې ده.

۱: د څپيز انډو ل ړنګېدنه
دا په دې مانا چې د يوه ليکني قافيه وال شعر کومه مسره يا مسرې تر سر مسرې، په بله وينا، سرکړۍ )مطلع( څپيز کموالی يا ډېروالی ولري او دغه کمی يا زياتی خجيز انډلو ته هم وټه ورسوي، نو بيا وايو، د نومورې مسرې يا مسرو څپيز انډول ړنګ شوی، په بله وينا، څپيز-خجيز ويار )عيب( لري هن، که د پای له درو کېدونيو )ممکنه( څپو څخه يوه، دوه يا درې واړه وغورځي او ورمخنۍ خج کمزوری نه کړي، نو کوم ويار نه ګڼل کېږي. د ساري په توګه که )غزل(، دربيزه، څلوريزه، پينځيزه... يا پارکی )قطعه(، بولله )قصيده(( ... چې لومړی مسره يا بيت پر وروستۍ خجنه څپه پای ته رسېدلی وي، ورپسې بې قافيې )غير مصرعي( مسرې يوه يوه څپه زياته راتلای شي، تر دې چې کله کله ددغې يوې څپې، نه زياتوالی شعري آهنګ يو څه کمزوری کوي هم، لکه په دې وروستيو بېلګو کې:

ستا له خوا نه بېلېدای نه شمه زه
ستا له ميني صبرېدای نه شمه زه
چې نيولې مې ده ستا د وفا لار)ه(
له دې لارې کږېدای نه شمه زه
نا اميده ستا د سترګو له ککو )نه(
لکه اوښکه څڅېدای نه شمه زه
يم رنځور ستا د پېغلوټو شمو )چې(
بې وصال دې رغېدای نه شمه زه
يم هغه ازاده مينه زياره ستا
)يمه ستا هغه ازاده مينه زياره(
چې په جبل کې ځايېدای نه شمه زه
)زنداني نغمې، ۲۴(؛

هر مطرب چې غوږۍ تاو کا د رباب

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا تاو کې زما زړه کاندې خراب
چې سامع يې په نغمه په ترانه)شم(
ديوانه شم ګرېوان خيرې مست خراب
)رحمان: ۳۷ (؛

که مسجد ګورې که دير
واړه يو دی نشته غير
يو مې بیاموند په هر څه)کې(
چې مې وکړ د زړه سير
)خوشال: ک. ۱ ټوک ۲۵ (؛

ای مدام د نفس په زېرمه مبتلا
ځانته ولې وينبوې ويدې بلا
دانايان له دښمنانو سلا نه)کا(
ته په څه کوې د نفس شيطان سلا
)حميد: ۳ مخ(؛

شوم په دام د زلفو بند
ښه چې نه مې واخيست پند
عشق دې اوروو زه ورګډ شوم
پاکوبان لکه سپند
)کامګار: ۳۴ مخ(؛

که خبر وای له دې هسې رنګ خوارۍ
ما به نوم اخېستی نه وو د يارۍ
ستا د غم په درياب ډوب يم تر مرۍ
بې تا نه لرم هېڅوک د دستګيرۍ
مګر ته خپله لاس راکړې همدمه
)رحمان: ۲۷۸ (؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب به نه ورځي له ډېرې ستومانۍ
بوږنوي به يې د ملو بد ګومانۍ
نه به وړاندې ځي زړور په ښادمانۍ
نه په بېرته شي راتلای له پښېمانۍ
له هر سپي به په امید د امانۍ
چېړوسي کا د نمړۍ په مهمانۍ
چې دې یار پېښې دا هسې نرمه ګرمه
ته په کومه حیا روغ ګرځې بې شرمه
)حمید: ۴۰۲ (

دا کوم شرم دی کوم درم د یارۍ
دا پیوند دی بد نما ترو بزارۍ
چې مې یار پر توده ځمکه د خوارۍ
کښېني پاڅي خوار حیران له ناچارۍ
او زه ښوی ښېرازه ګرځم سپین سپېڅلی
)حمید: ۴۷ (؛

سنه زر سل پېنځه شپېته ده
چې رحلت وکړ کامګار
پس له دې نه په دې کاله
پلار دده وشو نامدار
)کامګار: ۱۸۵ (؛

خراب زړه مې هوسېږي
ستا جمال مې ډېر یادېږي
که نظر دې پر ما کېږي
فریاد رس یا مصطفی
)احمد شاه بابا: د غورچاڼ پای (؛

د فلک له چارو څه وکړم کوکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمولوي هر گل چي خاندي پر بهار
هر غاټول چې پر بيديا غوړېده وکا
رېژوي يې پاڼې کاندي تار پر تار...
)اسعد سوري، پخ( ؛

وايي دا چې صحبت کاندي
يو له بله ډېر اثر
پر کلو دې مصاحب شوم
ستا صحبت نه کړمه خر
)محمد عمر: پخ۱۵۲( ؛

صحبت ډېر اثر کا گوره
منکر نه شې له اثر
ته دمخه هغه شی وې
اوس انسان سولې بشر
)محمد طاهر: پخ۱۵۲(؛

زړونه خوښ کړه دا نېکي ده د رښتيا
مه کړه چا باندې تېرنه په جفا
د خدای کور مه ورانوه په ستمو
د خدای کور وگڼه زړه چي وي صفا
)محمد اياز، پخ ۱۵۲( ؛

همدغه ډول څپيز کمی زياتی په دوبيزه کې هم راځي، په همدومره توپير چې دلته لومړی بيت بنسټ نه ټاکل کېږي، په بله وينا ، دغه کمی زياتی د لومړي بيت له مخې په پام کې نه نيول کېږي، بلکې دلته دود داسې دی چې پر خجنه څپه پای کېدونکی بيت )د دوارو مسرو په پام کې نيولو سره( تر هغه بيت يوه څپه کم راځي چې پايمخه څپه يې خجنه وي. په دې ډول يوه يوازېنۍ دوبيزه کې اته څپيز او اوه څپيز بيتونه راتلای شي او همدارنگه نه څپيز او لس څپيز؛ لس څپيز او يوولس څپيز؛ يوولس څبيز او دولس څپيز؛ ديارلس څپيز او څوارلس څپيز؛ پېنځلس څپيز او شپاړس څپيز، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقي پاڅه پیاله راکړه
مرور یار مې پخلا کړه...
چې یو دم سمه ازاد
ناښاد زړه مې سینه)سي نه ( ښاد
)زرغون خان:پخ ۸۴-۸۲ ( ؛

زړه د حسن له غمونو اوس بري سو
مقترن دوی لکه لمر او مشتري سوه
زړه ویل شکر ده مقصود زما حاصل سه
ما چې عیش نه لاره اوس مې عیش کامل سه
شکر شکر ده حاصل سه زما کام
سوی حال راته وصال د دل ارام
حسن هم په شکر چې کړ وا زما زبان
شکر یې وکړی په درگاه چې د سبحان
بیا دې زړه ته وویل چې شادماني کړه
دی هنگام د کامرانۍ، ته کامراني کړه
)مسافر مروت: حسن ودل، ۷۴ ( ؛

ږغ سو چې وروړ تېر له دنیا سونا
قندهار واړه په ژړا سونا
زړه مې په ویر کې مبتلا سونا
چې شاه محمود له ما جلا سونا

اصفهان پاته تاج نسکور عالمه
چې شاه محمود سو نن په گور عالمه
د پښتون لمر سو تیاره تور عالمه
راته دښمن به کا پېغور عالمه
چې پاچا ولاړ پښتون گدا سونا
قندهار واړه په ژړا سونا...
)زینب هوتکي، پخ۱۸۸-۱۹۲ (

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زينب هوتکي په شپږيزه )ترجيع بند ( کې د دغو دوو بندو دوه وروستۍ راغبرګېدونکې مسرې تر مخنيو څلورو مسرو يوه يوه څپه لنډۍ راغلې، په بله وينا ، د دواړو بندو مخکنې څلور مسرې تر نور ټول شعر څخه يوه يوه څپه زياتې دي. له دې څخه دا پايله لاسته راځي چې تر وروستي ځج څخه وروسته تر درو ناځجنو څپو پورې کموالی يا زياتوالی موندلای شي او کوم ويار نه ګڼل کېږي.

د غني په دې لاندې ترانه کې د وروسته بند دړې واړه مسرې تر نورو ټولو )پينځلس څپيزو ( مسرو دوې دوې څپې کمې دي او سندرغاړی يې د آهنګ په لوړولو او غځولو تشه ډکوي:
يه زما وطنه د لالونو خزانې زما
ستا هره دره کې دي د توري نښانې زما
ستا سر چې وي ټيټ، نو زه به شان او شوکت څه کړمه
ته چې خوار و زار يې، زه به مال او دولت څه کړمه
ته چې وران ويجاړ يې، زه به خوب او راحت څه کړمه

يا به دې زه سيال کړمه وطنه د جهان)..(
يا به ستا په پښو کې توري خاورې کړمه ځان)..(
ځان به دړې وړې کړم خو تا به کړم ودان)..(
نر يمه، پښتون يم، تا ته يادې افسانې زما
يه زما وطنه د لالونو خزانې زما
)غني: کليات ۱۳۲۸(.

د خوشال خان غونډې سترو شاعرانو په دوبيزو کې له دغه راز اسانتياوو څخه هم ډېره کړې او په څرګنده بريښي چې په اګاهانه توګه يې څپيز کموالی روا ګڼلی نه دی. د ساري په ډول يې د سواتنامې په ۳۹۱ بيته دوبيزه کې هېڅ داسې بيت راوړی نه دی چې يوه يا دواړې مسرې به يې پرځجنه څپه پای ته رسېدلې وي او په دې توګه يې له پيله ترپايه هماغه دولس څپيز کالب کارولی دی. په غزلو او نورو ډولونو کې لکه څنګه يې چې پاس يادونه وشوه، خوشال بيا هم د نورو ټولېزه لار نيولې او په ياد شويو ځايو کې يې د څپو کموالی او زياتی رامنځته کړی دی.

## ۲: د ځجيز انډول رنګېدنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې بیا بیا ورته نغوته وشوه، د پښتو شعر په سېلابوتونیک سیستم کې خج او څپه ټاکنده نقش لوبوي او په دواړو څیزونو کې بیا خج په لومړۍ پوړۍ کې راځي او په درو واړو )ګړنیو، لیکنیو او نویو ازادو ( شعرونو کې پرې لکه شا تېر د تول و تال او یا په لنډ ډول، د وزن تړوله ودانې ولاړه ده، له همدې لامله د څپیز انډول رنګېدنه، په بله وینا، ببځایه کېدنه او غورځېدنه د هر ډول شعر د بې تولې لامل کېږي او له شعري چو کاټه وځي. څنګه چې سم له لاسه مو خبرې پر لیکنیو شعرونو دي، نو له دیوانونو څخه یې رابېلوو:

شپه د بېلتانه ده پهر پهر کال پر ما شو
بانګ دی د چرګانو په هزار هیله سبا شو
رابه شي ګلزار ته وار پر وار ننداره کاندي
پیغام راوړي د وصل عجب ښه راځي په سهر
هُد هُد د یار له لوریه، نن پر ما باد صبا شو
پر وخت د مشغولا له ګلو کله اواز کاندي
چې د رومي له ګلزاره په چغار چغار توتا شو
په درست عمر یې مُهر د سکوت پر خوله وهلی
زما د زړه توتي دی چې نن ګورمه ګویا شو
زنګ چې باندې پرېوځي اینه د زړه تبې شي
زړه د خوشال ګوره ! له هر رنګه مصفا شي
)خوشال: ک، ۱ ټوک، ۱۸۲ مخ(؛

خوشال خان په دغه غزل کې د خج د دریځ په بدلون سره دوه ډوله وزن رامنځته کړی دی: لومړۍ درې مسرې او وروستۍ دوه هغه یې پر لومړۍ خجنه څپه او په منځ کې یې پرله پسې اووه مسرې پر دویمه خجنه څپه پیل کړې دي او له دې کار سره یې څپیز انډول هم رنګ شوی دی؛ هغه دا چې پر لومړۍ خجنه څپه پیلېدونکې مسرې یې څوارلس څپیزې راغلې او پر دویمه څپه پیلېدونکې هغه پېنځلس څپیزې. همدارنګه د خوشال ۴۰۲ او ۲۳۴ غزلې همدغه نیمګړتیا لري.

په دغه لاندېنۍ وسمهالې بېلګه کې چې د اردو شعر منظومه ژباړه ده، قافیه او د مسرو )دولس ( څپیز شمېر یې، له کومې مسرې نیمې پرته، تر پایه په پام کې نیول شوی دی، مګر دا چې خج پر خپل خپل ځای نه دی راغلی، په بله وینا، پر ببلا ببلو خجنو څلور څپیزو ستنو )رکنو ( نه دی وېشل شوی، نو جوله یې هېڅ راز شعر ته ورته نه ده، بلکې د ))← یاکوتانو (( د سندرو غوندې په هماغو پښبلو یې ورته پېیلې جامه وراغوستې او یو ببخونده نثر دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فرنګي که يو وخت زه هم دربان وای
نو ژوند کول به راته څومره اسان وای
بچو به زما کړی تعليم په امريکا کې
اوړی ګرمي به زما پر انګلستان وای
په انګرېزی ږغېدا به مې روانه
که څه هم له اصله څخه اردو زبان وای
په ټيټهولو د سر چې وای سر شوی
نو به ليډر هم تيار يو عاليشان وای
مځکې جايداد به وو زما هره صوبه کې
والله چې صدر خو زه د پاکستان وای
)جرګه:... ګڼه (.

نو که موږ وغواړو ، د څپو په اوږدون سره يې خجيز انډول داسې رامنځته کولای شو:
د پرنګ که يو وخت زه هم )کوم ( دربان وای
نو به ماته ژوند کول څومره اسان وای
کړای بچو به مې تعليم په امريکا کې
ګرم اوړی به زما پر انګلستان وای
په روانه انګرېزی به غږېدلم
که له اصله هم سوچه اردو زبان وای
وای سر شوی به د سر په ټيټهولو
رانه جوړ به يو ليډر څه عاليشان وای
جايداد ځمکې به مې وې هره صوبه کې
والله صدر به زه هم د پاکستان وای !

## له کلاسيکه ترنوي غزله

له کلاسيک يا زاړه غزل سره د نوي غزل برېد ليکه د څو جوتو توپيرونو له مخې ټاکل کېدای شي، لکه:
١( په تولېز ډول يې د پارسي- عربي ژب - ښکلاييز زبښناک ته پايتکی ابنبی او د پليونو پاتشوني او پاتوړي)وارثان ( يې ښايي له ګوتشمېره تېری ونه کاندې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ ( نرېه جوليزواله )فورمالېزم( ، په بله وينا هنري ارمان يې تر ډېره له تولنيز هغه سره غاړه غړې کړې دی؛
۳ ( د کلاسيک غزل پرخلاف اوسنی دا يوازې پر ))←افقي انځور (( بسنه نه کوي، بلکې ))← صعودي، ۵- ځپرکی (( هغه هم راخپلوي. مانا دا چې غزل د نوي- ازاد شعر غونډې ورو ورو تمثيلي او کيسه يي کېږي. د يوې ټاکلې پلات، سوژې، اند و واند)انديشه و خيال( او يوه پيغام پر بنسټ پيلېږي او پېيل کېږي. هر هر بيت يې هم په جلاډول او هم د د درست غزليز زنځير د يوې کړۍ په توګه تر ارزونې لاندې راځي؛
۴ ( دا چې نوی غزل د يوه ناشننوړي شعر دريځ راخپل کړی او د پېښوريانو په نومونه د ))مسلسل غزل (( ښې ته راوښتی، نو ))غزل (( نوم ورسره هم نور اړخ نه لګوي او په کارده، د دغه ))متحدالمال (( سرليک پرځای په يوه ټاکلي نامه ونومول شي. نورې نړۍ ته دا خورا هېښنده برېښي چې يو شعر دې يو جلا او نومېرلی )مشخص( نوم و نه لري ؛
۵ ( که د مطلع حذف دومره دود نه دی مونډلی، خو په مقطع کې د نوم راوړنې دود تر استاد حمزه راوروسته نور له نشته برابر شوی دی؛
۶ ( لکه په څلورم ځپرکي کې چې يادونه وشوه، د مسرې لنډترين بريد يې له پينځو څخه تر دوه ځپيزو رسېدلی او اوږد ترين هغه يې له شپاړسو څخه تر څلوېښت - پينځه څلوېښت ځپو پورې؛
۷ ( د ناقافيوال يا ازاد غزل دود چې په نژدې ))تربرې(( پارسي ژبه کې له څو کلو راهيسې رانښلول شوی، په پښتو کې هم نن سبا ازمايل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹- څپرکی
# اوسنی ازاد پښتو شعر
# د خپل ازاد فولکلوریک او بیا کلاسیک شعر بشپړتیایي بڼه

د اچې وایو، پښتو ازاد شعر د یو شمېر نورو ختیزو ژبو پر خلاف د اروپایي ازاد شعر پېښې یا کاپي نه، بلکې د خپل ازاد )و ( ګړني او لرغوني)فولکلوریک او کلاسیک ( هغه بشپړتیایي بڼه بلل کېږي، غوره لاسوندیې دادی چې اروپایي ازادشعر(free verse ( یوازې بېقافیه نه، بلکې له هر راز شعري قانون یا قالب)metrical pattern(څخه پخشو دی؛ نه هغه پخوانی ټاکلی مسره ییز دود سمبالوي نه هغه ټاکلي ژانرونه او څومره والی)کمیت( یا کچ و مېچ او نه هغه کلاسیک تول و تال یا ریتم په ټوله مانا رانغاړي. تر ډېره زمور د ))←سپین شعر (( په څېر وزن و قافیه دواړه نه لري او په دې توګه یې له ))←ناپېیلي= منثور(( هغه سره پوله او برید زیاتره د ← )موزیکال( اهنګ له مخې نومېرل کېږي. د پښتونخوا پښتانه بیا د اردو ژبې په پېښو ازاد شعرته))مبرا ((او سپین ته))معری(( وایي.
همدارنګه له عربي او بیا پارسي ازاد شعر سره زموږ دا خپل برید په دې رابېلوي چې له پښېلیزې )قافیې( ازادی سره سره نور عروضی آرونه په پام کې نیسي او د مسرو لنډوالی او اوږدوالی یې هم د ))مفاعیلو ((اړوندیا تابع دی.
اروپایي سپین شعر)**blank verse**(، فرانسي verse levere، جرمني **freie Rythmen** د سپین شعر نومونه له اروپایي نومونې سره نه، بلکې زموږ له نیم ازادو ډولونو، لکه ازادو کالبو اومونډي شعرونو سره سمون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نورو اروپايي ژبو غونډي په المانۍ کې د دغه راز شعرونو پيلامه تراتلسمې پېړۍ پر شا ځي. کلوپ شتوک د يوه الماني شاعر په توګه پر ۱۷۵۹ کال "د پسرلي جشن" تر نامه لاندې د يوه شعر په وړاندې کولو سره پر سپين شعر بشپړ لاسبرى وموند او ورپسې ګويتې همدغه لار ونيوه، چې د ۱۷۷۲ کال د "ګرځندوى توفاني سندرې" شعر يې لومړۍ بېلګه وه. همدا راز د نووالیس "شپې ته سرودونه" چې پر ۱۷۹۷ کال يې ويلي وو. ورپسې د هويلدرين "دراين يوازېنۍ سندرې"، د هنرين هاينې "شمالي سمندرګۍ"... د همدې لړۍ شعرونه بلل کېږي. نيچې، رېلکې، شتېتلر، ويرفي او داسې نورو هم دغه لار نيولې ده او ورته بېلګې يې راپرېښې دي )اوتوبېست: د ادبي جاجونو لاسليکي، ۸۵ مخ - لويدیز المان، ۱۹۷۲(.

په هره توګه، هغه څه چې په اروپايي ژبو يې ازاد شعر بولي، د پښتو له نيم ازادو شعرونو او بيا ازادو کالبونو سره سمون خوري، لکه واخلئ د غني، اجمل، لايق، زيار، پيوند، سنګر، کاوون، خاموش، رفيع... يو لړ شعرونه چې پخپله خوښه يې ځانته يو ډول يا بل ډول کالبونه په کار اچولي دي، هر بند يې له يو څو لنډواو يوې يا دوو اوږدو مسرو څخه رغښت مومي او لږ و ډېر له قافيو او رديفو څخه هم کار اخلي، يا يې لږ تر لږه د بندونو پايلې په همقافيه مسرو پاى ته رسېږي. په اروپايي نومونو بيا دغه راز خپل خوښيو ازادو قالبونو ته ازاد بيتونه وايي: فرانسي **Verse Libre**، الماني **Freie Verse**، انګرېزي **Free Verse** يو الماني پوه )اوتوبيبست، ۸۴ مخ( د دغه راز شعر پېژند ګلوي داسې کوي:
هغه ډول شعر چې د مسرو يا ټوټو اوږدوالی يې پخپله خوښه وي، مګر له يو راز قافيې او څپېز شمېر سره، چې ګليرت، ليسين، ويلاند... يې استازى دى، را وروسته دغه راز شعر د څپو برابري هم له لاسه ورکوي او له "ازاد وزني" يا "سپين" شعر سره يې يوازې په قافيه بېلتون راغلى دى.
حال دا چې له ازاد پښتو شعره زموږ موخه هغه توليز )موزون( شعر دى چې له ناپښېليزوالي )بېقافيه والي( سره سره يې مسرې د لنډوالي او اوږدوالي له پلوه کومه ټاکلې کچه نه لري او له )← يوفونيمي څپې( نيولې تر څلوښت- پېنځه څلوښتو څپو رسېداى شي.

په پښتو کې له "ازاد" سره د "نوي" يا "اوسني" ستاينوم )صفت( سرباري کول په دې موخه دي چې له "ګړني )شفاهي(" يا "وګړني )ولسي(" ازاد شعر سره د اوسني يا نوي "ازاد شعر" ګډون را نه شي. په پښتو ګړني يا وګړني شعر کې ازاد ډول تر قافيه وال هغه ډېر پخوانى برېښي او آره يې لرغونو اريايي )ويدي- اوېستايي( شعرونو ته رسي، لکه لنډۍ، زياتره سروکي، ببولالې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شین خالۍ، د هوتکو نارې،د نکلونو نارې، بدلې، لوبې، بګتۍ، لنډکۍ )د ځاځي میدان(، انګۍ )کاکړۍ ساندې یا ستاینې( او یو ګڼ شمېر متلونه چې زیاتره مقفی نه، بلکې )متوازن( مسجع دي، په بله وینا، څپېز- خجېز )سېلابوتونیک( تول )وزن( لري. دا نور قافیه وال ډولونه، لکه: غزل، داستان، څلور کرېزه )چاربیته(، کاکړۍ، دوبیتي... یې وروستنۍ او پرمختیایي بڼې دي. د پښتو لیکني شعر لومړۍ پیلامې هم زیاتره ولسي رنګ لري او د لوبو، بګتیو، بدلو او ځینو سروکیو غوندې په نیم ازادو کالبو کې راڅرګندېږي. ورته اروپايي هغه د "سپینو شعرو" په نامه متې په ۱۲مه پېړۍ کې رانښلول کېږي. په پښتو کې دغه ولسي ډوله نیم ازاد شعرونه له امیر کروړه )اتمه زېږدې پېړۍ( نیولې تر ننه پورې له قافیه والو "دیواني" شعرونو سره اوږه پر اوږه را روان دي.

له "دیواني" شعرونو څخه موخه هماغه شعرونه دي، چې په منځنۍ ادبي پېر )۱۵- ۱۹زېږدي پېړۍ نیمايي( کې د عربي او پارسي شعر په پېښو په ښېلابېلو کالبو )غزلو، بوللو و دوبیزو، دربیزو، څلوریزو...( کې کښل شوي او راوروسته یې په نوي پېر کې هم لړوډېرې پېښې شوې دي. نومورې شعرونه له لومړیو دوو ډېوانونو او بیا یوې نیمې "مصنوعي" ښېلګې پرته عروضي نه، بلکې په سېلابوتونیک تول کې ویل شوي دي. دا هم اړینه نه ده، چې د دغه مهالپېر ګرد شعرونه دې "دیواني" کچې او بڼې ته رسېدلي وي. هرګوره، لومړي دوه او بیاعروضي ډوله پښتو ډېوانونه په لسمه لېږدې پېړۍ کې د )روښاني( غورځنګ پیاوړو شاعرانو ارزاني او انصاري رامنځته کړي دي.

په "زاړه پېر" کې چې سم له لاسه له دویمې لېږدې )هجري( پېړۍ څخه تر زرمې تاکل شوی دی، له "دیواني" ډوله شعرونو څخه د شېخ اسعد سوري )۴۲۵ مړ( بولـله)قصیده(، د محمد هاشم سرواني )۲۲۳-۲۹۷هـ ق( له عربي را اړولی پارکی )قطعه(، د اکبر زمینداوري )۷۷۱-۸۰۷ هـ ق( غزل او یا د شېخ رضي لودي )۳۵۰ شاوخوا( او د امیر نصر لودي )۳۹۵ شاوخوا مړ( پارکی او داسې نور د یادونې وړ دي.

په اوسنۍ بڼه ازاد پښتو شعر چې یې که څه هم په ښکاره ډول د اروپايي ازاد شعر تر اغېزو او پېښو لاندې له ۴-۵ لسیزو راهیسې دود مونډلی دی، بیا هم لکه پاس چې وویل شول، له خپل دودیز ازاد ګړني شعر سره تړاو لري او د سېلابوتونیک وزن پر بنسټ ولاړ دی. که یو نیم شاعر د هماغه وچ اروپايي تقلید په لومه کې ښکېل پاتې دی او خپل دودیز تول و تال یې پکې سمبال کړی نه دی هرومرو یې خبره "سپین" شعر ته رسېدلې ده. تول )وزن(، یا په اروپايي نومونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ریتم " د شعر بنسټیز شرط دی، که په قافیه وال شعر کې وي او که بې قافیې )ازاد ( کې. له همدې کبله له بې آهنګه )بې وزنه( شعر سره د "سپین شعر " نومونه جوړېږي. پښتو ))سپین شعر (( د پارسي ))شعر سپید (( په څېر د )بې تول و بې اهنګه شعر ( په جاج رادود شوی، نه د زړې اروپایي نومونې په جاج چې یوازې د ازادو کالبونو او څه ناڅه بې قافیې شعرونو یې اړه درلوده.

په پښتو کې په هماغه اروپایي جاج، ازاد او نیم ازاد کالبونه د شلمې پېړۍ له دویمې- درېیمې لسیزې راهیسې رادود شوي دي. په دې ډول مخفي، فدا، صالح محمد کندهاري، عبدالحی حبیبي، عبدالاکبر اکبر، عبدالاکبر خادم، قیام الدین خادم، فضل احمد غر، کمالي، میا احمد شاه، اسیر، خیال، اجمل، بېنوا، لایق، عبدالرحیم مروت... یې له غورو او مخکښو استازو څخه ګڼل کېږي چې بې له شکه یې له ولسي یا وګړنیو )فولکلوریکو ( هغو څخه الهام اخېستی دی. همدارنګه مونډي یا سر پرېکړي )د قافیې له پلوه ( شعرونه چې عبدالرحمن پژواک یې پر ۱۳۱۷ کال په )کلیمه داره روپۍ ( سره بنسټ اېښی دی او ورپسې پر ۱۳۳۱ کال د عبدالعظیم ساپي ورته نظمونه )رفیع: زریني ځانګې ( او بیا په پېنځوسمو او شپېتمو لمریزو کلونوکې د سید بهاؤ الدین مجروح د )ځانځاني ښامار(، یا )نا اشنا سندرې( او نور چاپ او نا چاپ شعرونه خپلې جرړې ولسي هغو ته رسوي.

خو که دغه وروستی ازاد کالب والا، نیم ازاد یا مونډي شعر په پام کې ونه نیول شي، نو هممهال ورسره د بشپړ ازاد )هم له قافیې او هم د مسره ییز انډول له پلوه ( پیلامه په لره پښتونخوا کې لګوو او دا هم کومه هیښنده نه ده چې لر پښتانانه تر برو وړاندې له نویو ټولیزو او فرهنګي بدلونونو سره مخامخېږي او له دې سره پښتو ادب هم هلته وار له مخه نوي بشپړتیایي پړاو ته ورګډېږي. دا هم جوته ده چې له دیالکتیکي پلوه هر اندیز )فکري( نویوالی له ځان سره جولیز )شکلي( نوی والی راوړي، په بله وینا، هره نوې مفکوره او منځپانګه )محتوا ( د یوه وړنده )مناسب( کالب او جولې غوښتنه کوي.

د فورم او محتوا د دیالکتیک له لارې کېدای شي، شعري نوښت او نوښتګري په ازاده )ژبنۍ، هنري او تخنیکي( جوله کې ښه ترا رامنځته شي. قافیه د شعر د تخنیکي جولې په توګه نه یوازې د دغو نورو دوو )ژبنیو او هنري( جولو پر مانیزه خوا زیات بندیز لګوي، بلکې پر همدغو دوو جولیزو اړخو هم خپله واکمني چلوي او زنداني کوي یې. یا په ساده وینا، په قافیه وال شعر کې نه ژبني او هنري )ژب - ښکلاییز( اړخ سمبالېدای شي او نه منځپانګیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



)محتوايي (.

هغه شاعر د قافيې او د ورسره اړوندو توکيو )رديف او مسره يي انډول( له سمبالونې سره په لوی لاس پر ځای دا بنديز لګوي چې د شعر له پښځګونو رغنده ټوکو )متشکله اجزاوو ( )ژبې- آهنګ- اند- واند او ولولې ( ځخه، له آهنګ پرته دا نور ځلور سره سره ټوکه پوره په پام کې ونه شي نيولای او دويم، دربېم او ځلورم ارزښت ورکړي، له ټولو نوښتګرانه هاندوهځو سره سره ترې هرومرو دا يا هغه ټوک کمزوری پاتې کېږي. که له آهنګ سره " واند ،خيال " او ولوله )عاطفه(سم سمبال کړای شي، نو ژبه او اند ترې کمزورتيا مومي او که له آهنګ سره "ژبه" په پام کې ونيسي، نو بيا ترې انداو واند ژوبلېږي او همداسې تر پايه.

لنډه دا چې په قافيه وال شعر کې د نوښت سمبالتيا د ازاد شعر په پرتله يو څه زيات کړاو غواړي، مګر په ازاد شعر کې پښځه واړه توکه )ژبه –آهنګ - اندچ واند- ولوله( همزمان او هم انډوله په پام کې نيول کېدای شي او په دې توګه يې د هراړخيز نوښت لپاره لياره هواره ده.
په دې کې خو هم شک نشته چې قافيه واله مخينه له ازادې شاعرۍ سره ډېره مرسته کوي، خو په دې شرط چې دغه مخينه رښتيا شاعرانه مخينه وي، نه ناظمانه. سره له دې هم ډېر ځوان شاعران وينو چې مخکې له مخکې يې په ازاد شعر پيل کړی او په ځو بېلګو يې جوته کړې ده چې د "شعريت" پر لاره روان دي. که څه هم ښايي د وزن له پلوه يو څه نيمګړتياوې ولري، مګر په ډېره لږه لاربښوونه او کړاو پر دغه تخنيکي اړخ لاسبری مومي.

که د "پېښنو" د تور لګونې خبره شي، بيا هم ښايي په ازاد شعر کې هماغومره يو ډېرښت او پايښت ونه لري، لکه په قافيه وال هغه کې. قافيه وال شعر زياتره، لکه پاس چې وويل شول، د عربي او پارسي په پېښنو له "ديوانسازي" سره دود موندلی دی، حال دا چې اوسنی پښتو ازاد شعر د بيا را ژوندي کېدنې "رنسانس" ښکارندويي کوي، يا په بله وينا د خپل آر ولسي او نيم ولسي شعر يوه بشپړتيايي بڼه ده. که حمزه او اجمل دا دومره شاعري په ازاد فورم کې کړې وای، بې له شکه په اوس پښتو د حمزه او اجمل پرځای "نادر نادرپور" او "احمد شاملو" درلودای، که څه هم دګارسيا ، برتولدبرېښت او نرو دا هومره انقلابي نه وای.

په دې توګه د پښتو په اوسني ازاد شعر کې له پښځګونو ټوکونو ځخه لږ تر لږه ژبه او آهنګ )وزن( د "پېښنو" له توره پخشو)فارغ( دی. پاتې شول)اندو واند ( چې کېدای شي، يوڅه په دغه تور تورن شي، خو دومره هم نه چې يومخيز د ))پېښنو ((په کچه او جاج )مفهوم( وي، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات "الهامي" رنگ به لري. لکه په تېرو او په ځانګوي توګه په شپږم څپرکي کې یې چې یادونه وشوه، د "خیال" په تړاو، یو لړ نوي یا په نوي رنګ کې رنګېدلي ←سمبولونه، لکه: لمر، سپېدې، باد و باران، توپان وسیلۍ، سیند و سمندر، سبا او سباوون، ورځ و شپه، تیاره، باروت، پولاد، سرپ، مرجان، یاقوت...، یا← اسطورې،لکه زیوس، پرومېتوس او داسې نور ورته انځورونه نژدې د ټولې نړۍ په شعر کې دود شوې دي، نو ایا پښتون شاعر او هغه هم د ژمن او ازاد شعر استازی ترې ډډه کولای شي؟

همدارنګه د " ←اند یا مفکورې" یا منځپانګې )محتوا ( له پلوه ملي، ټولنیزې، انساني او ټولیزې جهاني ربړې مسالې، لکه: سوله، جنګ، پرمختګ او شاتګ، ګډ سوله ییز ژوند، ټولنیزنیاو او داسې نور درواخله. برتولت برېښت)**۱۸۹۸-۱۹۵۶**( چې د الماني ازاد و نوي شعر له سترو نومیالیو څخه ګڼل کېږي، د ازاد شعر په تړاو وایي: هېڅ منځپانګیز نوښت بې جولیز نوښت شونی نه دی. او څو اویا کلن نومیالي انتي فاشیست لیکوال هاینریښ بل چې د نوبل جایزې وړونکی دی، په اتیایمو کلونو کې د یوې پوښتنې په ځواب کې څرګنده کړې وه:

"زما له خپل اند و ازمېښته چې د یوه ښوونکي او لیکوال په توګه یې لرم همدغسې چې پنځوونکی د خلکو لپاره یو پیغام لري، باید وړنده )متناسب ( کالب یې هم وړاندې کړي، مانا دا چې په شعر، په رادیویي ننداره، په ستېج ننداره، په رومان، په لنډه داستان، په تکل...کې باید ځان پر خپل لیدونکي یا اورېدونکي او یا لوستونکي ور ونه تپي، بلکې کالب هم د پیغام اړوند وبولي. له **۱۹۴۵** کال را وروسته بنسټیزه بېلګه الماني ژبه وه چې له اخلاقي پلوه کورته کرغېړنه شوې وه او د یوې )عوام فریبانه ( او د دروغو او ریا په یوه کرغېړن کالب کې وړاندې کېده... داسې ډېر خیزونه شته چې ومې نه شو لیکلای، ځکه کوم کالب مې چې ورسره ښایېده، پیدا کړی نه دی،... کله چې ما د یوې موخې )مطلب ( لپاره چې څرګندول یې غواړم، کالب نه دی موندلی، هرومرو مې منځپانګه هم نه ده موندلې ")هاینریښ بویل: ۱-**۵**-**۵۲** مخ (.
د دغه الماني لیکوال خبره- "الماني ژبه له اخلاقي پلوه کورته کرغېړنه شوې وه"، د پښتو کلاسیک ادب او بیا "دیواني" شعر پر ژبه، په یوه بل ډول د کارونې )تطبیق ( وړ ده او هغه دا چې د دغه پېر پښتو تر ډېرې کچې د بې خرته عربېزم او پا رسیزم له پلوه ببخې له ځانه پردۍ شوې ده.

په زړه پورې بېلګه یې د کاظم شیدا د دیوان سریزه ده چې که کوم یونیم آر یا مرستیال کړ) دی، وو، شته، شه، شو، کړ... ( یا سربل او وستربل )د باندې، په، کې... ( ترې لرې شي، د هغه مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو نړه پارسي متن ترې جوړېږي او دا د لمر غونديز رونبانه ده چې په پښتو قافيه وال شعر او بيا د غزل په لنډ تنګ کالب کې هغه راز ګډوله پښتو لا تر اوسه لړ و ډېر دود لري: لبان، چشمان، دهان، دلبر، دلربا، ګلرخان، ګلرويان، هجران، جانان... غوندې زاړه وييونه خو، لا څه کړې چې د وزن، قافيې او رديف تر "جبر" لاندې نور نوي هغه هم پرې ور زيات شوي او لا ورزياتېږي.

د نوي او زاړه يا قافيه وال او ازاد شعر تر منځ ديالکتيکي تړاو ښايي دومره )مطلقيت( ونه لري او په کار ده، د دواړو ډولو پلويان يو د بل پر مطلق او يو مخيز رد ټينګار ونه کړي او د دواړو ډولو نوښت په پام کې ونيسي. سمه ده چې ننني پښتو غزل يو شمېر نوښتونه لري او ازاد دا هم يو شمېر کرغېړنتياوي، خو بيايې هم يو دليل دا دی چې يو پر بل اغېز ښندي. نوی لا له دادومره پرله پسې پرمختګ سره سره د زاړه په زولنو کې راښکېل دی.

د قاليه وال شعر او بيا غزل غوري بېلګې چې په پرتليز ډول يې پښځګوني شعري تو که همزمان سمبال کړې وي، د اسحاق ننګيال د ازادي بېلګې پر ځای، ښايي دغه لاندې پښېليزه بېلګه رښتيا نوښت ولري، لکه:

تند يه ماتوم دې، ټيټو مه خو دې نه
پر وره د سنګدلانو، سولو مه خو دې نه
چې سود مې د زړه نه شي، نو وجود لمبه کومه
ژوندونه بې له ياره، تېرومه خو دې نه
په سرو وينو ليکای نه شم، د جبر قصيدې
قلمه پرېکوم دې، خرڅومه خو دې نه
پېرزو دې که پر ما نه وو، ښوول دې راته څله
باداره ! راکوې به، پرېږدمه خو دې نه
زه ليکې د قسمت، ))فنا (( کوم د خپلو لاسو
تقديره ختموم دې، بدلومه خو دې نه
)فنا، د کوهاټ د لاچې ختک(

په دا بله خوا "ازاد شعر" کې د کرغېړنتيا لپاره ښايي د ننګيال )اخبار هفته، دولسمه ګڼه( له خوا د کمال مستان راوړې بېلګه د دغه پاس غزل هومره نوښت ونه لري، د چا خبره "ازاده" وي، مګر "نوې" نه، کنه "ازاد شعر" بايد "نوی" هم وي. مانا يې دا چې له مخکنيو خبرو سره سم ازاده جوله، خو په هر ډول نوې جوله ده او نوې جوله بايد نوې هنري جوله او بيا نوې منځپانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا پیغام ولري. دلته د قافیه وال فورم غوندي مخینه او تجربه له یاده اېستل په کار نه دي. د کمال مستان غوندي ځوان شاعر چې پر ازاد شعر يې نوی پيل کړی، تر همزولو قافیه والو شاعرانو بیا هم زیاته او نژدې نوښتگرانه راتلونکې په مخ کې لري. )د زیاتې څرگندتیا لپاره د کمال مستان "د لمر شغلو ته" شعري غونډ او اړونده سریزه(. له هغې کره کتنې څخه په راوروسته دوه دوه نیمو لسیزو کې رښتیا هم زموږ شاعر پرله پسې پر مختیایي پړاوونه وهلي او نن سبا په څو گوتشمېرو نوښتگرو کې راځي.

دلته يې د هماغه مهال یوه بل همهالي ځوان شاعر "فاروق فردا" یوه ازاده بېلگه وړاندې کړم چې له یو څه اوږدې مخینې او تجربې څخه يې سرچینه اخیستې ده او د هېڅ راز کرغېړنتیا یا نه شعریت گوته ورته نیول کېدای نه شي:
زما شپېو !
زما شهیدو شپېو
زما شهیدو ارمانو د رژېدو شپېو )دلته "زما" یو څپیز راغلی(
تاسو کې ښخې شوې
زما د مورکو هيلو د غوټیو سرې نازکې پاڼې
نن به زه ستاسې د سپېرو خاورو
سپېرې غېږې ته وسپارمه
او خپلې هیلې به له سره له سپېرو خاورو نه وټوکوم.
دغه ازاد شاعر هم له هغه راهیسې تراوسه ښایسته ډېر نا لاسبري ستونځونه را لاندې کړي دي.

پښتو نوی ازاد شعر ټیک له هما غه راهیسې کې له ټولو خنډونو سره سره ورځ پر ورځ پراختیا او پرمختیا موندلې او خپل بشپړتیايي بهیر يې په چټکۍ سره وهلی او لا وهي يې، له بلې خوا ځنگه چې دغه شعر مخکې له مخکې د انتقاد منونکی دی او نوې میتودیکه علمي کره کتنه يې پرله پسې سپېڅې او سوانوي ، نو هرومرو زموږ د وروسته پاتې ادبي فرهنگ په وچ زاړه کالبوت کې د نوې سا پوکولو لپاره بې اغېزې نه پاتې کېږي او نوې هیلې ورسره ملگرې دي.
دا چې ځینې لیکوال ازاد شعر او نوی شعر سره په یوه مانا رااخلي، کومه هېښنده خبره نه ده، ځکه اوسنی ازاد شعر لکه د مخه چې وویل شول، تر هر څه د مخه ((نوی شعر )) دی، یا په بله وینا ازاد شعر د نوي شعر په بهیر کې رازېږېدلی دی.

له همدې کبله دا دواړه ستاینومونه )نوی- ازاد (، هم یو د بل پرځای راتلای شي او هم دواړه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



را غبرګېدای شي او له خپل ستايلي )موصوف( )شعر( سره د )نوي ازاد( شعر په توګه یو ستاینومیز ترېنګ )توصيفي ترکيب( جوړوي، خو څنګه چې په )ازاد شعر( کې )نویوالی( بې له هغې نغښتی دی، نو غوره به وي چې پر همدغه وروستۍ نومونه )ازاد شعر( بس راوړ شي او له نورو ستاینومونو، لکه: )نوی( یا )بې قافیه( څخه ډډه وشي. هرګوره، په لویو سرلیکونو کې ورسره له زاړه دودیز )ولسي( ازاد شعر یا ))سپین شعر(( څخه د بېلتیا لپاره )اوسنی( ملګري کول یوڅه اړین برېښي. هسې خو ښایي، یو وخت دا درې واړه ستاینومونه )صفتونه( )نوی- ازاد- اوسنی( خپل ارزښت بایلي. څکه هر ستاینوم د خپل ستايلي )موصوف( پر وړاندې یوه پرتلیزه )نسبي( لوښه )خصلت( لري. د نن )نوی( د سبا )زوړ( او د سبا )نوی( د بل سبا )زوړ( دی. یا لکه )ښه( او )بد( او داسې نور درواخله چې جاج )مفهوم( یې له مهال او چاپېریال سره بدلون مومي یا کورټ یو پر بل اوړي او یا خو پکې لږ تر لږه تنګوالی او پراخوالی راځي.

همدا نن سبا چې زموږ ځانساتي او زاړه پال پښتانه لا "له بې قافيې، ازاد شعر( سره د یوې نوې ښکارندې په توګه ډغرې وهي، په نوره نړۍ کې لا څه چې دلته را نژدې په ایران کې بیا وخته )بې وزنه ازاد شعر( تر وییني ګروېږنې لاندې نیول شوی دی. د ساري په توګه احمد شاملو د "وزن د شاعر ذهن بې لارې کوي" خبره رامنځته کوي او د لویدیځیانو په لار وی پر دې ټینګار لري، چې بېوزنه شعر کولای شي، د بهرنې جولیز وزن پر ځای او "دننی" یا "مانیز" وزن ولري )په دې باب اړوندې لیکنې: اخبار هفته **۵۴** او **۵۷** مې ګڼې او د همدې بدلمېچ اړوندې سکالووې(.

لکه په اووم څپرکي او اړوندو څرګندونو کې چې ولیدل شول، د پښتو ډېری ګړنې شعرونه )لنډۍ، سروکي... ( پښېلې او لړونه )قافيې او ردیفونه( نه لري او د بېلابېلو ټوټو )مسرو( تر منځ یې د څپو شمېر هم تل برابر نه دی، مګر یو ټاکلی انډول لري لکه لنډۍ چې لومړۍ مسره یې نهه څپیزه او دویمه یې دیارلس څپیزه ده او په دې توګه په لومړۍ پوړۍ )درجه( )خج )فشار( د ریتم تول و تال یا په لنډ ډول د "وزن" بنسټیز ټاکونکی دی او ورپسې څپیز انډول زیر و بم، اهنګ، غاړه )لحن(... چې د خج په استثناأد ژبې د نازنځیري یا ))عروضي(( توکو )فونیمونو( په توګه د قافیو او ردیفونو غوندې په څېرمه ځانګړتیاوو کې راځي )دغلته ))عروضي(( د غرېوهې د نومونې په توګه کارول شوې ، نه د شعرپوهې هغې په توګه(. په خجیزه برخه کې دا یو ټولیز دود )قاعده( ده چې مسره پر لومړۍ، دویمه، دریمه یا څلورمه خجنه څپه پیل مومي او بیا پسې هر څلورمه خجنه راځي. البته ډېرې لږې ببدودي )استثناوې( تر دغه منځ پېښېږي چې په تېر څپرکي کې یې یادونه وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډول، لکه چې پر له پسې وویل شو، په پښتو کې بې قافیه یا ازاد شعر د خپل اړوند ولسي وګړني یا ګړني )فولکلوریک ( او لیکني یا دیواني شعر یو په زړه پورې ګډون او ستنیز دی، نه د اروپايي یا پاړسي شعر پېښې. هر بې قافیه شعر چې د پښتو د ټولیز سپلابوتونیک سیستم له مخې "وزن" ولري، هغه ازاد شعر دی او پښتو شعر دی.

دا دی دلته د ګړني او لیکني پښتو شعر غونډې د اوسني ازاد شعر بېلابېلې ډلې او بېلګې تر سپړنې )شرحې ( شننې او سکښتنې )تقطیع ( لاندې نیسو:

## لومړی: نیم ازاد شعرونه

### ۱( ازاد کالبونه

دغه راز شعرونه، که ګړني ډولونه او د لرغوني پېر )له امیر کروړه تر ارزاني ( په پام کې ونه نیول شي،د شلمې پېړۍ له نیمايي راهیسې پیل شوي دي او د لومړي ځل لپاره یې له زړو کلاسیکو دودیزو شعري ځېلونو )غزلو، څلوریزو، دوبیزو، بوللو، پېنځیزو، شپږیزو او ووییزو... ( سره یوه برید لیکه راکښله او د اروپايي "سپین" شعر غونډې یې مسرې لنډې او اوږدې کړې او یوه نیمه قافیه یې د بندونو په سر و پای کې کارول کېږي.

دا دی دلته د لایق له "یادونه او درمندونه" )۴-۲۲۳ مخ ( د ازاد کالب څو غوره بېلګې را اخلو:

غوږو کې مې شرنګېږي بیا نغمه د نوي جنګ.
ته ګوره دا به څه وي !
یا مینه لېونۍ شوه
)یا ( کتنه ځنډنۍ شوه
راغلي مې په زړه کې ارمانونه په غورځنګ.
رګو کې مې خوځېږي د جانان د حسن څریکې
زما په وینو لیکي
پیغام د نوي ژوند
زه اخلمه ترې خوند
ورمه د یار د ښو خوښوي زما پالنګ.
بېګا په مدرسه کې ملا وتاړه کتاب
را وایې خېست رباب

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر بزم باندې سم شو
له رند سره محرم شو
زاړه یار پر سر راواړول د نوې مینې بنګ.
رټلې اسوېلې مې اوس د یار پر مخ لګېږې
صورت مې ټول رپېږي
 څرخېږم له مستۍ
لاهو مې کړه بېړۍ
را رسې په بوسو کې د ژوندون نوی آهنګ؛

... پر مخه راغله جاپانۍ نجلۍ،
سپینه هیلۍ نجلۍ
ودرېده مسته
ما سلام ورکه په خندا شوه نجلۍ،
په کټه ها شوه نجلۍ
ماته شوه شاته،
په تبسم یې راته وویل "کوني چیوا "
"د وزویو روشیکر "
له خندا ورانه شوه...
ما ورته وې په رب که پېږم نجلۍ،
بد مرغه کېږم نجلۍ،
په ځان پوهېږم )نجلۍ (.
د پښو پر څوکو شوه رهي هوسۍ،
د جزیرو هیلۍ،
زه شومه پاتې...
د مخ په لمر یې وربځې راغلې د غم،
سترګې دریاب شوې د نم،
له ژړا ورانه شوه...
ما ویل پوه شوم لږ ستنه شه نجلۍ،
یه زما ښکلې شهۍ !
دې ویل "ای ای ای ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



)هماغه اثر ۲۲ – ۲۰۸ مخ( ؛

... په دې تيارو کې،
په اوږدو شپو کې،
په دې غمو کې،
اند ښنو کې...
زړه ته مې رسي يوه نوې دمه،
روښانه ښکارې د سبا بڼه.
)هماغه ۱۲۷(.

... چې راوي په کم خمار شي
د نوښار لنډۍ کې کم
سينده څه، سينده بهېږه !
سينده څه، سينده بهېږه !
د هر سيند وي خپلې لارې،
هر يو خپل کور ته روان دی.
د هر يو خپلې دشوارې
زه )څه ( چرې چرې شه اور
چې دې غاړې شنه پتې شي او باغچې او چمنونه.
)د غني کليات، ۴۲۳ مخ(.

... دا مې اوښکې ورتې ورتې
راخوټکېږي او بهېږي
د لېمو له سر چېغو نه
پر بارخو باندې مخ کښته
که بهير دی رانه لېږدي د نيمګړو ارزوګانو !
دا زما ببلتون ځپلې،
ارمانژلې،
ځوربدلې...
سر تر پای ناکامه مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبو وړې شاني هيله
په ارمان د يوه څرک د چا د مخ د رڼاګانو !
)سوزونه او سازونه، ۱۱۴(.

... ګرځوي مې
چورلوي مې
لالهاند و لولنګر
پر ميرو د بېلتانه او
د شهيدو تاند لبانو
ارمانو پر هديرو
د اسرو په کربلاوو
د لرغن ويرژلي ژوند
دغه ستا نارامه سينه
دغه ستا اواره مينه
)هماغه ۱۸۱(؛

... په زما ګرانه وطنه
ته زما يې او زه ستا يم
ته ډيوه ډيوه ډيوه
زه پتنګ پتنګ پتنګ
له هر څه يم بې پروا
مست په مينه يمه ستا
ته مې شته ته مې هستي يې
ته مې پت يې ته مې ننګ
)محبوب سنګر: زوړ، ۲۸(؛

... ملالې سترګې
لنډې يې څڼې
سرې پستې شونډې
ښکلې مخوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



... ليندۍ يې وروځې
باڼه يې غشي
سره بارخوګان يې
غټې غټې تيونه
)هماغه اثر، ۷۷ (؛

... زه هم شاعر يم شاعر
يو رنځېدلی، کړېدلی شاعر
يو ځورېدلی، سوځېدلی شاعر
يو دردېدلی شاعر
غمو خوړلی شاعر
)هماغه ۸۳ (؛

... زما پر وچو شونډو
پر دې سپېرو خزان وهلو پاڼو
د وينو شعر لکه بېباکه نسيم
اوړي را اوړي او چلېږي پسې
او دا شرقي ذهن مومي
لکه د سرو ګلو رنګينه باغچه
لکه شنو يادونو نه تشېږي پسې
)کاوون: سپرغۍ، ۱۴۸ (؛

... زموږ د خلکو د غورځنګ
غږ پورته شوی
په وړاندې ځي
په وړاندې ځي
په وړاندې ځي
په وړاندې ځي د غه کاروان
په سختو لارو کې روان
د تورتمونو پيروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر قدم غواړي امتحان
د همتونو او د جنګ
)خاموش: مزلونه مزلونه، ۱۰۲(؛

... له يمانه تر امانه
له خپل واک تر جمهوريته
چاته نه يې تسليم شوی
ازادي دې خپل قانون دی
تل په وياړ يې اوسېدلی
سرلوړي دې ټول ژوندون دی
)رفيع: د جمهوريت ورمې ۳۴(؛

نه به خوب،
نه به شوخي شم...
نه به شور،
نه به مستي...
نه به ناز،
نه کرشمه شم...
نه په کنج،
نه به مکېز...
نه به شوق،
نه به خندا شم...
نه سترګک،
نه به ادا شم...
نه به مي،
نه په غمزه شم...
نه نشه،
نه به خمار...
نه په اوښکه،
نه ژړا شم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه په رم شم
نه به تراه...
نه به مېښت لکه رانجه شم، ستا د سترګو په ککو کې !
... )وینه او مینه، ۱۰۱-۱۰۲(.

د کړکۍ هېنداره ښیي
د بڼ بڼه الوتې
ترې مالیار دی لېږد بدلی
نه ګلان شته نه خاجوڼې
له هر څه وتلې سا ده
نه ښور ېږي نه کښېږي...
)سوزونه او سازونه، ۳۴ (؛
ورپسې نور بندونه هم پر همداسې ورته قافیه لرونکیو دوو مسرو پای ته رسي.

دا ورېمه د پسرلي ده
که د نوي ژوندون سا ده
تش ګوګل ته ددې څمکې
که دی زېرې غرو رغو ته
وچ چمن سپېرو باغو ته
د غاټولو سرو ګلونو
چې ټوکېږئ نن سبا
چې غوړېږئ نن سبا...
)هماغه ۴۲ (؛

لمبېدلی
رنګېدلی
په سرو اوښکو
د څبېښلو
په سرو وینو
د سرتېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هېواد د شهیدانو...
)هماغه اثر، ۱۲۸(؛

ستا د سرو شونډو د شعر
د وییونو د ګلپاڼو په رګ رګ کې
سره د وینو
د مینو ارمانونو زما ناخي
)اوراو وینې، ۱۴۵(
ددې شعر نور بندونه هم په ورته قافیه پای ته رسي؛

تېره به دا شپه شي او رڼا به شي
بڼه د وطن به شي بدله په خندا به شي
را به شم صنم زما
محوه به شي غم زما
درد زما ماتم زما
څه چې استبداد راځنې وړي دي زما به شي.
شپه ډېره تېره ده لاره تو له کړلېچونه دي
هر قدم خطر دی، هره لوښته کې دامونه دي
دا لاره مزل غواړي
جنګ غواړي تکل غواړي
منډې او يرغل غواړي
هغو به پرې درومي چې پاخه يې ايمانونه دي
)کاوون سپرغۍ، ۹ مخ(؛

وطنه
ستا ګلونه
او ستا د دښتو اغزي
سپېرې ډبرې خړې لوټې، لمر وهلې دښتې
او بې پروا بادونه
د سترامو او اباسين ستم شکنه څپې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هلمند د توپاني ځپو ببباکه سرود
باد و باران، برېښنا او تندر و ځپاند سيندونه
)هماغه ۱۱ ( ؛

په ښکاري اشنا
درته سلام کوم !
پربېږده چې دا سپيني مرغۍ والوځي
لاړې شي جوړې جوړې گلونه شي
ښکلې شي، ښايسته شي، امېلونه شي
واخلي په وزرونو کې تنکي بچي
وموښي سينو کې گلالي بچي
سپيني سرې مښو کې زرکني بچي.
پام کوه !
پام کوه ماشې ته گوتې مه وروړه !
... )ننگيال: هغه شپې هغه کلونه، ۱۳۵ ( ؛

يارانو گورئ،
له تندې مرمه،
د ساقي خوا کې،
د مينا ځنگ ته.
هېڅ نه پوهېږم،
دا ويرانه ده، که ميخانه؟
ورپسې نور بندونه هم په ورته قافيه واله مسره پای ته رسي )خزان: د سحر په غېږ کې ۱۲ مخ (.

دلته زندان دی زندان
اسمان يې وور دی وور دی
پکې ځو ستوري ښکاري او سترگکونه وهي
واړه ځلېږي او موجونه وهي
)محبوب سنگر: بنده کړيکه، ۵۷ ( ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو ته
وطن ته
انقلاب ته به د کار هيله،
پالم به يې،
ګالم به يې،
سخته د ايثار مينه.
دا)ها ( چې له دردونو وچو دښتو او له غرونو راوتلې ده
)خاموش: مزلونه منزلونه ۹۳-۹۴ (.

د کښېنيو شاعرانو په استازۍ د اجمل خټک او ډاکتر امين الحق امين د ازادو کالبونو په بېلګو بس راوړو:

له يو ملا نه مې تپوس وکړلو
ما وېل ملا صاحب جنت به څه وي
هغه په ګېډه لاس واهه ويل يې:
"تازه مېوې او د شودو رودونه"
خوا کې کتاب ته يو طالب ناست وو
ما وېل ته به پکې څه وواېې؟
د زلېخې کتاب يې پټ غوندې کړ
وې چې "ښايسته حورې او شنه خالونه"
)د غيرت چغه ۵۵ (؛

دا يو مضبوط دېوال،
چې له صدو نه ولاړ،
چې له مودو نه ولاړ،
دا د غلام په وينه،
هم په هډوکو د ده،
د ده پخڅه خوشته )خيشته ( شوه
د ده رده پخه شوه.
)امين الحق امين: ۷۲ مخ(.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نويو او نيم ازادو كالبونو په لړ كې "يو ډول شپږ كرښيزي" هم لږ و ډېرې دود شوې دي. داسې چې لومړۍ څلور مسرې يې يوه څلوريزه جوړوي او وروستۍ دوې يې همقافيه راځي، لكه:

دا نسيم د پسرلي دى،
كه الهام د نوي ژوند دى !
دا اواز دى د بلبلو ،
كه پيغام د نوي ژونددى !
د سپين غر له ننگرهاره،
له كونړ همېش بهاره !
)وينه او مينه، ۲۱ (؛

ستا لويه گېډه ډكه له زهرو
پكې پرته ده د خلكو وينه
زما په سر كې د ښكلو عكس
زما په زړه كې د انسان مينه
كه دا هم ته يې دا دې اسلام دى،
زما نو دواړو ته بس سلام دى !
)اجمل خټک: ژوند او خوند ، كابل ۱۳۲۲، ۲۳ (.

اجمل خټک دغه ډول ته نوره هم پراختيا وركړې، داسې چې لومړۍ مسرې يې يوه څلوريزه جوړوي او څلور نورې يې دربېيزې )وگورئ هماغه اثر(.
د رحيم مجذوب "پښتون ته خطاب" بيا په ځانگړې توگه د دې لړۍ له ښكلو بېلگو څخه گڼل كېږي چې دومره پر ياد راپاتې ده:
))... تا ليدلى خوشال خان دى، زه ليدلى همايون يم
ته پښتو يې، زه پښتون يم، ته پښتو يې، زه پښتون يم... ((

د ليكونكي د دا راز نيم ازادو، يا ← مونډيو شعرونو په لړ كې "زنداني كارگر ته" )زنداني نغمې، ۲۱ ، "نوې نړۍ" )سوزونه اوازونه، ۱۰۴(، "مين ارمانونه"، "ماته گران دى هېواد "، "سره رپيه د افغان"، "اواره مينه"، "د ويمار سهار"... )هماغه اثر(، "ښباخ" او "اتلان نه مري" )اور او وينې، ۱۴۵ او ۱۲۰ مخونه( او د كاوون توفاني "د وينو شعر" )سپرغۍ، ۱۳۷( د يادونې وړ دي. ننگيال، پيوند... او نور نوښتگر شاعران هم لږو ډېرې ورته بېلگې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ ( مونډي شعرونه

مونډي )يا سر پرېکړي( شعرونه، هغو نيم ازادو شعرونو ته وايي چې قافيې ونه لري او نور مسره ييز او سېلابوتونيک انډول يې سره برابر وي. دا ډول شعرونه د قافيه ماتوونکي او ازاد شعر له لومړنيو بېلګو څخه ګڼل کېږي، مګر دا چې د مسرو، خجو او څپو د يو برابر انډول له کبله ورته بشپړ ازاد نظم يا شعر ويلای نه شو، نو سم له لاسه پرې د "مونډي" نوم ږدو، لکه واخلې، د صاحبزاده ادريس، امين الحق امين، ايوب صابر، د سايل، ساهو، کاروان... ځينې بېلګې؛ د عبدالرحمن پژواک )کليمه داره روپۍ د ۱۳۱۷ کال ليکنه( او يا د بهاوو الدين مجروح د ځانځاني ښامار او راوروسته د نورو ټولګو ځينې برخې، چې البته زياتره يې د څپو د شمېر له پلوه ټاکلي )څلور مسره ييزې، اته مسره ييزې، دولس مسره ييزې او شپاړس مسره ييزې مسرې( ډولونه لري او په دې توګه يې زياترې بېلګې په ازادو کالبونو پورې اړه نيسي. د اوسنيو ازادو شعرونو په ترڅ کې هم دلته او هلته ځينې مونډۍ بېلګې په سترګو لګي، لکه:

يو د مني مازيګر دی،
يوه د ميني ننداره.
د يانوش خزاني ونې،
لکه څلی د سرو برېښي...
)سوزونه او سازونه، ۱۹۷(؛

لمر وو، نوی څرک وهلی
د درو او غرو له څنډو
پلوشو يې برېښولې
لکه زر و اوريني څوکې...
)هماغه اثر، ۲۲۳(؛

- بيا د ګلونو پر نازکو شونډو
زموږ د کور پر خوا يو زوږ راځي
بيا د ساقي د سرو پيالو په کړنګ کې
د دغې وراني دنياګۍ پر لېمو...
)خالق رشيد، يو ناچاپ شعر(؛

او داهم د استاد شپون)برېښليک ۱۳-۲-۱۰ ( د يوه اوږده شعر))درقد (( لومړي دوه بيته:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا پر قبر به لاله زرغون وي
خو زما دا خبره مه هېروئ
چې هلته لرې د سيندونو غېږ کې
يو تور ځنګل دی د اغزنو ونو....

## ۳) کېنتوز او سانت

د )کېنتوز ( يا )سانت ( په نامه دوه شعري ډولونه چې ښاغلي هاشم بابر د اروپايي شعري ډولونو په نامه، له يو ټاکلي شمېر څوارلسو اووه څپيزو او اته څپيزو مسرو سره په پښتو کې ازمايلي او څو ټولګې يې ترې رغولې ، کوم نوی ازمېښت يا نوښت بلل کېدای نه شي، بلکې د اروپايي ))←سپين blank verse (( او زموږ د ))←ازاد شعر (( په لړ کې، له لږ و ډېرو قافيو او رديفو سره د قافيوال او ))← مونډي شعر (( يوه ګډوله بربېښي،

کېنتوز يې، لکه:

وړاندې هم يوازې وم
وروسته هم تنها شومه
هر ځای کې تالا شومه
هر ځای کې تالا شومه
هر څه مې که خوښ شولو )هر څه کې دوکه شومه(
نه څوک را سره شولو
نه زه )له( چا سره شومه
ته له ښاره لاړلې
زه هم پر بيديا شومه
تم رانه جدا شولې
زم درنه جدا شومه
دغسې ژوندون کې زه
دغسې لګيا شومه

او دا يې هم د سانت بېلګه:

دا هستي زما هستي ده
او که ستا د سترګو عکس دی
دا مستي زما مستي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دا ستا د حسن رقص دی
ګڼې ځان چې ځان کې ګورم
په تیاره کې تالا کېږم
خپله سا راته بلا شي
له وجوده یې بوږنېږم
)دا چې دا خو زه یم(
دا زما د هستۍ راز دی
دا زما د جنون پوهه
دا زما ببوسه چیغه
دا زما او ستا یووالی
د ازل شنه شوی ساز دی
)زرین انځور، ژوندون، ۱۹- ۲۰ مخ - د ۱۳۷۲ پینځمه ګڼه؛ همدا راز د رحیم مروت، د ))دار الاوهام(( اړونده سریزه هم پامورړ ده (.

### ۴ ( هایکو )Haiku(

هایکو تر بل هر بهرني نیم ازاد شعر په دې وروستیو کې زموږ له دې سره ښه ترا اړخ لګولی او غوره یې بیا دا چې ډېرو ، په تېره برو شاعرانو له خپل څېپز- خجیز تول وتال سره برابره کړې ده. په لومړیو کې د لرې خوا ځینو ))ناظمانو (( د عربي وییونو)ریاح، ناف، رقاص... ( په مټ کورټه مصنوعي بڼه ورکوله. لیکوال په یوه کره کتنه کې د قاسم محمود)بنوي( د هایکوګانو ))لومړی پښتو (( ټولګه په دې لاسوند تر نیوکې لاندې نیولې وه چې پښتو او جاپاني غړپوهې سره ځمکه او اسمان هومره توپیر لري او که شعر هرومرو د دغه شعري ځېل پېښې کوي، په کار ده چې له پښتو څېپز- خجیز رغښت سره سمون ورکړشي.
بیا چې ځینو پرې لنډۍ را ننګوله، په بله وینا ، تر لنډۍ یې هم راباندې ډېره درنه خرڅوله، نو د ))← ټېپیزې(( سوچ را پیدا شو چې ګوندې له هایکو څخه د پېښاووانو پام دې خپل نیم وګړنی- نیم ادبي ځېل ته راواوړي؛ ځکه هایکو هم د جاپانیانو همداسې یو شعري ځېل دی او زیاتره د لیکلوستوالو پنځونه ده. اوس چې د نړۍ تر ګوټ ګوټه رسېدلې، نو د یوه نړیوال شعري ځېل په توګه یې جوړوونکې بیاهم زده کړه وال، په بله وینا ، لیکوال او شاعران دي. په هغه هېواد کې یې مخینه تر۱۲مې پېړۍ پر شاځي، خو تر نولسمې پېړۍ ، نه دومره دود وه او نه دومره زیاته پامورړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یو لنډ شعر دی چې په انځوریزه ژبه د یوې طبیعي یا موسمي تجربې خیال په شعوري بڼه لېږدوي او له انساني اکر بکر سره تړاو ورکوي.
په دې توګه پښتانه شاعران هم د ټپیزو له رادود پدو سره سره، د هایکو له سیالۍ هم را پر شانه شول او د اغلې غوټۍ خاورې په خبره ))مېلمنه ځادري کوربنه شوه ((، مانا دا چې په پای کې هم ټپیزې رادود شوې او هم هایکو راخپله شوه، هغه هم، د آر جاپاني رغښت د هو بهو راخپلولو پرځای چې ړومبۍ مسره اووه ځپیزه وکارېږي، دویمه پېنځځپیزه او درېیمه اوولس ځپیزه، په ټوله مانارا پښتو کړ شوه او ګړ سره یې د یوه نیم ازاد شعري ځېل په بڼه د پښتو شعر یو ټوک وګرځېد. بلخوا، د دغه نیم ازاد یا مونډي ډوله ))← درېیزې (( ځېل له رادود پدو سره زمونږ د نوي- ازاد شعر بهیر هم چټکتیا او پراختیا وموندله او ښایسته ډېر ناباندې قافیه وال او بیا غزلبول، لکه ))ح.زړه سواند (( یې د ېخوا ته رامات کړل.

هسې خو ډېرې ښکلې ښکلې هایکووې راپنځول شوې، خو سم له لاسه یې پر دوو لاسته راغلو بېلګو بسنه کوو چې ځپیز- خجیز توپیر یې سره همدومره دی چې د لومړۍ درېوارو مسرې یوولس ځپیزې دي او د دویمې بېلګې لومړۍ)← پایخجې ( مسره لس ځپیزه راغلې او ورپسې دوې نورې یوولس ځپیزې:

چا راته وېل چې د سپرلي ورځو کې
هغه ترې لرې ګرځي ساګو پسې
ځکه پټېي کې مې شړشم وکرل
)د هزارې سیمې شاعر اسماعېل ګوهر، نړۍ ۳۲/۴ ګڼه(

- - -

پر بام ناسته وه هلال کمیتي
مورې یې په تمه وو چې میاشت به ګوري
هغوی دوربین کې جینکو ته کتل
)هماغه اخځ(.

## بشپړ ازاد شعرونه

۱( هغه ازاد شعر چې مسرې یا ببلا ببلې برخې یې په لومړۍ خجنه ځپه پیلېږي:
- تېر به شي
دا منی نور،
را به شي ځړمنی نور،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبه چلي سا
په مړو رګو کې
د ګلپاڼو
د سرو ګلو
د ګلبڼ
د برم ویلاړ زما
)اور او ویني، ۲۲ مخ(،
دا پاس بند پر دوو مسرو وېشنه مومي لومړۍ له درو توتو جوړه ده او دویمه له شپږو یا په بله وینا لومړۍ دري ځایه شوې او دویمه شپږ ځایه؛

-وتره ده
نن وتره ده د ذهن کرونده زما
وتره ملا وتره مالیاره نن
وکره څه وکره
نه چې د غرض خاوند
زما په وتره ذهن کې
تخم د شک وکري
)خزان: د سحر په غېږ کې، ۴۸ مخ(،
د پاس شعر لومړۍ مسره له درو، دویمه له دوو، درېیمه له یوې، څلورمه له دوو او پېنځمه )وروستۍ( له یوې توتې جوړه ده؛

-بیا مې د هوس د وچو شونډو پر پترو باندې
تاو د تبې راغی
ما وېل وسومه
ځکه مې په زړه کې د تیارو دنیا خوره شوله
ته چې له باغوانه لرې لرې شوې
پاتې په بیدیا کې شوې
اوس به نو په سرو وینو
سرو سترګو ژړا سره
چا وویل چې ته راځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دې پسرلیه له ګلانو نه
پوه شه)د انسان د وینو بوی اورم(
مه راځه تر څو چې له باغوان سره يو ځای نه شې،
هلته چې يو ځای شوې
پسرلیه له باران سره،
ستا به د لمنې سره ګلونه
د هغه سپينو لاسونو د تڼاکو په اوبو باندې،
ووينځل شي،
پاک به شي...
بيا به نو زموږ د ولسونو پسرلی راشي)آر: به شي(،
ستا به په وږمو سره،
شي زموږه د سپېرو شونډو للمي پترې
اوبه)به( شي
ګل به شي وطن زموږ
سور به وي چمن زموږ
مينه وي دنيا دنيا
خوند به دې وږمو کې وي
خولې به وي خندا خندا
هله به سپرلیه زموږ زړونو ته دېر ښه راځې!
)فاروق فردا: د ګلپاڼو پرخې، ۱۴۳-۱۴۵ مخ(.

دغه پاس شعر له آره په لومړۍ خجنه څپه پيل شوی او پای ته رسېدلی دی. که دلته هره جلا ليکل شوې ټوټه په لومړۍ څپه کې خج ونه لري، له تېرې ټوټې يا ټوټو سره په يوه يوازېنۍ مسره کې راځي او ځانته جلا مسره جوړولای نه شي.
دا هم يوه بېلګه چې هره مسره يې په لومړۍ خجنه څپه پيل شوې ده:
- مه وژنه
ما مه وژنه،
زه يم بېګنا ماشوم،
زه د فلسطين يتيم،
زه د دير ياسين يتيم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یم د صبرا یسیر،
زه د شطیلا یسیر،
تا بې پلاره کړی یم،
تا بې موره کړی یم،
تا بې کوره کړی یم...
یه ازار گتلیه،
یه مختور نتلیه ! ! !
مه وژنه،
ما وژنه...
)سوزونه او سازونه، ۲۵۱ مخ۷-۷-۲۱ل(؛

- کله چې راورسې
تر وره پورې،
شې دې بیا لاسونه
د دعا پرتم !
سترگې دې
ویرنې بیا
د سوې ایره شوې ښار...
)زما نړی، ۲۷مخ۳۰-۲-۹۴(؛

- تلو دې ددې خلکو خندنی کړمه،
تلو دې بیا له سره لېونی کړمه.،
تلو دې پر زړه وویشتم،
زخمي یې کړم
نتلی او ناخواله
لکه تل...
)اصف بهاند: ژوندون، ۲۲ دویمه گڼه(.

۲: هغه ازاد شعر چې لومړی خج یې د هرې مسرې پر دویمه څپه راځي او د نورو ډولونو غوندې ورپسې خجونه درې درې څپې وروسته راځي، بېلگې یې په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما ولیدله سپینه
خوځېدله
د اسمان په اننګو کې،
چا ویل د وربځو مور ده اوس به وژاړي په کوکو،
نه پېغله ده د لمر تر سیوري لاندې
چې اوربښت یې خرخولو.
)فردا: ۲-۱۵۱ مخ(؛

- په کور کې،
په کار کې،
- په کلي کې،
په ښار کې...
که هر چا سره ناست یم،
له هر چا سره ناست یم،
که ځم په کومه لار کې،
ته ما سره ملګرې،
زما وینه کې ګډه،
زما روح و روان یې
)خاموش: ۱۱۵ مخ(؛

دا ستا د سپېڅلتیا د کلیسا له کنګرو نه،
زما د پاکې مینې
د برخلیک بېګناهي انګازه کېږي...
څنډونه د ایمان د لمر د هسک مې،
وړانګن په پلوشو د سرکو وینو،
چې الوځي د سا په بدرګه مې،
د نور د ابدي جنت پر لوري...
زما له وچه هډه،
زما د مصلوب پژي له رګ رګه
///

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ،
مه تويوه اوښکې
ورتېې ورتېې
ګرانې مورې،
زما په وير ويرژلې،
"سپېڅلې " درنې مورې !
///
زه وينم
چې را درومي دې له عرشه،
د نمانځنې، د وياړنې،
د امن و داډ ېينې پرښتې مبارکۍ ته !
او
ږدي دې پر زخمي مورنې زړه باندې،
پټۍ د لورېينې !
)ګلولې۱۲مخ۱۱-۱۰-۲۲ل (.

۳: هغه ازاد شعرونه چې تر اوسه په درېيمه خجنه څپه ويل شوي دي، د ديواني قافيه وال هغه غوندې ډېرۍ برخه جوړوي او دا خبره د هېښتيا په دې نه ده چې ازاد شعر ليکونکيو لومړۍ ځل زياتره د همدغو ديواني شعرونو تر اغېز لاندې له قافيه والو شعرونو څخه راپېل کړې او تر يوه اوږده کړاو او پړاو وروسته يې ازاد شعر ته مخه کړې ده او څنګه چې خج د پښتو شعر لومړۍ بنسټ جوړوي، نو دوی يې هم زياتره هماغه درېيم دريځ په پام کې نيولی او يا په بله وينا ، په نيم آګاهانه توګه يې پر دغه دريځ ډېر زور اچولی دی. هر ګوره څلورم دريځ يې په دويمه او لومړۍ دريځ يې په درېيمه پوړۍ کې راځي، مګر دوې هغه يې، لکه پاس يې چې ببلګې راوړل شوې، ببخي کم ليدل کېږي. د دې لپاره چې په درېيمه خجنه څپه پېلېدونکي ازاد شعرونه خورا ډېر دي، نو د رنګارنګۍ په پام کې نيولو سره يې لنډې لنډې ببلګې را اخلو:

نرۍ لار زمونږ له کوره،
د شنو )شوو ( په ځنګل کې
د پستو وښو له پاسه
ان تر سينده رسېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تروږمۍ وه
يو څو سيوري راپسې شو،
زموږ له کوره تر گودره
)پيوند: سيلۍ، ۳۹ مخ(؛

- دلته سوړ د زړه نغری وو
د زړې ايشيا گوگل کې.
د سړو سړو سيليو،
د ناخوالو،
ناتارونو،
د نادودو،
ناورينونو.
)هماغه اثر، ۲۰۲ مخ(؛

- پرېړده پرې
سوی ستې شم،
لولپه مکوټ الوی،
په اورو کې،
انگارو کې،
په لمبو کې
دوزخو کې
د سرکښو گناهونو
)زنداني نغمې۴۰(؛

- څومره وياړو سرلوړي ده،
د هوډونو،
د سرو اوښکو په سرو پرخو،
د سرو هيلو د گلپاڼو مخ پرېوته...
)سوزونه او سازونه، ۲۲۴ مخ۱۱-۱۰-۲۱(؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ورتېرو بېلګو سره د دغې بېلګې توپير دا دی چې دلته پر ځلور ځپيزو او اته ځپيزو مسرو سربېره وروستۍ هغه دولس ځپيزه راغلې ده. د دغه شعر د نورو بندونو وروستۍ مسرې يا دولس ځپيزې دي او يا هم ان شپاړس ځپيزې دي:

- ازاد شعر دی هماغه،
چې ازاد وي
د زړو او د پردو ړندو پېښو له بنديزونو.
ماتې کړې زولنې د قافيو،
او اتکړې د رديفو او د رويو،
راوتلی له زندانه د عروضو د خليل بن احمد.
نه بېځای زړې پېښې د ميا شرف او
"جزئيات" د بهايي او
يا چتې خوشې خوارۍ د بې ګودره "سمندر" د بدرشو...
)اورا و ويني، ۱(
پاس بېلګه په يوه اوږده شعر اړه لري چې د مسرو رنګارنګي پکې يو څه زياته ليدل کېږي، ځلور ځپيزې، اته ځپيزې، يوولس ځپيزې، دولس ځپيزې، شپاړس ځپيزې او نولس ځپيزې دي؛

- اوه
چې څومره ده اوچته،
اوه
چې څومره ده ګرانبيه،
ستا د مينې وينې بيه،
د بې بډ ښايست ښکلا،
د واده د ولور بيه...
چې يې نه شي ادا ينه،
په هېڅ توګه پورا ينه،
په هېڅ ډول بسا ينه!
)هماغه ۱۲(؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه پاسنۍ شعري ټوټه کې دا ټکی د پام وړدی چې د )اوه ( یا )او ( غونډې یو څپیزې ټوټې یوازې په هغه ډول کې خپلوا کې مسرې کېدا ی شي چې شعر په لومړۍ خجنه څپه پیل شوی وي، مګر په دغه اوسني ډول او دوو نورو )په دویمه او څلورمه خجنه څپه پیلېدونکیو ( ډولو کې دغه ځانګړې یو څپیزې ټوټې باید له مخنۍ یا وروستنۍ ټوټې سره د یوازېنۍ مسرې په جوړونه کې برخه واخلي؛

- د کړنګ ژمي سړه شپه ده
ببر خېژې د پنډغالي د کېږدیو
د سړې سیلۍ له کوکو او شور ځوږه
چې راځي له ارتو ویرو سپېرو دښتو
پر اوږو د تورو خاورو ، زړو شګو بړبکیو...
)هماغه۸۲ (؛

- دریغه دریغه
چې نور نه سپړي ګلونه،
ګلغوټۍ دې د موسکاوو
د ښایست د سباوون په نارنجباغ کې...
)نوي پېړۍ او نوې زرۍ۴۱ مخ۹ -۱۲-۹۷ز (؛

- ستا د سترګو د ککیو د هینداړو
په رڼوب کې،
په زرګونو انځورونه د هستۍ
پر ځلېدو دي...
)هماغه۷۴-۷۵ (؛

دا لاندې شعر تر پایه له څلور څپیزو ، اته څپیزو او شپاړس څپیزو مسرو څخه رغېدلی دی. په دې بېلګه کې ښه ترا جوتېږي چې نه یوازې د څپو کمی زیاتی کوم نقش لري او نه یې لنډوالی او اوږدوالی، بلکې همدا خجونه دي چې د څپو شمېر د ځان اړوندوي او هغه دا چې تر لومړي خج وروسته چې خپل خوښی )اختیار ( دی، نور ورپسې درې درې څپې وروسته راځي او څنګه چې تر لومړني خج دمخه له یوې نیولې تر دریو ناخجنو څپو راتلای شي، همداسې تر وروستي خجن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته همدومره ناخجنې څپې راتلای شي، يا په سرچپه توګه غورځېدای شي.

- يه څپانده سمندره !
مېړنيه، لېونيه !
ډک له شور و له غروره،
له سکونه ناخبره.
يه مين مدام پر تللو،
له يوې لورې بل لور ته
ته د لمر سمندر وينې،
د اسمان پراخه غېږ کې،
د تيارو پر لور بهېږې؟
)عارف خزان: د سحر په غېږ کې، ۲۴ مخ(؛

ساړه باد پر مخ اخېستي،
خاورې، دوړې او خځلې.
رېږدوي څانګې د بوټو،
رژوي پاڼې د ونو.
)هماغه ۷۰(؛

ننګرهاره، ننګرهاره !
يه زموږه د ننګونو،
د پلرونو، د نيکونو.
يه د سرو ګلونو باغه !
يه له سرو وينو نه جوړه
تا نه زر وار درواری شم...
)فردا: د ګلپاڼو پرخې، ۲۳(؛

لا سنګر دی،
لا سنګر دی،
لا سنګر دی د برمونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا سنګر دی د ننګونو،
لا سنګر دی د بريو،
د بريو او برياوو.
لا سنګر دی نه نړېږي،
ټينګ ولاړ دی نه غورځېږي...
)هماغه ۷(؛

- ستا خبرې مې
د ذهن په کوڅو کې،
د انګې غوندې خپرېږي،
تکرارېږي.
ته چې يو ځل
- مينه -
ياده کړې صنمه،
نو غبرګون يې اورم:
مينه، مينه، مينه!
)خاموش: ۱۲۳(؛

- د کنې دنيا په ذهن کې
- د شنو چغو کرښې کاږم
چې:
د سره تاريخ په پاڼو کې تلپاتې ترانې شي،
زمانو ته افسانې شي.
)کمال مستان: هېواد ورځپانه، ۲۳-۷-۷۲(.

۴: هغه ازاد شعرونه چې تر اوسه په څلورمه خجنه څپه ويل شوي دي، تر مخني ډول وروسته په دويمه ډېرښتي کچه کې راځي د يو څو شاعرانو لکه کاوون، ننګيال، فردا، خزان، خاموش، ياري، رشيد... زياته هڅه هم همدې ډول ازاد شعر ته ده، دلته داسې برېښي چې يو د بل تر اغېز لاندې تللي وي، که نه په دوديز ډول او بيا په ځانګړي ډول ديواني شعرونه زياتره په درېيمه خجنه څپه ييل شوي دي او د دغه بل ډول د ېرې لړې ببلګې ليدل کېږي او هغه هم زياتره په لس

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېيزو ځلوريزو کې. په وسمهالو شاعرانو کې اجمل ښتک په نظمونو او نيم ازادو کالبونو کې لومړی ځل هڅه کړې ده.

بشر نويد يو څه زياته ازاده بڼه ورکړې، لکه:
زما د سترګو د رنجو دوه لويې لويې لکې
زما د سر د وېښتو غوړه غوړه نېغه کربڼه
زما پر غونډ مونډ سکڼي مخ باندې نرى خال
زما پر وروځه د خړپوسو د يو زخم خاپې
زما په زنه کې يو اوږد کوتی
زما اوږده او هسکه دنګه غړې
زه خپل تصوير د ماشوموالي ګورم
)نويد: مشالونه، ۱۴۷ مخ(؛

- دلته د مرګ د غرو رغو له کومي
- دلته د جنګ له جل وهلي ستوني
- لمبې فرياد د نوي ژوند راخېژي
- د مرګ پر ګور د ژوند ډيوې بلېږي
- سوله پر جنګ پياوړې...
زه يم ژوندی موري
)اور او وينې: ۱۴۲(؛

يه سرغړانده
تورتمه پيره،
د ناورينونو
د ناتارونو.
مه نغاړه پښې مې
په زولنو کې د تورتمونو،
د سرو لالونو او مرجانونو د بهيرونو...
)هماغه اثر ۱۵۳(؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پرې
چې دې ښکل کړم
دا لمرين لاسونه،
دا د لمر خدای ته
پر دعا هسک،
دا د سپېدو د سپېدارو ښاخونه،
په لاسبرې کې
د ناپايه بوږنوړي تورتم...
(زمانږی ۲۰-۲۲مخ)؛

- هغوی
په ټوله تورزږی
زما د بڼ د وروستې چونې
مری ومرووړله
او
په خپل ټول وحشت يې،
وروستی نغمه د ژوندانه
ورځنې وتروړله.
(هماغه۷۵)؛

- هغه مهال
چې ببدياني گلونه،
په خزاني چوپتيا کې
ساورکوي،
او غر
د ښار د زړه تنگی
کيسې کړي،
زه
ستا د سترگو په ورشو کې وينم
فال د سبا...

(c) ketabton.com: The Digital Library



)هماغه۷۶- ۷۸)؛

-خدايزده
د شپې په کومه توره
پولادي کلا کې
باد بندي دی،
چې نه يو څرک د کوم پيغام
نه د رڼا لګېږي،
او سوړ سمخ چاپېريال،
کړي د تلپاتې ناورينو خبرې...
)نوې پېړۍ او نوې زرۍ۹۲- ۹۳)؛

-که زما ويني بهېدلې نه واى
که زما غوښې سوځېدلې نه واى
او که سينه مې په ګوليو سورۍ شوې نه واى
او د ناکامه ژوند غوټۍ مې رژېدلې نه واى
نو دغه سره او ښايسته ګلونه
دغه تنکۍ او نازولې غونچې
په دې سپېره بيديا کې
پر دې ښوره او سوځوونکې ځمکه
راټوکېدلاى نه شوې...
)کاوون: سپرغۍ، ۱۱۹)؛

-زه او ته
دواړه په ګډه سره،
ولاړو د وينو پر لار.
شپه توپاني غوندې وه،
او لاره ډېره پاتې.
سړو سيليو وچو دښتو کې نڅا کوله،
ځنګل ډوب شوى وو د وېرې او سکوت په سين کې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



)هماغه اثر، ۱۲۸(؛

زما پر وچو شونډو
پر دې سپېرو خزان وهلو پاڼو
د وینو شعر لکه بېباکه نسیم
- اوړي را اوړي او چلېږي پسې...
)هماغه اثر، ۱۳۷(؛

- سحر اوچت شو
د تیارو لمن یې خیرې کړله،
او سپرلنیو وږمو،
د دې شینکي اسمان په دښتو کې
په سرو منګولو،
باغ د نارنجو جوړ کړ.
او
د دې لوی دریاب په غاړه کې
د حسن پر کور،
د شنو اوبو د سپینو سپینو آیینو له پاسه،
د سرو لمرونو
طلایي ماهیانو ولامبلې.
)ننګیال: هغه شپې هغه کلونه، ۱(؛

- زه به د شعر غوټۍ،
زه به د اوښکو ګلان،
زه به مسرې د غزل،
زه به دا ماتې ماتې مړې مړې د زړګي خبرې،
دا ځوربدلې هیلې،
دا رټل شوې اسرې،
د پسرلي په مرمرینو اوبو ومینځمه.
)هماغه ۱۲۳(؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د سبا سپين لاسونه،
په تورو تورو اتکړو کې د شپې،
هسې لا ښکېل پاتې وو.
چې لمر راوځلېده،
او اتکرۍ اوبه شوې،
د تورې شپې غوټه هم پرانېستل شوه!
)فردا: د گلپاڼو پرخې: ۷۰(؛

- شپونکيه وخانده او
ښه وخانده،
خانده ورشو کې له رمو سره دې
چې پسرلي کې يه شپونکيه
د خندا ورځې دي!
)هماغه ۷۹(؛

- زه د تورتم له غبږې
سوی سکاره، تندی مې مات او غاښ وتلی راغلم
سر تر پښو يمه په وينو کې سور
له ډېرې تندې خپلې وينې څکمه
)عارف خزان: د سحر په غېږ کې، ۲۳(؛

- زما د سترگو اوښکې
چې مې د زړه وينې دي
د خوږ جانان په نظر
څو د باران څاڅکي دي
)هماغه ۴۱(؛

- د زمانې قاصده،
زما غږ ورسوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغې ګردې دنيا ،
د بشريت غوږو ته !
لکه سپېدې چې:
- د رڼا -
او د سبا د راتلو زيری راوړي
پر دې ښوره او سوځوونکې ځمکه

دغه پاس بېلګه له اتو مسرو رغېدلې ده، د سر او د پای هغه له دريو ، دوو ، او منځنۍ شپږ واړه له يوې ټوټې څخه جوړې شوې دي. په دربېمه مسره کې )او ( زياتي راغلی او د اتمې مسرې )زما ( که يو څپيز ولوستل شي يا )تا ( زيات شي، تول و تال يې پر ځای کېږي او د نورو مسرو غوندې يې لومړی خج پر څلورمه څپه راځي.

زما د وريتې مينې سوې سينه
چې د چا ناز او د خندا په خاطر
د توپاني غم د لمبو تنور کې
تاوه راتاوه شوه او وريته شوله
ستا د نوښت د سمندر له تله
ستا د قلم د ښخوبې له ليکو
ستا د حساس له توپاني زړګي نه
د خپل پرهر د رغېدو په خاطر
د خپل ستي عشق د خوښۍ په اميد
دارو درمل غواړمه
دارو درمل غواړمه !
)اسماعيل يون، ناچاپ(.

تا کې زما د شعر غوټۍ وخندل
تا کې حيا د پښتونوالي وينم
تا رپولې ده شمله د ځلمو
تا د وطن د ناوکۍ پر ټنډه
له خپلو سرو وينو نه خال ايښی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



)صفيه صديقي: زما لوپټه(؛

- ما د سپېڅلې پاکې مينې له بڼ
راوړي تا لره ځولۍ ګلونه
بيا مې ګېډۍ له سرو ګلونو جوړې،
ستا په پټکي او خپل وربل کې ږدمه
)هماغه اثر(؛

- زما شهيدو اوښکو
په سره ډولۍ په سره کفن کې مې نن
د يار د کلي پر لور
پکې دننه
نيمه خوا ناوکۍ
د اسمان حورې پر اوږو ګرځوي
)هماغه(؛

- سمه ورانوه دا نيم ودانه ځاله
پکې پراته دي خو بې خوکه کوچني
مه سوځوه يې د اميد جونګړه
پکې ژړېږي بورې وراړې مېندې
)ياري، ناچاپ؛وروسته چاپ شو(؛

-آ د زردشت د کور لرغونی نغری
پټ د باروتو په سکروټو کې سو
او د خيام د جام د شونډو پر سر
د وينو سره پټرې له ورايه ښکاري
)هماغه شاعر(؛

- زه دې تصوير جوړوم،
د تصور په قلم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه د تخت له پاسه،
د محبت په ګوتو ،
پخپلو وينو باندې
خو په دې نه پوهېږم
چې ستا مغرور ښايست ته،
د يو ببوزلي زړګي،
دا يو نيمګړی انځور،
وړه ډالۍ شي که نه !
)هماغه شاعر ( ؛

- پرېږدئ
چې دا ناغوړېدلي غوټۍ،
وږمې ته خوله پرانيزي
لکه
پخوا په شانې،
زما د پاکو ارمانونو غوړګه،
د ستر توپان له لاسه وژغورل شي،
شي پر کلک ښاخ بدله...
او
د ساړه سيوري ترلاندې يې بيا ،
شي کاروانونه دمه
)مواج: پامير، ۱۹-۹-۶۲( ؛

په پای کې د شوق ترځنګ د سوبلي پښتونخوا )ژوب( د ازاد او بيا لنډ شعر مخکښ ښاغلي محمود اياز پر څلورمه خجنه څپه ببلګه وړاندې کوو. چې ټول ټال دوې مسرې لري، لومړۍ درې ټوټې رانغاړي او دويمه يې دوې ټوټې. دا چې دواړې يې پېنځلس پېنځلس څپيزې دي، بشپړ نه، بلکې نيم ازاد ))←مونډۍ (( شعر دی:
ګڼې وريځې
چې د هيلو
ويلې ويلې شولې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فکر زانې دي
په زوره زوره چيغې وهي.

انځوريز شعر )Illustrated verse(

انځوريز شعر د نوي- ازاد شعر او بيا ← تمثيلي شعر له خورا هنري ډولونو څخه ګڼل کېږي، کټ مټ د يوه انځور يا تابلو غوندې يوه يوازېنۍ سکالو، پېښه، منظره... رانغاړي. څنګه چې ليکوال د نورو اغلو او ښاغلو بېلګو ته لاسرسی ونه موند، نو خپل تور توتان د مينه والو مخې ته ږدي:

د انځوريز شعر بېلګې، لکه:

د لاسونو وچ ډاګونه مې
خړوب ستا د وېښتانو په باران شول
او د ژوند زمولې شېبې مې
ستا د مخ په بڼ کې تاندې...
خو بيا هم،
دا يو ارمان مې دی
لاهسې پر زړه پاتې
چې مې ستا تر پلونو لاندې
ها کرلې سترګې نه شوې رازرغونې!

- ما خپلې سترګې وکرلې
په تګلورې کې ستا
په دې اسره،
چې به راشنې شي
ستا د ناز خرام تر پلونو لاندې...
خو تا
-له بده مرغه-
کړ خپل تګلوری بدل
او زه همغسې
- د پخوا په شانې-
درته يو مخ سترګې پر لار پاتې شوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



)زما نړۍ **۵** (؛

ډېر کلونه راغله،
لاړه...
خو زما برخلیک لا هسې دی په تمه
ستا د سترګو په دوتر کې،
ستا د یو کتو لاسلیک ته ! !؟

)ناچاپ(؛
- باران
کښبي په پستو ګوتو ،
څه پستي پستي سندرې،
څه خوږې خوږې بدلې...

خو ،
د باد دي غبرګ لاسونه
چورلټ مات شي
چې یې څومره
زړه راکښونکې
مینه وږې ترانې
راولوټلې)ناچاپ(.

!

## نامانیز شعر یا مهمل سرايي)**Nonsense poem**(

په پښتو کې قافیوال هغه استاد حمزه له اردو شعرسره د سیالۍ لپاره ازمایلي او په ازاد کې شاه سعود. که رښتیا خبره وي،د زیاترو ناریالېستي
)ابېجنېستي، اکسپرېشنېستي، ابمپرېشنېستي، سېنسوالېستي او د پوست مودرنېزم د نورو ابزمونو او بهیرونو ( لارویانو شعرونه په همدې ډله کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰- ښېرکی
# په پښتو شعر کې ښوېيدنې او تېروتنې

د قافيوال شعر دوديز وياروته مو په )۴( ښېرکي کې وړاندې کړل، دلته غواړو، د ))ښپيز- خجيز(( سېستم له پلوه قافيوال او ازاد شعر دواړه ډوله د نورو ښېرمه رغښتي توپيرونو، لکه د مسرو اوږدوالی او لنډوالی او... په پام کې نيولو سره تر کتنې لاندې راولو.

۱: خجيز ويار )عيب(

سېلابوتونيک )ښپيز- خجيز( آر چې د پښتو شعر ټولېز )عام( ښنسټ بلل کېږي، په ازاد شعر کې بيا په ځانګړي ډول ښنسټيز ارزښت لري. که څه هم دلته ښپيز وياروته )عيبونه( يا ښپيز زياتی يوازې او يوازې د خج په تړاو تر پام لاندې راځي. دا يوه ديالکتيکي اړوندې بلل کېږي. د خج بېځايوالی هرومرو له ښپيزې نانډولۍ يا کمې زياتې څخه سرچينه اخلي او دغه راز په سرچپه ډول ښپيزه نانډولي يا کمی زياتی له خجيزې نانډولۍ يا په بله وينا کمې زياتې او بېځايوالي څخه رازېږي او هغه دا چې له پيل او پای څخه پرته هر چېرې بايد درې درې ښپې وروسته خج راشي. کومې خجيزې نانډولۍ او بېدودۍ چې په ګڼيو شعرونو يا په بله وينا ګړنيو شعرونو کې پېښېږي، د ليکنې هغه غوندې په ازاد شعر کې هم پېښېدای شي نه شي او کومه ښېل کېدونکې ګنا نه ګڼل کېږي. ځکه ښنسټيز آر )وزن( ته وټه رسوي. وګړنی شعر ځکه نه تاواني کوي چې ښېلاښېلې برخې )مسرې( يې ښېلاښېلې لارغې يا وقفې )← مات شعرونه( او ښېلاښېل سندريز ډولونه )طرزونه( لري، په بله وينا، له آره شعرونه نه، بلکې سندرې دي. په قافيه وال ليکنې شعر کې هم کېدای شي خجيزه يا په غوره وينا وزنې نانډولي په قافيو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



رديفو کې يو څه سپکوالى وومومي، لکه واخلئ يا کوتاني )د پخواني شوروي تورکتوکمي ( شعر چې په لوستلو او بوللو )خواندن ( کې تول زور پر قافيه اچول کېږي او د چا خبره وزني تشې او نيمګړتياوې پرې ډکوي.

## ۲: زخه

"زخه" د نويو دودېدونکيو ازادو شعرونو يو راز ويار )عيب ( ګڼل کېږي. دغه راز بې وزنو ويارجنو شعرو ته "زخن" شعرونه وايي. زخه داسې منځته راځي چې شاعر يې دلته او هلته د بېلابېلو وړو وړو ټوټو په بڼه، د چا خبره، د معترضه ټوټو په توګه د ځينو بندونو په پيل کې بې له کومې ژبنۍ اړتيا اچوي او بې له دې چې د وزن له پلوه ورته له نورو مسرو سره خجيز يا په بله وينا توليز سمون ورکړي. دا ټوټې کله يو څپيزې وي، لکه "او..." "خو..." "نو..." او کله څو څو څپيزې وي، لکه پرېږده، تر څو چې، لکه وطن مې... خو که وغورځول شي، شعري متن او مانا او له دې سره وزن ته کومه وته نه پېښوي. که پېښه شي، هغه بيا زخن نه، بلکې ويارجن شعر دى. بېلابېلې بېلګې يې په لاندې ډول دي:

...ته ګوره دا به څه وي !
يا مينه لېونۍ شوه
)يا ( کتنه ځنډنۍ شوه...
د لايق په دې يو مسره کې )يا ( يوه زخه ده او په غورځولو يې سمون مومي.

)او... (
ځينو د وينو په سرو ستورو
"توره شپه وويشته"
چې...
زه او ته
دواړه په ګډه سره
ساحل ته
ورسېدو
)کاوون: سپرغۍ، ۱۲۹ مخ (.

د پاسني شعر ړومبى )او... ( يوه زخه ده ځکه، نه ځانته مسره جوړولاى شي او نه له وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسرو سره يو ځای کېدای شي. نو په کار ده، يا وغورځول شي او يا ورسره لږ تر لږه درې نورې ځپې زياتې شي چې پر ځلورمه يې خج ځای ونيولای شي.
هرګوره، دربېمه ټوټه "چې... " له ورپسې ټوټې "زه او ته" سره يوځای کېدای او ورسره ځلور ځپيزه مسره جوړوای شي.
د کاوون د هماغه اثر په يوه بل ازاد شعر )۱۳۵ مخ( کې چې د هغه ړومبني غوندې پر ځلورمه خجنه ځپه پيل مومي، د "وطن مې" غبرګې ټوټې "زخي" بلل کېږي:

)وطن مې(
د امريکا په زهرجنه توره
زخمي شو او په وينو ککړ
)وطن مې(
دا قهرمان او غيرتي وطن مې
د )لوی شيطان( د نيرنګونو په اور
د سرمايې په سوځوونکو لمبو
سوی ستي شو لکه سوی ويتنام.
که دلته يې په "وطن" پورې يوه خجنه ځپه نښلولې وای، لکه "بيا"، نو خپلواکې مسرې ځنې رغېدې او تول يې له ټول شعر سره برابرېده.
د همدغه شعر د ورپسي بند په سر کې )خو...( هم زخه بلل کېږي.
خو...
دا سوځېدلی او زخمي وطن مې
ورپسي بل "خو... "بيا له اړوند بند سره يوځای کېدای شي، مګر دوه ځلې نور "وطن مې" بيا هم "زخه" پاتې کېږي. په دې توګه دغه ټول شعر د تول وتال له پلوه زخن او ويارمن دی. خو کېدای شي دغه زخې ترې ايسته وغورځول شي، بې له دې چې پاتې شعر ته کومه ستره وته پېښه شي.

په دې وروسته بېلګه کې )او( زخه ده، خو دوه ځلې ))د غسې(( د خج اخېستنې لپاره يوې يوې ژپې، لکه )ته( او )تا( ته اړتيا لري او همداراز که د ورپسي مسرې سرويی )زما( دوه ځپيز کارول شوی وي، نو له يوې زخې )او...( او غبرګو )دغسې( سره ګرد شعر )←ځپيز- خجيز( ويار راخپلوي:
)او( لکه لمر چې:
خپروي خپلې زرينې وړانګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغسې)ته(:
زما د ژوند په شپو کې وځلېدې
دغسې)تا(،
زما د ځوانۍ دنیا روښانه کړه،
توده دې کړله
)هماغه اثر، ۱۱۳ مخ(.

خاموش په خپل یوه شعر)۱۲۰ مخ(کې، که څه هم)او(له یوې اوږدې تړوتې سره یو ځای کښلی، مگر بیا هم)زخه(بلل کېږي او په تولیز ډول په ځلورمه خجنه څپه پیلېدونکی شعر په دغه برخه کې بې وزنه کوي. دریمه تړنه یې بیا ←څپیز- خجیز ویار لري:
)او(تا هم په خپلو اوښکو
د شنډې ځمکې
سخت رگونه نرمول
د گلبوټو اوبه خور دې کاوه.
لایق چې شعرونه زیاتره له دریمې خجنې څپې سره کاږي، د یوه ازاد کالب په یوه مسره کې یې
))یا((زخه راغلې ده:
...ته گوره دا به څه وي!
یا مینه لېونۍ شوه
)یا(کتنه ځنډنۍ شوه...

د جیلاني جلان په لاندې)← تمثیلي(شعرکې ځانته راغلې)هغه(زخه ده:
)هغه(
هغه پورې شین بخونه غونډۍ گورې...؛
- - -
-)ټیک(
چې به زما پر تندي پربوت
په وار وار به مې راښکل کړ
لکه یار،
لکه بورا چې
خپل وزر پر گل راخور کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته جوړ د مینې شور کړي،
له رقیب سره په جنګ شي
او سیلۍ ته ښېرا وکړي
داسې ده به خال له پاسه
د برېښناوو لښکر جوړ کړ...
)عارفه عمرلور، هیله ۱۷ ګڼه(؛

- - -

-... او ستا د شعرونو او غزلو مضمون
زما د ذهن په کتابتون کې سپین کاغذ پاتې نه شو
زه به دا سپین کاغذ، د شعر په نامه
د کومې کونډې خورکۍ
د یتیمانو خوشالتیا لپاره
د کوم وران شوي کلي
په کوم ادرس کې لیکم
عنایت الله پویان)منصوري چغې ۲۲۰(؛
په دې ښکلې شعري ټوټه کې لومړی)او ( زخه راغلې او په ورپسې دوې مسرې سره که جلا شي، ښه تر ښه ،که نه د یوې مسرې په توګه ښېتولې لري، همداراز یې )ذهن( یو ځپېز لوستل په کار دي؛

-زموږ د کلي...
په دې تنګو او په خړو کوڅو
چې تاو راتاو دي)وې(، غاړه وتي دي یو بل ته سره
او د پرون د څو سرکښو او یاغي اسونو،
په وحشي منډو او ځغستلو سره
په سپېرو دوړو او ګردونو کې لا
نورې هم تنګې او سپېرې ښکاري)ېږي(...
)هماغه اثر، ۲۹ مخ(؛
په پاسنې شعر کې لومړۍ ټوټه له دویمې سره یوه مسره رغولای شي، خو ))کوڅو (( چې باید )کوڅې( راغلې وای، د اهنګ د ښه تراجوتیا لپاره یوې ځپې ته اړتیا لري، نو سمون یې داسې راتلای شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



)زموږ د کلي هسې تنگې کوڅې(؛ همداسې يې که د وروستۍ مسرې ))ښکاري(( پر ))ښکارېږي(( واړول شي، څپيز انډول يې سمېږي او اهنگ ورسره ښه ترا سمبالېداى شي.

## ۳: څپيز- خجيز وياروونه

ټوليزسېلابوتونيک وياروونه چې د ازاد شعر په ځينو "ازمايښتي" کړاوونو )مشقونو( کې ليدل کېږي:

)زه( لکه ازاده مرغۍ
له قفسونو او دا مونو لوړ
به الوتم او پروازونه مې کړل
او د ښکاري گوتو ته نه ورتلمه
)او( زه دې د مينې تور کې ښکېل کړم اخر
)خاموش: ۱۰۱-۱۰۲(.

دغه شعر د شاعر د زياترو ازادو بېلگو غوندې په څلورمه خجنه څپه ويل شوى دى، مگر د "زه" او وروستي "او" په ور زياتولو او د دويمې مسرې تر وروستي يو څپيز ويي له مخه )به( يې د دريېمې مسرې د پوره کولو لپاره بېځايه لېږدولې او له ژبنې نا اوډونۍ )ضعف تاليف( سره شعري دا هم رامنځته کړې ده. په کار خو دا وه چې )به( )تر( لوړ( له مخه راوړې واى او د ورپسې مسرې تشه يې په يوه بل وييکى، لکه ))تل(( ډکه کړې واى چې ژبنى او شعري اوډون دواړه پر ځاى کېدل. دا چې په همدغه بېلگه کې د "زه" او "او" په غورځونه مانيزه پرله غښتيا )انسجام( له منځه ځي او ځرگندني ځواک يې هم نيمگړى کېږي، نو "زخه" نه، بلکې څپيز- خجيز ويار بلل کېږي. ځکه "زخه" هغه ډول ويار )عيب( دى چې په غورځېدنه يې د شعر وزن ته وته ونه رسي.

د همدغه شاعر په يوه بله ازاده بېلگه کې "په وړاندې ځي" که څه هم د نورو شعرونو غوندې څلورمه خجنه څپه "ځي" لري، خو که ورپسې يوه، دوه يا درې ناخجنې څپې ور زياتې شي، دغه خج به نور هم پياوړى شي، لکه واخلې "نن سبا" يا داسې نور.

## ۴- تولونج

تولونج )وزني بدلون( داسې چې په يوه يوازېني شعر کې ځينې مسرې په يوه وزن او ځينې په بل وزن ويل شوې وي، لکه د پيوند دا شعر چې ټکور يې ځينې مسرې موزوني او ځينې يې بې وزنه بللې، بې له دې چې وواېي، ځينې مسرې يې پر څلورم خج راوړې او ځينې يې پر دريېم، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دوې مسرې:
سينه په)پر ( خړو خاورو مړې
کنډواله وه د پېړيو
دغلته له لومړۍ سره د دويمې يو سمون داسې راتلای شي:
))دا د پېړيو کنډواله وه ((.
)پيوند: سيلۍ، د سريزې "و "(.
د شهسوار سنګروال او حنيف بکتاش په پخوانيو ازادو بېلګو کې دغه راز ګډون او ګډوډي ډېره ليدل کېده. د هماغه يوه شعر يوه مسره په څلورمه خجنه پيلوي او بله يې په درېيمه، دويمه يا لومړۍ.

**۵- بې تولي )بې وزني (**
په دغه لړ کې هغه ازاد شعرونه راځي چې ځای ځای له توله )وزنه( وتلي وي لکه د غني د پيدايش )۴۲ مخ ( نومي شعر کې چې نژدې سم نيم بې توله دی. د ټولو پخونو تر څنګ دغه راز بېتولي د غني په قافيه والو او نيم ازادو بېلګو کې هم لړې نه دي.
په دغسې ځايونو کې چې د خج د لا جوتتيا او پياوړتيا اړه رامنځته کېږي د څپو کمی زياتی يو اغېزمن نقش لوبولای شي که نه تش څپيز انډول ځانته ګوښې له بنسټيزو اړتياوو څخه نه ګڼل کېږي.
د دې لاندې شعر د سر درې ټوټې له پاتې ټوټو يا مسرو سره چې پر درېيمه خجنه څپه راغلې، کوم څپيز- خجيز وزن نه لري:
)سبا مې دوی
مړی
کلي ته وړي (
کليوالو هديره کې
ځای د قبر معلوم کړی
پلارمې نن چا خبر کړی...
)ومان نيازي، تاند اوبپانه (؛

د دې لاندې شعر څلورمه، پېنځمه او شپږمه درې سره ټوټې بې توله راغلې دي:
- هره ورځ زموږ د کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښایسته پېغلو په پښو کې
یو تېره اغزی چوخېږي
)او له سره ی د اوښو ډک
یو شین غاړی منګی
رالېږي... (
)خانمحمد سیند ، هماغه اخځ(؛

پر ځلورمه خج د دې لاندې راپیل شوي، اوږده شعر د پینځم بند په یوه مسره ))بیامې د ټراین
)تر ( تمځایه پورې(( کې د )تر ( غورځېدنه چاپې تېروتنه برېښي، که نه، ښتوله راځي. )عاشق
الله غریب، ښکلا ۲۹ګڼه(؛
د ښاغلي عادل اڅکزي په ورته خج دیوه بل پیل شوی، خو لنډ ازاد شعر په شپږو مسرو پسې
نورې شپږ هغه ښتوله شوې او سپین شعرته اوښتې او د پای په راغبرګه شوې مسره)سوزمن
انځور نقش کړي (کې هم، که نقش دوه څپیز نه وي کاربدلی، نو له ورته نیوکې سره مخامخېږي.
)هماغه اخځ(

۲: د مسرو تر منځ د برید تتوالی
په ازاد شعر کې کله کله د مسرو بریدونه په اسانه نه پېژندل کېږي، د دې لپاره تر هرڅه له مخه د
لیکنښو )،؛ ! ؟( کارونه اړینه برېښي، که نه تتوالی هرو مرو رامنځته کېدای شي،لکه د کاوون
په لاندې ټوټه کې:
تن به مې اورونه راوړي
سر به مې شورونه راوړي
وینې به مې سرې شي
دا سرې وینې به ګلونه راوړي
بیا به نو دا سره ګلونه
ستا مینه ژوندۍ وساتي
ته به رانه هېره نه شې
)سپرغۍ ۹۰(.

که دلته څلورمه مسره له درېیمې سره یو ځای ونه لوستل شي، تول یې سم نه راځي، په بله وینا،
خپلواکه مسره کېدای نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز د ننګیال په پیغام نومي )۵ مخ( شعر کې د مسرو بریدونه په دې تت بربښي چې نه ورسره ژبنی )ګرامري( یو والی سمون لري او نه پکې له لیکنښو کار اخېستل شوی دی:
شپه بیا
په خپلو تورو وینو لامبي
ساحل ته ووته د شپو شپو
سفرونو بېړی
او ځنګله
په شنو ورېمو کې
د زیتونو نیالګي
د لمر باران ته
د بلبلو
پیغامونه لېږ)د (ي.

پاس لومړۍ دوې ټوټې سره، هم د وزن له پلوه یووالی جوړوي او هم له پښویيز )ګرامري( پلوه، ځکه یوه غونډله )جمله( ده. خو دربیمه او څلورمه مسره سره یوازې تولیز)وزني( یووالی جوړوي او پښوییزنه، ځکه نابشپړه غونډله ده. همدا راز وریسې درې ټوټې هم درواخله. وروستۍ درې ټوټې بیا، هرګوره، د لومړیو دوو ټوټو غوندې هم وزني یووالی لري او هم ګرامري. له همدغه کبله ډېرو لوستونکیو ته چې له نوي شعر سره نابلده یا ناباندې دي، دغه بریدونه سره ببلولای نه شي، نو له دې کبله یې سم لوستلای هم نه شي او د بې وزنه شعر په توګه ورته ګوته نیسي. همدا برید تتوالی دی چې انځور پخپله سریزه کې د فردا دغه وروسته شعر د وزن له پلوه نیمګړی ښوولی دی:

شپونکیه وخانده او
ښه وخانده
خانده ورشو کې له رمو سره دې
چې پسرلي کې یه شپونکیه
د خندا ورځې دي.

که نه په دغه ټوټه کې د وزن نیمګړتیا هډو هېڅ نشته مګر دا چې په لیکنه کې یې په ښکاره توګه بریدونه سره تت بربښي، ښایي ډېر لوستونکي په شک او اړنګ کې واچوي هسې خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ ځير سره ليداى شو چې دغه شعر ټولې درې مسرې جوړوي، لومړى خج يې پر څلورمه، دويم يې پر اتمه او دريم يې پر دولسمه څپه راغلى دى.

که د ازاد شعر بهير ورځ پر ورځ پر مخ ولاړ شي بيا کېداى شي دغه بريد تتوالى، کوم تتوالى ونه ګڼل شي. البته سم له لاسه هر ازاد شاعر ته په کار ده چې د بېلابېلو شعري ټوټو په اوږدون کې پوره پام وکړي، د ليکنښو له کاروني سره سره پکې ډېره پېچلتيا هم رانه وړي.

د خزان په يوه شعر کې که دا لاندې درې ټوټې سره ګډې کړاى شي، پر يوه مسره بدلېږي او په دې ډول يې توليزه نيمګړتيا ايسته کېږي:
ستا د هر نثر د الفت وږمې
)او ( ستا د ياغي ستوني د چغو فرياد
)د ( يوې لسيزې له شا

که دغه درې واړه ټوټې پر يوه مسره بدلې نه شي، يوازې لومړۍ مسره خپلواکه مسره پاتې کېداى شي او ورپسې ټوټې د "او" او "د" له کبله خجيزه ويجاړتيا رامنځته کوي او وزن له لاسه ورکوي. دلته دا سې برېښي چې شاعر درې واړه ټوټې جلا جلا مسرې ګڼلې دي، که نه لږ تر لږه به يې د لومړۍ ټوټې پاى ته ننګښى )ويرګول ( نه کېښو او د هغه ځاى به يې "او" ته ورکړى واى او يا خو به يې دغه سرباري څپه "د" ځانته کښلې واى، همدا سې د دريېمې ټوټې سرباري څپه "د" هم درواخله. هر ګوره دريېمه ټوټه په يوه بل چم خپلواکه مسره کېداى شي چې "يوې" په وردګي ګړدود يو څپيز وکارول شي او ولوستل شي.

د همدغه يوه شعر دوې نورې ټوټې هم د شاعر له خوا د ننګښنو په کارونه جلا جلا مسرې انګېرلاى شو، حال دا چې که دواړه د يوې مسرې په توګه يوځاى ونه لوستل شي، يوازې لومړۍ ټوټه خپلواکه مسره کېداى شي او دويمه هغه بې برخليکه پاتې کېږي.

د کاوون د "سپرغۍ" په يوه شعر کې چې په څلورمه خجنه څپه پيل مومي، يوه دوه څپيزه ټوټه ))هغوى و (( درې ځلې د بندونو په سر کې راغلې، بې له دې چې خپلواکه مسره ورته وويلاى شو او يا يې له نورو مسرو سره ملګرې کړاى شو، همدا سې بې برخليکه پاتې کېږي او د )زخې ( په توګه يې غورځونه هم ژبنۍ ځرګندتيا ويجاړوي، په دې ډول شاعر بايد هغه د سرليک "هغوى شپږ کسه وو" په بشپړه بڼه کارولى واى، لکه څنګه يې چې يوځل د پاى بند په سر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې کارولی هم دی. په دغه بېلګه کې یې "نو" بیا هم "زخه" بلل کېږي. که څه هم په غورځونه یې متني پرله غښتیا (انسجام) (یو څه ویجاړتیا مومي.

نو
ما ته له هر څه ګران دی
زه یې نمانځنه کوم
د زیار اېستونکي درد بدلي انسان
(کاوون: سپرغۍ، ۱۲ مخ)؛

..بیا به نو زموږ د ولسونو پسرلی راشي
ستا (به) (په وړمو سره،
شي زموږه د سپېرو شونډو للمي پترې
او به (به) (شي...
ګل به شي وطن زموږ
سور به وي چمن زموږ
مینه وي دنیا دنیا
خوند به دې وږمو کې وي
خولې به وي خندا خندا
هله به سپرلیه زموږ زړونو ته ډېر ښه راځې!
(فاروق فردا: د ګلپاڼو پرخې، ۱۴۳-۱۴۵ مخ).

د پاسني شعر په دویمه مسره کې ((به)) (پر خپل ځای راغلي، خو شاعر په دې اټکل چې له وړپسې (دوه ټوټه ییزې) دربېیمې مسرې سره تخنیکي اړیکی نه لري، نو دغلته بیا راغبرګه کړې؛ له دې ناخبر چې له غونډله پوهې له پلوه دواړې مسرې یوه غونډله ده او دا پخپله یو ویار دی چې یونا خپلواک (ژبنی یوون) واحد (یې یو خپلواک شعري هغه ګرځولی، ځکه له لوستونکي او بیا کره کتونکي لارلودن ورکوي او) د مسروترمنځ تتوالی (رامنځته کوي. دا نادوده کار د شاعر په نورو شعرونو کې هم ښایسته ډېر لیدل کېږي.

۷: په ناپښېلیز شعر کې نابرې پښېلي
د بشپړ ازاد شعر مانا دا ده چې شاعر پرځان باندې په لوی لاس قافیې بندیزونه لګوي او یا هم د مونډې شعر غونډې د بېلابېلو مسرو څپیز برابری، که نه په نا آګاهانه یا په بله وینا، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناويلا ړيزه )غير ارادي ( توګه يوه، نيمه هم ښپيزه او قافيه واله مسره کوم ويار نه ګڼل کېږي. کله کله يو ازاد شعر د دې لپاره پر يوه قافيه وال بيت يا څو مسرو پای ته رسول کېږي چې شاعر غواړي خپل پيغام او يا غوښتنې ته لوستونکي ښه ترا را وځکوي او له دې سره سره د ټول شعر بې کچه پېچلتيا او پوښلتيا يو څه بربنډه کړای شي، خوکه په اګاهانه توګه پکې زياتوالی راشي، بيا نو په نيم ازاد کې راځي. د نابرې بېلګې، لکه:

يو د هيلو پسرلی په ټوکېدو دی
پر لمنو، غاړو مورګو
هديرو، غرا و ميرو کې
يو سور پړک د سرو غاټولو د رپيو
يو بهير د شاځلميانو د جنډو دی !
)اورا و وينې: ۷۰-۷۱ مخونه (؛

جوړه بسپنه په لاس د ګوډا ګيانو
د "ناپاک" له "کفرآباده"
د "چيني - امريکني مسلمانانو !"
)هماغه اثر: ۸ مخ (؛
... هو،
هېڅکله شوی نه دی
هسې شان ناشونی کار
چې په يو ګل پسرلی شي
ټول جهان پرې ګلالی شي ! !؟
)هماغه ۱۹(.
يوه خنده د جنت د نوراني اهورايانو
يوه کنده د دوزخ د تاغوتي اهريمنانو !
)هماغه ۱۲۵(؛
له بې امانو پاڅونونو سره
له سرو پاټکيزو غورځنګونو سره !
)هماغه ۱۴۱(؛
چې سکنې له خپلو سرو شهيدو وينو نه کفن خپل
او پرېوې ځان په زمزم د رڼو اوښکو د وطن خپل !

(c) ketabton.com: The Digital Library



)هماغه ۱۴۹(؛

زه به هم خلکو سره خاندم، ترانې به لیکم
د خپلې مینې د دردونو افسانې به لیکم
)کاوون: سپرغۍ، ۱۰۱(.
کېدای شي، په ازاد شعر کې د ارادي یا نا ارادي قافیو ځای یوازې ردیفونه ځای ونیسي.

## ۸: تکرار او کرغېړنتیا

په ازادو شعرونو کې کله کله دا هم پېښېږي چې لکه د دودیز ((د سر یوه برخه، یا بند پای ته بیا راوړل شي، یا د لوستونکي او اورونکي له خوا په خپلسري توګه تکرار شي. دغه کارونه یوازې ویار )عیب( نه ګڼل کېږي چې شعر لا خوندوروي او اغېزمنوي، لکه:

تېر به شي
دا منی نور
را به شي
ځړمنی نور
وبه چلي سا
په مړو رګو کې
د ګلپاڼو
د سرو ګلو
د ګلبڼ
د برم ویلاړ زما!!!
)اور او وینې، ۲۴-۲۲ مخ(.

تکرار او کرغېړنتیا )ابتذال( په دې مانا چې یوازې ازاد شعر باید له ژبني، هنري )انځوریز( او منځپانګیز پلوه له هر راز کرغېړنتیا وژغورل شي، جاج او جوله )مفهوم او شکل( هسې بېځایه بیا بیا راغبرګول له کرغېړنو زړو کالبونو نظمونو سره د نوي ازاد شعر برید او پوله بېلوای نه شي. په نوي ازاد شعر کې تل پر دې ډېر زور اچول کېږي چې لومړی د ژبني او هنري جولې او بیا د منځپانګې تر منځ د بشپړې دیالکتیکي سمبالتیا له مخې پر هر ژبني توک او آرو معیار )نورم( انځور او خیال مانیز او ولولیز )عاطفي( اړخ پوره پوره غور وشي او د چا خبره یو ټکی هم بې مسوولیته ونه کښل شي یا و نه ویل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ازاد شعر لاروی باید تر نورو زیاته بډایه او کره ژبه ولري او تل پکې سم غورچاڼ )گلچین( وکړي او پر خپله لنډه تنگه گړدودي پښتو بسیا پاتې نه شي. نه یوازې د وییونو له تکرار ډډه وکړي، بلکې له معیاري، درون وینگو، بدلگیو او بد آهنگو هغو ځخه هم باید تل ځان وژغوري.

په کرغېړنو )مبتذلو( پور وییونو کې یوازې حسن و عشق، هجر و هجران، فراق، وصل، وصال، وصلت، دیدن، دیدار، نگار، گلبدن، گل اندام، دلارام، صنم، پري، محبوب، محبوبا، شیدا، معشوق یا معشوقه، عاشق، عشاق، جگرخون، خون جگر، چشم، چشمان، رخسار، زلفې، کاکل، گل و بلبل، لاله او سنبل، جانان، دلبر، دلدار، یار دلازار، خرام، ناز و ادا، نخرې او کرشمې، جفا او وفا، مجنون او لیلا، ساقي، پیمانه، جام، شراب، خم، خمار، مخمور، نشه او داسې نور ورته وییونه راځي چې له پېړیو پېړیو راهیسې یې پرې عربي، فارسي، پښتو، اردو... شعرونو شخوند وهلی او نور یې خوند بایللی دی.

اوسني علمي او تخنیکي یا سیاسي ژورنالېستیکي او بیاد نن سبا ژوند اړیني او گټور جاجونه او وییونه د نوي ازاد شعر له ژبې سره هله اړخ لگولای شي چې خیالولې، سمبولېزه، انځوریزه او ان اسطوره یې جامه ورواغوستل شي، نه دا چې پخپله همدغه وییونه کټ مټ راوړل شي، لکه په دې لاندې لیکلړ کې:

ماشین، کمپیوټر یا سولگر، کنفرانس، فابریکه یا کارخونه، کارځی، کارغالی )ورکشاپ(، گاډی )موټر(، تیلیفون، تلویزون یا لروینون، حکومت، سیاست، قانون، اقتصاد، تجارت، کور، ډوډی، کالي، تولید، صنعت، سپورټ، ورزش یا خپل و پردي جرافیایي نومونه، لیکلړ )لست(، او یا کار گر، انقلاب، اوښتون، پاڅون، غورځنگ، جنگ، جنگیلی، جگړه مار، سوله، ولسواکي، دیموکراسي، پرمختگ، پرمختیا، پرمختللی، ابادي، مېړانه، غیرت، پت، ننگ و ناموس، پښتون، پښتو، پښتونوالي، پښتونواله، پښتونولي، رښتینولي، وروري، برابري، کتاب، پوهه، پوهنه، فرهنگ، زده کړه، ښوونه روزنه، لیک و لوست، مبارزه، وطن، هېواد، ولس، ټبر، لویه جرگه...

په دغه لاندې ازاد شعر کې )د سولې سولې( پرله پسې راوړنه ډېره ښېخونده بربښي، ځکه تش وزن یې پرې پوره کړی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



... اوس روان شوي يو ځو
له سرو گلونو سره
له سرو گلونو سره
د سولې سولې کور ته
د سولې سولې ښار ته
د سولې سولې ورا ته
د سولې سولې خوا ته
)خالق رشيد: گلبانگهايي براى صلح و سپيده، ۷-۸۲ مخ(.

په ازاد شعر کې بايد ژبنۍ رنگارنگي هېڅکله هېره نه شي، په دغه لاندې بېلگه کې راغلی تکرار هم دومره خوندور نه برېښي:

اوس زما د وطن کاڼي
اوس زما د وطن بوټي
اوس زما د وطن غرونه
هم سيندونه د وطن مې...
)فردا: د گلپاڼو پرخې، ۱۲۷ مخ(.

وگورئ، دغه وروسته ازاد شعر يې په يوه کرغېړن پور ويې "صنم" سره انځوريز راکښون او انديز نوښت زيانمن کړی نه دی؟

- ستا خبرې مې
د ذهن په کوڅو کې
د انگۍ غوندې خپرېږي
- تکرارېږي-
ته چې يو ځل
- مينه-
ياده کړې صنمه!
نو غبرگون يې اورم:
مينه، مينه، مينه..
)خاموش: مزلونه او منزلونه ۱۲۳(.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا د "جانان" غوندې یو بل کرغېړن پورویې په دغه لاندېني شعر کې څومره ښېخونده برېښي:

زما د سترګو اوښکې
چې مې د زړه وینې دي
د خوږ "جانان" په نظر
څو د باران څاڅکي دي
اوښکې نه دي
اوس کومې اوښکې توی کم؟
چې د "جانان" په نظر
د باران څاڅکي نه وي!
)خزان: د سحر په غېږ کې ۴۱(.

او یوه داسې بېلګه چې هم یې ژبه خوږه او نږه ده او هم یې اند و واند رنګین او پیاوړی:

ستا پر مخ د سرو یاقوتو
د باران له څو څڅواکو،
کاڼې زړه د نهیلیو د سارا هم
لکه موم شو.
پر څنډو د اننګیو د مهال
را ورغښتلې،
ستا له برندو برندو سترګو مینه وړو
د خوښیو مرغلرې،
ستا د لمر مخ پلوشو تر سیوري لاندې
لکه پرخې د ګلپاڼو پر وښکیو...
څه که رغړې او را رغړې
پر بستر د سباوون
د ګلګڅو زما د شعر،
ستا د سرې سپینې کوکۍ
د خواږه خیال
سورکې خالونه،
په دوتر زما د زړه کې
جوړ د وینې او د مینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبولي انځورونه !

پرنوی ازاد شعر د دې تورتېنې پرځای چې ګوندې د قافيې او رديف په ايستنه غورځونه يې له خپل خپلې ژبې، فرهنګ او تاريخ سره اړيکې شولې دي، ولې داسې ونه وايو چې د پښتو شعر له پښو ځخه يې د پردي ښکېلاک زولنې ماتې کړې او ببرته يې ازاد کړ، هو ،هغه ځه چې زموږ په تاريخ او فرهنګ پورې رښتيا اړه نيسي، هغه ژبنۍ انځوريزه او انديزه خوا ده. لکه په پاسنې شعر کې )برندې سترګې(، )سره سپينه کوکۍ(، )سورکې خيالونه(... کانۍ زړه موم کېدل، پر بستر... رغښتل را رغښتل او داسې نور. که ځه هم په نوي ازاد شعر کې پر سېمبولو، انځورو او اسطورو ډېر زور اچول کېږي، مګر زياته هڅه کېږي، لومړی ورته له خپل تاريخ او فرهنګ سره پيوند ورکړشي او بيا له ګډ نړيوال هغه سره. د اهوار او اهريمن تر ځنګه يوناني زيوس، پرومېتوس يا د اراکولا ته ځای ورکول کېږي، د ليکونکي "کاغذي ښامار" نومی شعر "اوراو وينې، ۱۵۲ مخ ( همداسې يوه بېلګه کېدای شي.

محبوب سنګر په قافيه والو، ازادو او نيم ازادو شعرونو کې د تول پوره کولو لپاره له غبرګون او تکراره ډېر کار اخېستی:

سينده سينده کونړيه
راتاوېږه راتاوېږه
وغړمبېږه وغړمبېږه
مه چوپېږه مه چوپېږه
ته دې زړه خوره ته دې زړه خوره
ماتوه يې ماتوه يې
نړوه يې نړوه يې
چې راوېښ شي چې راوېښ شي
)هماغه اثر: ۱۱۳-۱۱۵ مخ(.
هسک سپېځلی او تک شين و
او تک شين و
تک سپين لمر پکې وړانګين
او وړانګين
رنګيني يې لمنې
او لمنې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



)هماغه اثر: ۱۱۲-۱۱۸ مخ(.

ښکلې غبرګون)تکرار حسن( البته کله کله د ازاد شعر عاطفي خوا ډېره پیاوړې کوي او لا زیات راکښون وربښي، لکه:
وخنډېځ ځانګونه مو
پرانیزئ وزرونه مو
والوزئ را والوزئ
والوزئ را والوزئ...
)اور او وینې: ۸ مخ(.
وتره ده
نن وتره ده،
د ذهن کرونده زما
)خزان: د سحر په غېږ کې، ۴۸ مخ(.
بارانه ووربېږه، ووربېږه
چې سارايي ګلونه
د وچکالۍ ځپېږو ورژول
او د غوټيو شونډې
د سرو تڼاکو په څوليو کې ټالونه وهي
بارانه ووربېږه، ووربېږه
)ننګیال: هغه شپې هغه کلونه، ۳۸-۳۹ مخ(.

لکه له ګڼو راوړو شعري بېلګو څخه چې را جوتېږي، نن سبا ))کلې، کوڅه...(( هم دومره سولېدلې چې نژدې ده، د لوستونکيو او اورېدونکيو زړونه ځنې تور کانديږ،او ان د ))مور(( په څېر سپېڅلی نوم هم دومره پرځای او بېځای، په آره او سمبولیکه مانا )هېواد، پت، ناموس...( ورو ورو، مخ پر سولېدلو دی!
بې کچه ساده ګي او بربنډتيا د نويو ازادو شعرونو له ځانګړتياوو څخه نه ګڼل کېږي، دغه ځانګړتيا په هماغو قافيه والو نظمونو پورې اړه لري چې د دغې پېړۍ له پيله يې تر اوسه پښتو شاعرۍ د کرغېړنتيا )ابتذال( تر بريده رسولې او د اوسنۍ ازاد شعر غورځنګ هم له آره د هغو پر ضد رامنځته شوی دی. د ازاد شعر لارويانو هم زياتره له همداسې ساده نظمونو څخه راپيل کړې ده او د چا خبره د خپلو ساده نالوستو وګړيو لپاره يې خپله ونډه ادا کړې ده. نور به بايد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان او پښتو شعر د ودې او پرمختیا اړتیا هم په پام کې ونیسي.

که څوک وغواړي ډېر کرغېړن)مبتذل ( وییونه له کرغېړنتیا )ابتذال ( څخه وژغوري، یوه لار به یې همدا وي چې نګه پښتو انډولونه ورته وګوري، لکه د وطن پرځای هېواد او د هېواد پرځای ټاټوبی، خاوره، مېنه یا اویجه، د هجر و هجران و فراق پرځای بېلتون یا جدايي، د صنم، معشوق، محبوب، محبوبا، دلدار، نګار، ګل اندام، دلارام، جانان... پرځای ښکلې، ګلې، مینه ورې، زړه ورې، زړګوټې، زړګی، ګرانه یا ګران، ګلمخې... د عاشق، شیدا... پرځای مین، لېوال، ژوبل، نیمه خوا... د مجنون او لیلا پرځای، شهی او شهو یا ادم و درخو، د ناز و ادا پرځای کنج و مکېز، د جفا کار او ستمکار پرځای بېلوره، بې مینې، د خلک پرځای وګړي، د قاصد پرځای ځری، استازی، د پیماني پرځای اړې، د زلفو پرځای څڼې او کوڅۍ، د حسن او جمال پرځای ښایست او ښکلا، د عشق و محبت پرځای مینه، لېوالتیا او داسې نور بې شمېره وییونه. د ازاد شعر له انګېزو او بیا ګټو څخه یوه دا هم ده چې د کرغېړنو او زنګ خوړلیو قافیې او ردیفي کړېو ترخنګ کرغېړن وییونه، ترنګونه )ترکیبونه( او انځورونه هم د نور د تاریخ ارتیېلځې )زباله دان( ته وروغورځول شي.

هنري او اندیز )فکري ( نوښت یوازې په ژبنې نوښت سره رامنځته کېدای شي. د همدغې ټینګې دیالکتیکي اړوندۍ له مخې په سبکوپوهنه او کره کتنه کې "ژب- ښکلاییز" او "ژب- اندیز" نومونې نوې دود شوې )یو اخیم بینر: کاسپر- ووکل، ۵۳-۷۷ مخ(. دا مانا چې د یوه ادبي اثر په کره کتنه او ارزونه کې ژبه او ښکلا بیا ژبه او اندي منځپانګه )فکري محتوی ( سره همزمان او پتلیز تر څېړنې لاندې نیول کېږي، ژبنې اړخ یو له بله جلاجلا څېړل یو ناشونی کار ګڼل کېږي، ځکه هېڅ داسې هنري انځور به نه وي چې بې ژبنۍ څرګندونې هستي ولرلای شي او همدارنګه به هېڅ داسې اند )فکر ( نه وي چې بې د ژبې له مرستې څرګند بدنه وموميې، پر همدې آر یوازې، نګه او ښکلې وییونه کولای شي، نوي نګه او ښکلي ادبي انځورونه او پاخه اندونه او خیالونه څرګند کړي.

په دې کې هم شک نشته چې پیاوړی تخیل او تفکر هم پر خپل وار کولای شي، له خورا ساده او کرغېړنو وییونو څخه خورا نوښتګرانه، ښکلي او زړه راښکونکي ادبي انځورونه ورغوي، مګر که دا هم نه وي او هغه هم نه مانا دا چې هم وییونه او نور ژبنې توکونه او آرونه ښکلي، نږه او معیاري نه وي، او نوی او پیاوړی تخیل او تفکر هم نه وي، نو هرومرو کرغېړنتیا )ابتذال( رامنځته کېږي، ژبنۍ ښکلا او سپېڅلتیا، په بله وینا، ژبنۍ نږه والی، نویوالی او پخوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شي، لږ تر لږه د هنري جولې کرغېړنتیا راښیته کړي او د چا خبره یو څه ادبي غونډې لېو ورکاندې.

وګورئ، دغه وروسته ازاد شعر په یوه کرغېړن پور ویي "صنم" سره انځوریز راکښنون او اندیز نوښت زیانمن کړی نه دی؟
ستا خبرې مې
- د ذهن په کوڅو کې
د انګیې غونډې خپرېږي
- تکرارېږي-
ته چې یو ځل
- مینه-
یاده کړې صنمه!
نو غبرګون یې اورم:
مینه، مینه، مینه...
)خاموش: مزلونه او منزلونه، ۱۲۳ مخ(.

یا د "جانان" غونډې یو بل کرغېړن پورویی په دغه لاندېني شعر کې څومره ببخونده برېښي:
زما د سترګو اوښکې
چې مې د زړه وینې دي
د خوږ "جانان" په نظر
څو د باران څاڅکي دي
اوښکې نه دي
اوس کومې اوښکې توی کم؟
چې د "جانان" په نظر
د باران څاڅکي نه وي!
)خزان: د سحر په غېږ کې: ۴۱ مخ(.

او یوه داسې بېلګه چې هم یې ژبه خوږه او نږه ده او هم یې اند و واند رنګین او پیاوړی:
ستا پر مخ د سرو یاقوتو
د باران له څو څڅواکو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانې زړه د نهیلیو د سارا هم
لکه موم شو.
پر څنډو د اننګیو د مهال
را ورغښتلې،
ستا له برندو برندو سترګو مینه ورېو
د خوښیو مرغلرې،
ستا د لمر مخ پلوشو تر سیورې لاندې
لکه پرخې د ګلپاڼو پر وښکیو...
څه که رغړې او را رغړې
پر بستر د سباوون
د ګلکڅو زما د شعر،
ستا د سرې سپینې کوکۍ
د خوارږه خیال
سورکې خالونه،
په دوتر زما د زړه کې
جوړ د وینې او د مینې
خوبولې انځورونه!

نوی ازاد شعر د مبارزې او پاڅون، شهید و قربانۍ، بلهار، بلهارۍ یا جنګ و سولې لپاره د مرجانو نو بهیرونه، د غاټولو او رېدیو سره بیرغونه، شنې شببې، اور او وینې، د سرپو او پولادو ویلوبونه او د باروتو لوګي یا په بله وینا د لمر، سپېدو، سبا او رڼا سمبولونه پر کار اچوي.

مګر دغه سمبولونه هم که ډېر وکارول شي او ژورنالېستکي او ګړنۍ ژبې ته لار پیدا کړي، بیا نو خپل سمبولیک یا انځوریز او شاعرانه نوښت له لاسه ورکوي او پر عادي ژبه بدلېږي، لکه واخلې "کوتره" چې د سولې د سمبول په توګه یې نن سبا خپل لومړی سمبولیک هنري جاج له لاسه ورکړی دی.

د شلمې پېړۍ نومیالي کوبېست انځورګر پیکاسو د "سرې کوترې" انځور هماغه لومړی ځل خپل جادويي اغېز وښاند، هغه هم د "سرې" د ستاینوم په ملتیا مګر را وروسته ورته نه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځورګرۍ کې کوم هنري سمبولیک رنګ پاتې شو ، نه په شعر او نورو هنرونو کې.

۹: ژبنۍ تېروتنې
ژبنۍ تېروتنې د دوو غبرګو اړخو له مخې څېړو:
)۱ ( له تخنیکي اړخه چې د پښتو شعرپوهيز- غرپوهيز په تړاو د دغه کتاب آر بنسټ او هډوانه پرې ټیکاو لري، او )۲ ( له هنري اړخه ، په دې مانا چې شعر تربل هر))ژبنی (( هنره له))یوې یوازینۍ- کره لیکنۍ ژبې (( سره ډېر تړاو لري او ښه او بد یې ور سره زيات غوټه دي، له دې کبله د کتاب غوښنه برخه هم پرهمدغه اړخ راچورلي.

له نړیوال او زمونږ له منل شوی دودسره سم یو شاعر کولای شي، یو لړ ژبني او پښوییز آرونه دویونه)اصول و قواعد ( له شعري تول و تاله بلهار کاندي، خو په دې آړ چې جاج و مانا ته تاوان و نه رسي او خپلسري بڼه و نه لري، په بله وینا ، د اړوندې ژبنۍ ټولنې د درستو شاعرانو تر منځ سراسري دود وي.
ترکوم ځایه چې له دغه پلوه راخرګندېږي، له پارسي او نورو آریاني او ډېرو هندواروپایي ژبو سره پښتو ګډون لري، هغه د وییونو لنډون، زیاتون او بیا غونډلیزه نااوډي )اختصار ، توسعه اوبې ترتیبي ( ده.

څه چې په ځانګړې توګه په پښتو شعر کې ناشوني دي، هغه خجيز سر غړاوی دی. له دغه لامله مونږ د پښتوشعر د ژبنیو تېروتنو په لړ کې تر هرڅه زیات پر خجیزې نانډولۍ زیات زور اچوو او په دویمه او دریمه پوړۍ کې پر نااوډۍ او لنډون، زیاتون.
سم له لاسه همدغه وروستۍ ډول )نااوډي ( تر ویښې لاندې نیسو او د وییونو اړوند هغه وروستي )۱۲ ( څېر کې ته پرېږدو.
د ناکره والي نښې نښانې، ګړدودي او د نورو ژبو وییزې په هرډول، خو پښوییزې اغېزې یې پښتو ګړسره کړکیچو کوي.

د سوېلي پښتونخوا د ازاد او سپین شعر سرلارۍ افضل شوق د نورو نامعیاري ګړدودي بېلګو تر څنګ د نرینه ډېرګړی تېرمهالکړ )جمع مذکر ماضي فعل ( په کارونګ ، د خپل یو ښکلي سپین شعر ))تاریخي فیصله (( ژبنۍ معیار ژوبل کړی دی:
د نن انسان ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که انسان ویل په کار دي،
نو بیا
له ځناورو د داړلو
ګیله څه پاتېږي؟
دا فیصله
چې یې و سرته رسوله ځنګه
نو په جرګه کېرا غونډ شوي
هر لېوه په ډاډه زړه
په )پر ( رمو باندې
برید کولو ته خپل پخ غاښونه
بیرته تېره )کړو (
او د کلي په )پر ( لور وتښتېدو )وتښتېدل (.
)لمبه، دویم کال، دویمه ګڼه (؛

- - -

د خیرمحمد هڅاند ددې وروسته مونډي شعر پای دوې غبرګې ټوټې له ورته سوبل-لویدیز ګړدود سره سم چې یوګړی ښځینه کړ پر ډېرګړي نرینه هغه اړوي، د ښخینه ستاینوم )اسم صفت( همداسې کارولی دی:
-... ته کوه وفاداري )خپل (
ته کوه وفاداري )خپل (.
)هماغه مهالنی (

## یووم- نااوډي )ضعف تالیف (

))ضعف تالیف(( له آره په دودیزه - عربي شعرپوهنه کې یو ژبنی ویار دی او موخه یې په شعر کې هغه پښوییزه او په نومېرلې توګه، غونډلیزه )جملوي( نااوډي )بې ترتیبي( ده چې یو شاعر یې بې له کومې تولیزې، یا هم او پښبلیزې یا لړیزې )ردیفي( اړتیا رامنځته کوي، که نه ویار نه ګڼل کېږي. لکه د استاد حمزه دا شعر:
ستا په تبسم یې حوصله وکړه
)اوښکو بوګنېدلو ( مې شبېه وکړه
خو په دغه بل کې بې اوډي یې بې له کوم تولیزې اړتیا چې ښایي د خپل ګړدود تراغېز لاندې یې تر زیاتو زیات ټینګار ته هڅولی وي، دومره لاسوندیزه )موجه( نه ګڼل کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



...نوم د تګ په خوله وانه خلې باران راغی
د ډاکترخالق زيار، الفت ۱۷ ګڼه (له يوه ښکلي غزله دراخېستې ببلګې دربېمه مسره نا اوږې
لري او سمه کړې بڼه مو ورسره په ليندېو کې نيولې ده:

-...مات مې تندی ټول عمر ساتلی دی
اېښی مې هېجاته پر درشل نه دی
جوړ ته د ملا پېښور نه پرېږدم
)نه پرېږدم ملا جوړ پېښور لره(
هېر مې لا کنډر کنډر کابل نه دی...

په هرډول شاعر ته په کارده، د نااوږی د مخنيوي لپاره تر وسې وسې هڅه وکړي او په دې لړ کې
د اړوندې ټوټې يا مسرې ژبني توکي برخيز او ان يو مخيز بدل رابدل کاندې. د پوره پوهاوي
لپاره يې په يو لړ قافيوالو او ازادو بېلګو کې تر کتنې تېروو، که څه هم پر پښېليزو هغو د
دوديزو قافيي وياړونو ترنامه لاندې په) ۴ (څېرکي کې څه ناڅه رڼا اچول شوې ده.

ګړدودي پښتو
)۱ (غبرګبلونه )سربل او وستربل(
غبرګبلونه هغو جوړه جوړه وييکي يا ادات دي چې يو يې تر نوم له مخه راځي او بل ترې
وروسته. مخني يې سربل او وروستني وستربل بلل کېږي. په کره پښويه او کره ليکنۍ پښتو
کې دسربلونو شمېر اووه دی چې دا هر يو يې له څو څو وستربلونو سره غاړه کېږي او په دې ډول
تر دېرشو پورې غبرګبلونه را منځته کوي، لکه:
په - کې، په - سره، په - پسې، په -؛ له- نه، له - څخه، له - وروسته، له -؛ تر- لاندې، تر-
پورې، تر-؛ پر- باندې، پر-؛ د-)اضافي او مِلکي ( او داسې نور.)د زيات پوهاوي لپاره: پښتو
پښويه ۲۱۰-۲۱۱ (.

دغه لاندې مونډې ډوله ازاد شعر زياته ګړدودي بڼه لري او په دې توګه ژبنی ناکره والی رامنځته
کوي. په دې لړ کې د نورو سرغړاونو )د "کړلو " او "کړ"... سره ګډول يا د اوښتيو او نا اوښتيو
پېرونو )اصلي او مغيره حالتونو ( ترخنګ د سربلونو) د "د " او "له"، "نه" او "څخه"( نه
توپيرول ياغورځول او داسې نور.غورځول، هم تر هغې دومره ويار نه بلل کېږي، چې ترې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رغبږي، لکه:
... پرېوتله ستا پر لوپټه پرخه
)له( مانه ده نېکمرغه يو پرده خپله
)جلال امرخېل، لروبر او بپانه(؛

پر غورځولو سربېره د)د-له( نه توپيرول، لکه:
ما د پتمن بزگر نه
ما د ښاري جوالي نه
ما د سپين غر له شپونه
ما يو زيارکښ کارگر نه
ما د هېواد زلمي نه
ما د شهيد له مور نه
دا سې تپوس وکړلو
چې ژوند کې څه شی غواړې
دا مرگ او ژوبله ښه ده
که وکړو سوله کې ژوند
ټولو دا يوه چغه کړه
جنگ دې وي ورک نړۍ کې
موږه نور هېڅ نه غواړو
سوله دې وي نړۍ کې !
)افضل ټکور: گلبانگهای برای صلح و سپيده، ۹۸ مخ(؛

)۲( نا کره کړ اوړون)فعلي گردان(
لکه په پاسنۍ بېلگه کې)دا سې تپوس)وکړلو(؛
د نورو ننگرهاريانو غوندې د فاروق فردا )د گلپاڼو پرخې( په ازادو بېلگو کې ځای ځای گړدودي او سيمه ييزه پښتو را څرگندېږي، لکه:
"شولې" د "شوې" پرځای په ۹۲، ۹۳ او ۱۷۷ مخونو کې. "مچولی" د "مچولای" او "نيوی" د "نيوای" پر ځای په ۱۳۰ مخ کې. ښودله)۱۳۴ مخ( د شاعر ډېرو ښکليو شعرونو ته زيان رسولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اسحاق ننګیال )هغه شپېې هغه کلونه، ۱،۱، ۹۹ مخونه ( د نورو لغمانیو شاعرانو غونډې د بشپړ تېر مهال دريیم یو ګړی وګړی )د مطلقې ماضي دريیم مفرد فعل ( په "-ی" پای ته رسولی، لکه "ولامبلي " چې کره يې ولمبل راځي )همداسې: کېناستلي - کېناست یا کښېناست، کندهاري انډول يې: کښېنستلی ( په دې ګړدودي پښتو سره شعري ژبه زیانمنوي. ژبنۍ سپېڅلتیا هم د نوي ازاد شعر په ځانګړتیاوو او نوښتونو کې راځي. دلته شاعر اړ نه دی چې ښېخرته پور وییونه او هغه هم لکه پاس يې چې یادونه وشوه، کرغېړن )مبتذل ( وییونه وکاروي ځکه کوم د خپيز انډول او قافيې - ردیف بندیزونه يې په مخ کې نشته او په امرنه )انتخاب ( کې پوره ازادي لري.
د یوې ازادۍ بېلګې )تېرخپرکی ( په یوه تو ټه )) توده دې کړله (( کې د یوګړي ښځينه ښه ویار نه، بلکې ))کړه (( يې نا آره ده چې د ))لنډون (( د معیار پر بنسټ يې ترڅنګه یو څه زیاته دود ده.

)۳ ( د وییونو لنډون و غځون

د تولیزې تشې د ډکولو لپاره د یوه ویي اوږدول یا لنډول،د کوم ګړدودي لاسوند له مخې ویار نه ګڼل کېږي ، لکه: زما )۱-۲خپیز ( ، زموږ )۱-۲ ( یا هم ۳ خپیز )زموږه (. همدا راز نرینه پر ښځينه بدلول درواخله، لکه: ستومان- ستومانه، ناروغ- ناروغه، که نه، سرغړاوی ګڼل کېږي، لکه:

... دا )توره ( راغه دا )توره ( راغه...
دا پر موږ پور دی پور دی...
)محبوب سنګر: زوږ ۱۰۷- ۱۰۹ مخ (.

لایق زاده د )پوه ( پرځای د )پوهه ( په کارونه خپل یوه ښکلي ))سهل ممتنع (( غزل څومره پیکه کړی دی، که څه هم ځینې پېښوري يې همداسې وايي، خو دومره تولیزوالی نه لري:

بې له ما مرې، بې له تا مرم
په رښتیا مرې، په رښتیا مرم
سره )پوهه ( یو زړ ګیه
په خندا مرې، په خندا مرم...؛

زه لکه )ازاده ( مرغه
له قفسونو او دامونو نه لوړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



)خاموش ۱۰۱(؛
یا لکه )پښه( چې ځینې شاعران، په تېره شینواري یې تل دوه څپیز کاروي، لکه زړه سواند ، خاموش، جکړ. کلیوال او نور.

ننګیال د ))لېږدوي(( پرځای ))لېږدي(( کارولی او دا هم په دې چې دغه کړویي نوی لیکنۍ پښتو ته لا رموندلی ده:
...او ځنګله
په شنو وږمو کې
د زیتونو نیالګي
د لمر باران ته
د بلبلو
پیغامونه لېږ)د(ي.

په )ې( کې د)یې( مدغمول هم دومره ویار نه ګڼل کېږي، لکه د شهید خالد بارګامي په دې لاندې شعر کې:
... ستا مورکۍ وهي چغارې
هره او ښکه کې)یې( خدای ښکاري
ته خو مړ نه یې خالده
دا په څه وریسي ژاړې

بې له کومې قرینې د )مرستیال- (کړ غورځول او له دې سره د شعري غونډلې خبر لتاړول څرګند ویار ګڼل کېږي:
ګوره د زړه وینه مې وچه نه کړې
پکې د چا د زړه دردونه پراته )دي(
که سوزې غوښې رانه وسوزوه
چې د غلیم پکې داغونه پراته)دي(
)رحمت څواکمن، روزګان ۲۱-۲۲ ګڼه(؛
په دویمه مسره داسې راتلای شوه:
دي پکې ستا د زړه دردونه پراته
او څلورمه بیا داسې سمېده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي د غليم پکي داغونه پراته؛

هره کيسه له مانه هېره ده، خو ته مې په ياد )يې(
شېبه شېبه له مانه هېره ده، خو ته مې په ياد )يې(
موري دنيا راباندې و چورلېده، سرمې دروند شو
موري قبله له مانه هېره، خو ته مې په ياد )يې(
)هماغه ګنه(.
امرخېل کولای شول، داسې ووايي:
))هره کيسه ده له ما هېره، خو تا نه هېروم(( ترپايه؛
دنصيب سيماب په دې لاندې زړه راکښونکې ازاده بېلګه کې له پايه دربيمه مسره ورته ويار
لري:
له کارو سه سترې خلک،
د غرمې لمرو وهلي،
خو خپل کور لره ستانه شي.
لمر هم سترې په دې جنګ شي،
بيا د غرو شاته بيده شي.
شپه دا ټول کاينات ياره،
لکه مور داسې بيده کي...
خو ستا غم يو داسې غم دی
))چې له ما سره ملګری...((
نه يو کور لري چې ولاړ شي
نه يې شپه سته چې بيده شي
په نومورې مسره کې که ))چې(( پر ))دی(( بدله شي او يا پر ))تل((، نو ويار ورکېږي؛ دربيم
لار يې دا چې د ملګري پر مل واوړل شي، هغه هم په بڼه:
))چې له ما سره تل مل دی((.
نوموتي شاعر پيوند د يوه نومځري)يې(( په نه کارونه يو انځوريز شعر ژوبل کړی دی چې
کولای شول، لږترلږ يې لنډيز)ې( په لينديو کې ونيسي:
- اوړی غرمه ده پر تنور ولاړه
لوند د ململ کميس يې ګونځې ګونځې
نسواري څوکې)ې( د سينو ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



)د سپنما یاران ۹۴ (.

اوښتی پېر)مغیره حالت( شمال ختیز لیکوال او شاعران زیاتره په پام کې نه نیسي، په دې لړ کې، هرگوره ))پښتون (( گړسره لکه ځانگړی نوم همداسې پر آر پېر کارول کېږي. د بلخ ادبي ټولنې یوه ځوان شاعر بیا د تولیزې اړتیا له مخې تر استاد حمزه هم ډېر ښکلی کارولی دی:
اوښکې مې بیا گرېوان ته غاړې وتې
لکه پښتون چې)د پښتون( مېلمه شي

)۴ ( نا کره وینگ )تلفظ (
بدترینه بېلگه یې په شمالختیزه گړدودې ډله کې د )ښ- خ (، )ږ- گ ( او )ځ- س ( گډون دی، لکه د یوې ))سندرغاړې جوړې (( په غبرگو سندرو کې چې پر)س( له )ځ( بدلون سره مېږه خپله مېرمن د))کوځه کې (( د )ردیف( په بیا بیا ورغبرگولو کنځي.

همداراز: مونږ)مونگ (، زمونږ)زمونگ (، خښ)ښخ (، ښکته)کښته (؛
))ځښل (( بیا ، که د ننگرهار خواته هم پر ))چښل (( اوښتی دی...) زیار: د پښتو لیکلارښود اړوندې سکالووې(

پر نوی ازاد شعر ددې تورتپنې پرځای چې گوندې د قافیې او ردیف په ایستنه غورځونه یې له خپل خپلې ژبې، فرهنگ او تاریخ سره اړیکې شولې دي، ولې داسې ونه وایو چې د پښتو شعر له پښو څخه یې د پردې ښکېلاک زولنې ماتې کړې او بېرته یې ازاد کړ، هو ،هغه څه چې زموږ په تاریخ او فرهنگ پورې رښتیا اړه نیسي، هغه ژبنۍ انځوریزه او اندیزه خوا ده، لکه په پاسنې شعر کې )برندې سترگې(، )سره سپینه کوکۍ(، )سورکې خیالونه(... کانې زړه موم کېدل، پر بستر... رغښتل را رغښتل او داسې نور. که څه هم په نوې ازاد شعر کې پر سېمبولو ، انځورو او اسطورو ډېر زور اچول کېږي، مگر زیاته هڅه کېږي، لومړی ورته له خپل تاریخ او فرهنگ سره پیوند ورکړشي او بیا له گډ نړیوال هغه سره. د اهوار او اهریمن تر څنگه یوناني زیوس، پرومېتوس یا د اراکولا ته ځای ورکول کېږي، د لیکونکي "کاغذي ښامار " نومی شعر "اور او وینې، ۱۵۲ مخ( همداسې یوه بېلگه کېدای شي.

)۵ ( بې کچه نا پښتو وییونه
وگورئ په لاندې بېلگو کې ناپښتو وییونه څومره کچه ښکاري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یارانو ګورئ
له تندې مرمه
د ساقي خوا کې
د مینا څنګ ته
هېڅ نه پوهېږم
دا ویرانه ده که میخانه ده !
خوارېه حرام وو)وه (
ترخې اوبه هم
په ما حرام شوې
بده قسمته)له بده مرغه(
)خزان: د سحر په غېږ کې، ۱۲ مخ(.

... د خوږ جانان په نظر
څو د باران څاڅکي دي
)هماغه اثر، ۴۱ مخ(.

دا بله بېلګه یې ګړ سره یوه کړکیچو او ملايي پښتو ده:
...د پسرلي د مجنون بید د کتارونو په شان
قد پورته کړی دی تر هسکه پورې
د درناوي او عبادت په عنوان
د یو څو پاکو مومنانو په څېر
ستا د ښایست پښو ته
د تنظیم سر دی ټیټ نیولی د رکوع په ډول
چې نه د سر پورته کېدو تاب لري
او نه په)پر ( ځمکه د خپل سر د اېښودلو قدرت
څه ښکلي پاک یادونه !
څومره سپېڅلی مقدس عبادت
کاشکې چې ستا د حسن
د مغرور خیال دربار کې
شي مستجاب او قبول !

(c) ketabton.com: The Digital Library



)هماغه اثر: ۵۷-۵۸ مخ(.

-دلته د پېړيو د سکون او انجماد
-په )پر( ضد
لام دی ترل شوی او تو دی
را پاڅېدلی دی
"دلته زمان د اوښتون
په مکانونو کې
تولې زړې بارې، خالي بارې
نړېدلې دي"
خلک را خلاص شوي د وهمونو
له طلسم نه
اوس چې له ستم او جهالت سره
وداع کوي...
)خاموش: مزلونه او منزلونه، ۱۰۹-۱۱۰ مخ(؛

۲: مانيز اړېيچ يا تضاد )**Contradiction**(
د ا له آره د ژبپوهنې يوه نومونه ده او له شعري انځور يا صنعت )**contrast**( او يانگېرگډون )**paradoxy**( سره توپير لري. د ساري په توگه کله څوک د عادي خبرو په ترڅ کې ووايي: ))غوز تر کدو غټ دی((، له مانا او منطق سره سمون نه خوري او اړوپېچه غونډله يا خبره، يا په پارسي نومونه ))نقض گويي(( ده.
لکه واخلې، د نوموتي شاعر باري جهاني د هغه غزل په يوه بيت کې چې اسحاق ننگيال )اخبار هفته، اولسمه گڼه( د "غورو" بېلگو په توگه را اخېستی دی:
))په موج خېزه توپان راغی د فلک سيلابي کرېږې
زموږ کشتۍ يې ډوبوله خپل درياب يې توپاني سو((
)فلک که زموږ کشتۍ ډوبوله( سزا يې دا شوه چې )درياب يې توپاني شو!( توپاني کېدل خو )زموږ کشتۍ د ډوبولو لپاره( د درياب په گټه او د زور ښکارندوی دي، ځکه نوره يې هم پسې ډوبوي.
په دغه بله بېلگه کې چې استاد ناشناس ور سندريز کړې، د پاسنۍ هغې په څېر ورته ژبنی او منطقي اړېيچ لري او هغه داچې ))ساقي(( خوارکي ته د ))بامبړ(( دنده هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي:
))ساقي غاړه مې راوړې په زنار يې زينتي کړه... ((
استاد بېنوا چې کله د اطلاعاتو او کولتور وزير په توګه د سپکانو په ))ويساک (( مېله کې ګډون کړی وو ، نو له ښناک وبشونکی ))ډېرور ساقي (( يې هم داسې غوښتنه نه وه کړې !

جهاني د اېکسپرېشنېستانو expressionists او امپرېشنېستانو impressionists او بيازمونږ د دوديزو خمريه شاعرانو ، لکه خيام او غني په لاروی هڅه کوي، د اړوندې وييپانګې په بيا بيا کارونه پر لوستونکيو او اورېدونکيو اغېز پرېباسي، هغه هم د ويي لوبې )لفاظی( په مټ، او بيا يې دا هڅه چې د تېنګ تکور، تکور هم ورکاندې !

نومورې کره کتونکي نه يوازې دا ويارور پر ګوته کړی نه دی چې لا د درست غزل پارسي وزمه پښتو يې هم په سترګو کې نه ده ور ننه اېستې، د بېلګې په توګه لکه "موج خېزه " په ړومبني او "سبزه کوبي " او "پايکوبي " وييونه، په دې لاندې بيت کې:
))دا د مستو پسرلی دی، دا د اور سبزه کوبي ده
هره پانه خماري ده ، هر ګلاب مو شرابي سو ((
)ان تر دې چې يوه تولګه يې هم))پايکوب (( نومولې(.
داسې نابومه پور وييونه د باري په غزلو کې کوم کمی نه لري، که به څه هم شاعرانه وي، خو پر بله ژبه اړه لري، نه پر پښتو. )د پوره څرګندتيا لپاره: زيار، اخبار هفته، څوارلسمه ګڼه(.

داسې برېښي چې ننګيال يې له رياليستي اندتوګې سره سره، د نورو ډېرو مينه والو غوندې تر دوستی، د دغه غزل تر سندريز اغېز لاندې زيات راغلی او هغه دا چې "ناشناس" يې د موسيقي الاتو په ملګرتيا په خپل زړه راکښونکي او مست اواز کې وړاندې کوي.

که خبره پر موسيقۍ وي، نو هسې خو زمونږ ډېر منلي ولسي شعرونه لکه: لنډۍ، نارې او سروکي بې له قافيې او رديفه له موسيقي تول و تال و سور و لی سره تر يوه غزله هم ښه تر اړخ لګوي. همداراز ډېر ساده دوديزاو ولسي ډوله نظمونه هم راکښون پيدا کوي. په کار خو دا ده چې شعر خپل بديعي او هنري راښکون ولري، موسيقي خو يو بل جلا هنر دی همداسې په خواږه اواز کې د شعر ديکليمه يا ترنم درواخله چې له بده مرغه پښتو شعر ترې، په تېره بره خوا تر پرونه بې برخې پاتې وو او متې د کډوالو له راستنېدو سره څه ناڅه رادود شوی چې خورا په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې ببلګه يې ممنون مقصودي را خپله کړې ده.

يو شعر له ترنمي يا سندريز پلوه ارزول داسې دي، لکه چې څوک په يوه سينګارځي يا دواده په بنډار کې پر يوه سينګارلې پېغله يا مېرمنه مين شي او پرسبا يې ورته جوته شي چې مخ يې د کتو نه دی. رحمان بابا يې بيا داسې را څرګندوي:

هغه ناوې چې په خپله ښايسته نه وي
څوک يې څه کوي ښايست د مور و نيا !

اروپايي ازاد تصنيفونه خو لا پر ځای پرېږده چې زموږ په هېواد کې څومره پارسي ازاد تصنيفونه د خوږ غاړو سندرغاړو له خوا وړاندې کېږي. دا چې لا تر اوسه پښتو ازاد شعرونه چا کمپوز کړي نه دي او له دې سره سره ځانګوال او پاخه سندرغاړي هم نه لرو، ببله خبره ده.که ځينې ځانساتي او زاړه پال دا ووايي چې پښتانه شاعران دې هم تر هغې ازاد شعر نه وايي، تر څو په پښتو کې کمپوزيتوران او پاخه سندرغاړي پيدا شوي نه وي. غبرګون به يې دا وي چې سم له لاسه خو دې يوه ژبني هنر ته لار هواره ده، له دې خو بايد ګټه واخېستل شي، تر هغې خو دغه هنر پښه پر ځای پاتېدای نه شي او بيا دا چې د دغه دويم هنر )موسيقۍ ( لپاره ليااره هواره کړي، د چا خبره اړتيا د زېږندويۍ )ايجاد ( مور ده.

د سيدرحمان وګړپال په دې لاندې شعر کې نوم و ستاينوم ))ځوانه پېغله(( سره دومره اړخ نه لګوي پرځای يې ))تانده پېغله، تنکۍ پېغله، چته پېغله( د همده په سيمه کې ډېر ويل کېږي، پروړاندې يې))پخه پېغله، زړه پېغله، پر کورپاتې پېغله..(( ټيکاو لري؛ )لږ سترګې( هرګوره ګرامري سمون نه لري:

ښنګ ته دې ناسته شپخه ځوانه پېغله
ماته همدا وايي توبه وباسه
خو ، که مې ) لږ سترګې ( پناه شوې درنه
دېته بيا وايي چې جامې وباسه !

د ننګيال د))خيبري تنده(( غزل)۴-څپرکی، غبرګې غبرګې قافيې او رديفونه( پای مسره))نېغه مو شمله ده، کږېدوته يې چې پرې نږدئ(( کې))کږېدل(( د شملې د ښه تراستايني ښکارندويي کوي، حال داچې شاعر د))ټيټېدل(( په جاج و مانا کارولي دي او ګومان نه کېږي چې دغه ويناوال دې))کږه شمله(( د ښاخ او وياړ يا غرور د سېمبول په توګه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ۴۴ کلن ژوند کې نه وي
اوربدلي!

په پښتو شعر کې ))غنچه، غونچه (( د ))غوټۍ (( په مانا کارونه د منځني ادبي يا کلاسيک پېر پاتوري ده چې د پارسي شعر د اغېزو او پېښو په لړکې يې دود لاره، لکه د شيدا په نامي شعر کې:

))د غنچې د رباط ور په واکېدو دی قافله د رنگ و بوی د رومي سباشو ((
دا ځکه چې په پارسي ادبي او شعري ژبه کې د غه ويي دوه مانيز دی))دستهٔ گل شگفته ((
او))گلی ناشگفته ((، خو په کلاسيک کې يې زياتره په وروستۍ مانا کارول شوی، لکه د
جامي د زليخا په پيل کې: ))الهی غنچهٔ اميد بکشای گلی از روضهٔ جاويد بنمای ((.
پښتو))ناظمانو (( د ټکر د مخنيوي لپاره يې له دويمې مانا سره))غَنجه (( انگېرلی دی. په هره توگه که کاظم خان او نورو په دويم مانا راخېستی، اگاهانه پېښې وې، خو په وسمهال کې هسې رندې پېښې بلل کېږي، لکه د يوې تاريخي سندربولې )مشاعرې ( له شعرونو څخه د مولانا خادم په دې بېلگه کې:
په خوب وېدې ))غونچې (( به په ورو ورو راوېښومه
خادم ! بادِ سبا يم که وم وم، که نه وم نه وم

۷: ټکر )توارد (
مورږ د ادبي زېږندوييو او په ځانگړې توگه د شعر په تړاو، نه يوازې په دوديزه ادبي نومونپوهنه)ترمينالوجۍ (، بلکې لويديزه هغه کې هم د غلا )سرقت (، تضمين او ټکر )توارد ( نومونې شتون او دود لري او په کره کتنو کې ترې کار اخېستل کېږي.

تضمين )**citation** ( هغه دی چې يو شاعر له بله اړونده ټوټه، مسره، بيت، قافيه، رديف، وزن ياآند واند، انځور... وکاروي، په دې آړ چې په وړو غبرگو ليندېو يا گيمو )ناخنکو ( کې يې ونيسي او د اړوند شاعر نوم يا اخځ ورسره راوړي ، که نه، بياغلا )**plagiarism** ( بلل کېږي؛ که هغه پر اړولې بڼه وي، ژباړلې يا يومخيزه او ياپه برخيزه )قسمي ( بڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او توارد )connotation( هغه دی چې يو شاعر په ناڅانخبري يا نيم ناځا نخبري )نا اگاهانه( ډول د بل شاعر توکي په خپل شعر کې و کاروي. دا چې يو له بله خبر نه وي او هسې يې د يوې نابېرۍ )تصادف( زېږنده وي، په بله وينا ، نو))ټکر(( يې هم بللای شو.

د دې لپاره چې دغه پېښنه پديده مو ښه ترا روښانه کړې اوسي، گران مينه وال دې لاندې ليکنې ته رابولو. دا د هماغې ليکنې لنډيز دی چې ليکوال د ۲۰۰۷ ز. کال په سرکې ))الفت(( مهالنۍ ته استولې وه:

))د جنورۍ پر دويمه مې په ښېنوا سايټ کې نابېره د ځوان نوښتگر غزلبول گران شمس خوستي پر غزل سترگې ولگېدې او وار له واره مې پرې د خپل هغه گومان وکړ او هک پک شوم چې ماخو د سمسور هغه ته برېښليک کړی وو، د ښېنوا چلوونکو هغه له کومه کړ؟
اوس يې چې لولم، څه بل راز راته برېښي اوبيا په زړه کې وايم: داڅنگه کېدای شي، هغه دې دومره ژر د چا غلچکي لاسته ورسي، پکې لاس ووهي او سم له سموني يې په خپل نامه خپور کړي!

تر څو مې په پوره ځيرتيا تر پايه ولوست او دې پايلې ته ورسېدم چې دا هسې يوه نابېري ده، ولې په هسې بېځايه گومان خپل ايمان زيان کړم. نه شمس له ما غلا کړې او نه ما له شمسه او ښايي، زماني واټن مو هم سره دومره نه وي . دغې نابېرۍ ته په دوديزه عربي ادبپوهنه )ادبي فنونو( کې توارد وايي او په لويديزه هغه کې يې )citation( او زه يې ))ټکر(( بولم.

دا ټکر تر هرڅه له مخه د ناڅانخبرۍ )تحت ا لشعور( له کارندوييو څخه گڼل کېږي، لکه څنگه چې پخپله د شعر او هر هنر د الهام او زېږ آره سرچينه هم همدا حس نومېږل شوی دی. نا ځانخبري زموږ د ناپايو تېرو هېرو يو زېرمتون دی او په هماغه ناځانخبرۍ بنه شعر ته لار مو مي، بې له دې چې شاعر ته يې پته ولگي، هغه پېښنه پديده يې کله، چېرې او له چا اورېدلې، يا يې ليدلې او لوستلې ده!

دويم لامل يې چې زما او خوستي دا ورسره ټراو درلودای شي،.په بل سايکالوجيکي چار ))تېلي پاتۍ telepathy(( اړه لري چې پارسي يې )دورهم انديشي( بولي او پښتو يې )لرهماندي( راځي. دا زباده شوې، کله کله داسې پېښېږي چې دوه وگړي سره نه ليدلي، نه کتلي يو راز نگېري، انگېري، اندي يا سوچي او ان يوراز نه پوهېدل کېدونکې خبرې اترې ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي. هسې خو نن سبا د ژوند پوهانو او کيمياپوهانو ، په بله وينا ، بيوشېمپستانو د ببلاببلو دندو له مخې د مترغزيو يا دماغي حجرو له پېژندنې او وېشنې سره د اسې ډېرې رواني سکا لووې له ساپوهنې څخه راخپلې کړې، په بله وينا ، ساينسي بڼه يې ورکړې ده.
ناويلې دې پاتې نه شي چې ))تبلي پاتي ( (، په بله وينا ، ټکر)توارد ( د شاعر لپاره د الهام يوه په زړه پورې سرچينه هم ده.

په هر ډول د هنرمندانو او بيا شاعرانو ترمنځ د يوه راز شعري ورتوالي ټکر کېداى شي، جوليز )ژبنى، تخنيکي، هنري( او يا هم منځپانگيز اوسي. په دغه لړکې زما او ښاغلي شمس غزلې سره له تخنيکي پلوه بشپړورتوالى لري، يورازڅپيز- خجيز جوړښت، پښځلس پښځلس څپې او پرڅلورمه خجنه څپه پيل، ورته پښبلې )قافيې ( او ورته لړونه)رديفونه ( رانغاړي. سرليکونه مو هم سره نژدې ابسې: زما دا )مرجاني لاسونه ( او د ده دا )د پلوشو لاسونه(. د ده غزل اووه بيته دي او زما دا شپاړس، خو ښايي ستر او بنسټيز توپير مو سره په منځپانگه او پيغام کې نغښتى وي. د بېلگې په توگه مو سربيتونه )مطلعې ( دادي:

چېرې د لمر د اهورا د پلوشو لاسونه
چېرې د شپې د اهريمن د تورتمو لاسونه...)زيا ر (

خاونده بيرته مو راشنه کړې د نغمو لاسونه
چې د ادم رباب ته واچوي درخو لاسونه...)شمس (

## خرخشن ټکر

ښاغلي اکبر کرگر)د شعر درناوى١٤٠-١٤٢ ( زموږ د نوموتي شاعر جهاني يو غزل د ))بغاوت( ( يوه بېلگه بولي، خو په ترڅ کې يې وربانديې د خوشال او حميد اغېزمني يادوي، له دې ناخبر چې د يوه ژوندي شاعر د يوه غزل د قافيې او رديف راغبرگول نه، بلکې هوبهو))بازسرايى( ( ده: د کوهاټ د لاچې يوه خټک))ډاکتر اقبال فنا( ( غزل چې تر ويلو څو کاله وروسته د پښتوبدلمېچ په لومړي چاپ)کابل١٩٩٠ ( او د همدې چاپ په شپږم څپرکي کې بيا راخښتل شوى، داسې راپيلېږي:

او د جهاني صاحب دا)واشنگتن١٢-٢٧-٩٢ ( له دې بېلگې سره:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيالې نسکورومه دې تشومه خو دې نه
نصيبه بدلومه دې، قبلومه خو دې نه
خالق مې ککرۍ سجدې ته نه ده پيدا کړې
تنديه ماتومه دې لګومه خو دې نه...
همداراز د مراد شينوارې او د جهاني ترمنځ قافيې او رديفي ورتوالی او لړوډ پر يوراز ليدګوټ
او ليدتوګې سره د تېرې ښيلګې هومره نه، خو ښياهم ټکر)توارد ( يوڅه خرخشنوي ، ځکه چې تر
ددغه منځ زمانې واټن ښيا لسيزو ته رسېږي. مانا داچې د دواړو غزلو اخځ ښوونه اړينه وه، او له
دې يادونې سره يې، هم ځان او هم غزل له دغه توره سپينولای شول !
زما په اټکل د مراد دغزل سربيت)مطلع( دا ده:
- ځئ په ښنو کړو له يو مخې، د تناکو پيزارونه
که ښې ييله پرې وردرومو ،دا دښتونه به څه وايې؟
او د جهاني غزل ښيا داسې را پيلېږي:
وچې سولې اوښکې، ګرېوانونو ته به څه وايو
درد راسره خپل سو ، پرهارونو ته به څه وايو
شپې مو په ساحل کې، د څپو له غمه وتښتې
وخت که لېونی سو ، توپانونو ته به څه وايو...)جهانې(.

## ټکر که ژباړه ؟

کاوون دا لاندې شعر د پارسي ژبې له اغېز منني سره پوره پيکه کړی، لکه "پرواز ورکوم" چې
پرځای يې پښتو انډول ))الوځوم(( راتلای شو. همداراز د ))سکوت(( پرځای ))چوپتيا(( در
واخله، او ترټولو ناوړه ښيلګه يې له ))چې(( سره د پارسي علتيه ))تا(( پرله پسې درې ځله
زياتونه ده، په کاروه وزنې تشه يې بل ډول ډکه کړې وای؛ )څو، ترڅو، څو چې، تر څو چې( پر
پښتو باندې د دغې ترېرې ژبې له خورا بدو اغېزو څخه ګڼل کېږي او ګرامري او مانيز بدلون
رامنځته کوي؛. تر دې چې دکره کتونکي په زړه کې ديوې ))ټکي پر ټکي ژباړې(( خرخشه
اچولای شي:

زه د ترخه "سکوت" د غره له شا نه
زه د ناکامو ارمانونو د ايرو له څنګه
د ويرووونکو تورو شپو په زړه کې
د شعر کوترو ته "پرواز ورکوم"

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه سکوت نه پېژنم
زما د شعر ژبه سکوت نه مني
زه به د شپې ځنګل په ستورو باندې وولم
)څو ( چې "سکوت " مات شي
)څو ( چې تيارې وتښتي
)څو ( چې رسوا شي په ځنګله کې
څيروونکي زمريان
)کاوون: سپرغۍ، ۱۰۱ مخ (

تکړه ادبي ليکوال اکبر کرګر له داسې يوه تور څخه د شاعر مخ سپينوي او ورته ښېګې يې د لومړي پراختيايي او بيا ))انقلابي (( پړاو اړوندې بولي، هغه هم د لايق، اجمل، کسرايي... د اغېزمنتې يا پليونۍ زېږنده:
))... دا مهال نه يوازې د لايق اغېز شته، بلکې د ډېرو )اثارو ! ( مطالعې ته يې لاس رسېږي... او نه د چا خبره په شدت ردوي، داسې )چې ( دچا شعر هم نه کاپي کوي، بلکې ډېر څه د خپل ذهن له صافي تېروي... (( . )صديق کاوون د ))ونو مرګ په موسم کې (( ، سمسورا وبپانه، ۳-۳-۲۰۱۰ (
په هره توګه دا به ورسره هرڅوک ومني چې که ښاغلي کاوون له نورو څه اخيستي هم دي، تر ننوب )فېلتره ( يې اېستلي او خپله جوله او جامه يې وراغوستې ، خو له پاسنۍ پارسي وزمه شعر يې دا خرخشه رازېږي چې دغه راز ))راخپلونه (( يې سل په سل کې د ))غنېې (( هومره تر يوه جالکي نه، بلکې د ))مچۍ (( هومره تر شاتو رسولی اوسي !
په هماغه ليکنه کې د ښاغلي کرګر دا خبره ښېخپوره د سوچ وړ ده چې وايي:
))زموږ د مشهور ارواښاد شاعر ننګيال زيات شعرونه د کاوون له شعر نه متاثره دي، په خاص ډول د هغه مهال شعرونه چې دواړو سره نژدې کاري اړيکي درلودل (( !

ما چې له دغو دواړو نوموتو شاعرانو سره، د ده په ښېر ګونډي- فرکسوني نه، خو فرهنګي دوستانه راشه درشه ښايسته ډېره درلودلې، د دواړو د کار پر مېز مې په خپلو ګناهګارو سترګو ورته ايراني شعري دوترونه ليدلي دي. کاوون صاحب راځخه کله نا کله دا هم پوښتلي چې که د ده ياهغه کوم نوی دوتر خپور شوی وي. په دې لړ کې د همده له خولې لومړی ځل خبر شوم چې))شفيع کدکني (( د يوه نومور کره کتونکي ترځنګ په ازاد او سپين
شعر کې د شاملو او نورو راوروسته پښت يو نوښتګر شاعر هم دی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کرگر صاحب په خپله روانپوهنيزه او روانشننيزه کره کتنه کې په ځانخبري يا نا ځانخبري ډول دغه نازکۍ او باريکۍ نه دي څيرلې، خو ماته له ژبپو هنيزې او ببياژب - ښکلاييزې څيرنې دا پوره روښانه شوې چې له ګډې سرچينې يا نورو هغو څخه، ده څومره او څنګه اخيسته کړې او هغه څومره او څنګه؟

همدا راز د دې پوښتنې نه رامخته کول درواخله چې ولې د کاوون په ګردو ټولګو کې لړ و ډېر شعرونه او نظمونه سره غاړه غړې شوي دي، په بله وينا ، د ))ازمېښتي (( پړاو))شګې او ګلونه (( چې ماته يې د سريزې کښنې ويار رابښلی وو ، په نوښتي پړاو کې ولې بيا سترګې راپرانيزي؟

په داسې ترڅ کې چې ننګيال زما له سلا سره سم د ازماېښتي پړاو خورا په زړه پورې ))اجمل وزمه او لايق وزمه(( نظمونه ګړسره هيسته غورځولې او په هېڅ کومه ټولګه او بيا په پس مرګې يوځايي خپرې شوې ټولګه کې شګې او ګلونه، يا لکه د احسان طبري په نومونه))رېګهاو الماسها (( سره اخښل شوې رااخښل شوي نه دي !

ا قتفا که غلا؟

ډېر))پېښاووان(( له ))اقتفأ (( څخه چې له منځني پېره تر ننه په قافيوا له پښتو شاعرۍ او بيا غزليزه هغه کې يو منلی دود پاتې شوی، ناوړه ګټه اخلي. په دوی کې د داسې غزلبولو څرګ هم لګېدای شي چې هماغه پامور غزل يې د همدې پېښو او پليونۍ زېږنده بربښي، که څه هم يو نيم لکه ترګزی او خليلزی دا منښته )اعتراف( هم کوي چې هغه يې د دغه يا هغه شاعر ))پرليکه(( کښلی دی.
په دې وروستيو کې چې ناپښبليز شعرونه مخ پر بره درومي، ))مشاعري(( هم څه ناڅه ازادې شوې او يو قافيوالې ورو ورو له دود و موده لوېږي او له دې سره د ))اقتفأ (( ځای هم رښتينې هنري سيالي نيسي.

داهم پوره رازباد شوې چې د پښبليزې او په تېره هندي وزمه غزليزې شاعري خپله تومنه له کلاسيک، هغه هم له پارسي- هندي، ياپې له درغلي پاتوړې اردو هغې رااخلي او ناپښبليزه دايې له پارسي نيولې، تر انګرېزي پورې له رنګارنګې ختيزې او لويديزې نوهمالې هغې سره کار لري. بيا هم کره کتونکيوته د دې سپيناوی ګران دی چې په دې لړ کې لومړۍ ډله تر کوم بريده رااخېستنې کوي او دويمه دايې تر کومه بريده، او بيا هر هرڅوک يې څومره څومره. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالزاک په وینا ، څوک يې د مېږي په څېر د غلاپرکچ ))هو بهو (( راخپلوي، څوک ترې د غنې په څېر، د پلیونې يا اقتفأ پر کچ جال اوبي او څوک ځنې د مچۍ په څېرد الهام پر کچ ))ګبینه(( جوړوي !

غلا یا سرقت)**Plagiarism**(

دلته له غلا څخه موخه ))ادبي (( او بیا ))شعري (( غلا ((، انګرېزي نومونه، هرګوره، ادبي او هنري هغه په ټوله کې رانغاړي. په شعري غلا کې له ژبنۍ او هنري جامې او جولې نیولې، تر ردیف و قافیې او بیااند و واند او )خیال او مفکورې پورې چې یو شاعر له بله څه راواخلي او هېڅ یوه یادونه او نغوته يې و نه کړي. مضمون او منځپانګه، تول وتال)وزن و اهنګ ( يا له بل تخنیکي بنې یاځېل،ژانر)غزل، څلوریزې، دوبیزې، بوللې... ( يا ناقافیه والو ځېلونو کې همرنګي یا ورتوالی په دغه لړ کې نه راځي- دغلته له ))مضمون(( څخه موخه سکالو یاموضوع ده، نه هنري جوله او شیدا يې)مضمون دزد ( ترېنګ کارولی دی.

پر پښتوکلاسیک د پارسي او بیاهندي-پارسي سیده او ناسیده اغېزې، که د غلاتر بریده نه دي رسېدلې، پښتو ژبنۍ جوله يې تر ډېره مسخه کړې چې څرګنده بېلګه يې د شیدا شعري ژبه ده. همداراز يې زموږ یو نیم اوسني وتلي او ډېر ستايلي پلیوني غزلبول هم دراخله چې لړ تر لړه يې د ))ژباړې (( تر بریده رسولې ده. د غلا یوه نا ښښنوړه بڼه د )و ( ګړني ادب، په تېره د لنډیو هغه ده چې دودیزو یا نیم ولسي وینا والو ، او يا د چا خبره))ناظمانو (( ته يې ډېره ګوته نیول کېږي

له ځانه غلا)**Self-Plagiarism**(

استاد غضنفر د ښاغلي جلان د شعرکره کتنې په ترځ کې د دغه شعري ویار)عیب( یادونه هم کړې ده، او د دې لپاره چې زموږ مینه وال ترې په دې تړاو د شعري- ادبي کره کتنې نور په زړه پورې ټکي هم زده کاندي، اړوندې څرګندونې يې تر ډېره ځایه کټ مټ دلته راخلو :

))... زموږ په ادبي بحثونو کې د سرقت بحث شته، خو دا بحث نشته چې شاعر له ځپل ځانه څومره غلا کوي. کله کله یو تکړه لیکوال یا شاعر یوه جالبه خبره وکړي، خلک يې د نوښت هرکلی وکړي، بیا نو دی ولګېږي، هماغه خبره بیا بیا کوي. له ځانه غلا ته اروپايي ادبپوهانو پام کړی او د سلف پلېجرېزم اصطلاح يې ورته وضع کړې ده. څرنګه چې سلف پلېجرېزم ته زموږ په ادبپوهنه کې د عیب په سترګه نه دي کتل شوي، نو ممکن ځینې ډېر تکړه شاعران او لیکوال مو هم دا مشکل ولري، خو په هغو ډېرو لږو کسانو کې چې ان د خپلې خبرې تکرارول يې نه خوښېږي، یو کس جیلاني جلان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلان له تکرار، کلیشې، سرقت او سلف پلېجرېزم سره د جګړې میدان ته ځکه دومره زړور ورځي چې د شعر د ډګر تر ټولو ښه وسله یعنې د نویو تصویرونو وسله ورسره ده. د ډېرو کسانو په اند، د شعر او نه شعر توپیر په تصویر کېږي او پر جلان چې د شعر ښاپېرۍ تصویرونه وروي، نو ولې به نه وایي چې د چا پور نه منم؟ مګر د شعر په هنر کې د لا ډېر پرمختګ لپاره په کارده، )چې ( جیلاني جلان دا خبره پر یاد ولري چې تصویر به د شعر ډېر مهم او بلکې تر ګردو مهم عنصر وي مګر تصویر ټول شعر نه دی. د ښاغلي جلان په دا)دې(لاندې بیت کې مجازي تصویر)تشبیه، استعاره یا بله داسې وسیله چې د تخییل قوت او جدت ثابتوي ( نشته مګر د ده د هغو بیتونو غوندې خوند ورځخه اخلو چې کامیابو او نویو تشبیهاتو، استعارو او مدعا مثلونو یکې لوړ هنر پیدا کړی دی. دی وایي:

زاهده ته پوه شه او خدای پوه شه چې خوند نه کوي،
دا چې کرېږي وږې پرتې دي پر خالونو څنې؟

په دې بیت کې د عاطفي شدت هنر پیدا کړی او دا شدت د جملې له جوړښته زېږېدلی دی. دلته شاعر واقعي پوښتنه نه بلکې بلاغي پوښتنه کوي، یعنې نه غواړي چې له زاهده معلومات تر لاسه کړي بلکې فکر کولو او پر پخواني دریځ باندې شک کولو ته یې وربولي. موږ په دې پوښتنه کې پر ښکلا باندې د شاعر باور احساسوو او د ښکلا د دفاع لپاره د هغه زارۍ اورو. د زاهد لاره زموږ په ادب او کل)کول( تور کې صراط المستقیم ده. موږ د سمې لارې ضد کړه لاره بولو او له کړو وږو پرتو څنو بېباکې،ازادي او له قیدوبنده بې پروايي ورېږي. دلته د شاعر عاطفي دریځ شخصي نه بلکې انساني او عمومي دی. په ازادۍ پسې انسان همېشه ګرځېدلی او دې مینې کله نا کله دومره مجنون کړی چې د ازادۍ په تمه یې غلامۍ ته غاړه ایښې ده.د ښاغلي جلان دا خبره چې د چا پور نه منم او زه هم پر چا پور نه لرم، له یوه کس سره اړونده ده، خو په دې بیت کې راغلې خبره ټول انسانیت ته پیغام لري. د انسان د ټول تاریخ د مبارزې او مجاهدې یو اصلي مقصد داوو او دادی چې باید ازاد وادسې، باید داحق ولري چې د بل چا له وېرې پرته خپله خبره وکړي، خپل شخصیت څرګند کړي او پر هغه لار روان شي چې ده ته مناسبه ښکاري... ( (.

د جلان په څېر یو شمېر وتلو شاعرانو په خپل هنري واک و ځواک د بیا بیا راغبرګونو، په نورو ټکو، د کرغېړنتیا)ابتذال ( او په پای کې، د))کلیشه یي (( ګوتلکیو مخنیوی کړی دی. د ساري په توګه، پیر محمد کاروان)چنار، ښاپېرۍ... ( وییونه او ترنګونه بیا بیا کارولي، خو ترې رغولي انځورونه یې ورسره بیا بیا نه دي راغبرګ کړي؛ همداسې نور نوښتګر هم درواخله!

له ځانه غلا)د ښځمنو په ګټه ! (

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځمني په ټولیزه توگه د گرد جهان پر کچ، ان د لویدیځ په ښځواکې ټولنه کې د پوهې او فرهنگ له پلوه وروسته پاتې شوي یا پاتې کړشوي دي. په پرمختللي ښځواکي لویدیزه نړۍ کې، تر هغې وروسته چې د دوه پېړییز پانگوالي پېر مودرنېزم تر شا پرېږدي او په شلمه پېړۍ کې پوست مودرنېزم ته راگډېږي، ښځه په سهي مانا متې د فرهنگ او شعروادب په پنځونه کې د راگډېدو جوگه کېږي. هرگوره، پر وړاندې يې زموږ په اسلامي ختيځ کې وار له مخه راڅلېدلي او په دې لړ کې پښتنه دا هم درواخله.

په نومېرلې توگه لږ تر لږه له پېنځلسمې زېږدې پېړۍ او بیا د روښاني فرهنگي- سیاسي غورځنگ راهیسې پښتنې مېرمنې )لکه رابعه، زرغونه، حلیمه، نېکبخته، نازو انا، سپینه ادې... ( وار له مخه له خورا ترینگلو ترنځلو نرواکې بندېزونو سره سره د پوهې، فرهنگ او بیا شعر و ادب میدان ته نیم نیم پتې مخ راوتلې دي. خو دا تریخ واقعیت هم پټولای نه شو چې په نو مهالي پېر کې، څه د سرا سري ټولنېيز او فرهنگي وروسته والي او څه د دودیزو او دیني لنډ اندیو له لاملونو، نه یوازې پرجهاني، بلکې پر هېوادني کچ له نژدې پارسیوانو ترلېو سره د سیالۍ جوگه شوې نه ده، او بیا دا چې له ژبنۍ شونتیا )جنسي-گرامري توپیر ( سره سره یې خپله ښځینه څېره پکې لا دومره په زغرده نه ده راڅلولې، حال دا چې په وگړني ادب او بیا لنډیو کې یې لږ ترلږه تر سلطان محمود )۹۹۸-۱۰۳۰ز ( څه له پاسه یوه زرۍ د دغه زباد ویاړ لري:
د خالو خان لښکري راغلي
زه به گومل ته د اشنا مخې)دیدن ( ته ځمه !

نن سبا چې يې له ښه مرغه، بیاهم څه د ټولنیز خوځون او څه د نوي خبرتیایي او رسنیزې تېکنالوجۍ له برکته پښتنو پېغلو مېرمنو دغې سیالۍ ته رادانگلي دي، نو دا تور وربانديې لگېږي چې خدای مکړه، دې یا هغې ته یې خپل نرینه خواخوږي ورلیکي !

هو ، که د دغه تورتېپۍ چېرې کومه بېلگه رښتیا و موندل شي، لکه څنگه چې ))تاند اوبپاڼې (( داوه کړې او په تېرو څلور- پېنځو لسیزو کې یې بېلگې هم لیدل شوي دي، نو د ))له ځانه غلاد ښځمنو په گټه(( یا ))ښځوته له ځانه غلا (( نوم ورکولای شو. دا د ژوراندو کره کتونکیو ځانگیزه پازه ده چې سپیناوي ته یې را ودانگي؛ که نه،دا د هغو نورو پر وړاندې یوه نابښل کېدونکې بې نیاوي او لا گناه ده چې کلونه کلونه یې خپل ماغزه ستړي کړي او ترډېرو هلوځلو وروسته یې له نارینه وو سره لږو ډېره سیالي برابره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱ - څپرکی

## سپین شعر (Blank verse)

لکه د ازاد شعر)←۹ څپرکی(( په پېژندتیا کې چې یادونه وشوه، اروپایي
سپین شعر(انګرېزي **blank verse**، فرانسي **blanch verse**، جرمني **Blankvers** ) نومونه
زموږ له ))سپین شعر(( نومونې سره نه، بلکې زموږ له نیم ازادو ډولونو، لکه ازادو کالبو
اوموندي شعرونو سره سمون لري، او ))ازاد(( یې بیا زموږ له ))ازاد(( هغه سره نه، بلکې له
))سپین(( دې سره اړخ لګوي؛ په لنډو ټکو، د دوی ))سپین(( زموږ))نیم ازاد(( او ))ازاد(( یې
زموږ له ))سپین((، او همزمان له ))ناپېیلي(( سره سمون خوري.

د دې ترمینالوجیک توپیر یو لاسوند د رومانتیک انګرېز شاعر لارد بایرون)**Byron** ۱۷۸۸-
۱۸۲۴ ز( هغه لومړی شعر دی چې زموږ له نومونې سره سم له ربښتیني ))← سپین شعر(( سره
اړخ لګوي، که نه، له اروپایي
))**blank verse**←(( سره سم ، د))**verse libre**, **free verse**(( په نامه پېژندل شوی دی.
شاعر د ښوونځي په دربیم ټولګي کې وو چې ښوونکي شاګردانو ته وویل، پر وړاندې یې د
شرابو په ستاینه کې یو څه ولیکي. نورو ګردو اوږدې اوږدې لیکنې وکړې، خو همدا چې یې د
بایرون پر درې کرښو سترګې ولګېدې، په خوا پورې یې ونیوه او په لوړ اواز یې ور اعلان کړه:
)) دا خو دې یو ښکلی شعر لیکلی،له تانه به یو لوی شاعر جوړشي!(( د هغه شعر ژباړلې بڼه
داسې ده:
شراب له آره تکې سپینې اوبه وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ،چې خدای ورته وکتل،
له ډېره شرمه تکې سرې شوې !

بې له شک و شوپیانه د همداسې ښکلو او زړه راکښونکو ناپښېلیزو او نا تولیزو )غیرمقفی او غیر موزونو ( شعري شاهکاریو ، ډېر سپین شعر او ان ناپېیلي شعر ته رامات کړي او ورسره ورسره یې د لوستو او اورېدو مینه وال راهڅولي دي.

د شاملو په خبره څومره چې له شعره جولیز او تخنیکي بندیزونه راکم شوي، هومره یې شعریت ښه ترا سمبال شوی دی. لیکوال د خپلو ازمېښتو په بهیر کې یوخوا د قافیوال او ازاد او بلخوا د ازاد او سپین شعر تر منځ ورته پایلې نومېرلې دي. په دغه لړکې یې یوځل یوخیال او سوژه په ازاده جوله کښلی او بل ځل یې هماغه په سپین کالب کې اچولې دي، پرتله یې مینه والو ته پرېښې دم چې په کوم ډول کې یې ښه ترا ځلونه شوې ده؟
ازاده بڼه
هغه چې د پیل غوندې غټ شوي دي،
پیل غوندې یې سترګې وړې شوې دي...
نور یې چې واړه تر سترګو نه راځي،
دایې ورته سترګې خړې شوې دي !
سپینه بڼه
هغه چې د پیل غوندې غټ شوي دي،
نو سترګې یې هم د پیل غوندې
وړې شوې دي...
او له همدې کبله یوازې غټان لیدای شي !
)رزم و بزم ۳۷-۳۸ (.
په سرچپه، که د لیکوال او همدارنګه د نورو ویناوالو ډېر سپین شعرونه په ازاد کالب کې واچول شي، هرومرو یې شعري راکښون په همدې اکر بکر نه پاتې کېږي.

موږ د ایرانیانو ))شعر سپید (( په پلیونۍ پښتو ))سپین شعر (( په دې جاج رادود کړی چې نه وزن لري او نه قافیه، بلکې د شعر له ))مخیّله کلام (( پېژند)تعریف ( سره سم له تول و تال پرته نور د شعر))ژب- ښکلاییز او ژب- اندیز (( تول اړخونه او ځانګړتیاوې رانغښتلای شي، او له دې سره یې ))په کره او کېښکلې ژبنۍ جوله کې د اند و واند یو ولولیز )عاطفي ( تړاو (( پېژند

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته‌ کلای شو.

په افغانستان کې دري - دري نیمي لسیزې پخوا چې سپین شعر د لنډو لنډو مسرو یا ټوټو په بڼه نوې رادود شوی وو، پارسیوانو زیاتره ))طرح (( بلله او پښتنو ))اداڼه (( ، خو راوروسته یې له اوږدېدو سره د ))شعر سپید (( او ))سپین شعر (( نومونې د لنډو او اوږدو دواړو بڼو لپاره تولیزوالی و موند، لکه څنګه چې لیکوال د خپلو لنډو شعرونو په دویمه ټولګه )اند و ژوند ۱۳۲۲ ( کې اړوندي بېلګې ))اداڼې (( نومولې وې. وروسته ټولو ومنله چې هغه یو بشپړ انځور او سوژه رانغاړي او پوره شعر بلل کېږي.

د ژبني رغښت او جولې له پلوه په ))سپین شعر (( کې تر وسې وسې له لنډو لنډو ټوټو، غونډونو او غونډلو )فقرو او جملو (کاراخېستل کېږي. څومره بېزه )کمې ( کچه یې له یوې کرښې یا غونډلې نیولې تردرو- څلورو پورې رسي. کله ناکله په ناځانخبري یا نیم ناځانخري توګه په منځ منځ کې دلته او هلته یوه نیمه اهنګیزه رنګارنګي )لوړتیاوې، ځوړتیاوې( او ان یوه نیمه سجع و قافیه هم سر راهسکوي. اوږدې بېلګې یې بیا بې له دې چې پر ببلا بېلو بندونو یا پراګرافونو وېشنه مومي چې لړو ډېر په لیکنښو )---، ...، ///، ***، # # #( یا شمېرو )-۱-(، )-۲-(... سره نومېرل کېږي. د ازادو او نیم ازادو او ناپېیلو شعرونو په څېر د سپین شعر د ببلا بېلو ټوټو او مسرو دننه بیا، په هر ډول د ببلا بېلو لیکنښو کارونه اړینه بریښي. ان پښېلیز شعرونه د پخوا غوندې په یوه سکښت او رجه لیکل، کمپوزول او چاپول
نور له دوده لوېدلي دي. ان د پښېلیز شعر د بیتونو پیل که پر یوه لیکه راشي، پروا نشته، خو پای یې، لکه ګل په ګلدان کې چې څومره تېروبېر و اوډل شي، هومره یې راکښون زیاتېږي؛ نا پښېلیز دا خو له هماغه پیله له ازاد سکښت و ډیزاین سره رادود شوی دی. ټولیزې ناپېیلي لیکنې هم همداسې درواخله، هر ټوکر )پراګراف( یې د کاغذ، سکرین... پر یوه لیکه او رجه راپیلېږي او پای یې نه، او بیا هر ټوکر له مخکې وروسته سره د یوې کرښې هومره واټن لري.

په هره توګه د پېیلي )منظومې( وینا لیکنې او چاپې بڼه په خپله برخه کې د اغېز ښندنې او راځکونې کړی، هماغومره پراخولای شي، لکه څومره یې چې اوریزه بڼه له رنګارنګې وړاندېینې سره کولای شي.

پارسي "شعر سپید " هغه ډول شعر بلل شوی دی چې د خلیل بن احمد له عربي عروضو )مفاعیلو( سره تلل کېدای او تقطیع کېدای نه شي، نور تول وتال یې د پښتو د ازاد شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډې د خجو "ضربو " له مخې سمبالېږي. د سپين شعر سکالو هم د نورو شعرو نو غونډې له وينې مينې نيولې تر اندو ژوند پورې هرڅه رانغښتای شي. کله هم طنزيه رنګ راخپلوي او کله هم فلسفي او رواني....

دادی دلته، پر هغو بېلګو سربېره چې وار له مخه په شپږم څپرکي کې د ))ذهني انځورونو (( په تړاو وړاندې شوې، څو نورې ورې ورې ټوټې د سکالو د لا زيات رڼاوي لپاره د مينه والو مخې ته ږدو او سم له لاسه يې له اوږدو هغه تېرېږو چې خورا ښايسته ګڼې بېلګې يې د اسحاق ننګيال په ))سيندونه هم مري (( او دغه راز يې څه نا څه لنډې هغه د ليکوال په ))ناپېيلې (( کې راغلې دي.

- ما پرېږده چې:
ستا د مخ په باغ کې وغوړېږم
او همستا د سينې ګل شم !
)وينه او مينه١١٢ (؛

که د ګنا خيری
په منګول مروړلو پاکېدای
نو اوس به:
د مچ د شاتو مچۍ وای؟ ! !
)وينه او مينه١١۴ (؛

- مشري په لو زړه ده،
نه په لويه تنه...
که نه،
پيل به د ځنګل پاچا وای،
نه زمری ! !؟
)هماغه ١٢٠ (؛

- ستا د مينې په ولور کې
تر هغو سرو ګلونو
ور څه نه مومم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې همستا لپاره،
زما له وینو راټوکېږي.
)هماغه ۱۲۲ (؛

- نه هر بندي ګناهګار دی
او نه هر ازاد بېګناه...
نو په دې توګه:
ډېر بندیان له آره ازاد دي،
او ډېر ازاد له آره بندیان !!؟
)زنداني نغمې ۱ (؛

- په تشو پېښنو
نه وینا زده کېږي
او نه کار...
که نه تر توتي به بل ژبور نه وای
او تر بیزو به بل کاریګر؟!!
) هماغه ۴۰-۴۱ (؛

خو مره به ښه وه،
که ستا شونډې شعر وای
او شپه او ورځ مې
په شونډو کې زمزمه کولای !
)اند و ژوند ۳۵ (؛
-کاشکې،
زما سترګې د اوښکو پرځای
د عطرو چینې وای...
چې ستا خیال پکې لمبلای
او له ما نه بېلېدلای !!؟
)هماغه ۸۹ (؛
- که ته په رښتیا سره،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل خيالي وربل
نظر ماتول غواړي...
نو،
پرېږده چې:
د تمکو پرځای ورته،
زه لکه سپېلنی لوگی شم!
)هماغه ۹۷ (؛

- کله چې ستا غېږې ته درشم،
په زرگونو زرگونو خيالونه مې
په سترگلينونو کې ځای نيسي!
)رزم و بزم ۱۲ (؛

که څوک په رښتيا سره
شعر د ازادۍ لپاره
پر کار اچوي،
بايد لومړی پخپله شعر
له قافيې باستيله ازاد کړي!
)هماغه ۵۹ (؛

ډېرو ژونديو ته
تر مرگ بله ښه پرده نشته.
)هماغه ۱۰۴ (؛
ازار گټلي
لکه مچ و مياشي داسې دي،
په دې مانا چې:
چا د ازار لپاره ورځ ټاکلې
او چا شپه.
)هماغه ۱۱۳ (؛
روغتون څه ورکشاپ نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هر ناروغ ترې
روغ راووځي !
)هماغه ۱۳۴(؛

- ملا لکه چرګ داسې دی
چې غواړي:
په ډېر وزرخنډنو او بانګونو
د خپلو ګناهونو ډېران
له سترګو پناه کړي !
)پوهه او ګروهه ۱۱۸(؛

- شېخ تر نيمې شپې
))لااله(( وويل،
خو چې نيمه شپه شوه،
زړه يې ودرېد
او))...الاالله(( يې
له مرګه پاتې شوه !
)هماغه ۱۳۲(؛

- له پسرلي سره څه اړه
او خپلوي نه لرم
خو د زرغا او ودې وش
درد مو دی يو شان سره...
او زما ستا ترمنځه هم
څه اړه تړه نه وه...
خو ګډې مينې مو
راګېره کړله وينه سره
اويو له بل سره نژدې شو هومره،
لکه دوې سترګې وبله
وي په يوه مخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاونډې سره !
)نوې پېرۍ او نوې زرۍ ۱۰۳-۱۰۴(؛

- - -

- ځومره نېکمرغه یم ګناه کومه
تمامه ورځ وریځې د باد له ژرندو باسم
او د لمر په تناره کې پسرلي ته ترې ډوډۍ پخوم.
..)ننګیال، ۱۳-۴-۷۲(؛

- - -

- کله چې غر شین شي
ستا د یادونو شنه ګلان مې
د زړګي پر مساپرې دښتې ځانګې وکړي
وکړي وغوړېږي...
کله چې لمر شین شي...)ننګیال ،۱۲-۷-۷۲(؛

- - -

- یوه ورځ غم زما مېلمه وو
ما د کوربنې په نامه د هغه دومره
عزت و نه کړ
چې مېلمه راباندې د لېونۍ شک وکړ...
زما لمن یې پرېښووه
او رانه ولاړ. )سارا بیاباني، تا ته کیسه... ۹۵(؛

- - -

- کلونه وړاندې مې ورته وویل:
دا ستا د شونډو ځاځکی په څو دی؟
وې: ستا د پلار او د نیکه وینه
او نن مې بیا ترې پوښتنه وکړه:
ټول پېغلتوب دې وایه په څو دی؟
راته یې وویل:
ګرانه !
یوازې یوه ډوډۍ !
)زویا هیله بارګامې، لېمه۱۰ګڼه(؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



- - -

- ستا د سترګو توپاني نظر
ستا د شونډو قهرجنه خندا
ستا د تندي پر اسمان د تورو وريځو حبشي لښکرې
ماته د پسرلي پيلامې ښکارېدې...
)حفيظ ګردش، هيله ۷ ګڼه( ؛

- - -

- تږی وم
خو چې ته مې ولیدې،
لکه یو سیند
چې مې تش کړی وي تږول
)خوشال انځور، هيله ۱۷ ګڼه( ؛

- - -

ما د خپلې مورکۍ
تور ساده پړونی
سیخکونه
د نکریزو وچې پاڼې
سلایي، رانجه رجلومه )رنجرومه(
...)ومان نيازی، تاند اوبپانه( ؛

- - -

- اوښکې له سترګو نه بهېږي
او ژاړي زړه
دا اګير بګير کتل
د بې قراره زړه غمازي کوي،
- ښکاري خو داسې
چې دلته
نه څوک راځي
او نه ترې ځي
بس دا خو...
یو څو نومونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بدلېږي رابدلېږي،
- دوزخ په دنیا کې
هم کله کله سر راښکاره کوي
خو هغه هم په غرونو کې
د سقر مېشته هم په غرونو کې وي !
- د خېټې وږی به موړ شي
ولې...
د مینې وږی به
هېڅرې موړ نه شي.
)فضل محمود روښان، سجیل۱۰۳، ۵۳، ۴۵، ۴۳ (.

- زه بې موخې، بې وېلاړه
لالهنده آخوا د پخوا
گرځېدم راگرځېدم
او نه پوهېدم
چېرې ځم او څه مې ورک کړي دي.
کرۍ ورځ مې په منډو رامنډو
ځان سترې ستومانه کړ
او ځمکې راته یوه شېبه ځای نه راکاوه
...)هماغه۱۴۸ (؛

-که ته په رښتیا سره،
د خپل خیالي وربل
نظرماتول غواړې !
نو،
پربږده چې:
د تمکو پرځای ورته،
زه لکه سپېلنی لوگی شم ! !؟
)اندوژوند ۹۷ (؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



او داهم ))نوې پېړۍ او نوې زرۍ (( په نامه د لیکوال د اوږد ترین )شپاړس مخيز ( سپین شعر د سروپای څو کرښې چې په همدې نامه ټولګه کې راخوندي شوې دي:

د زماني څرخ پرله پسي تاوېږي راتاوېږي
او د تاريخ د ګړيال ستن
- په ډېر تلوار و تلوسه-
يوه نوي اوړون ټکي ته
ورنژدې کېږي...

/-/-/

... او ويل کېږي
دا هماغه پېنځه زركلن
لرغونی آريايي توكم دی
چې له پېړيو پېړيو راهيسي
- د كفر و اسلام،
د مرګ و ژوند ترمنځ-
د هغه اوږده غځېدلي، تورتياره كنګل تونل
پای ته
د يوې نيمزالې رڼا دځرک ابستنې
او بيا سا اخبستنې په هيله
ځای پرځای لكه مېخكرې،
ښكېل پاتې دی!!؟

كه سپين شعر همداسې بې تول و تاله پراختيا ومومي بيا نو تكل داستاني اړانې ... او يا داستانګې ( **short-short story** ته ورغځېږي. د استاد الفت د سپينو او ناپېيلو په لړكې ورته بېلګې ډېرې ليدل كېږي. د محمد دين ژواک د ناپېيلو ټولګو په ترځ ترځ كې ځينې بېلګې هم همداسې درواخله. مانا دا چې ټولې ))ادبي ټوټې (( د ناپېيلي شعر نوم راخپلولای نه شي. د ځينو ليكوالو، په تېره شاعرانو تكل، داستان، يونليک... هم څه ناڅه د ناپېيلي شعر جوله راخپلوي، لكه واخلې، د صديق پسرلي ))سره غالۍ ((، د كاروان يوه نيمه كيسه او يا د شهرت ننګيال يونليكونه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سمه ده چې ادبي ټوټه کوم ادبي ځېل يا ژانر نه دی، خو داسې هم نه، لکه يو نيم ليکوال، لکه نادر نادرپور )دښاغلی انځور پر اخځ: شعرونه او نقدونه، ۱۹۸-۱۱۵ ( چې گرد پارسي او پښتو هنري نثرونه يا ادبي ټوټې د اروپايي شعرونو د ژباړو پېښې بولي، بلکې د پاسنيو ژانرونو په گډون يکې د ناپېيلي شعر ببلگې هم ډېرې ليدل کېږي. داهم اړينه نه ده چې اړوند اروپايي شعرونه دې هرو مرو پښېليزا او توليزوي، بلکې له آره ))بلانک (( ! اوسي !

همدا چې زموږ ځانساتي او زاړه پال پښتانه لا "له بې قافيې، ازاد شعر ( سره د يوې نوې ښکارندې په توگه ډغرې وهي، په نوره نړۍ کې لا څه چې دلته را نژدې په ايران کې بيا وخته )بې وزنه ازاد شعر ( تر وييني گروېږنې لاندې نيول شوی دی. د ساري په توگه احمد شاملو د "وزن د شاعر ذهن بې لارې کوي " خبره رامنځته کوي او د لويديځيانو په لار وی، پر دې ټينگار لري، چې بېوزنه شعر کولای شي، د بهرني جوليز وزن پر ځای او "دننی " يا "مانيز " وزن ولري )په دې باب اړوندې ليکنې: اخبار هفته **۵۴** او **۵۷** مې گڼې او د همدې بدلمېچ اتم څپرکی او اړوندې سکالووې(.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲ - څپرکی
# ناپېیلی یا منثور شعر
## )Prosaic poem(

د دغه درېیم ډول ازاد پښتو شعر پیلامه چې انگرېزي یې پر پاسني نامه سربېره **poem in prose, Poetic prose, prose poem** هم بولي، الماني یې **Prosadichtung** او پارسي ))شعر منثور ((، په وسمهالي ادبي پېر کې مولوي احمد )۱۲۷۱-۱۳۰۱س ( او ورپسې لا ښه ترا منشي احمد جان )۱۳۳۰ل مړ ( رانښلولي ده. له هغه راهیسي څه ناڅه یوه پېړۍ په بېلابېلو نومونو )ادبي نثر، هنري نثر ادبي ټوټه، ادبي پارچه ( په لره بره پښتونخوا کې ښایسته ډېر ویل شوی دی.)ش.سنگروال: ۱۹۹۷، ۴۷۲ ؛ ز. هېوادمل:۱۳۵۲(

د ))مرسل نثر، مسجع نثر او موجز نثر (( په نومونو درېگوني نثري ډولونه چې ښایي د پارسي هومره یې په تېرمهال پښتو ادب کې دومره زیات څرک و نه لگېږي، هم د ناپېیلي شعر په څېرمه ځېلونو کې راوستلای شو.

په لره خوا کې تر احمد جان راوروسته ماسټر کریم او بره خواتر استاد الفت، استاد بېنوا، استاد رښتین، مولانا خادم، محمد دین ژواک او محمد جان فنا ساپي تر نورو ډېر کښلي، په تېره اروانښاد ژواک چې له ۱۳۴۱ل یې تر مړینې )۱۳۸۵( پورې اوږه ورکړه او درې څلور خپلواکې ټولگې یې راپربښوولې. په دې توگه استاد ژواک د دغه شعري ځېل له څومرییز او څرنگیز او د ))← افقي تخیل (( له پلوه تر نورو پښتنو وړاندې دی او د لومړي پښتو ناپېیلي یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



منثور شعر لیکوال ))**prosaist poet**(( یې نومولای شو.

ورپسې کېدای شي. د نورو غونډي دغه استاد هم په لومړیو کې خپل دغه ادبي ځېل یا ژانر ))ادبي ټوټه(( او راوروسته ))سپین شعر(( باله، خو کله یې چې د ))افغاني حماسه(( نومې ټولګه پر ۱۳۲۹ل کال چاپ ته وړاندې کوله، د لیکوال په وړاندیز یې د ))منثور شعر(( نومونه خوښه شوه. اروانښاد اسحاق ننګیال یې د سریزه لیکونکي په توګه هم راسره هوکې کړه او په همدې جاج و مانایې د خپلو خبرو په لړکې داسې ورارزولې وه:
))... په دې کې هېڅ شک نشته چې شعر، شعر دی او نثر نثر، خو داهم نه هېروو چې هر شعر، شعر نه دی او هر نثر، نثر نه دی...

زه چې د کتاب له پیل نه تر پایه پورې څه لولم، په هغو کې له خیاله ډکې رنګینۍ وینم، د هنر او هنریت ښکلې ښېلګې پکې وینم چې پېښې او حوادث پکې د خیال په رڼه چینه کې وِلل شوې دي... ((.

د ننګیال دغه څرګندونې راته د استاد علامه حبیبي یوه ورته وراشه را یادوي چې پېنځوس شپېته کاله پخوا یې د استاد الفت په باره کې کښلې وه: ))... د الفت نثر شعر دی او شعر یې نثر... ((.

داهم اړینه نه ده چې د چاخبره یو ))ادبي راپورتاژ((، یونلیک او داسې نور نثرونه هم ))ناپېیلي شعرونه(( او یا هم په دوده نومونه ))هنري نثر(( وبولو، که یونیم پراګراف پکې هنري هم وي؛ هسې خو په رسنیز یا ژورنالېستیک نثر کې هم لړو ډېر تخیل پر کار اچول کېږي، او په سرچپه ډول یو هنري نثر هم دلته او هلته رسنیزه بڼه ولري.

په هره توګه، نن سبا پر نړیوال کچ پرونی هنري نثر یا ادبي ټوټه یوازې د ناپېیلي شعر له نومونې سره د یوه ژانر په توګه منل شوی او بیا چې عربو هم له آره شعر یو ))مخیٌله کلام(( بللی دی، نو په شعریت کې یې څه شک و شوپیان نه پاتې کېږي، په دې مانا چې دویم ستاینوم ))موزون(( د ))مخیٌله (( هومره د شعریت کوم اړین شرط نه بلل کېږي.

دا هم د ناپیلي شعر د بېلابېلو بېلګو نچوړونه:
- ظالمه زما پر زړه دې ببباکه واری وکړ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته نه پوهېږې چې زړه يوه هنداره ده؟
او لا هغه زړه چې د شعريت له شعوره ډک دی؟
د ګلاب د ګل پاڼه- يا پر روانو اوبو رالوېدلې وړانګه
چې په لړه شاني ربنه رپېږي...
)ژواک، افغاني حماسه ج (؛

- - -

- مننه چې د ګلونو هار د ذوق له غاړې څخه نه وو سپمول شوی.
هلته چې د کابل سيند د کونړ سيند په غاړه کې غبرګ لاسونه
اچولای شي، هلته چې د وړانګو سيل د سپين غره پر سر
د مستۍ اتڼ ته ځان جوړ باله...
)هماغه ۷ (؛

- - -

- يه زما ښکلې ناوې
مه ژاړه
او ورتې ورتې اوښکې مه تويوه !
ماته ستا د اوښکو مرغلرې
تر خپل مال و سرهم
ډېرې ګرانې دي
او دا د ډېرې خواشينۍ ځای دی،
دغه ګرانبيه مرغلرې دي
هسې وړيا پر وړيا
د سترګو له سيپيو،
پر سرو سپينو اننګيو
مخ کښته راورغړي
او دانه دانه
پر ځمکه
راتوی شي
...)ناپيپلي ۱-۲ (؛

-- -

- زه بې موخې، بې وېلاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لالهنده آخوا دېخوا
گرځېدم راگرځېدم
او نه پوهېدم
چېرې ځم او څه مې ورک کړي دي
کرۍ ورځ مې په منډو رامنډو
ځان سترى ستومانه کړ
او ځمکې راته یوه شېبه ځاى نه راکاوه
...)هماغه۱۴۸ (؛

## د غرونو او ځنگلونو شپه

د تاوده اوړي لمرینو وړانگو خپل زرین شال له غرونو رغونو، ناوونو، گړنگونو، تویونو او لگړونو، غاړو مورگو، لمنو او گلکڅونو را ونغښت. بیایې د هسکو اسمانڅکو لمنځو او نښترو جگې جگې او نالاسبرې څوکې د مخه ښې په مینه وړې انداز کې ښکل کړې او په بیړه بیړه له لنډ تنگ غرني او ځنگلي څنډه پنا شوې.

شپنو او غوبنو د خپلو مېږو پسونو، وزو وزگوړو، غواوو، غوییو، خوسیو کنډکونه،غېلې، او گورمونه د شپولونو او بانډو خواته را مات کړي ول. د ورکیو او سېرلکیو لوبغاړو او بیا د سرکښو وزانو له غرېو نیولو بغارو ، غرکیو ... د درویو او شپېلیو له خوږو خوږو غاړو او لارو سره په هسکو تږو او کړپوکې مستې مستې انگازې خپرولې.

مرغانو د سرپواو نښترو په هسکو هسکو او گورو گورو ونوکې چاڼ چوڼ اچولی وو او دخپلو ځالو ځالگیو په لټون کې له یوې ښرانگې نه بلې ته بربر الوتې را الوتې.

له تور سکڼي مابنام سره پتلیز د گنډېریو، مبنککو، ماښوگانو او شینشوبو خوربویه او زړه راکښونکې سړوزمې وږمې ورو ورو پر لگېدو پیل وکړ او د شاوخوا غرنیو ونو ببرې څانگې ورسره نڅېدې رانڅېدې. تابه ویل، ستړي ستوړي او نارامه لولنگر مرغان پکې لکه زانگو زنگوي او په غوړوکې یې د خواږه خوب للو للو سندرې وایې...
او زه،
په ازاده او تربوخته هواکې د غوزو او ځنغوزو، اوبښتو او لمنځو، ولو او چنارونو تر منځ چوتره باندې د مزرین کټ پر وچ بانه سترى ستوړى غځېدلى یم. لاسونه مې سرته سرو بېډې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ډېر مې زړه غواړي، د کرۍ ورځې د ستغيونو پېچومو او کږلېچونو مزلونو او پرله پسې پر کليو بانډو گرځېدنو راگرځېدنو، پلټنو اوپوښتنو گروېږنو، کښنو او ثبتونو څخه لږه ارامه غونډې ساواخلم او د يوه بې غږوغوږه درانه خوب غېږې ته پنيوسم. نرى څپونى مې پر مخ واچوه او سترگې سره وروستې چې گونډې په دې توگه راته يوڅه ژر خوب راشي، خو...
)ناپېيلې۳۱-۳۲ (

# ۱۳- څپركى
# پر))يوه-كره پښتو (( د شاعر او ليكوال لاسبرى

كه څه هم پر ژبه د شعر د يوه رغنده ټوک په توگه په پښځم او د ))ژب-ښكلاييز (( او ))ژب-انديز (( د ټوليو)مقولو ( په تړاو په شپږم څپركي كې پوره رڼا اچول شوې ده، خو دلته مو بياهم اړينه وبلله، په يوڅه لنډو او ساده ډول پرې وغږېږو. هغه هم د داسې شاعرانو او په ترڅ كې د هغو گردو قلموالو د ښه ترا راڅكوني او لارښووني لپاره چې ادب او شعر ته هڅو د يوه "ژبني هنر" په سترگه نه گوري او له ډېرې ناغېږۍ او بې پروايۍ څخه، لكه د ازاد شعر د ويارونو)عيبونو ( په برخه كې چې ورته گوته ونيول شوه، د منځنې پېر په څېر په لوى لاس خپلې ادبي او شعري پنځونې په پردۍ جوله او جامه مسخ كوي او هماغسې يې له پښتني ټولنې لرې ساتي.

زموږ ډېرى ادبي زېږندويان او په دې لړ كې شاعران، نه يوازې له ادبي پښتو سره پوره پېژندگلوي نه لري، بلكې د ))يوه-كره ليكنۍ پښتو (( تش يو نوم هومره يې هم كله پر غوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګېدلی نه دی او له پر هماغه خپله لنډه تنګه "سيمه ييزه، ټبرنۍ او ورځنۍ )و (ګړنۍ پښتو " بسيا پاتې دي او د نورو زده کړو ژبو ، په تېره پارسي او اردو تر ګرامري او لغوي اغېز لاندې يې د شعر او ليکنې خوند او راکښون زيانمنېږي انځورو سېمبول او بيا پيغام او بلنې ته يې څوک نه را هڅېږي.

نوی- ازاد شعر د يوه کره شعر په توګه يوې کره ژبې ته تر بل هر ادبي او بيا شعري څپل ته زياته لري. هسې خو ټوليز ادب يو ژبنی هنر دی، دا مانا چې که د ساري په توګه د پژسازي )پيکر سازي( اومه توکي شګه، ګچ، ډبره، سيمنټ، لرګي، فلز... دي او يا د انځورګرۍ هغه رنګونه دي، نو د ادب دا ژبه ده. په دې توګه د شعر اومه توکي هم د پژ سازۍ يا انځورګرۍ هغه غوندې يو بې سا څيز نه دی، بلکې ژبه هم پر خپل وار يوه ژوندۍ پديده ده او د هر هنر غوندې د انسان له دننۍ نړۍ سره نه شلېدونکې اړيکې لري. يا په بله وينا د ټولنيزې آګاهۍ يوه ښه ده او د پېژندنۍ د تيورۍ له پلوه د انسان د انديز ځواک په لوړ ترين پوړ پورې اړه لري. همدا ژبه وه چې د يو مادي استر په توګه يې انسان ته انديز )تفکر ( کېدونکی کړ او د جاجونو )مفاهيمو ( نړۍ ته يې ورګډ کړ. له دې کبله هغه چلند چې د نورو هنرو له اومو توکونو سره کېږي، د ادب له توکيو سره بايد هرومرو توپير ولري. ادبي زېږندويانو ته پکار ده پر ژبه باندې هماغومره لاسبري ولري، لکه څومره چې ورته په ادبپوهنه او اړوندو تخنيکي خواووکې اړين دی. په تېره د شعر ژبه خو تر نورو ادبي ژانرو څخه بايد تر کېدوني بريده ډېره پراخه، پخه، بشپړه، نږه او کره اوسي، پکې ښه تراچاڼ او غوراوی وکړای شي، که نه لنډه تنګه او تکراري متحدالماله ژبه ګرد شعريت تر سيوري لاندې راولي او ))کليشه (( کېدو ته يې لار هوارېږي.

هغه شاعران له دې سره سره چې له هنري پلوه د نوښت داوه کوي، پر دې هم ځان نه پوهوي ، له څه راز وييپانګې )لغوي زېرمې ( يا وييونو )واژو (، ګړنو )محاورو يا اصطلاحاتو ( او يا متلو څخه کار واخلي. لنډون، سيما ، )ګرامري ( يووالی، نږه والی، خوږوالی او رنګارنګوالی يې چې د ليکنۍ ژبې له آرونو او معيارونو څخه ګڼل کېږي، په خوا و خاطر کې نه ګرځي البته د لاس ګوتو په شمار يو څو داستان ليکونکيو او شاعرانو په نيم آګاهانه توګه د خپل ځانګړي ازمېښت او هاند و هڅې يا د هغې ځانګړې مينې له مخې چې د خپلې مورنۍ ژبې له روزنې، پالنې، بډاينې او پر سيمه ييز او نړيوال کچ يې له ادبي او فرهنګي سيالونې سره لري، لږ و ډېر پر معياري او بيا ادبي او شاعرانه پښتو لاسبرى موندلی دی، خو دا چې يې دغه کار پوره آګاهانه او ځانخبرى نه بلل کېږي، هرمرو له يو لوړ ژبنيو نيمګړتياوو سره مخامخېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ساده ناکره گرامري يا ليکدودي تېروتنه کولای شي، يوه ښېرنيزه، رسنيزه او بيا ادبي ليکنه )داستان، شعر... ( سپکه سپانده کاندي. لکه:يوه ښوونکي راغلل )کندهاري گړدود ، کره: يوه ښوونکې راغله: (؛ دا دېماجي ده)منځنی گړدود ، کره: دا زما ځای دی (؛ ميژ تېل سبوځي)سوېلختيز گړدود ، کره: مورِ تېول سبا ځو: (؛ ما او تاځو )ننگرهاري گړدود ،کره: زه او ته ځو (... د يوي پښتو- کره پښتو پروړاندې څومره گډونونه)التباسونه( او څومره پيکه او بې خونده ژبنی- ليکنی انارشېزم رامنځته کوي؟

دغه انارشېزم، په بله وينا ، ناکره گړدودي ځانځاني د نژدې دوو څواکمنو ترېرو ))پارسي او اردو (( ژبو اغېزمنني ته لاره هوارېږي او پښتو مو نوره هم پسې کړکيچو کېدو خواته ورځکول کېږي ، نه يوازې له وييپانگيز، بلکې تربدو بترو پښويېزو )گرامري ( پېښو له پلوه. د اردو- انگرېزي)کوم چې، چا چې... ( يو خوا او د پارسي)څو ، ترڅو...، - څخه کتنه، ملاتړ، ستاينه، يادونه.. ( بلخوا ، ترليکوالو ، ښېړنوالو او رسنوالو را وروسته شاعران هم رانغښتي دي. همدا خواشينوکې او نهيلوونکې ترخې رښتياوې)واقعيتونه ( دي چې په پښتو کې، د نورو لاڅه، د دواړو ترېرو ژبو پر خلاف نه دومره تېليز ادبي- ليکني سبک و ستايل ليدل کېږي او نه يوگړيز)فردي ( هغه، دا تراژيدي به ترهغې روانه وي چې ترڅو مو پښتو له گړدودي دريځه ژبني دريځ ته لوړتيا نه وي موندلې !

دا دی، دلته يې د لسم څېرکي )ژبنۍ تېروتنې ( له گڼو بېلگو څخه دا يوه راخلو چې د نورو تېروتنو په څېر په هېڅ يو پښتو گړدود کې يې څرک نه لگي:

په پښتو لېږندکړ )متعدي فعل ( کې د پارسي، انگليسي او نورو ژبو په توپير د )کړند ( تر څنگ )کړی ( هرو مرو راځي. په دې لاندې ازاد شعرکې دغه غورځونه ليدل کېږي او له همدې لامله ورسره ليکوال په ليندېو کې ))څه (( سرباري کړي دي، دا چې وزن ورسره ويجاړېږي، د شاعرگناه ده:
سترگې مې پټې شوې چې
ونه وينم)څه (
ژبه مې پرې شوله چې
ونه وايم)څه (

د وييونو امرنه)د کلمو انتخاب ( او رنگارنگي چې د ادبي او شعري ژبې په ښکلا او راکښون غوره نقش او اغېز لري، يوازې د ژبنې مهارت او لاسبرې له لارې کېدون درلودای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې لنډوالی، خوږوالی او نرېوالی یا په لنډ ډول ژبنی معیار له ادبي معیار سره نه شلېدونکې اړیکې لري.

تر هرڅه له مخه، تر وسې وسې په کار ده، په شعرکې له ډېرې لوښې او ډانګ پېیلې پښتو ډډه وشي. دا راز پښتو یوازې نالوستو وګړنیو پرګنو، زیارکښانو او د ښوونځیو او د لیک و لوست د زده کړوځیو د نظمونو او ترانو لپاره کاربدای شي یا لږ تر لږه د ساده ولسي آهنګونو لپاره چې هم د اړوندو نالوستو یا نیم لوستو، سندرغاړو ته د سهنې وړ دي او هم همداسې اورېدونکیو ته.

که د انځورګری هنر او مه توکي، کاغذ )یا ورته څیز ( ، لیکې او رنګونه دي او د پړۍ )مجسمې ( د اخته، ګچ، سمنټ، لرګی، ډبره، فلز... دی، نو د ژبن هنر )ادب ( دا ژبه ده. دلته توپیر دا دی چې ژبه پخپله په ټولنیزې ځانخبرۍ پورې تړلې پدیده ده او د ختو، ګچو، ګټو یا سمنټو غونډې یو بې سا څیز نه دی. هغه اړوندې چې پړۍ )مجسمه ( یې له خپلو توکیو سره لري، له ژبې سره د ادب له اړوندې سره کورټ توپیر لري. دلته باید له ژبې سره هغه چلند ونه شي، لکه هلته چې له ختو، ګټو او ګچو یا سمنټو سره کېږي که څه هم په هره هنري زېږونه کې د فورم او محتوا دیالکتیک پر خپل ځای دی او یو پر بل اغېز لري، خو په ژبني هنرکې یو له بله اړیکې تر بل هر هنر زیات پیاوړې او ټینګ دی. د ساري په توګه یو پړساز )مجسمه ساز ( کولای شي، په پړۍ کې د کارول شویو توکیو بدرنګي د خپل لوړ تخیل او هنري پرداز په مرسته سکینده )جبران ( کړي او له ډېر تېز لیدو سترګو یې پناه کړي، مګر یو د ادبي زېږندوی کوچنی ژبنی ویار )عیب ( په ټول هنري ځواک او بدیعي وښت د چا له سترګو پټولای نه شي، ان که په لیکدودي کچه کې هم وي، لکه )خ ( د )ښ ( ، )ج ( د )ژ ( ، )س ( د )خ ( ، یا یې د )یې ( او یا جوړوونکی د جوړوني او خوړونکی د خوړونکي پر ځای کښنه. همدغه یوه کوچنۍ تېروتنه یا ناغېږي بس ده چې د "بېسواده " توري پرې ولګولی شي او ټول ادبي شهکار یې په یوه پیسه کړي. ګفتومس وایي:

"د وییونو د ځواک له پېژندنې پرته د وګړیو پېژندنه ناشونې ده " او ساموېل تیلر کالریج د نثر او شعر په توپیر کې وایي: نثر په غور ترین ډول د وییونو څرګندونه ده او شعر په غور ترین ډول د غورترینو وییونو څرګندونه. دا چې ویل کېږي ژبه د پېژند الواک )معرف تیوري ( پر بنسټ د شعر له دوه ګونو )حسي او فکري ( پړاوونو څخه له وروستي دې سره اړوندی لري او بې له )فکر ( کېدای نه شي او جاجونه )مفاهیم ( چې "فکرو کول " پرې ترسره کېږي، د وییونو فکري منځپانګه جوړوي یا په بله وینا ژبه یې یو پوښ یا استر برابروي )فیدلر: ۱۵۹ مخ ۴۰۵ او ۲۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ، انګلز ۸۱۳ مخونه(، نو نه یوازې عادي "مخابراتي" فعالي بې ژبې ترسره کېدای نه شي، پاتې يې لا دا چې له ژبې څخه بیا د موتوکونو کار اخلي او لا زیاته سپېڅنه او سوانېدنه په کار لري په ادبي زېږونه کې پر فکري چار سربېره د پېژند بهیر لومړی پړاو )احساس، ادراک، تصور یا خیال( او هغه هم د ژبې په مرسته پر کار لوېږي او له همدې سره د عادي او ادبي ژبې تر منځ توپیر جوتیا مومي، لکه شبلر چې د شعر په پېژند کې وايي:

))ژبه هر څه د عقل په کالب کې وړاندې کوي، مګر شاعر يې باید د خیال په کالب کې راوړي. شعر خیال پردازي ته هڅه لري او ژبه یوازې مفاهیم لېږدوي.. )فیشر ۳۲ مخ(.)ووکل ۳۳ مخ( ادب داسې راپېژني "ادب د طبیعت او ټولنې د عیني واقعیت د ځلونې او لېږدونې یو ځانګړی هنري ښکلاییز ډول دی چې په دغه )ځلونه او لېږدونه( کې ژبه د یوې وسیلې دنده پرځای کوي(. ژبه د اندونو )افکارو ( سیده رښتینواله )واقعیت( دی او ادب يې ناسیده (( ) همدارنګه: بومي ۳۰۲ مخ(.

په دې توګه که ژبه د داسې وییزو )وینا وړو ( او اوریزو )اورېد وړو ( نښو )سمبولو ( یا په ساده توګه د وییونو )کلمو ( یو سیستم دی چې مانیزه )فکري( خوا يې ذهني انځورنه دي او توکیزه )مادي( خوا يې د ژبنیو غږو په مرسته زېږېدونکي )لفظونه( دي، یا په بله وینا دوې خواوې یا مخونه لري: ښوونډ او ښوولي )دال و مدلول( یا )نوم او نوملی( یا )لفظ و مانا(، نو ادبي سمبولونه یا انځورونه )ایماژونه( بیا د همدغو ژبنیو سمبولونو، بیا ادبي سپمبولایزونه رامنځته کېږي. په دې توګه که له ژبنیو سمبولونو څخه په سمه توګه کار وانه خیستل شي، نو ادبي سپمبولونه او ورسره تړلي خیال انځورونه )ایماژونه( هم سم رغېدای نه شي، یا په ساده وینا که ژبه کره نه وي اړونده ادبي زېږونه يې هم کره راتلای نه شي.

د "ژب- اندیز" او د "ژب- ښکلاییز" ټولیـ )مقولې( چې د یوه ادبي اثر د ارزونې او کره کتنې لپاره رامنځته شوی دی، دا راښيي چې ژبه په دغه هنر کې هم له اندیزې )منځپانګیزې یا محتوايي( اړخ سره دیالکتیک جوړوي او هم له ښکلاییز هغه سره...

دا چې د اسماعیل خو يې له پېژند )تعریف( سره سم ))شعر په کېښکلې او آهنګینه ژبه د اند وخیال عاطفي تړون دی((، ژبه د شعر د لومړي رغنده توک په توګه راجوتوي چې البته دغه پېژند له آهنګه پرته پر ټولو ادبي ژانرونو کارول کېدای شي او دا چې احسان طبري )۲۸ مخ( شعر له اند، احساس، تخیل، آهنګ څخه رغېدلی بولي، بیا هم ژبه که وغواړې یا ونه غواړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اند )اندېښه( کې نغښتې ده، ځکه اند له ژبې سره خپله هستي او چار ښه ترا راڅرګندولای شي. که د يوې ادبي زېږندې بديعي يا په بله وينا تخيلي او يا ښکلاييز اړخ د ايماژونو )انځورونو(، سمبولونو )کنايو( او اسطورو په کارېدنه سمبالېږي، بيا هم همدغه ژبه او ژبني توکونه دي چې هغه پرې راڅرګندېدای شي:

١- سېمبولونه هماغه ويېونه )واژې( يا ترېنګونه )ترکيبونه( دي چې مانا او مفهوم د کوم ورتوالي يا ځانګړتيا له پلوه د خپل آر ښوولی )مدلول( پر ځای د يو بل څيز يا پديدې لپاره پرکار لوېږي، لکه لمر د آزادۍ او برې د سېمبول په توګه، ښون او کوتره د سولې د سېمبول په توګه، شپه د نهيلۍ او سپېدې د سباوون د هيله منۍ او نېکمرغۍ يا ژغورون د سېمبول په توګه، د شپې لارويان يا استازي د انسان او انسانيت د دښمنانو او د سپېدې لارويان يا کاروان د ژغوراندانو او جنګيالانو د سېمبول يا سېمبولونو په توګه.

٢- انځورونه د ګړنو )ايديمونو( او څرګندونو)اصطلاحاتو، اېکسپرېشنو( غوندې بيا هم د ويېونو له اوبدنې او اوډنې څخه رامنځته کېدای شي، لکه )د سره شفق په تبغ د تياري ګوګل څيرې کول يا کېدل(، )په باروتو د ښونو يا ولو سپين ټټرونه لوغړنول يا لوغړنېدل(، )چا ته سترګې په لاره کې کرل( او داسې نور. د دغو ترېنګونو )ترکيبونو( يا فقرو يو نيم ويی وار له مخه سېمبوليکې ځانګړتياوې هم لري او يا لږ تر لږه هر ترېنګ په غونډېز )فقره يې( ډول سمبوليکه مانا ښندلای شي. انځور هغه څه دی چې د زمان په يوه ټاکلې شېبه کې فکري او عاطفي غوټه وړاندې کوي )پيام ٣٠-٢-٢٨ ګڼه(.

٣- همداراز اسطورې هم له ژبې او ژبنيو غونډلو )جملو( يا ټوکرو )پراګرافو(( پرته راڅرګندېدای نه شي، لکه:

که د ګناه خيرې
په منګول مرورلو پاکېدای،
نو اوس به مچ د شاتو مچۍ وای!

يا:

دلته له پښو دې اهريمن پرېوتی،
دلته ميترا دلته زوروان نه مري...

همدغه هنري او ښکلاييز توکونه )عناصر( دي چې ادبي ليکوال او شاعر يې پخپل تخيلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاطفي څواک سره د ژبنيو توکونو په مرسته رغوي او هغه څرګندوي او لېږدوي چې عادي ژبني توکونه )وييونه يا جملې ( يې له توغه وتلای نه شي.

له همدې کبله هغه ثرګندتيا يا بربنډتيا چې ژبنۍ ثرګندونه )بيان ( يې لري، په ادبي زېږونه او په تېره بيا په شعر کې نه ليدل کېږي. دلته ايجاز، ايهام او ان ابهام د شعر په ښېګڼو کې راځي. په دې توګه له دې څخه سرټکول چې ولې دغه يا هغه ادبي زېږونه يا شعر پېچلی دی، بې سروبوله ده. يوه معقوله پېچلتيا يا ايهام او ابهام چې د فورمالېزم تر بريده ونه رسي، يوه ټولېزه هنري او بيا ادبي او شعري اړتيا او ځانګړتيا بلل کېږي. لکه پاس چې ورته نغوته وشوه، هره ادبي او بيا شعري ژبه له عادي ګړنۍ ژبې سره توپير لري او ناسيده ژبه بلل کېږي که څه هم او مه توکي يې بيا هم همدغه ليکنۍ معياري ژبه ده. دا سمه ده چې کره او معياري ژبه پخپله د اديب او شاعر له خوا لا زياته پالنه مومي، لا کره کېږي او په دغه لړ کې د نويو رغاونو )نيولوګېزمونو ( او زړو وييونو )ارکايېزمونو ( په کار اچونې سره له عادي ګړنۍ او ليکنۍ ژبې سره توپير پيدا کوي.

## ليکدودي ستونزې

يوه کره ليکنۍ پښتو ۳۲غږونه )sounds ( لري، خوابېخې )الفبې ( يې له ډېرشو نښو )توريو يا حرفونو ( تېرى نه کوي. له اوو واوېلو (vowels) څخه يې يوازې درې دا ليکنۍ نښې يا توري )و-ا-ى ( لري. د زور)فتحې(او زورکي لپاره)ه ( له پخوا راهيسې، هغه هم يوازې په پای کې رادود شوې ده. خو )ء( او يا چرګۍ)هه( کارونګ د ژبپوهنيز قانون «توپير» تر ډېر ځايه زيانمنوي او له لوستونکي لار لودن ورکوي. يوازې د «ياوو» د پېنځګونو، په بله وينا، شپږ ګونو ډولونو له رامنځته کولو سره يو څه ليکدودي سمون راغلی دی چې له ښه مرغه پښتو اکېډېمۍ هم هوکې کړې دي؛ که څه هم د اردو په پېښو د)ے ( او دغه راز )ء( بې کچه کارونې )أو، ځائ، خدائ... ( کوزنۍ ليکدود خورا ډېر پېچلی، کږکېچن او کرغېړن کړی دی او په تېره چې زور، زېر و پېښ هم ورسرباري کاندي !

د اعراب نښې نښانې )زور، زېر، پېښ، غړوندی... ( چې يو جهادي سروال يې په دې وروستيو کې د لا زياتې او سراسري دودونې او کارونې وړاندېز کړی، له پښتو غږيز رغښت سره هېڅ اړخ نه لګوي او لکه چې څو ځله راغبرګه شوه، لرو پښتنو په دغه کارونګ زموږ له برو سره ليکدودي او ليکلاريز واټن نور هم پسې زيات کړی دی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردې ناخبره يا ناګاره چې له ۱۹۳۲ز )د پښتو له ملي- رسمي قانونيت ( راهيسې چې د درست عربي آري الفبايي سېستم فونيميکولو هلې ځلې راروانې دي. د افغانستان د پوهنو اکاډېمۍ کومه غږيزه يا فونيميکي ابېځې )الفبې ( چې دا درې لسيزې په سيندونو )قاموسونوکې ( کې ترې د سم وينګ )تلفظ ( لپاره کار اخېستل کېږي ، له آره پر ۱۹۷۴ز. کال د ليکوال له خوا د وخت پښتو ټولنې ته وړاندې شوې او له يوڅه بېځايه ادلون بدلون سره يې هوکې کړې وه.

نورو عجمي مسلمانو هېوادونو ، لکه تورکيې، مالېزيا او اندونيزيا له هسې لاتيناييزېښنه کار اخېستی او له نړيوال فونېتيک سېستم سره دومره اړخ نه لګوي.

)ے ( پېښوريانو په باره ګلی کې د کره پښتو د نرينه پايلې )-ی ( پر ځای زمونږ پر ))کابليانو (( په وچ زور منلې وه او ما په يوه بله غونډه کې ور زباده کړه چې دا يوازې د شمالختيز ګړدود د وينګ )تلفظ ( استازې کوي، ځکه له هندکو ، اردو او نورو هندي هغو څخه يې آره اخېستې او له ټوليزې کره ليکنۍ پښتو سره اړخ نه لګوي. نو که پېښوريان د نرينه يوګړې لپاره دوې ياوې )ی-ے ( کاروي، د سوېل- لويديزې ))کندهارۍ (( ګړدودې ډلې فونولوجيکې او مورفولوجيکې دوبليکېټ )جوړه جوړه کېدنه ( هم بايد ومنو. په دغه ډله کې واوېلې او ورسره تړلې صرفي او نحوي نظامونه غبرګ غبرګ راځي او له دې سره د نورو آرونو په لړکې د )ګرامري يووالي يا توحيد ( آر و معيار يومخيز ترپښنو لاندې کېږي. پايله يې دا چې دوه ګرامره او بيا دوه ليکدوده منځته ، په بله وينا ، ))دوې پښتووې (( راځي او د ))يوې يوازېنۍ- کره ليکنۍ پښتو (( د يوې پېړۍ دوديزې او نيمې پېړۍ پوهنيزې هلې ځلې پر اباسين لاهو کېږي !

## د )ی ( ډولونه

د کره ليکنۍ پښتو «ی» ګانې شپږ دي: دوی يې )ې، ي ( ځپلواکې يا کنسوننټې دي، دوی يې غبرګغږې يا دېفتانګې )ی، ۍ ( او يوه يې نيمواکه يا سيمي واوېل )ي= ( يا )=ي= ( او شپږمه )ئ ( يې له آره د )ۍ ( تش يو ليکيز ځېل يا ګرافيمي وارينټ دی او د لومړې ډېرګړې کړ )جمع مخاطب ( لپاره راځي او له همدې کبله ورته فعلي زورکيواله )ئ ( وايي. دغه شپږواړه )ياګانې ( له اړوندو بېلګو سره په لاندې ډول ښوول کېږي:

۱ ( اوږده )ي ( ، لکه:

خدای دې ادې له هرې ناوړې پېښې لرې لري.

۲ ( لنډه )ي ( ،لکه:

ښادي، ځپلوي، وداني، وراني، ځښني، ترېګني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ ( نرمه یا زور واله )یay ( ، په بله وینا ، هغه بې ټکو )ی ( چې تر مخه یې زور یا فتحه - )لرګی ( ، الف - )ځای ( ، اوږد و- )څارندوی ( یا لنډ و- )بوی ( وي، نورې بېلګې يې، لکه:
نری، سړی، ځای، خدای، وری، وږی، لوی، ښکارندوی، خوی، بوی.
۴ ( درنه یا زورکیواله )ی، ئ ( ، لکه: نری، کړی، ډوډی، څوکی؛
۵ ( په کړ )فعل ( کې،لکه: ډوډی وخورئ، ښه کوئ، بد مه کوئ.
۲ ( نیمواکه یاسیمي واولي )يy ( ، لکه: یون، یاد ، بیا ، بېدیا ، یو ، یوه ، یور، دویم...

د )هي ( ډولونه
د واوېلي )غیرملفوظه ( او کنسوننټي )ملفوظه ( «ه» توپیرول په کار دي. په دې ډول:
په )دویم ( ډول کې د واوېل )فتحې ( په توګه غورځي او په )نهم ( کې د کنسوننټي )ملفوظه ه ( په توګه پاتې کېږي. د )نهم ( بنسټ )نه- ( دی، مانا داچې ړومبی )ه ( یو کنسوننټ )consonant ( دی او دویمه هغه یو واوېل )vowel ( . )اووه- اووم، پېنځه- پېنځم، یو- یوم... ( هم په همدې لړ کې راځي. د معیاري لیکلارې او لیکدود پر بنسټ، ))دوه (( په ترکیبي شمېرنومونو کې هم واوېلي پایله )ه ( له لاسه ورکوي، لکه:
دولس، دوویشت، دودېرش، دوڅلوېښت، دوپېنځوس، دوشپېته، دواویا ، دواتیا ، دونوي؛
اوښتي یا مغیّره بڼه یې هم هغه پایله له لاسه ورکوي)د دوو (.
په دې لړکې د ))دري (( هغه هم تر ))دریو (())درو ( کره راځي.
نور واوېل پای یا خپلواکپای شمېرنومونه )-ي- ( غواړي، لکه:
دري- دریېم، اویا- اویایم، اتیایم، نوي- نوي یم یا نوییم؛ «څویم» هم تر ورته دوی یا قاعدې لاندې راځي. کنسوننټ پای هغه خو په هر ډول، اړونده پایله )ending ( )- م ( سیده په ځان پسې ننبلوي، لکه:
څلورم، پېنځم، شپږم، اتم، لسم، شلم، دېرشم... سلم، زرم، میلیونم... . پرکنسوننټي یا معدوله )و ( پایته رسېدونکي شمېرې هم په دې لړ کې راځي، لکه:
یوم، سلم، یوسل یوم، دوه سوم، دوه سوه یوم... ، زرم، یوزر یوم، میلیونم، یو میلیون یوم... ؛که )سووم ( او )یووم ( هم وکښل شي، باک نشته، خو د اسانۍ او لنډون له آرونو سره ټکرېږي.
زور- پای او زورکي پای شمېرې هم د دغو واوېلونو تر غورځوني و روسته تر ورته قانون لاندې راځي، لکه:
دوه- دویم، پېنځه- پېنځم، اووه- اووم، نهه- نهم، دوه سوه- دوه سوم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- پښتو د عربي، پارسي، انگرېزي... پرخلاف)پېښ، زېر او مد (نه لري نو د پېښ پرځای)و (، د زېر پرځای)ي (او د )آ (پرځای)ا (ليکل په کاردي:

| پارسي | پښتو |
| --- | --- |
| ُ)پېښ ( | )و ( |
| پل،گمان، گمارل، ارزگان، ارگون، کنر، | پول،گومان،گومارل، |
| کندز، کلتور، ترک، مغل، ترکمن،ترکيه، | ورزگان، اورگون کونړ، |
| ازبک، رمان، ارگان... | کندوز،کولتور،تورک، |
| | مغول، تورکمن، تورکيه، |
| | وزبک،رومان،اورگان... |

همدا ډول تر )لخ، لمړی، کچنی... ()لوخ، لومړی، کوچنی يا کره کوشنی... (کره بلل شوي دي؛ له پارسی‌سره گډ )گل (چې کره پښتو بڼه يې)gwal (ده، له ډېر مهاله پر همدې پارسي ليکدود راپاتې دی، خو )خم - خوم(، )خرما-خورما (، )تخم-توخم(، )ختن-خوتن (او داسې نور له)و (سره ليکل دومره نادوده نه برېښي. مانا دا چې له درو گونو واوپلونو )و-ا-ی (او بيا د بېلابېلو
ی- گانو)ې،ي،ی،ۍ،ئ( د ويي په سر، منځ او پای کې پوره پوره کار واخلو او د وينگ او ليکنگ تر منځ واټن او ورسره ورسره د ټکر)التباس (کچه يو څه راکمه کړو. په خپلو او پرديو وييونو کې)د خدای او رسول له کلام پرته (د بېخرته)ء گانو (زوړ دود نور پرېږدو او )ې،ي (يې ځايناستی کړو، لکه د )وايې، وايي، اروپايي، لايق... (د )وائې، وائي، اروپائي، لائق... (؛ همدا راز د لنډ، اوږده او نيمواک ياسيمي واوپل د ټکر د راکمولو لپاره هم تر وسې وسې پاملرنه په کار ده، لکه: د بود انډول)ؤ (يا د )نرينه ؤ، اړتياؤ (هغه)وو (وکاږو،د بودند هغه )ول(؛ همدا راز، لکه پاس چې يادونه وشوه، د کوزنيو د )) زور و زبر، پېښ او مد (( ليکدود هم بدلول په کاردي، لکه)دُکن، دِموکريسي، خُله، آئين... (پر)دکن، ډېموکراسي، خوله، ايين... (باندې.

| )آ ( | )ا ( |
| --- | --- |
| آسان، آرام، آزاد، آباد... | اسان، ارام، ازاد، اباد... |
| گله، هلمند ،دموکراسی، | گيله، هېلمند ، دېموکراسي، |
| تاجکَستان، انَگلستان، برلن، | تاجيکستان، انگليستان |
| سک، ژورنالست ... | برلين، سبک، ژورناليست... |

همدا راز هېنداره، هېندوانه، څېرمه... هم درواخله. خو ډېر دود، لکه )افغانستان، عربستان، پاکستان... (له)-ي-( سره نادوده بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



)-اه( پای خپل یا له پارسي سره ګډ وییونه، لکه: ساه، ځاه، ګناه، ګیاه، دستګاه، بېګاه، ګازرګاه، خانقاه، تراه، تیراه، پناه، پوپنا... ان له منځني پښتو ادبي پېر راهیسې شاعرانو زیاتره د الف - پای قافیو په توګه کارول کېږي. په کره پښویه کې هم د الف - پای وییونو په توګه ورسره د ښځینه نوم چلند کېږي، د ساري په توګه یې ډېرګړي )ساوې، ځاوې، ګناوې... ( کاږي، په )-ګانې (، لکه )ځاګانې، ګناګانې... کره نه بلل کېږي. په تېرمهال کې یوازې ))ګناه (( یو نیم شاعر د )-ه ( کنسوننټ پر بنسټ نرینه کارولې او ډېرګړی یې ))ګناهونه (( راوړی دی. په دې لړکې )تباه ( له دې سره سره چې همداسې لیکل کېږي، بیاهم د وینګ په لاسوندورسره د ښځینه ستاینوم چلندکېږي او ځیزنومیز بېلنګ )تباهي ( یې، هرګوره ښځینه راځي. تنخواه چې زیاتره تنخا ویل کېږي، نو ډېرګړی یې هم باید ))تنخاوې (( وویل شي او وکښل شي.

## لنډیزونه یا ترخیمونه )Abbreviations(

۱( د دې سپارښت تر څنګه چې د شاعر څرګندنی ژبه باید تر هر څه د مخه کره )معیاري( کېښکلې او پوره پراخه وي، د نړیوال دود له مخې ورته تول تال )وزن و ریتم ( له اړتیا سره سم د ځینو لنډیزونو له کبله دا اجازه هم ورکول کېږي چې یو لړ ژبنۍ او ګرامري سرغړونې وکړي، لکه د غونډو او غونډلو )فقرو او جملو ( مخکې وروسته کول یا د ځینو وییکو )سربلونو او ستربلونو ( غورځول او تر ټولو وروسته یو لړ ویونو له لنډیزونو )ترخیمونو ( هم کار واخلي. مګر تر یوې دودیزې کچې او هغه دا چې له پخوا څخه مخینه او یاهم ګړدودې لاسوند ولري او تر ده وروسته د منلو او سهلو جوګه کېدای شي.

په پښتو شعر کې دغه راز لنډیزونه له همغه کلاسیک پېر راهیسې چې دیوانې دود رامنځته شوی دی، دود لري او ځینې لا تر ننه د یو او بل له خوا لړاو ډېر د دودېدو په بهیر کې دی. د نوې رغاونې )نیولوګېزم ( یوه په زړه پورې برخه هم په شاعرانو اړه لري.

۲- په لنډیزونو کې زیاتره له ګړنې )محاورې ( او وګړنې )عامیانه ( ژبې او بسیا بېلابېلو ګړدودو )لهجو ( څخه ګټه اخېستل کېږي. پښتنو شاعرانو ته دا امتیاز هم په برخه دی چې یو لړ وییونه د بېلابېلو ګړدودو له مخې کله دوه ځېیز وکاروي لکه: زما، زموږ، دربغ، غربو، وربځ، پسه، پسې، ارت، اوږد، بوخت، ږمنځ، یوه، وبل... او یا ځینې دوه ځېیز وییونه درې ځېیز وکاروي، لکه: پسرلی، ښایسته، تروږمی، غولول، نښلول...

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښوریان او را بر شینواري او ښايي ځیني نور تېرونه د ډېرى پښتنو درې ځپیز ناپای )مصدرونه( او بیا یې گرداني ښې دوه ځپیزوي ، لکه: ځورول، کړول، زېږول...، مانا دا چې په شعر کې ترې گټه اخېستل کېدای شي.

۳- کله دا اړتیا هم لیدل کېږي چې یو ځپیز او دوه ځپیز درې ځپیز وکارول شي، په دې آړ )شرط( چې کوم گړدودي یا گړنی لاسوند ولري، لکه ستا ، )دتا ، ستاسې، دتاسې...

۴- همدارنگه پور وییونه )دخیل لغات( کله په آر وینگ او کله په پښتو شوې )سفغن( وینگ وکاروي، لکه یو ځپیز درې کنسوننټه عربي وییونه: شکر، فکر، صبر، قبر، جبر، قهر، قصر، قدر، فخر، فتح، فقر، فضل، فصل، ذکر، شرم، سهم، نظم، منع، طمع، شمع، ذهن، علم، شعر، نثر، نحو، سهو، دلو... چې له آره یو ځپیز دي، خو له پښتو وینگ سره سم دوه ځپیز کارول کېږي، دا او یو لړ ورته پارسي ویونه )مهر، شهر، زهر، مرو، خشم، لشم، رزم، بزم، جشن،...( په آر وینگ یوازې هله کاربدنه مومي چې معطوف الیه راشي)زهرو مرگ، رزم و بزم، شعرو ادب...( ، ځانته ځانته، لکه:

)نه چې هر )شهر( ډیلی شي یا لاهور(. خوشال وایي:
تر عسلو به ښه وي هغه ) زهر(

پر دې سربېره د تولیزې اړتیا په وخت کې یو ځپیز ه م دود لري. دوه ځپیز او درې ځپیز پورویيونه بیا په سرچپه ډول پښتانه یوه یوه ځپه لنډ کاروي او کلا سیکو سترو ویناوالو هم زیاتره همداسې کارولي دي، لکه: سلیمان، سیاست، اختیار، اعتیاد، اعتبار، )ابار(، بیابان، نیاز، پیاز، سوال و ځواب...

۵- یو لړ اروپايي پورویيونه چې د کلستر )ابتدا پر ساکن( له کبله پې فارسي ژبې او عربي ژبې یوه یوه ځپه زیات وي. پښتانه رسنوال او ناظمان بیا هم له دواړو غوراویو څخه کار اخیستلای شي. خو بیا هم تر دې کچې نه چې له پښتو وینگه کورټ تېرى وشي، لکه ستراتېژي )استراتېژي(، ستېشن )استېشن(، پروژه یا ورکشاپ چې پارسي ژبې یې د )و( او )ر( په خوځندي )حرکت( سره درې ځپیز کاروي؛ پلان یاخپل یوځپیز دا )ږدم- اېږدم، ږدو- اېږدو، ږدي- اېږدي... ( دوه ځپیزول له یوې- کره پښتو سره اړخ نه لگوي.

۶- ببلابېل گړدودي او څه ناڅه وگړني )عامیانه( وارینتونه هم کېدای شي، له پښتو شاعر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته وکړي لکه لور، لورى )طرف( چې هم يې يو او دوه څېيز کارولای شي او هم نرينه او ښځينه )څخه( پر )څه( او هم پر )نه( او )ځني( يا ګرد سره ).( بدلېدای شي. مګر )پښه( دوه څېيزول، يا په مرستيال، پښېمان، انښته يا انغښتل درې څېيزول کوم ګړودي او ګړنی لاسوند نه لري. د کره پښتو او ستربل )باندې( ګړودي وارينت )ن( هم د شاعر لپاره جواز درلودای شي.

۷- د )مټ( او )ډز( غوندې وييونو نرينه او ښځينه کارول، جمع کول او مغيره کول هم همداسې درواخله.

۸- د ناکره يا وګړني )عاميانه( پښتو يو لړ لنډيزونه چې په ختيزو ګړودو کې زيات دود دي، په نوموال پېر )اسمي حالت( اړه لري او هغه دا چې د نومونو اوښتي )مغيره( بڼه په پام کې نه نيول کېږي، شعري ژبه کله کله پيکه کوي، نو پکار دی تر وسې وسې ترې ډډه وشي، لکه: په )رنګينو( دوکه شوم )اجمل خټک، د غيرت چغه ۹ مخ(، په تاو به دې مرغټې وي )چرګوټيه( ستا په سر نه وي )هماغه اثر ۴۳ مخ(. دا ځکه بې سوي زړه )پولو( کې ځايوم )هماغه اثر ۵۹ مخ(؛ د شمالختيزې پښتو ))پشدی پيوند(( هم لږ و ډېر د تول برابرۍ په پار ورته پښوييز سرغړاوي ته اړ وځي او د ښلګې په توګه))پيو ((پر))پو ((اړوي او داسې نور.

۹- يو شمېر اوستربلونه، لکه )باندې(، )سره(، )پورې(، )څخه( غورځېدای شي مګر سربلونه لکه: د، له، تر، پر، په، غورځول شعري ژبه ناکره کوي.

۱۰- ځيني پښتو ښځينه نومونه چې له مهال تېرېدني سره يې په ټوليز )عام( يا ګړودي ډول لنډون دود لري، کېدای شي، د سپما يا نه سپما له پلوه لږ څېيز او ډېر څېيز وکارول شي، لکه لار )لاره( يا ليار )لياره(، لوېشت )لوېشته(، ځنګل )ځنګله(، مټ )مټه(، منګول )منګوله(، لېچ )لېچه(، خپړ )خپړه(، مېرمن )مېرمنه(، بڼ )بڼه(، لمن )لمنه(، ستن )ستنه(، بړستن )بړستنه(، درغن )درغنه(، خبر )خبره(...

۱۱- يو لړ پښتو وييونه له آره لنډ او اوږده هم مانيز )مترادف( وارينتونه لري، چې له اړتيا سره سم له دې يا هغه کار اخيستل کېږي لکه: يو له بله، يو له بل )وبله، ځيله(، پرېمينځل- مينځل، پرېبولل- يا ولل، موسېدل، موسل، موسکی کېدل- موسکا کول يا خندل، کړي- کوي، کې- کا، کاندې- کاني، خندېدل، خندا کول، پاځل، نځېدل- نځل، سول- سوځېدل، سېځل يا پاتېدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې کېدل، سترېدل- سترې کېدل، خوشبدل- خوشيول- خوشې کېدل- خوشې کول... . په وردګي ګړدود کې د دغو وروستيو ببلګو په لړ کې يوځېيز کړې وييکې)سره، کره( او داسې نورـ← لنډېزونه بيا تر پښويېوهانو )ګرامرېستانو ( نه، د شاعرانو لپاره هم په زړه پورې دي. د کندهاري څه)څخه ( پرځای))نه ( ( ، زور)فتحه ( يا ګرسره صفر هم د ټکر)التباس ( مخه نيسي او هم شعري اړتيا ښه ترا پرځای کولای شي.
يا انګينومونه)صوتي نومونه ( لکه درز، درزی، درزا ، درهار.

۱۲- د وزن يا قافيې د اړتيا له مخې له ببلابېلو ګړدودي وارينتو څخه همزمان)په يو شعر کې ( کار اخېستل ژبنۍ ګډوډي رامنځته کوي، لکه د لغمان خوا ته)ما وويلې ( د )ما وويل(، )ما ولمبلې ( د )ما ولمبل ( پر ځای يا د )کېناستل ( پر ځای )کېناستېدل ( يا په ځينو نورو ګړدودو کې د کېنوستل، کېنستل يا کښېنستېدل... په ښه او يا د کندهار خوا ته غزلې، ولې، کلې... سره قافيه کول، لکه د استاد عبدالهادي داوي په يوه غزل کې چې هماغه سرو پای يې پرياد راپاتې دي:

که يو ځل زموږ پر کلي واړوې
د غم بار به مې له ولي واړوې
... د غزلي واړوې

)ښکلي شعرونه: دولتي چاپخونه ۱۳۴۰(.
هسې خو، په سراسري توګه، غزل هم له هغو)پور ( وييونو څخه دی چې هم نرينه)غزل- غزلونه ( رادود شوی او هم ښځينه)غزله-غزلې ( !

۱۳- همدارنګه ځيني وييونه په ببلابېلو پښتو ګړدودو کې څو ډوله ډېرګړي )جمع ( کېږي او په دې توګه شاعر ته ببلابېلې امرنې)انتخابونه ( په لاس ورکوي، لکه په لاندې ليکلړکې:

| | |
|---|---|
| يوګړی)مفرد ( | ډېرګړی)جمع ( |
| غوبی)غوايي ( | غوبي، غوبيان)غوايي ( |
| خوربی | خوربي، خوربيونه، خوربيان |
| ويی)لغت ( | ويی، وييونه |
| پلار | پلرونه، پلاران |
| ټوپک)د پ په زور ( | ټوپک د )پ په زورکې ( ، ټوپکونه |
| ګل | ګل، ګلونه، ګلان |
| زانګو | زانګووې، زانګوګانې)ناکره ( |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر شونډان، لښتيان، مورگانې، موراني او داسې نورې گړدودي بڼې له ژبني او شعري معياره لرې دي.

۱۴- دا دی، په دغه وروسته ليکلړ )ليست ( کې د توليزې اړتيا په موخه د ځينو دودو لنډيزونو يو لړ بېلگې په جوته )برجسته ( توگه وړاندې کېږي:

| لنډيز | آره بڼه |
|---|---|
| چر | چار)خوشال يو نيم ځای کارولی ( |
| آ، ها | هغه |
| ته وا )توا ( | ته به وايې، تبا)ناکره ( |
| تم: | ته هم |
| زم | زه هم |
| تاتم | تاته هم |
| دلتم | دلته هم |
| هلتم | هلته هم |
| مام | ماهم: )مام په پاکه مينه ستا صنم لمنه ونيوه  سارا بياباني ( |
| م | مو: )ستا په پېښو م دې خدای ککړ نه کا:ز. ( |
| م | يم)ښکلو سترگو دې خوړليم: مظهري ( |
| ويمه | وايمه)ويمه اور شوای: اجمل خټک ( |
| وې)وېل ( | ويل، ) خلکو وې: پيوند ( |
| وې)ناکره ( | وايې )ته به وې له گلونو نه سا خېژي:نويد ( |
| که خېري، که خيرې | که خېر وي )اجمل ( |
| مال، ماول، مايل | ما ويل |
| لږ | لږه)لږ شنه شه نجلۍ: لايق، کندهاری گړدود ( |
| غه | هغه)غه اوره چې د کرم اوبه يې نه وي- |

غه اوره مه کړې پر مخ د دې اسمان گډ ، احمد شاه بابا ړ وييزبرمه۱۱ (

پسلغ، پسلغه: پس له هغه) پسې، ورپسې، بيا (

يو خوا )له يوې خوا (، بلخوا ) بله خوا ، له بلې خوا (:

... اباسين دی منځگړی، هندکيان يو خوا افغان بلخوا )خيال (

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هر خوا   له هرې خوا) بیا یې کش پر ځان له هر خوا چلیپا کړه: زیار (
پو:   پیو) بچی د مور په پوکي وریتېږي ولې: پیوند (
تي   ته یې) مخې تې درومي د سرحد واړه فوجونه:اکبرخادم (.
ثنگ، ثنگه، ثرنگه، ثه رنگ )خو د کرلانیو ))ثرګې ( ( نه شي دود بدای (
زه ی   زه یې
به ی   به یې) ته راکوه زه به ی گوټم په مزه:اجمل ختک (
نی، نه ی   نه وي)چرته تاوده وینه به نه ی/ نه وي/ چې واورې/یی/ -چرته کې سره وینه به نه ی/نه وي/ چې واورې/ یې/: هماغه(.

داسمه ده چې د نورو لنډیزو نو په ځېر دغه لنډیز نورو پخوانیو او اوسنیو هم کارولی، خو دومره پرله پسې، په یوه شعرکې نه، لکه واخلې پر۱۸۳۷ز. کال د سپیني ادې په یوه ښکلي کنبلي شعر کې:
... سرونه )یې ( غوځ کړه د دښمن په توره – مور یې کړه پر غلیمانو بوره... )رنا ځلو رمه گنه(.
خپسر - پخپل سر یا خپل سر: د جمال په ځېر به و سبځي پرې خپسر )حمید (
پرې !   پرېږده، پرېږدئ: پرې سر سرتوره ویر ژړلې مور دې)زیار (
دربم   دربیم
پرېستی   پرې ایستی
پرېښی پرې اېښی
پرېښوم   پرېښووم: ته یوازې له ما ولاړې او غمو ته دې پرېښووم:ز (
راخلي، راخېستی...   رااخلي، رااخېستی...)اخم، الم... ناکره دي (
راړوي، راړولی...   رااړوي، رااړولی...او د داسې نورو الفونو مدغمول.
که   کړه: وما پردبس ته ځان راښکاره که)حبیبي ( ، هرګوره، د دغه کړ بنسټ))کو-ل ( ( دی چې د )کړ-ل، کل-ل، کاند-ل، کاڼ-ل ( سره هممانیزونه رغوي او هر لیکوال او بیا شاعر کولای شي، د لیکلاریزې او سبکي رنګارنګۍ په موخه له دغې رنګارنګۍ کار واخلي.
پښتون)د پ په فشار ( پښتون مسلمان، پښتون مسلمان)خادم (
توبه   د )ت په فشار ( یاره توبه توبه
نامراد دوه ځپیز:   همه واړه هسې پاتې شول نامراد )رحمان (

۱۵- همدارنګه تولیزې )وزنې ( تشې په ځینو ښځایو زیاتونو ډکول ژبنی او شعري معیار زیانمنوي، لکه د پېښوریو په پېښو: پکې ځاله د زمریانو ده – دلته)کې ( زمریان اوسي)عبدالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقری (.
"زه " لکه ازاد)ه ( مرغه)خاموش ( ؛
بې له مامرې، بې له تامرم
سره )پوهه ( یو زړګیه
په خندا مرې، په خندا مرو)لایق، لایق زاده (....

څلارې د )څلور لارې ( ، پېنځکلن د )پېنځه کلن ( ، اووکلن د )اووه کلن ( ،
اتکلن د )اته کلن (... پرځای د وییرغاونې له آر سره سم رالنډ کړشوې او ځایناستې شوې دي.

هرګوره، )زما (او )زمونږ ( یوڅپیز او دوه او څپیز کارول او بیا )مونږه ( او )زمونږه ( دوه څپیزول او
درې څپیزول بیا هم لږو ډېر دود لرې. )پسرلی ( دوه او درې څپیز دود لرې او)سپرلی ( لاهم
همداراز په منځنۍ پښتو کې د))یو (( اوښتې او ښځینه بڼې یو څپیزې)یوه،یوۀ، یوې ( ویل
کېږې، لکه د علیخېل لایق په دې دې بېلګه کې:
... هلته د وچ ډاګ پر لمنه باندې
د منې باد ته)یوه ( کېږدۍ رپېږې
په دې کېږدۍ کې)یوه ( رنځوره ښځه
اوربلوې او له دردو ژړېږي...) -۲ځ. تمثیل ( ؛
او په دې ډول ترې د نورو سیمو ویناوال هم ګټه اخېستای شي "ستا "، "دستا " دوه څپیزول کوم
ګړدودې لاسوند نه لرې، نو باید ، لکه له مخه چې وویل شول، د "دتا " او یا هم د "دا ستا " په بڼه
وکارول شي. د وییونو بېځایه تکرار لکه د محبوب سنګر په یو لړ ازادو او نیم ازادو شعرونو
کې له همداسې وزن ډکونو څخه شمېرل کېږي او شعري ښېخوندي رامنځته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وییپانگه (واژه نامه)

| | |
|---|---|
| ارمانل | حسرت خوردن |
| استازگر | رسالتمند |
| استازي | نماینده گی، رسالت، سفارت |
| ارتبیلځی | زباله دان |
| اسکېرلی | مستضعف |
| اسمانڅک | اسمانخواش، سر به فلک شده |
| اسمانلار | کهکشان |
| ارت و بیرت | بسیار وسیع یا گسترده |
| آر(ه) | اصل، اصیل، پرنسب |
| آړ | مانع، سد ، شرط |
| اسان خوښی | استراحت طلب |
| ارام خوښی | راحت طلب |
| ارامځای | آرامگاه، مقبره |
| ازمون بټۍ | کورهٔ آزمایش |
| انځور | تصویر، تابلو |
| انځوریز | مصویر، تصویری، منقش |
| انځورگر | مصور، نقاش، نگاره گر |
| اوتي بوتي | چرند پرند ،چرندیات |
| الواک | نظر، تیوری |
| الوی | بریان، واسوخت |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| اوس اوس، په دې ورو ستيو کې | درين تازه گی-آواخر،آخراً |
| اړنگ | شک،ترديد |
| اړنگ بړنگ | شک و ترديد |
| اړنگلاندې، اړنگمن | مشکوک، تحت اشتباه |
| اکر | وضع، حالت |
| اکربکر | حال احوال |
| اکر وکر | وضع هويت |
| انکړ | حالت و وضع)بد انکړ( |
| اړين | ضروري، حتمي |
| انگی، انگازه | پژواک، انعکاس صدا |
| اړ | صرف، دريغ |
| اننگوړی | انارک، رخسارگک |
| اند | فکر، انديشه |
| اند و ژوند | انديشه و زنده گی |
| اند و واند | انديشه و خيال |
| اند پوهه | ايديولوژی |
| انددود ، اند توگه | طرز فکر |
| انډوخر | خرمستي |
| انډی | قورمه |
| اورپکی | اشرار |
| اوړون ټکی | نقطه عطف |
| اور اورکی | کرم شبتاب |
| اورشيند )غر( | )کوه (آتشفشان |
| اورتون | آتشکده |
| اورپښتی | آتشپرست |
| اورين، اورنی | آتشين |
| اورلوبه | آتشبازی |
| اورپکی، اورگډی | اشرار |
| اړه تړه | بندوبست؛ زدوبند |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| اغېز، اغېزه | اثر، تاثیر |
| اغېزمننه | اثرپذیری |
| اغېزښندنه | اثرگذاری |
| اوکوب | شکوه |
| اووی)ژمنه( | قول، وعده، تعهد ، تضمین |
| اویجه | سرزمین، قلمرو |
| اوښان)اوښکن( | آشک آور |
| ارمانژلی | ارمان زده |
| اوږدمهالی | طویل مدت |
| )ا ( وسمهال، نن سبا | امروزه، دراین روزها ؛ ماضی |
| )ا (وسمهالی | معاصر |
| بادوره | باد کویه |
| --- | یقیني، اعتمادی |
| باوري | قابل اعتماد |
| باورور | رأی اعتماد |
| باوررایه)-ې( | اعتماد نامه |
| باورلیک | |
| بد ورد یا بدورگ)-ی( | بدمنش، بد طینت |
| بد اندی | بد اندیش |
| بدلگی | ناپسند ، نامطبوع |
| بدگڼه | زشتی، ناسزا |
| بدوین)-ی( | بدبین |
| بدونگی، بد رنگ | بدقواره، زشت رو |
| بسېدل | کفایت کردن، بسنده کردن |
| بډ ،گوَر | حریف، ضد ، مخالف |
| برخلیک | سرنوشت |
| برخلیک ساز)-ی( | سرنوشت ساز |
| بې برخلیکه | بی سرنوشت |
| بې برخلیکي | بی سرنوشتی |
| بې سروبوله | بی سروپا ، نادرست |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| بې سروبې سرواښي | بی بندوبار |
| بول، اووی،ژبه، ژمنه | قول، عهد |
| بریا)بریاوي ( | دست آورد)ناکره:لاسته راوړنه ( |
| برېښلیک)برېښنالیک ( | ایمېل |
| برېښلیکول | ایمېلول |
| بولـله | قصیده، حماسه |
| بلوسل | غصب، تجاوز کردن |
| بلوساک، بلوس، بلوسه | غصب، تجاوز |
| بلوسگر | غاصب، متجاوز، تجاوزگر |
| برلاسی | تفوق، هژمونی |
| بری چار | فاتح، غاصب، پیروز |
| بشرواله | بشر دوستی، هیومانیزم |
| بېړنی | فوری، عاجل |
| بېړنی اکر | حالت اضطراری، ایمرجنسی |
| بېړندوی، تلواري | عجله کننده،شتابان |
| بې سوله | نامعقول، غیر منطقی |
| برمیال، پرمن | پر شکوه، شکوهمند |
| بې نیاو، بې لوره | بی رحم، بی انصاف، غیر عادلانه |
| باکه | حدس، ویار |
| بو خل | سنگ باره،دیوارسنگی |
| بورجل | اقامتگاه؛کمینگاه؛سنگر |
| بلېنده،شونتې | مشعل چراغ چوب |
| بلونج | بدیل، الترناتیف |
| بوږن | تکان، دلهره، دهشت |
| بوږنوړی | -دهنده،دهشتناک،دهشت انگیز |
| بوږنېدل)-ول ( | تکان خوردن)-دادن، برآنگیختن ( |
| بدلمېچ | میزان الشعر، عروض |
| بهیر | کاروان، جریان؛ روند،پروسه |
| بې کچه)بېکچه ( | بی اندازه، بی حده، نامحدود |
| بلهاري، بلهاری | فدا ، قربان)-ی ( |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| بلهاري | قربانی |
| بويه)خوړل بويه( | باید ، بایست |
| بنجره | شگوفه |
| بنجر، بنچر | ژولیده، پژمرده |
| بَخوَله)په دويم خج( | فاجعه، تراژیدی |
| بدوين)-ی( | بدبین |
| بېواک اوخپلواک | واکه و همخوان، واول و کنسوننت |
| بېواکوړی | ابتدا به ساکن،کلستر |
| برېکۍ)برېبوکۍ،بوربوړکۍ( | گردباد |
| بيا بيا ، په بياځلي ډول | باربار، مکرراً |
| بې ټيکاوه | غیرثابت،متزلزل؛بحرانی |

---

| | |
|---|---|
| پاتمړي | میراث |
| پاتوړی | وارث |
| پانگواکي | امپریالیزم، سرمایه سالاری |
| پاڅون | رستاخیز، قیام |
| پارو پاميزاد)يوناني( | بلند تر از پرواز عقاب)افغان زمین( |
| پلور | ارزش، فروش |
| پسولل،رازل | آراستن)به زیور...( |
| پخشو | خلاص،فارغ، رها ،آزاد |
| پتليز)-ول( | پیوست، پیوند )کردن( |
| پار)د مينې په پار( | خاطر، پاس)به خاطر-به پاس عشق( |
| پاټکی)سرخج( | قطعه، شعر |
| پاټکيوال | شاعر |
| پاړکی | طبقه)اجتماعی( |
| پاړکيز)پاټکيز( | طبقاتی |
| پاسللی | ممون، سپاسگزار |
| پاسلونی | منت گذار |
| پاسلل)زباډول( | منت گذاشتن |
| پاسلنه | منت گذاری |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| پاسوال | پاسدار، نگهبان |
| پامور | درخورتوجه،قابل ملاحظه |
| پايتکی | نقطۀ پایان)-ی( |
| پايبڼه | شکل نهایی، فاینال |
| پايخج | فشار پایانی |
| پايله | نتیجه |
| پيلخج،سرخج | فشارآغازی |
| پيلامه | علامه، علامت)سمبول(،نقطۀآغاز |
| پايلوبه | بازی)مسابقه( نهایی |
| پوړ | قشر)ساختمانی، اجتماعی( |
| پښوبه | دستور زبان، گرامر |
| پښوييز | دستوری،گرامری |
| پْښبله)ابتدا به ساکن( | قافیه |
| پښبليز،قافیوال | قافیی، قافیوی |
| پېروپلور | خریدوفروش |
| په تېرکي | سهواً؛ درگذشته |
| په پښتوغږېږم | با پشتوگپ میزنم |
| پرپښتوليکل کړم | دربارۀ پشتومینویسم |
| پرغز | غضب |
| پازوال | موظف، مسوول |
| پتږ،پاڼ،گړنگ | کره کوه، پرتگاه |
| پرنډي ويني | خون لخته |
| پاڼريژ | برگ ریزان |
| پتليز)جوخت( | پیوست |
| پربڼه | سنگلاخ |
| پرخ | شبنم |
| پڅي | بدن، وجود، جسم |
| پڅني | بدنی، جسمی |
| پنځ | طبیعت |
| پنځول، هستول | آفریدن، ایجاد کردن |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| پنځونه (هستونه) | آفرینش، تخلیق،ایجاد (هنر) |
| پنډغالي | جاری اجتماع، کمپ |
| پنډوپېړ | لُک و پهن،زیاد ضخیم |
| | |
| پورژنی (سلی) | مسافر، تبعید شده |
| پېر | دور، دوران، گردش (زمان)، حالت |
| پېرزوینه | رواداری، همدردی، مهربانی |
| پېیل | سفتن؛ سرودن (شعر) |
| پېیلی | سفته؛ سروده شده؛ منظوم |
| پیلوړ | پرورش |
| پانگ ونه | سرمایه گذاری |
| پرتله | مقایسه |
| پرتلیز | مقایسی، نسبی |
| پرله پېیلی | منظم، مرتب |
| پرله پسې،پرلپسې | پی یکدیگر؛ پیهم، پیوسته |
| پرله غښتی | منسجم، سستماتي |
| پرښتل،پښتل | پرستش کول |
| پرهرژلی | مجروح |
| پوهاوی،وبله پوهاوی | تفاهم،افهام وتفهیم،مفاهمه |
| په ټوله کې، په لویه کې،په ټولیزډول | عمومی،عموماً،عمدتاً (له لویه |
| په سر(سر )کې،ترټولو مخکې | سره) |
| په ناسوبتیا کې | ازهمه نخست،پیش ازهمه |
| په لوی لاس | غیاباً،غاییانه |
| --- | ارادی، قصدی،قصداً |
| تلپاتې | جاویدانی، ابدی |
| تلیادی،یادژوندی | زنده یاد |
| تل بهاندې | همیشه جاری |
| تل ژوندی | زنده جاویدان |
| تلسمسور | همیشه بهار، همیشه شگوفان |
| تل ښېرازی | همیشه بهار، همیشه سرسبز |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| تلغاک | شوروشر؛ بادوباران |
| تاړاک، یلغاک | شبخون، تاراج |
| ترله)تربوره ( | اودرزاده)مؤنث ( |
| تاندلیان | جوانمرگ |
| توښې،تودنې | بخاری |
| تبځ | تخته سنگ |
| تره | بدن، وجود |
| ترِه | لاش کوه؛ پیمان... |
| تړونی | آله بستن، |
| تلاوه | جفا |
| تلوَله | وارخطایی، دست پاچگی،تشویش |
| تلوَلی)پایخج ( | وارخطا ،دست و پاچه، پریشان |
| تلوَلی)۳خج ( | بریان) شده (، کباب)شده ( |
| تندي لیک،برخلیک | سرنوشت |
| تندغری | تړی، جلوهلی |
| توندوتېز | تندوتیز؛ دیم و ڤل |
| توزنه هیله | تمع بیجا |
| توسن | سبب |
| تنا | رعد |
| تمبزی)تمبزي ( | سوراخ بینی)مناخیر ( |
| توک)توکونه ( | عنصر، ماده |
| توکی)توکي ( | عنصر،ماده |
| توند | تند |
| توخم | تخم |
| توکم)لکه توخم ( | نسل، نژاد |
| تیندک | سکندری، خرام |
| تورتم رونې | ساهی شکن |
| ترخ | درز، ضمن |
| توره دربله | سیه و تار، چرک و سیاه |
| ترخ | بغل)کوه ( |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| تړه، تړون | پیمان ،قرارداد |
| تړونوال | قراردادی،متعاقد |
| تل | ته، ریخته |
| تور برېښ | تهدیه با سلاح |
| تس نس | حیف میل؛ درهم وبرهم |
| تشتور | یکسره خالی |
| تشپانی | غیرمسلح،خلع سلاح |
| توغ)له توغه وتل ( | توان)ازعهده برآمدن ( |
| تَوغه،ناغه،گناهگاره،گرمانه | کفاره،جرمانه، جبران خساره |
| توغَه | انجیر |

---

| | |
|---|---|
| ټکر | تصادم؛ التباس؛ توارد)درشعر ( |
| ټکرخور | متصادم |
| ټکرویی | واژۀ تصادفی |
| ټوک | جزء |
| ټیټال | پستي، دنائت |
| ټول، غونډ | کل، همه |
| ټولیز | عامه، عمومی، همگانی |
| )ټولیزې ( رسنۍ | رسانه ها)-ی همگانی (،)ماس ( میدیا |
| ټولنواله | سوسیالیزم، جامعه گرایی |
| ټولنوده | رشد جامعه، رشد اجتماعی |
| ټولنپوهنه | جامعه شناسی، اجتماعیات |
| ټولنوټیز | اجتماعی-اقتصادی،سوشل اکانومیک |
| ټوژله،ټولوژنه | کشتار دستجمعی،جنوساید |
| ټولځ | مجمع، کمپلکس)ساختمانی... ( |
| ټیکاو | ثبات؛پایداری |
| ټاټوبی | زادگاه؛سرزمین؛ میهن |

---

| | |
|---|---|
| جاج)-اخېستل ( | فکر، مفهوم، برداشت)کردن ( |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| جره | کشيده گی، کشمکش |
| جاروانته | برگشت |
| جاروتل | برگشتن |
| جالپانه،اوبپانه،گورتپانه | وبسايت |
| جړاو | مرصع |
| جنگ جگړه | مبارزه جنگ و جدل |
| جنگيال)-ی( | مبارز، رزمجو، سلحشور، جنگجو |
| جوت | آشکار، ثابت، مسلم، بديهی |
| جړوبی)ځړوبی( | آبشار |
| جوله | شکل، فورم |
| جوليز | شکلی، لفظی |
| جلا وطن)-ی(، جلاهېوادی | تبعيد ، تبعيد شده، دور از وطن |

---

| | |
|---|---|
| چار | کار،فعاليت؛ مهم |
| چاره)۱خج( | کار |
| چاروال،کارندوی | فعال،کارا |
| چاره)پايخج( | چاره،علاج |
| چارواک)-ی( | مقام،صاحب مقام)دولتی،رسمی( |
| چاپگر | چاپگر، پرېنتر)کمپيوتر( |
| چاپېريالي | محيطی، environmental |
| چاپېرياليپوهنه | محيط شناسیecology |
| چاپ،چاپي | چاپی،مطبوع |
| چاپخونه | چاپخانه،مطبعه |
| چاڼځی | تصفيه خانه، پالش |
| چورلکه | هيليکوپتر، طيارۀ چرخکی |
| چورلک | چرخش، سکندری |
| چورليځ،لمانځی)۲خج( | محور |
| چړاو ،تولوژله،تولوژنه | قتل عام،کشتارعام، مساکر |
| چلبنت پيسه | کرنسی،پول رايج |
| چلندلار،چلندبېلگه | طرزعمل، procedure |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| چارناچار | مجبوراً، ناگزیر |
| چمگاډی | ترموای |

---

| | |
|---|---|
| ځاځ | خشم، قهر، غصه |
| ځاځل | به خشم آمدن، قهرکردن |
| ځاځوړی، قهروړی | قهرآلود ، خشمگین |
| ځمکلاندې | زیرزمین، زیرزمینی، اندر گروند |
| ځمکواکي | زمین سالاری، فیودالیزم |
| ځمبل(بانه رپول ) | پلک زدن، مژه بهم زدن |
| ځېل | نوع، ژانر |
| ځواکلېږد | انتقال قدرت |
| ځواک | نیرو ، طاقت، قدرت |
| ځلوب | سراب |
| ځواکمن | نیرومند ، مقتدر ، پرقدرت |
| ځواکمنېدل(-ول ) | نیرومند شدن(-کردن ) |
| ځواکمني | نیرومندی |

---

| | |
|---|---|
| څانگ(څانگونه ) | بال، شهبال |
| څانگغوڅ | با پروبالِ شکسته،دل افگار |
| څانگ وسرغوڅ | باپروبال وسرشکسته |
| څېچپاند | نوساني، غیرثابت؛متردد |
| څرخوبی،گوړبهی | گرداب، چرخاب |
| څورنگ | دلریش، پریشان |
| څڅی، تره | ناوه |
| څڅواکی | قطره گک |
| څڅوب، څڅوبی | چکک، تراوش، چکیده |
| څپان | توفان آب |
| څلاري(څلورلاري ) | چهارراه، چارراهی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| څمغېلي)بېپېخوله کېږدۍ( | غژدی، بدون در پرده |
| څنډ | افق |
| څپونی | دستمال، دست پاک |
| څپه | موج؛ هجأ، سیلاب |
| څو څپیز | چند هجائی |
| څلوریځ | رباعی، مربع)شعر( |
| څلوریزه | چهاربیتی، چهار پاره؛ قطعه |
| څوَب | شوق |

---

| | |
|---|---|
| خاچونی )چونی( | بلبل، عندلیب |
| خونړی | خونین، خونآلود؛ خونخوار |
| خوځون،خوځښت | حرکت، تحرک، تکانه |
| خوګلن | گلخن، خریج آتش |
| خول ماخول | زده و زخمی |
| خوال | خالیگاه، بیخ کوه، سچ کناره رود بار |
| خول | تاج، خود، کلاه آهنی، پوچک مرمی |
| خواخوږي | همدردی،همدلی |
| خوږبویه | خوشبو |
| خوږبويي | خوشبویی |
| خوږغاړی | خوشخوان، خوش صدا |
| خونل، لونل، ښندل | نثار کردن،آفشاندن)گل(؛اثرکردن |
| خولنګ | فریاد |
| خاورپوهنه | خاکشناسی |

---

| | |
|---|---|
| دښمن، دښنه، میرخی | دشمن، خصم |
| دک | علت |
| دروږ،بلهار | قربانی |
| دوبیزه | مثنوی |
| دربیزه | مثلث)شعر( |
| دوه څپیز | دوهجایی، دوسیلابه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| دوه ګرایه،دوه هومره | دوچند |
| درسته | سلاح |
| درستوال | مسلح |
| درغل | سر درگم، فریبکار |
| درغلي | فریبکار؛ جعلکار، جعلی |
| درګه | نیستان، نیزار |
| درنګه | لاش، نعش، جسد |
| درنګمخور | لاشخور |
| - - - | |
| ډبروژله | سنگسار |
| ډمګۍ | مشاطه، آرایشگر |
| ډورۍ، ګورنډه | دخمه |
| ډنډګلی | نیلوفر |
| ډلیز | گروهی، دستجمعی، جمعی |
| ډیل )تال( | معطلی |
| - - - | |
| ربړه | معظله، پرابلم، شمالک |
| رازل، ښکلل، سینګارول | آراستن، پیراستن،اذین بستن |
| راشی)پایخج(، ریز | برف کوچ |
| رانغښتل)رانغاړل( | پیچاندن،دربرگرفتن، در...نهفتن |
| رزمنه وال | روزی رسان |
| رپی | پرچم، بیرغ |
| رپاند | در اهتزاز)پرچم...( |
| رسنۍ | رسانه ها |
| رسنوال | ژورنالست |
| رسنیز | رسانه یی،ژورنالستیک |
| رغځی | راغ، سنگزار |
| رغاونه،رغونه | ساختار |
| روغه وال | صلحجو، صلح خواه |
| رڼوب | زلال |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ريز | برف کوچ |
| رېږدله | زمین لرزه، زلزله |
| رخه سخه | حسد و عناد |
| رغښت-رغاونه | سرنوشت، ساختار |
| ربغړ | اولاد بی نوا و یا بی سرپرست |
| ربغوني | |
| رنگين ټال،بوډۍ ټال | رنگین کمان،کمان رستم،قوس قزح |
| ريشي، ستانه | روحانی |
| )بيا ( رغاونه | ساختار،بازسازی |
| رغنده | سازنده،تعمیری |
| رغاوه | صنعت |
| رېړوکی | زار و زبون |
| رېړ | زحمت،محنت |
| رېړيالی، زيارکښ | زحمتکش،کوشا)ن ( |
| رېړه | مشکله،معضله،پرابلم |
| رېنه | باد خفیف،نسیم |
| رېږ )رېږ ( | جاروب، برس دندان، کفش... |
| رښته)رښتې ( | حق)حقوق ( |
| رښتيا)رښتياوې ( | راست،راستی،واقعیت)واقعیتها ( |
| رښتيا ينه | تحقق |
| )په ( رښتيا-رښتينه | واقعاً |
| - - - | |
| زغر | زره، جوشن |
| زغرور، زغروال | زره دار |
| زغرپالی | زره پوش |
| زغرگاډی | موتر یا خودرَو زرهدار |
| زغرتېری | واسکت زره |
| زغرد)په زغرده ( | صریح،آشکارا)گفتن ( |
| زغم، پېغ | تحمل،بردباری،حوصله |
| زغمناک،پېغيالی | بردبار،تحمل پذیر،باحوصله |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| زغمور | قابل تحمل |
| زغومی،څرخوبی | گرداب،ورطه |
| زمول،زمولّلی | پژمرده،ژولیده، خشکیده |
| زمولل | پژمردن، خشکیدن |
| زېږغلی،ژیږغړن | زرد مانند |
| زېرندويي | آفرینشگری، ایجادگری |
| زېږندوی | ایجادگر، خلاق، آفرینشگر)هنر( |
| زهرژلی، زهرجن | زهرآگین، زهرآلود ؛ سمی؛مسموم |
| زېری گر)ندی( | مژده رسان |
| زبېښناک | استمثار، بهره کشی |
| -گر | استثمارگر،بهره کش |

---

| | |
|---|---|
| ژغور)ژغورل، ژغورتیا( | نجات، رهایی |
| ژغورند)ه( | رهاییبخش، نجات بخش |
| ژغورندوی،ژغوراند | ناجی، منجی |
| ژغورډله | تیم نجات |
| ژغوربېړۍ | کشتی نجات |
| ژمن | ضامن، متعهد |
| ژمنه،ژبه | وعده، تضمین، تعهد |
| ژبپوهنیز | زبانشناختی،لنگویستیکی |
| ژبپانگه،وییپانگه،وییزېرمه | ذخیرۀ زبان،vocabulary |
| ژوندجگړه | تنازع اللبقا،مبارزۀ زنده گی |

---

| | |
|---|---|
| سپوږمیز | مهتابی،قمری |
| سپوږمۍ مخې | ماهرخ،مهرخ،مهرو |
| سترگلین | نگاه، نظر |
| سترگلید | دید چشم؛ چشمدید |
| سترگولیدلی | شاهدعینی |
| سترگولیدلې | چشمدید ها |
| سترگ ارت | چشم انداز |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| سترگرس | چشم رس eyeshot |
| سترگ ورشو | ساحۀ دید |
| ستو | قطره گک |
| ستونځ | قله، چکاد)کوه( |
| ستونزه | مشکل،معضله،پرابلم |
| ستونزمن | خسته کن، پرابلماتیک |
| ستغیونی | صعب العبور |
| ستن،غونډ | ستون،رکن)شعر( |
| سوړسمخ،یخ کرخ | خیلی سرد ،زمهریر |
| سروب،سرامنې)اوښکې( | خوناب |
| سکینده)-کول( | جبران)-کردن( |
| سندرۍ | شرشره، فواره |
| سیند | دریا ،رود ؛فرهنگ)قاموس( |
| سیندکښنه | فرهنگ نویسی،لکزیکوگرافی |
| سیندکښ | فرهنگ نویس |
| سیندگی | دریاچه،جهیل؛ فرهنگ کوچک |
| سمندر،دریاب | بحر ؛فرهنگ محیط،فرهنگ جامع |
| سمندرگی | بحیره |
| سمندرمشر،سرمانو | امیرالبحر، کپتان کشتی |
| سندربول، سندرغاړی | آواز خوان،گلوکار |
| سندربوله | مشاعره |
| سوَب | حاضر |
| سوبتیا | حاضری، حضور |
| سُوبمن | فاتح، پیروزمند |
| سوبه | فتح، پیروزی |
| سورکی | شفق |
| سونتوکی،سونتوکي | مادۀ سوخت، مواد سوخت |
| سونلرگي | چوب سوخت |
| سروور،سراور | میوه افشانی بر عروس |
| ساهو | جاندار، ازاد ، اسوده |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| سرغړاند ، سرغاړی | متمرد ، سرکش |
| ستن | رکن، ستون |
| سول | عقل، خرد |
| سکالو | موضوع، مضمون، مطلب |
| سم له لاسه | فوری؛ طورموقت،موقتاً |
| سملاسي | سمدستی، دستی،فوری، عاجل |
| سکاسه)سکاسي ( | شبح)اشباح ( |
| سکته)۲خج ( | قناعت؛ صبر |

---

| | |
|---|---|
| شننه | تحلیل، تجزیه، تقطیع |
| شوبله | هزارپا ، شیله، تانک جنگی |
| شوبلور | تانکیست |
| شپول)شپاله ( | هاله |
| شتې | تیر، سوفار، خدنگ |
| شیند پر شیند | تیت و پرک، پراگنده |
| شوپیان | تاوان،خساره |
| شک و شوپیان،اړنگ بړنگ | شک و تردید |
| شکمن | متردد ؛مشکوک suspect |
| ښکالو | صدای پا |
| شونی | شدنی، ممکن |
| شونتیا)شونتیاوې ( | امکان)امکانات ( |

---

| | |
|---|---|
| ښکالوه)سرخج ( | بحث،مباحثه |
| ښکېل | درگیر، دربند ، گرفتارinvolved |
| ښکېلتیا | درگیری، گرفتاری |
| ښادمانه | حماسه، کارنامه |
| ښارمېشتی | شهرنشین |
| ښاروند | شهروند ، تبعه، ستیزن |
| ښاروندي | شهروندی، تابعیت،ستیزنشیپ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ښکېلاک | استعمار |
| ښکېلاکګر | استعمارگر |
| ښکارندوی | نمایانگر، ممثل، مظهر |
| ښکلل | مزین ساختن، توشیح کردن |
| ښکلیستان | سرزمین زیبایی |
| ښه ترا ، په ښه ډول | خوبتر، به گونهٔ بهتر |
| ښهانه،ښمر | خوبی،نیکی |
| ښمرو ښېګڼه | خیر ، خیریه |

---

| | |
|---|---|
| غځوني | خمیازه؛جهش |
| غورځنګ | جنبش، نهضت movement |
| غورځاوڼ | عضوِ یک جنبش |
| غوني)زیږېدل ( | گونه)تغییر خوردن ( |
| غرڅپه | موج عظیم، surf |
| غړند | پژمرده |
| غړی | عضو ؛ عضله؛ پراته |
| غړیالی)ړوب ( | عضلاتی، تنومند |
| غېلي | رمه |
| غلچکی)نظر ( | )نگاه ( دزدیده، خس دوز |
| غوړسکه | دود کشیف |
| غلیاک | حمله سری، شبخون |
| غاړې مورګې | بیشه و گنگل، کوه و دامن |
| غونډ | رکن، مجموعه، گروه |
| غرڅپه | موج عظیم |
| غاړه | گردن، لحن، نغمه |
| غزلبول | غزلسرا ، غزل گو |
| غزلیز | غزلی |
| غوړګه | نوده |
| غچ | انتقام |
| غوره | مهم،برجسته |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| غوراوی | انتخاب، گزینش |
| غورچاڼ | گلچین، گزینه |
| غونډ | عبارت، فقره؛ رکن |
| غونډْله)۲څپیزه ( | جمله |
| غونډْله پوهه | جمله شناسی، نحو |

- - -

| | |
|---|---|
| کرکنډه | خرسنگ |
| کارغالی | کارگاه، ورکشاپ |
| کاز | آز |
| کازمن | آزمند |
| کومی | حلقوم |
| کبړ | ریسمان، ضحیم، کېبل |
| کربه | راه صعب المرور کوهی |
| کبلۍ | غزال |
| کوکۍ | گل، دهن، پروانه گل |
| ککۍ | سردمک چشم |
| کړنگ ژمی | زمستان سرد |
| کونډ | قله، سربریده |
| کنځر )کنځڼ ( | پلاس، لحاف، مندرس |
| کروړ | روبین، سخت، نام شاعر |
| کرگر، کروندگر، بزگر | زارع، دهقان، کشاورز |
| کړوَنگی)دویم خج ( | آبشار |
| کسات | انتقام |
| ککوبی | عطر )گلاب ( |
| کوبۍ | حباب |
| کوکه)کور ( | فریاد، واویلا، ضجه |
| کهول)کول ( | دودمان، نسل |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| کونګ وزمه | جغد مانند |
| کيځليک | لوحه مزار |
| کوغالی، کوډغالی،کوډله | مرغانچه، ځانهٔ محقر |
| کنګل | يخ، منجمد |
| کنګلنی | فريزر |
| کچ | سطح، سويه |

---

| | |
|---|---|
| ګر | ظلم، ستم |
| ګرګر | ستمګر |
| ګړنګ | پرتګاه |
| ګردله | ګردباد |
| ګلکڅ | ساحل پر ګل، بيشهٔ ګل ساحلی |
| ګل ونه | درخت ګل |
| ګلبڼ | ګلشن |
| ګلباغچه | باغچهٔ ګل |
| ګلبوټی | غنچه ګل |
| ګلپاڼه | ګلبرګ |
| ګلڅانګه | شاخ ګل |
| ګل وله | ګل بيد |
| ګل ويی )-ونه( | ګل واژه )ها( |
| ګلمينه | عشق ګل،ګل دوستی |
| ګليون | ګل ګشت |
| ګوټپېر، ګوټليد | زاويهٔ ديد |
| ګواښ، ګواښنه | اخطار، تهديد ، قهر |
| ګواښل | تهديد کردن؛اخطاردادن |
| ګور)ګڼ( | غلو )با واو معروف( |
| ګور)لکه لوړ( | حريف، رقيب |
| ګل څېره | ګل چهره |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| گل مخی | گلرو، گلرخ |
| گلورین | گل مانند |
| گورنډه، ډوری | گودال، دخمه |
| گوربت | عقاب |
| گروم،زړه غوټه | عقدۀ دل، کمپلکس |
| گرومن | پر عقده، عقده يي |
| گرانبیه | گرانبها |
| گبنې | )رعشه ( لړزه |
| گوټ | جرعه، گوشه |

---

| | |
|---|---|
| لمر پښتی | افتاب پرست |
| لمرمزدک | معبد یانیایشگاه خورشید |
| لمریز | خورشیدی،شمسی |
| لمریزکال | سال خورشیدی)هجری قمری ( |
| لمرین | آفتابی |
| لمرخرک،لمرخړیکه | نوک آفتاب، آغازطلوع |
| لمرخرکی، پیتاوی | پیتاو ،آفتاب رخ |

---

| | |
|---|---|
| لاربه | رهنمون، رهکا |
| لښل، لېږدېدل | کوچیدن |
| لېږد | کوچ، رحلت |
| لوښه | خصلت، عادت |
| لاربښود | رهنما |
| لوربښود | سمت دهنده،قطب نما |
| لارلودن، لورلودن)ورکېدل ( | سمت وسو ؛ خرک ودرک)گم شدن ( |
| لروین | دوربین |
| لنډوین | نزدیک بین، کوتاه نظر |
| لولنگر | آواره، خانه بدوش |
| لالهاند ، لالهان | سرگردان |
| لگړ، خوړ، توی | رودبار |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| لوخې پوخې | زاری و الحاح؛ چاپلوسی |
| لی پرلی | اینسو و آنسو ؛به هرسو |
| لُور | رحم، رواداری |
| لورېینه | رواداری، مهربانی |
| لوراند ، لورین | مهربان، رحیم |
| لورول)لورېدل( | روا داشتن |
| لېوال | مشتیاق، علاقمند |
| لېیل، هخول | تشویق کردن |
| لړه | دمه، مه، غبار |
| لېوالتیا | اشیاق، علاقه)مندی( |
| لونل)لونی( ،خونل | افشاندن، نثار کردن)می افشاند ( |
| لوبډله | تیم)ورزشی ( |
| لوبغالی | ستدیم |
| لوبغاړی | ورزشکار،بازیکن |
| لېوکتی | چوچه گرگ |
| لید | دید ، نگاه، نظر |
| لووی | گواه، شاهد |
| لاسبری | مسلط)به فشار "ب" ( |
| لاسبری | تسلط)به فشار "ر" ( |
| لاسرسی | دسترس)-ی( ، access |
| لېچن)لېچن سترگی ( | چرکین، شریده)چشم شاریده ( |

---

| | |
|---|---|
| مرگڅپانی،مرگاني،مرگونی | مرگبار |
| مزدک | مسجد ، معبد ، نیایشگاه |
| مزگت | مسجد ، مزگت |
| مخسوری | سرخرو |
| مخسوری، مخسوري | سرخرویی |
| مخرونی | بارخ صفا ، آبرومند |
| ماڼو | ناخدا ، ملاح، کشتیران |
| ملیا | همراهی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| منی | مرکز |
| منګنی | خزانی |
| مینه وړی | دلربا |
| موخه | هدف، مقصد ، مرام |
| موخن | هدفمند |
| مرجونا | غواص |
| مرګ و ژوند | مرگ و زنده گی |
| مرګ ومړینه | مرگ و میر |
| مخسور)ی( | سرخرو |
| مخسوري | سرخرویی |
| منځپانګه | د)ونمایه( محتوا |
| ملوب | خوناب، آبگین |
| متره | نیرو ، شیمه |
| ماښامی | خفاش، شپرک |
| مړزګه خور | لاش خور |
| مخینه | سابقه،پیشینه |
| مخینه وال | سابقه دار،باسابقه |
| مخبېلګه | اُلگو،مودل)نمونه( |
| مخنی، مخینی)مخینیان( | قبلی، سلف)اسلاف( |
| ننګول | چلنج-چالش کردن |
| ننګونه | چلنج،چالش |
| ناسکیندی | جبران ناپذیر |
| ناباندي | ناموافق، مخالف،مختلف الرأی |
| ناباندي،ناباندېوالی | عدم موافقت، مخالفت،اختلاف |
| ناتار،ناورین | فاجعه، مصیبت |
| ناسوَب | غیرحاضر،غایب |
| ناسوَبتیا | غیرحاضری،غیابت،عدم حضور |
| نازغموړ | غیرقابل تحمل |
| نازولي او نازلوبولي | نازدانه و نازنین |
| ناورین،ناتار | غم، اندوه،فاجعه،تراژیدی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ناخوالې)نادودې( | ناسزا ، ناپسمانی |
| ناخوال | نارام، آزرده |
| ناړام | لجوج، جسور، ماجراجو |
|ناندره)ناندرې( | جنجال، لانجه |
| نادریز | جنجالی،متنازع فیه |
| نانډوله | ناسازگار |
| نانډولي | ناسازگاری |
| نانغتان | ناشنو ، بازیگوش |
| ناغېړی | سهل انگار |
| ناغېړي | سهل انگاری |
| نړګه | نهالستان؛ نهالفروشی،نرسری |
| نوزېږی | نو زاد |
| نورپنځلی | آفریده از نور |
| نا لاسبری | نارس، غیر مسلط، تسخیر ناپذیر |
| نمرګلی،لمرګلی | آفتاب پرست |

| | |
|---|---|
| نیاو | عدل، داد |
| نیاوتون | محکمه،دادگاه)عالی( |
| نیاو والي | محکمه، دادگاه |
| نیاو وزارت | وزارت عدلیه یا دادگستری |
| نیمژواند)ی( | نیم جان |
| نومهالی | معاصر،مدرن |
| نړیواکی | جهانبانی، جهان سالاری |
| نومونه | اصطلاح، نامگذاری |
| نومونوړ | قابل تسمیه |
| نړیواله | انترناسیونالیزم |
| نړیواکي | جهانسالاری؛ امپریالیزم |
| نړیپانه، نړیجال | انترنت |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| نغوته | اشاره |
| نغوتنه | تلميح، کنايه |
| نګوښل | لنګيدن |
| نګه )نږه ( | باب، خالص |
| نمنځ | احترام؛ عبادت، پرستش،نيايش |
| نګاسه | طنين |
| نګېرل | احساس کردن |
| نګېرګړون | حس آميزی، پرادکسی |
| نګېرنه | احساس |
| نوږی | جنس)مذکر، مؤنث ( |
| نوږيز | جنسی |
| نوغی | نطفه، ريشه |
| نهيل | نا اميد ، مايوس |
| نهيلي | ياس حرمان، نا اميدی |
| نبز | سيل، سيلاب |
| نبزوږی | خس و خشاک سيلاب |
| نيمه خوا | نيم بسمل |
| ناوکۍ | عروسک ؛ نوعی گياه فرشی |
| نندارمه | درامه، نمايشنامه |
| نغرل، نغړل)ناکره:نغړدل ( | بلعيدن |
| نټه | انکار |
| نټه نه منونکی | انکار ناپذير |
| نټيالی | منکر |

---

| | |
|---|---|
| وييپانګه،وييزېرمه | ذخيرۀ لغویvocabulary |
| )نوي (وييرغاونه | واژه سازی |
| وييپوهنه | واژه شناسی، واژگان |
| وسپنيز)ناکره:اوسپنيز ( | آهنی،آهنين |
| ورانپوهاوی،ناسم پوهاوی | سؤتفاهم |

| | |
|---|---|
| وبله، ځبله | با همدیگر، با هم، بهم |
| ولوله | احساس، عاطفه |
| ولولیز | عاطفی،احساساتی |
| ونج | عوض، تعویض؛میز |
| ونجړ | میز خورد |
| ویلوب | گدازه، مذابه |
| ویرژلی، ویرلړلی | سوگوار |
| وبله | باهم، باهمدیگر |
| ویار | عیب |
| ویارجن | معیوب |
| ویی )وییونه( | واژه، لغت، کلمه)واژه ها ( |
| ورشو )اورشو ( | مرغزار |
| وینې بیه | خونبها |
| وینه او مینه | خون و عشق |
| وراشه | وجیزه، گفتار نیک |
| وورە | ابر باریک |
| وربل)ناکره:اوربل( | کاکل، موی پیشانی |
| وربوی)اور بوی ( | حریم،قلمرو |
| ویار) ویارن( | عیب)معیوب،نقص( |
| ویاړن)ویاړلی ( | پر افتخار، مفتخر |
| وېره وړی، ترهوړی | هیبت انگیز،دهشت انگیز |
| وېلاړ | تصمیم،عزم،اراده |
| ویرژلی،ویرژړلی،ویرمن،ویرجن | ماتم زده، سوگوار |
| هممهال)-ی( | همعصر، معاصر، همزمان |
| همغاړی | همکار |
| همغږی، همغږي | هماهنگ،هماهنگی |
| همغږیز، همغږیزي | هم آوا،همآوایی |
| همنوړی | همجنس |
| همنوړیزي | همجنس بازی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| همبریدی | همسرحد |
| هملوری | همسو |
| هڅول، لیل | ترغیب و تشویق کردن |
| هاند و هڅه | سعی و تلاش |
| هوډیالی، هوډمن | مصمم؛لجوج |
| هوسا ژوندی | مرفه الحال |
| هېواد پلوری | وطنفروش |
| هېواد مشر)ناکره:ولسمشر ( | رئیس دولت یاجمهور |
| هیښ | حیران، متعجب |
| هیښ پیښ، هک پک | مات و مبهوت |
| هیښتیا | تحیّر، شگفتی |
| هیښتیاوړ | قابل تعجب،درخورشگفتی |
| هیښنده، هیښوونکی | محیّر، تعجب آور، شگفت انگیز |

---

| | |
|---|---|
| یادغونډه | محفل یادوبود |
| یمال | توفان برف، برف کوچ |
| یون | حرکت، پویش، پویه، سفر |
| یونلیک | سفرنامه، گزارش سفر |
| یونلیکونکی | سفرنامه نویس |
| یوون | واحد، یونت |
| یونل، درومل، تلل | رفتن، حرکت کردن، سفر کردن |
| یېبره | حاصل، ثمر، ثمره |
| یېبرور | بارور، حاصلخیز |
| یېړ | دسته کشتی ها |
| یانکي، یانکیان | امریکايي، امریکایی ها |
| یاد، یادونه | یاد و بود |
| یادنامه | یادنامه |
| یادښت)ناکره:یاداښت ( | یادداشت |
| یاده، یادی | یادآوری؛حافظه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځلیک

۱- اجمل خټک: د غیرت چیغه، کابل ۱۳۲۳
ژوند او خوند، د قومونو او قبایلو وزارت، کابل ۱۳۶۲
ګلونه تکلونه، کابل ۱۳۶۲
۲- احمد شاملو: از زخم قلب، ګزینه و خوانش شعر ع. پاشانی، تهران ۱۳۷۳
۳- احمد شاه بابا: د دیوان غورچاڼ، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، کابل ۱۳۵۷
۴- الهام، پوهاند محمد رحیم: ادبي مسألې، د افغانستان دلیکوالو انجمن ۱۳۶۷
۵- امین، ډاکتر امین الحق: ګورې ورېځې، کابل ۱۳۶۲
۶- بکتاش، حنیف: د ځنګله سترګو کې، کابل ۱۳۶۷
۷- بنوال ، محمد افضل: وزن شعر دري ، انتشارات پوهنتون کابل ۱۳۶۲
۸- پژواک، عبدالرحمن: کلیمه داره روپۍ، کابل ، ۱۳۳۷
۹- پویان، عنایت اله: منصوري چیغې، دارالاسلام، کابل ۱۳۸۵
۱۰- پیوند ، علي ګل: زړه ډمه: ۱۳۵۷ او سیلۍ، د لیکوالو انجمن ۱۳۶۸
د سپنمایاران، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور ۲۰۰۷
۱۱_پوهندوی جلال الدین او پوهیالي محمدرفیق: قافیه)اوډنه ( ۱۳۶۲
-ادبي فنون، بیان)اوډنه (،کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی )دواړه ګستېتنري اوډنې د پوهاند رشاد په لارښوونه(. ۱۳۶۳
۱۲- جورج تامسون: خاستګاه زبان، اندیشه و شعر، ترجمه جلال علوي نیا ،انتشارات حقیقی تهران ۲۵۳۲ ، هنر شاعری ۳۲- ۴۲ وزن وکار ۲۲-۵۷
۱۳ - حبیبي، عبدالحی: په اوسني پښتو شعر کې د ژوند څپې، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۰
۱۴-حمزه شینواری: غزونې، اداره اشاعت سرحد ، پېښور، ۱۹۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د خيبر وږمې، پښتو ټولنه، کابل ۱۳
۱۵-خاموش، لطف الرحمن: مزلونه او منزلونه، د افغانستان د ليکوالو انجمن ۱۳۶۵
۱۶- خزان، عارف: د سحر په غېږ کې، د افغانستان د ليکوالو انجمن ۱۳۶۵
۱۷- خوشال خان خټک: کليات، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل ۱۳۵۸؛
همدا راز يې ((ک ((د کابل چاپ او))پ ((د پېښور هغه مانا لري.
- زنځيری يا خط نامه، د افغانستان د علومو اکاډمي ۱۳۶۱
- سوات نامه، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل ۱۳۵۸
- ننګ او غورځنګ، دخوشال بابا منتخبات- کابل ۱۳۶۶
۱۸- داوی، عبدالهادي: ښکلي شعرونه، لومړی ټوک، ۱۳۴۰
۱۹- دوست شينواری: د ادب تيوري اساسونه، کابل ۱۳۶۵ –د پښتو د ولسي ادب لارې.
۲۰-رحمان بابا- ديوان- پښتو ټولنه، کابل ۱۳۶۵
۲۱-رضا باطنی: زبان و تفکر، چاپ هفتم نقش جهان، تهران ۱۳۷۸
۲۲ - رضا براهني: طلا در مس)در شعر و شاعری(، کتاب زمان، چاپ دوم، تهران ۱۳۴۷
۲۳-رفيع، حبيب اله: زريني ځانګې، د افغانستان د علومو اکاډمي ۱۳۶۵ او د جمهوريت پلوشې، کابل مجله ۱۳۵۲
۲۴- روهي، محمد صديق: ادبي څېړنې، د ننګرهار پوهنتون خپرونه، ۱۳۶۰
۲۵- شعريت يعني څه؟ کابل مجله، عقرب- قوس ۱۳۶۶، ۳۱-۳۹ مخونه.
۲۶-زيار، مجاور احمد: ولسي ډوله شعر د ولسي، کلاسيک او نوي- ازاد شعر تر منځه، کابل مجله ۷-۸ ګڼه ۱۳۶۷
- پښتو پښويه، دريم چاپ، د دانش خپرندويه ټولنه، پېښور ۱۳۸۴
- پښتو ليکلاربود - - - - - - - ۱۳۸۶
-زنداني نغمې، بيهقي خپرونې، کابل ۱۳۵۹
-وينه او مينه، د دفاع وزارت له خپرونو، ۱۳۶۰
- سوزونه او سازونه، کابل ۱۳۶۴
-اور او ويني ، کابل ۱۳۶۵
- ګکخونه - - - - - - - - - ۱۳۶۷
-ګلولې)ګل بيد (- - - - - - - - ۱۳۶۹
-اندوژوند ، آريانا چاپخونه، کابل ۱۳۶۸

د کتاب د ليکوال نورې شعري ټولګې: د سبرونو نڅا ، زما نړۍ، د مرجانونو ځانګې، رزم و بزم،پوهه او ګروهه، اند و واند ، ساندې او سندرې، نوې پېرۍ او نوې زرۍ، ناپېيلې او ناچاپې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعري بېلګې.
۲۷-ژواک، محمد دین)خپرنمل(: افغاني حماسه، کابل، ۱۳۲۹
۲۸- سلمى شاهین: د پښتو ټپې، پښتو اکېډیمي، پېښور پوهنتون، جدون پرېس پېښور ۸۸-۱۹۸۹
۲۹- سنګر، محبوب شاه: زوږ، کابل ۱۳۲۰
-بنده کرېکه، کابل ۱۳۲۲
۳۰- سنګروال، شهسوار: شمله، د افغانستان د لیکوالو انجمن ۱۳۶۷
-شمله، لومړی ګڼه، لندن ۲۰۰۱
۳۱- سیلاب، ساپی: د اوښکو سیلاب، د افغانستان د لیکوالو انجمن۱۳۹۷
۳۲-طبري، احسان: مسائلی از فرهنگ و هنر و زبان، انتشارات مروارید ، تهران ۱۳۵۹
۳۳- غني، عبدالغني خان: د غني کلیات، د قومونو او قبایلو وزارت، کابل ۱۳۶۴
۳۴ - فردا ، فاروق: د ګلپاڼو پرخې، د لیکوالو انجمن، کابل ۱۳۶۵
۳۵- فنا ساپی، محمد جان: فریادي شاعر، کابل۱۳۳۸
۳۶- قلندر: دېوان، پښتو ټولنه، کابل ۱۳۵۲
۳۷- کامګار ختک: دېوان، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل ۱۳۵۸
۳۸- کاوون، صدیق: سپرغی، د لیکوالو انجمن، کابل ۱۳۶۲
-د باد په کنډوالو کې، دانش کتابتون،۱۳۸۱
۳۹- کرګر، اکبر: خو ادبي یادونې، هماغه انجمن، کابل ۱۳۶۲
-صدیق کاوون))د ونو مرګ (( په موسم کې،سمسور اوبپانه۳-۳-۱۰
۴۰- کمین، برکت اله: مزلونه او غرونه، د لیکوالو انجمن، کابل ۱۳۶۲
۴۱-لایق سلېمان: چونغر، ۱۳۴۱
-کېږدۍ، د هند چاپ ۱۳۵۲
-یادونه او درمندونه، بیهقي کتاب خپرونه، کابل ۱۳۵۷
۴۲-لېوال، عبدالغفور: هوسۍ، دانش کتابتون۱۳۷۸
-کله چې ته خپه شې، میوند خپرندویه
۴۳- مجروح، سید بهاو الدین: ځانځاني ښامار، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون ۱۳۵۲
۴۴-مستان، کمال: د لمر شغلو ته، کابل ۱۳۶۷
۴۵- مومند ، عبدالحمید: دیوان، د افغانستان د علومو اکاډمي ۱۳۶۳
۴۶- میا شرف: د پښتو عروض، پښتو ټولنه، کابل ۱۳۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۷ - ننګیال، اسحاق: هغه شېبې هغه کلونه- دولتي چاپخونه، کابل ۱۳۶۳
۴۸- نوید ، نورالبشر: مشالونه، د افغانستان د لیکوالو انجمن ۱۳۶۷
۴۹- بویل(Böll) هاینریښ: خاطره ای از المان همراه با چند داستان کوتاه، ترجمه بیژن قدیری شهلا حمزاوي انتشارات آگاه، تهران ۱۳۶۳
۵۰- هوتک، محمد بن داود: پټه خزانه- دریم چاپ، کابل ۱۳۵۴
۵۱ - هېوادمل، زلمی: فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ، جلد اول ریاست تالیف و ترجمه وزارت تعلیم و تربیه ۱۳۵۲
۵۲- یاري، تاج محمد: ستوری او سیوری، دافغانستان د لیکوالو انجمن، ۱۳۶۶

**53. Best Otto F: Handbuch literarischer Fachbegriffe, Definitionen und Beispiele Fischer Taschenbuch, DietzVerlag Berlin 1973.**

**54. Engels, Fridrich: Kleines Politisches Wörterbuch Verlag, Frankfurt am Main 1972.**
**55. Fiedler-Finger: Dialektischer und historischer Materialismus Dietz-Verlag Berlin 1947.**
**56. K. Kasper und D. Wuchkel: Grundegriffe der Literaturanalyse 2. Auflage VEB Bibliographisches Institut, Leipzig, 1985.**
**57. Koch, Hans: Zur Theorie des Sozialistischen Realismus Dietz-Verlag, Brlin, 1974.**
**58. Langendoen, D. Terence: The Study of Syntax The Generative -Transformational Approach to Structure of Americn English the Ohio State University. Holt Rinehart and Winston, INC. USA 1969.**
**59. Mackenzie, David Neil: Pashto Verse: revision note. 1. ed. 1958, 2.ed.1993(SOAS), London.**
**60.** Najib, Manalai; Métrique du Pashto in Cahires de poétique comparée N° 15, Octobre 1987 ; pp. 103-153.
**61. Pstrusinska, Jadwiga:** Poetic Forms in Afghan Poetry Folia Orientalia Tome x111 Poland 1971

پر دي سربېره چې زیاتره اخځونه د کتاب په متن کې راغلي، بیا هم د یو لړ مهالنیو(ورځپاڼو، اونیو، میاشتنیو) ډېرو ګڼو یعنې ـ تازه ګڼو ... (ورمه، کابل مجله، هیله، ځولۍ، ربا ، لیکوال، ژوندون، ښکلا ، لېمه، لمبه، الفت، ګوربت... ( او اوبپاڼو ) سمسور، تاند ، ټول افغان، تل افغان، بهیر، لروبر... ( یادونه اړینه بولم چې په ازاد متن مې ځنې د شعري بېلګو په برخه کې ګټه اخیستې ده.- نو که د پاسنیو بېلګو په لړ کې د یو شمېر نورو نوښتګرو ویناوالو هغه پر لاس نه وي راغلي، و به مو بښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارازد ادبپوه او ليکوال دوست نجيب منلي هغه لوربينه پرځان پورګڼم چې د پښتو شعر په اړه يې د خپلې فرانسي ليکنې پښتو لنډيز او هم يې د فرانسي شعري سيلابيک سېستم يو نچوړ په واک کې راکړی دی. د وتلي غزلبول مصطفی سالک د پايښې له ځغلندې کتنې هم منندوی يم. په تخنيکي برخه کې د دانش خپرندويې ټولنې له پښتوپال مشر منلي اسدالله ساپي او تکړه همکارانو ښاغلي نورمحمد نورزي او د لومړي چاپ د بيا اوډنې له کبله له هڅاند قاري عمرخېل، او په پای کې د مالي لګښت په تړاو د فرهنګپال ملګري فدانظري له مېړانې مننه کوم.

په ټوله شاعرانه مينه او مننه. ستاسې زيار

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**